دافغانستان اسلامي جمهوري دولت د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

مرکز زبانها و ادبیات

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

څېړنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري میاشتنۍ مجله

د تاسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

گڼه: ۸-۹-۱۰

**یادونه:**

✓ مقاله دې له یوې رسمې پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټېلیفون شمېره او برېښنلیک پته وي د علومو اکاډمۍ ادارې ته را ولېږل شي.

✓ را لېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شوو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ را لېږل شوې مقاله باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک باید لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقاله باید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښتنې، د څېړنې روش، پایلې او اخځونو لرونکې وي او په متن کې اخځلیک ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ سایز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله باید (Single) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمۍ د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسوولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له اخځه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د علومو اکاډمۍ د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
**مسوول مدیر:** څېړنوال سیدنظیم سیدي
**مهتمم:** څېړندوی شکیلا میاخېل
**کتنپلاوی:**
څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ
څېړنپوه نصرالله ناصر
څېړنوال عبدالظاهر شکېب
څېړنوال محمد آصف احمدزی
**ډیزاین:** محمد مجتبی
**چاپ ځای:** شمشاد هاشمي مطبعه
**تیراژ:** ۵۰۰ ټوکه
**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،
کابل، نوی ښار، د شابوبو جان کوڅه
**د اړیکو شمېرې:**
۰۷۹٦٦۵۰٦۵۸ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹
**د مجلې برېښنلیک:** magazinekabul@gmial.com او
informationasakabul@gmail.com
**کلنۍ ګډون بیې:**
په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ
په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ
په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر
په کابل کې د یوې ګڼې بیه: ۸۰ افغانۍ

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| شمېره | سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱. | مستعار نومونه ................ | څېړنوال محمد آصف احمدزی......... | ۱ |
| ۲. | د ادبیاتو او ژانر اړیکې ........ | څېړندویه ګل غوټۍ خاورې............ | ۲۳ |
| ۳. | تصوف د اوس مهال.......... | پوهندوی ډاکټر اجمل ښکلی......... | ۳۹ |
| ۴. | د خوشحال انسان پالنه....... | رحمت الله حکیمي.................. | ۵۱ |
| ۵. | استاد عبدالحی حبیبي...... | څېړنواله ظاهره هنګامه............... | ٦۷ |
| ٦. | کومکي فعلونه او د .......... | پوهنیار عبدالعظیم صدیقمل.......... | ۸۰ |
| ۷. | په لیکوالۍ کې د بهرنیو..... | پوهنیار فهیم بهیر.................... | ۹٦ |
| ۸. | په پښتو ادب کې............ | پوهنمل ډاکټر عزیز الله جبارخېل...... | ۱۱۵ |
| ۹. | د پښتو ژبې لومړنی......... | جانباز.............................. | ۱۲۷ |
| ۱۰. | د خطي نسخو لنډه.......... | نوماند څېړنیار شریف الله دوست....... | ۱۳۷ |
| ۱۱. | اسطوره..................... | حبیب الله میرخېل.................. | ۱۴۷ |
| ۱۲. | د استاد عبدالرؤف بېنوا...... | څېړنوال عبدالشکور قیومي............ | ۱۵۸ |
| ۱۳. | په څېړنه کې د خاکې........ | سیداصغر هاشمي...................... | ۱٦۹ |
| ۱۴. | د غزني د اندړو د سیمې..... | څېړنیار فضل الرحمن علیزی........... | ۱۷۹ |

**څېړنوال محمد اصف احمدزی**

# مستعار نومونه

**لنډيز:**

مستعار هغه نوم دی چې ليکوال، شاعر يا کوم بل شخص يې د سياسي، اجتماعي او اقتصادي لاملونو يا ستونزو له امله د خپل اثر د خپرولو پرمهال ږدي او د وخت په تېرېدو سره په خپله د ليکوال يا کوم بل چا له خوا په ډاګه کېږي او يا همداسې ناسپړلي پاتې وي.

مستعار نوم له زيانونو سره سره، ګټې هم لري؛ که ناوړه استفاده ترې کېږي، نو مضر تماميږي او که نه ليکوال ته د خوندي فضا په برابرېدو او هغه ته د زيان نه رسېدو په موخه ګټور ثابتېدای شي.

له مستعار نوم څخه د نورو هېوادونو په څېر زموږ په هېواد او په ځانګړي ډول په پښتو ادب او چاپي رسنيو کې استفاده شوې ده، چې په دې ليکنه کې همدغه موضوع منعکسه او خبرې پرې شوې دي.

**سريزه:**

تاسو به ښايي له داسې ليکنو سره مخامخ شوي ياستئ، چې يوه مقاله يا شعر به مو لوستی وي، خو دا به درته نه وي په ډاګه شوې چې د دې ليکنې اصلي ليکوال څوک دی؟ يا دا چې د دې ليکنې د ليکوال په اړه درسره شک پيدا شوی وي او د ليکونکي د پېژندلو په لټه کې به يې شوي يئ. د همدغه ډول ليکنو چې په مستعارو نومونو خپرې شوي، لړۍ له پخوا راهيسې د نړۍ په کچه پيل او تر ننه يې دوام کړی او تردې وروسته به هم دغه لړۍ روانه وي. په دې ليکنه کې همدغه د

مستعار نوم موضوع څېړل شوې ده.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

دا چې په مستعار نوم په پښتو ادب کې مختلفو لیکوالو او شاعرانو لیکنې کړې او آثار یې پنځولي دي، نو په کار ده چې د همدې ډول نوم د تیوري په اړه څېړنه وشي او هم د مستعارو معلومو نومونو نوملړ خپور شي، چې همدغه مسایل په دې لیکنه کې ځای په ځای شوي او څېړل شوي دي. په دې اړه د بحث مبرمیت او ګټه به دا وي چې زموږ څېړونکي او په ځانګړې توګه ځوانان به د څېړنې پرمهال د یوه لیکوال د نه پېژندلو له ستونزې سره نه مخامخ کېږي.

**د څېړنې موخه:**

له یوې خوا به د مستعار نوم تیوري روښانه شي او هم به یې په پښتو ګرامر کې ځای ځایګی جوت شي او هم به د پوهانو او څېړونکو مستعار نومونه (هغه چې ماته معلوم دي) په ډاګه شي، چې په دې سره به له یوې خوا لوستونکو ته په مستعار نوم د خپرې شوې لیکنې اصلي خاوند معلوم شي او هم به د لیکوال معنوي حق ثابت شوی وي.

**د څېړنې پوښتنې:**

د مستعار نوم د ایښودو عوامل څه دي؟

د مستعار نوم ګټې او زیانونه څه دي؟

مستعار نوم او تخلص څه توپیر لري؟

ایا مستعار نوم په پښتو ادب کې کارېدلی دی؟ او که دی، کوم دي؟

په مستعار نوم د خپرو شوو لیکنو اصلي لیکوال څنګه پېژندل کېږي؟

**د څېړنې میتود:**

په دې لیکنه کې له تشریحي او تحلیلي میتود څخه استفاده شوې ده.

**د مقالې متن:**

که له تېرې کابو یوې پېړۍ راپه دېخوا د افغانستان او نړۍ چاپي مطبوعاتو او ټولنیزو رسنیو ته پام وکړو، نو ځینې داسې لیکنې په کې پیدا کېږي، چې لیکوال به د خپل اصلي نوم پرځای یو بل نوم کارولی وي. همدغه ډول نوم په «مستعار نوم» یادېږي.

مستعار عربي کلمه ده چې په لغت کې په عاريت اخيستلو ته وايي. په پښتو – پښتو تشريحي قاموس کې يې دوه ډوله معنا راغلې ده: ١- هغه څه چې په امانت اخيستل شوي وي. ٢- بدل، غير اصلي، پردی(١). دا هغه نوم دی چې يو شخص د خپل واقعي هويت د پټولو لپاره ترې استفاده کوي(٢). يا: دا هغه نوم دی چې ليکوال، لوبغاړی، مؤلف يا هر هنرمند يې د خپل اصلي نوم پرځای ږدي(٣).

په فرهنگ دهخدا کې يې لولو: مستعار نوم هغه نوم دی چی يو څوک يې په خپل ځان ږدي او هغه يې حقيقي نوم نه وي. دا نوم بيا د خپلو ليکنو، شعرونو او نورو پنځونو لپاره کاروي. مستعار نوم حقوقي اړخ نه لري. دا په تيوري کې هغه نوم دی چې د يوې لنډ مهالې دورې لپاره ټاکل کېږي، ترڅو يې خاوند د محدوديتونو په لرې کېدو سره د زيات کار آزادي ولري او فعاليت وکړي(۴).

دغه راز ويل شوي، مستعار نوم يو وهمي نوم دی چې يو شخص يا کله کله د څو کسانو يوه مجموعه يې د حقيقي هويت د پټولو په خاطر کاروي او د پټولو هدف يې د هغو کسانو له تعرض او تجاوز څخه ځان خوندي ساتل دي، چې د هغه له نظرياتو سره جوړ نه دي(٥).

مطلب دا چې، که يو شخص وغواړي خپل واقعي هويت پټ کړي، نو مستعار نوم ته پناه ور وړي. د مستعار نوم له لارې ليکوال غواړي د خپلې ليکنې مالکيت په غير مستقيمه توگه ثبت کړي، چې د وخت په تېرېدو سره يې په خپله ليکوال او يا د هغه خپل خپلوان د دغه حق ادعا کولی شي، همداراز د ليکوال د زمانې نسل او يا وروستی نسل يې هويت ثابتوي.

لوستونکي او خاصتاً د ليکوال له زمانې وروسته نسلونه د هغو ليکنو په اړه کله کله له سرگردانۍ او سرخوږۍ سره مخامخ کېږي چې په مستعارو نومونو خپرې شوې دي، نو اړتيا ده چې دغه ډول نومونه هغوی ته په ډاگه شي، ترڅو يې له يوې خوا ليکوال له معنوي اړخه برخمن او له بلې خوا يې لوستونکی له ليکنې په ازادانه ډول د مأخذ په توگه استفاده وکړی شي.

البته «نوم» هغه کلمه ده چې د زمانې له ښودلو څخه پرته مستقله معنا لري او د يوه شي، شخص يا يوه کيفيت د نومولو لپاره استعمالېږي، لکه: سړی، لرگی(٦). پوهاند صديق الله رښتين په خپل اثر «پښتو گرامر» کې ليکلي چې نوم ببلا بېل

انواع لري چې د مفهوم له مخې پنځه ډوله دی: خاص نوم، عام نوم، د جنس نوم، د ټولي (جمعیت) یا (اسم جمع) نوم او مجرد نوم.

خاص نوم، هغه دی چې یو ځانګړی شخص یا خاص شی معرفي کوي او یواځې پر یوه ټاکلي فرد دلالت وکړي، لکه: کابل، افغانستان. خاص نوم د استعمال له مخې څو ډولونه لري:

- محض نوم چې دز ېږېدنې پر وخت د یو چا لپاره وضع شوي وي، لکه حمید، غرغښت.
- لقب: هغه نوم دی چې د یوه صفت یا خصوصیت له مخې د درناوي په توګه چاته ورکړل شوی وي او پر هغې مشهور وي، مثلاً: لوی مختار.
- عرف: لنډ نوم دی چې د مینې یا حقارت له مخې عرفاً استعمالېږي، لکه: جانو (جان محمد)، ګلو (ګل محمد).
- تخلص: لنډ نوم دی چې شاعران او لیکوالان یې د ځان لپاره ټاکي، لکه: شیدا، هجري، خادم....
- عام نوم بیا هغه دی چې یو نامعلوم شی معرفي کوي او پر خپلو افرادو یو شان دلالت وکړي، لکه: سړی، اس(۷).

د نوم په اړه په لنډیز سره، دا پورتنۍ یادونه د دې لپاره وشوه، چې د نوم په برخه کې د «مستعار نوم» ځای ځایګی جوت شي. ما چې د پښتو څو ګرامرونه وکتل، نو هلته په کې د مستعار نوم په اړه څه تر سترګو نه شول؛ نه یې د تعریف په اړه څه و او نه هم دا جوته شوې چې مستعار نوم د نومونو د ډلبندۍ په کوم ډول پورې اړه لري. لکه مخکې چې وویل شول، خاص نوم هغه دی چې یو خاص کس یا شی راپېژني او د یوه معین شخص لپاره کارول کېږي، نو مستعار نوم خو په دې چوکاټ کې ځکه نه شي راتلی چې په دې نوم (مستعار) نومول شوی شخص هر چاته معلوم نه وي او بله دا چې، مستعار نوم، لکه: لمر، علاقمند، بېچاره... په یوه ځانګړي شخص نه اطلاق کېږي، بلکې د عام نوم په چوکاټ کې ځان ځایوي.

نو زما په اند، که د یو چا مستعار نوم عام شوی وي او لوستونکي پوه شوي وي چې دا د فلاني مستعار نوم دی، نو د «خاص نوم» په دایره کې راځي او که مشهور نه وي او یوه عامه نومونه وي، نو د «عام نوم» په چوکاټ کې راځي.

## د مستعار نوم د ایښودلو عوامل:

دا چې ولې یو لیکوال یا شاعر د مستعار نوم ایښودو ته مخه کوي، بېلابېل عوامل لري. د دغه ډول نوم غوره کول به ښايي د وخت د شرايطو او حالاتو غوښتنه او يا د ليکوالو مجبوريت او يا کوم بل لامل وي چې زما په اند، ځينې يې دا دي:

- زياتره وخت دغه نوم غوره کول، سياسي اړخ لري؛ په دې معنا، کله داسې کېږي چې واکمن نظام ناولسواک وي، د بيان ازادي يې محدوده کړې وي او يا دا چې نه غواړي، هغه آثار، ليکنې او شعرونه خپاره شي چې د نظام او يا د واکمن ضد وي او يا ورسره ټکر ولري، نو ليکوال مجبورېږي چې له خپل اصلي نوم څخه تېر او ليکنه په بل نوم (مستعار نوم) خپره کړي.
- کله کله ځينې داسې حقايق، ټولنيز يا کورني مسايل وي چې ليکوال د شرم يا ډار له امله نه غواړي، پر ليکنې خپل اصلي نوم وليکي.
- امنيتي ملحوظات او کله هم شخصي علايق، انسان دې ته مجبوروي چې له مستعار نوم څخه ګټه واخلي.
- حق الزحمه بله هغه موضوع ده چې له امله يې ليکوال مستعار نوم ته مخه کوي؛ دا په دې معنا که په يوه خپرونه کې د يوه ليکوال دوه يا درې... مقالې خپرېږي، نو يوه يې په خپل نوم او نورې د دې لپاره چې څوک د انتقاد ګوته ورته ونه نيسي- او له حق الزحمې څخه يې برخمن شي، نو په مستعارو نومونو يې خپروي.
- د ادبي غلا پرمهال هم، کله کله د مستعار نوم کارولو ته پناه ور وړل کېږي او له دې لارې غواړي، هغه څه چې له بل چا يا کوم اثر څخه يې څه را اخيستي، په خپل نوم نشر کړي او خپل هدف ته پرې ځان ورسوي.
- دغه راز د ژورناليزم په برخه کې هم، کله کله او خاصتاً د جنسي- تېريو په زياترو پېښو کې د قرباني اصلي نوم نه خپرېږي او د لوستونکو د معلوماتو لپاره تر غوره شوي نوم وروسته په ليندیو کې د مستعار نوم کلمه ورسره يادېږي. مثلاً، که د يوې زيانمنې شوې ښځې نوم زرمينه وي، نو بايد وليکل شي: حليمه (مستعار نوم).

پر دغو شپږو لاملونو سربېره، يوه بهرني ليکوال سوزان لولجوراج د مستعار نوم د ايښودلو او غوره کولو لاملونه بيا داسې هم ښودلي دي:

۱- پـه ځینـو جنجـالي موضـوعاتو بانـدې لیکـل: د همدغسـې لیکنـو پرمهـال لیکوال اړ کېږي چې مستعار نـوم وکـاروي، ځکـه پـه دې چوکـاټ کـې لیکنـه کـول، ښایي تر یوه حده شرمناکه وي او یا د شخړې لامل وګرځي.

۲- له یوه تخصص څخه په زیاتو لیکل کول: که لیکوال غواړي له خپل مسـلک څخه بهر په کومه بله موضوع لیکنه وکړي، نو غوره دا ده چې پـه بـل نـوم دې خپـره کړي؛ مثلاً، د یوه لیکوال ادبي داسـتانونه یـا کیسـې ډېـر مینـه وال لـري، نـو د هغـه علاقمندان د یاد شوي لیکوال له علمي او څېړنیزو لیکنو سره دلچسپي نه لري.

۳- د لیکوال ژوند ته پاملرنـه: ځینـې لیکـوال ښـایي ونـه غـواړي پـه خپـل نـوم معلومات او اطلاعات خلکو ته په ډاګه کړي، همدا لامل دی چـې د مسـتعار نـوم لـه لارې خپل ژوند ته دوام ورکوي.

۴- د صعب النطق او نااشنا نوم پر ځای: کله کله داسې کېـږي چـې د لیکـوال حقیقي نوم صعب النطق او یـا خلکـو تـه نااشـنا وي، نـو پرځـای یـې اسـانه او سـاده مستعار نوم کاروي.

۵- یو نوم او بېلا بېل لیکوال: که په یوه مسلک کې څو کسـان داسـې وي چې یو نوم ولري، نو ښه دا ده چې په همدغو کسانو کې دې، کوم یو له مستعار نوم څخه استفاده وکړي، ترڅو لوستونکی له مغالطې سره مخامخ نه شي.

٦- د لومړنیو لیکنو پرمهال: که یو څوک غواړي خپله لومړنۍ لیکنه خپـره کـړي او د هغو له پایلو څخه په ډار کې وي، نو د دې لپاره چې لـه منفـي عکـس العملونـو څخه ناهیلی نه شي، نو په مستعار نوم دې خپره کړي(۸).

**د مستعار نوم ګټې او زیانونه:**

کله چې یو لیکوال خپله لیکنه په نـاوړو شرایطـو او حـالاتو او یـا پـه یـوه داسـې سیاسي چاپېریال کې خپروي چې دی له واکمن نظـام څخـه ناراضـه دی، نـو د دې لپاره چې زیان ورته ونه رسېږي، نو له سمبولیکو لیکنو کار اخـلي او خپـل هـدف پـه غیر مستقیمه ژبه بیانوي او یا دا چې، پـه لیکنـه کـې پـه مسـتقیم ډول خپـل هـدف څرګندوي، خو په مستعار نوم یې خپـروي. پـه لانـدې کرښـو کـې یـواځې د دې ډول لیکنو د دوهم ډول ګټې او زیانونه په لنډیز بیانېږي.

له مستعار نوم څخه مسوولانه استفاده، ښایي تحول رامـنځ تـه کـړي او لـه دې

پرته مخربه او ویجاړوونکې وسیله ده. د مستعار نوم د مسوولانه کارونې ځانګړنه دا ده چې له هغه څخه استفاده کوونکی، د هغه خپل خپلوان او دوستان وکولی شي د محدودیتونو له پای ته رسېدو وروسته، پر هغه افتخار وکړي او په مستعار نوم د دې دورې له ټولو پنځول شوو آثارو، څرګندونو او لیکنو څخه یې دفاع وکړي.

خو په دا ډول نوم خپرو شوو لیکنو کې له ناخوښو کلمو او جملو څخه استفاده او د غیر اخلاقي روشونو کارول، آن د دښمن پر وړاندې مبارزه کې هم د دفاع وړ نه دي او د شرمندګی لامل کېږي.

که د شاوخوا احترام او رضایت د مستعار نوم له پرېښودو وروسته په پام کې ونیول شي، د مستعار نوم د غوره کېدو خیرغوښتونکی هدف به ترلاسه شي.

د مستعارو نومونو کاروونکي د واقعي هویت له پټولو سره، په واقعیت کې له خپل حقیقي شخصیت څخه انکار کوي او له همدې امله په هماغه کچه چې له قضایي خوندیتوبه برخمن دي، د خپلو حقونو له تعقیبولو څخه هم محروم دي(۹). مطلب دا چې، که له خپلې لیکنې څخه دفاع کول وغواړي، نو په مستعار نوم د خپرې شوې لیکنې اثباتول به یې سخت وي او د حقوقو په ترلاسه کولو کې به زیانمن کېږي(۱۰).

له مستعار نوم څخه اوسمهال، کله کله په انټرنټ کې ناسمه او ناوړه استفاده کېږي. د فېسبوک په راوتلو سره، ځینې کسان په مستعار نوم فېسبوک پاڼه یا (آی ډي) جوړوي او له دې لارې غواړي خپلې خبرې او څرګندونې نورو ته ورسوي. البته، له دې څخه هم مثبته استفاده او هم منفي استفاده کېدلی شي. یوه عربي مقوله ده چې وايي: مستعار نوم دا معنا نه لري چې خپل اخلاق، روزنه او فکر دې استعاره کړې! که هر څومره دې خپل نوم پټ کړ، ته د خپل ځان ښکارندویې کوې!

**مستعار نوم او تخلص:**

د مستعار نوم له یادولو سره سم مو ذهن ته «تخلص» او «مخفف نوم» هم راځي. سره له دې چې مستعار نوم او تخلص څه ناڅه ګډ وجوهات هم لري، خو ترمنځ یې ښکاره توپیر موجود دی.

په پښتو – پښتو تشریحي قاموس کې یې د تخلص معنا لقب ښودلی او زیاته کړې یې ده چې دا هغه نوم دی چې لیکوال، شاعر یا بل څوک یې ځان ته

انتخابوي او معمولاً له اصلي نوم سره يوځای يادېږي(۱۱).

په دې قاموس کې د لقب او تخلص يو ښودل د تأمل وړ برېښي، په داسې حال کې چې دا دواړه، لکه مخکې مو چې يادونه وکړه، توپير لري. لقب چاته ورکول کېږي، لکه فخر افغان (د خان عبدالغفار خان)، اعليحضرت، بابا (د اعليحضرت احمدشاه بابا)، نيکه (د ميرويس نيکه) او تخلص بيا شخص په خپله ځان ته غوره کوي، لکه خټک (د خوشحال خان خټک)، صدر خوشحال او ابن خوشحال (د صدر خان خټک)، مومند (د عبدالحميد مومند)، شيدا (د کاظم خان شيدا) او کاروان (د پيرمحمد کاروان).

- تخلص د نوم د مشخص کېدلو او د ليکوال د لا پېژندلو لپاره غوره کېږي؛ خو په مستعار نوم کې ليکوال خپل اصلي هويت پټوي.
- له تخلص سره د ليکوال اصلي نوم ليکل کېږي، خو په مستعار نوم کې د ليکوال اصلي نوم ښکاره نه وي.
- تخلص عموميت لري، تر ډېره او يا تر پايه له ليکوال سره پاتې کې کېږي، زماني محدوديت نه لري؛ خو مستعار نوم په يوې ټاکلې زمانې يا دورې پورې منحصر دی. کله چې همدا زمانه يا دوره تېره شي، نو بيا له ليکوال سره نه وي مل. البته د دې يادونه ضروري ده چې کله کله تخلص هم ډېر دوام نه کوي او د يوه په ځای بل غوره کېږي، لکه دا چې د شاعر او سياستوال مولوي محمد يونس لومړنی تخلص مېړنی او وروستی يې خالص دی، يا لکه محمداجان پښتون چې اوس «حقپال» دی، سيد محی الدين صادقمل چې اوس «هاشمي» دی.
- تخلص هر چاته معلوم وي، خو مستعار نوم يواځې په خپله ليکوال او د همدې ليکوال د ليکنې خپروونکې ادارې او يا هم ډېرو مشخصو کسانو ته معلوم وي.

البته سبک هغه موضوع ده چې له لارې يې کېدای شي د يوه ليکوال له بېلابېلو مستعارو نومونو پرده لرې کړای شي.

د تخلص په اړه دا يادونه ضروري بولم چې کله محمد داوود خان د خپلې واکمنۍ په وخت کې قومي تخلصونه بند کړل، نو زياترو ليکوالو او شاعرانو خپل آثار په مستعارو نومونو خپرول.

د تخلص ترځنگ «مخفف نوم» يا «مخففات» هم هغه څه دی چې ليکوال يې

کله کله د لیکنې پر ټنډه لیکلو ته اړ کېږي او یا په خپله خوښه لیکي. په دې ډول نوم غوره کولو کې دوه خبرې دي:

که لیکوال یې په خپله خوښه او له مجبوریت څخه پرته لیکي، نو په دې معنا چې لیکوال نه غواړي خپل نوم یې ډېر ډېر د لوستونکي تر نظر ورشي، لکه: س، ب، ب (سیده بشری بېگم) او م. ن. ص (محمد نبي صلاحي)، خو که غواړي له دې لارې خپل هویت پټ کړي، نو دا د مستعار نوم یو ډول بللی شو، لکه: ظ، الف؛ ز، س.

باید وویل شي چې له مخففاتو څخه پخوا د حکومتي چارواکو د القابو لپاره هم کار اخیستل کېږي. د استاد عبدالشکور رشاد په وینا، په څلوېښتمو کلونو کې د هر جگپوړي دولتي چارواکي لپاره ځانگړي حروف کارول کېدل چې دغه وړ القابو او صفاتو راوړل او کارول د هغه وخت د کتابت یوه برخه گڼل کېده، لکه: د فرقه مشر لپاره د ع-ش (عالیقدر – شجاعتمند)، د کنډک مشر لپاره، ش (شجاعتمند)، د مدیر لپاره، ص (صداقتمند)، د وزیر لپاره، ع- ج (عالیقدر – جلالتمآب) چې حتی پاچا به هم په خپلو رسمي مکتوبونو او فرمانونو کې دغه القاب کارول(۱۲).

تر دې ور اخوا په یوه ځای کې د مستعار نوم ډولونه په لاندې توگه ښودل شوي دي:

۱- قلمي نوم «pen names»: چې دې ته ادبي نوم، کنیه او تخلص هم ویل کېږي، په دې ډول مستعار نوم کې، کله کله په خاص ډول سره د لیکوال واقعي نوم ته هم اشاره شوې وي، د لیکوال او یا په ځینو مواردو کې د ناشر په واسطه غوره کېږي. د جاسوسي، جرم او جنایت، افشاگري او ان شهواني او جنسي- کیسو په کتابونو کې، لیکوال د بېلا بېلو زیانونو له ور رسېدو څخه د خپل ځاني او ټولنیز امنیت د ساتلو لپاره له مستعار نوم څخه استفاده کوي. د ایران اوسني مذهبي مشر علي خامنه یي د ۱۳۵٤هـ ش کال په وروستیو کې خپل پټ کتاب (طرح کلی اندیشه ی اسلامی در قرآن) د سید علي حسیني په مستعار نوم خپور کړ، چې د دې کار انگېزه یې د خپل امنیت ساتل و.

۲- هنري نوم: د هنر په نړۍ کې مستعار نوم ډېر زیات دود دی. له تیاتر او سینما نیولې بیا د نړۍ د موسیقي او شعر د مشاهیرو او ډېرو نورو هنرمندانو له

مستعار څخه ډېره استفاده کړې ده. "ا. بامداد" د احمد شاملو، "م. امید" د مهدي اخوان ثالث، "هـ.الف سایه" د هوشنګ ابتهاج، "سیاوش بیدګاني" د محمد رضا شجریان، "هایده" د معصومه دده بالا، "ګوګوش" د فائقه آتشین د ایران د مشهورو هنرمندانو مستعار نومونه دي.

۳- شغلي یا کسبي نوم: د مستعار نوم هغه بل ډول دی چې په کسبونو او کارونو کې له هغه څخه کار اخیستل دي. غالباً په ډلو، سازمانونو او بېلابېلو کسبونو کې د واقعي هویت د پټولو لپاره له مستعار نوم څخه په استفادې هغوی یو جدي فعالیت کوي. دغه راز په سیاسي، امنیتي او نظامي فعالیتونو او آن غیر قانوني فعالیتونو کې هم ترې استفاده کېږي. مثلاً: د سپیني ماڼۍ د ملي امنیت پخواني سلاکار رابرت مک فارلین د "شون دولین" په مستعار نوم په ایرلنډي پاسپورت ایران ته سفر وکړ.

٤- مجازي نوم: په ډیجیټلي نړۍ کې هم د واقعي نړۍ په څېر، خلک د مختلفو دلایلو پربنسټ، د خپلې ازادۍ او امنیت او د خپل خصوصي حریم د ساتلو لپاره د وخت په تېرېدو له مستعار نوم څخه استفاده کوي(۱۳).

**مستعار نوم په نړیواله کچه:**

له مستعار نوم څخه استفاده کول په نړیواله کچه دود دي. په انګلیسي ادبیاتو کې جنسیتي تبعیض د دې لامل شو چې "مري ان. ایونز" د "جرج الیوت" مستعار نوم د ځان لپاره غوره کړي. "لودویک زامنهوف" د اسپرانتو نړیوالې ژبې جوړوونکي د خپل ځان لپاره د "اسپرانتو" مستعار نوم ټاکلی و. د فلسطین پخواني ولسمشر- یاسر عرفات د "ابوعمار" او احمد شاملو د "ا. بامداد" مستعار نوم کاراوه.

یو مهال انګرېز لیکوال، شاعر، ژورنالیست او ادبي منتقد اریک آرتور بلیر (Eric Arthur Blair) «۱۹۰۳- ۱۹۵۰م) هوډ وکړ چې خپله غمجنه تجربه «په پاریس او لندن کې بې کوره او بدمرغه»کتاب په بڼه ولیکي، خو وروسته یې په ذهن کې دا خبره تېره شوه چې دغه لیکل به یې مور و پلار خجالت کړي او وبه یې ځوروي، ځکه هغوی د لوړې طبقې په خلکو پورې تړاو درلود. دوی به څنګه احساس وکړي چې زوی یې له یوه پاریسي هوټل څخه چې  د شړلو او ناهیلۍ کیسه کوي؟ خو دا یې هم نه غوښتل چې خپله دغه ژوره انساني تجربه بې له لیکلو څخه همداسې

پرېږدي؟ اخر يې کتاب وليکه او په مستعار نوم يې خپور کړ. يو داسې نوم چې فکر يې نه کاوه چې همدا په شلمه پېړۍ کې يو تر ټولو مشهور انګليسي- ادبي نوم شي. خو په دې کار يې کورنۍ ناخبره وه او همداسې يې له شهرت او افتخار څخه محرومه شوه. هغه دوه ګونی ژوند وکړ، په ټولنه کې جورج اورويل و او په ليکنو کې اريک بلير. دغه راز فرانسوی ليکوال او ديپلومات رومان ګاري (۱۹۱۴- ۱۹۸۰م) په همدې او بل مستعار نوم اميل اجار باندې مشهور شوی و او په دواړو يې ادبي جايزې هم اخيستې دي. فرانسوي نابغه فولتير ۱٦۲ مستعار نومونه لرل(١٤).

سوريايۍ ليکواله او شاعره رشا عمران وايي، په نړيوال ادبي تاريخ کې سلګونه داسې کسان شته چې په مستعارو نومونو مشهور شوي او زياتره خلک يې له حقيقي نومونو څخه خبر نه دي، مګر دا چې ډېرو ځانګړو کسانو ته معلوم دي. دغه نومونه نه يواځې دا چې په فرهنګي او ادبي کړيو پورې منحصر پاتې شوي، بلکې اوسمهال يې ټولنيزو رسنيو ته په پراخه کچه لار موندلې ده. کله چې په عربي نړۍ کې د عرب پسرلي په نوم خوځښتونه پيل شول، نو هلته زياترو کسانو د دې لپاره چې د حکومتونو له خوا تعقيب نه شي او په ډاډه زړه په ټولنيزو رسنيو کې خپلې خبرې او مطالب خپاره کړي، نو مستعارو نومونو ته يې مخه کړله(١٥).

ايراني ليکوال دهخدا چې د شلمې پېړۍ په پيل کې د خپل وخت ګډوډۍ انتقادولې، نو خپل طنزونه به يې د «دخو» په مستعار نوم کښل(١٦).

جلال نوراني وايي، د افغان طنزليکوالو د پېژندنې يو ستره ستونزه دا ده چې زياترو طنزليکونکو خپل منظوم او منثور طنزونه په مستعارو نومونو ليکلي دي. مثلاً: «ع چوکيدار» چې تر ډېره وخته يې اصلي ليکوال چا نه پېژانده، خو وروسته چې د هغه زوی (احمد طارق عشرتي) د «خلوتګاه راز» په ۱۳۷۱هـ ش کال کې چاپ کړ، په کې يې په ډاګه کړه چې ياد شوی مستعار نوم د عبدالاحد عشرتي دی. د ده په نظر، عشرتي د دې لپاره د خپلو طنزي ليکنو لپاره مستعار نوم کارولی، چې له يوې خوا دی د يوه ديني عالم او د حقوقو او شرعياتو د استاد په توګه مشهور شوی و او هم د ځاني امنيت مسئلې هم نوموړی دې ته اړ کړی و چې په پښنور کې خپل اصلي هويت پټ کړي(١٧). په خپله عشرتي وايي، د ګهيځ په نوم جريده کې يې په ۲۱ مستعارو نومونو ليکل کړي او له دې لارې يې له دې جريدې سره همکاري

لرله(۱۸).

د انټرنټ په راوتلو او پراخېدو سره، مستعار نومونه هم ډېر شوي دي. ځینې لیکوال مختلف مستعار نومونه لري او د زمان او مکان له غوښتنو سره سم یو له هغو څخه کاروي. اوسمهال په انټرنټ کې داسې وېبپاڼې او صفحې شته چې د بېلا بېلو هېوادونو او ټولنو د لیکوالو، شاعرانو، هنرمندانو، سیاستوالو او نورو اجتماعي شخصیتونو د مستعارو نومونو جدولونه سره د هغوی له حقیقي نومونه سره په کې په ډاګه شوي دي چې په ډېرې اسانۍ سره په ګوګل (Google) کې پیدا کېږي.

## مستعار نوم په پښتو ادب کې:

د پښتو ادب او ژبې اړوند په ځینو خپرونو او آثارو کې، داسې لیکنې شته چې په مستعارو نومونو خپرې شوې دي. په پښتو ژبه د مستعارو لیکل شوو مقالو تاریخچه ښایي ډېره مخکینۍ وي، خو په معاصره دوره کې یې ریښه د شلمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي دوهمې لسیزې ته غځېدلې ده، ځکه د سراج الاخبار د پنځم کال په ۱۷مه ګڼه کې (۱۹۱۵م کال) د «م. الف» په مستعار نوم یوه مقاله خپره شوې، چې لیکوال یې په کې د پښتو د دفتري کولو، د ښوونځي د ټولو مضمونونو د پښتو کولو او پښتو ته له بهرنیو ژبو د ژباړو پر ډېرولو ټینګار کړی دی. په دې مقاله کې راغلي دي: «بویه چې په ملکي ښوونځیو کې ټول علوم په پښتو ژبه تدریس شي او فارسي او عربي او ترکي د دویمو ژبو په توګه ولوستل شي(۱۹)». خو د لیکوال هویت یې لا نه دی څرګند.

زموږ په فرهنګ، ادبیاتو او رسنیو کې مستعار نوم تر سترګو کېږي. ما چې خپل د ماسترۍ تېزس لیکه، نو هلته مې د «جمهوري پلوشې» مجلې باندې څېړنه کوله، نو په دې مجله کې چې د ۱۳۵۵ او ۱۳۵۷ کلونو ترمنځ خپره شوې، له ډېرو مستعارو نومونو سره مخامخ شوم. له دې سربېره په طلوع افغان، کابل مجلې، زېرې جریدې، وفا جریدې او نورو خپرونو کې په مستعار نوم لیکنې شوې دي. دا چې مستعار نوم په پراخه کچه کارول شوی، نو زه دلته د دې بحث د پیل لپاره، ماته معلوم د ځینو پوهانو، څېړونکو او استادانو ځینې مستعار نومونه د لوستونکو مخې ته ږدم:

۱. د ګل پاچا الفت مستعار نومونه:

ظریف خان، کجوروال، علاقمند، محتاط، ستمدیده، نوآموز، نادار، ارزومند، نکته رس، نکته دان، منتظر، حق بین، منصف، حق پسند، دلسوز، اعتدالي، ملتفت، بې زړه، مشاهد، امنیت خواه، پارلماني وکیل، دقت پسند، قانوني، خپل؛ الف، ط، ک(۲۰) او د سترگو خلی(۲۱).

۲. د استاد قیام الدین خادم مستعار نومونه:

کاموي، زاخېلی، میاعمرزی، سیلانی(۲۲) او احراري.

نوموړي د خپلو مستعارو نومونه په اړه ویلي:

په خادم کله مې ځان ته سیلانی ویلی
کله مې ځان احراري میاعمر ښودلی
پلار مې د شگې په زاخېلو کې خاړپوڅې کړي
په دې لحاظ مې کله ځان په زاخېلي بللی(۲۳)

۳. د پوهاند عبدالحی حبیبي مستعار نومونه:

محصل، پرېشان، کندهاری،ع. ح، مهاجر افغان، کاکړ او پښتون(۲٤).

۴. د عبدالرووف بېنوا مستعار نوم: سپین[1] تمان(۲۵).

۵. د څېړنپوه عبدالله بختانی خدمتگار مستعار نومونه:

ادیب سرخرودی، ادیب سور رودی، کلیوال، گلدوست، اخلاقي، بېچاره، سحاب، رحیمي، مولوي عبدالله خان، ع. ب(۲٦) او هوډیالی(۲۷).

٦. د څېړنپوه زلمي هېوادمل مستعار نومونه:

غشی، شین گل، سپین گل، فرنود، صلحجو، شین، مرونـد، شبآهنگ، ز. س، ز. هـ، هـ، ز. س. ع(۲۸)، انارگل(۲۹) او احقر العباد.

۷. د اکاډمیسین سلیمان لایق مستعار نومونه:

سپنتا، خاتول، زرغون شرنوال، پردل او بربځر(۳۰).

۸. د کاندید اکاډمیسین محمد صدیقي روهي مستعار نومونه:

خوستوال، خوستوال. ص(۳۱)، آثر، حسین زاده(۳۲).

---

[1]. د استاد عبدالرووف بېنوا په دې مستعار نوم خپره شوې مقاله (خوشحال از زبان خوشحال) د اصلاح ورځپاڼې د ۱٦۵مې گڼې د ۱۳۳٦هـ ش کال د حوت په ٦مه نېټه خپره شوې ده.

۹. د محمد اکبر معتمد جنتي شينواری مستعار نوم: شيګل شينواری.

۱۰. د ظاهر افق مستعار يا مخفف نوم: ياقوت، ا(۳۳)؛ ظ، الف(۳٤)؛ ا. ياقوت.

۱۱. د څېړنوال حبيب الله رفيع مستعار نومونه:

سمون، يون، خپلواک، ابدروال، افغانيار، ورديکا، څرک، برېښ، تورکښ، ملت پال، پيکار، ژړاند، غمی، لمر، زمان الدين او فولکلوريست(۳۵).

په پروانه اونيزه کې چې په ۱۳٤۷هـ ش کې خپره شوې، په همدې کال د دې اخبار په څو ګڼو کې د ښاغلي رفيع هره ليکنه په بېل مستعار نوم خپره شوې ده.

۱۲. د څېړنپوه علي محمد منګل مستعار نومونه: کلېچ، مرغلين او نسيم(۳٦).

۱۳. د دوکتور دولت محمد لودين مستعار نوم: سپرکښ

۱۴. د څېړنپوه نصرالله ناصر مستعار نومونه: سين غاړېوال، ښوون، ن. سين غاړېوالی(۳۷).

۱۵. د څېړنپوه سيد محي الدين هاشمي مستعار نومونه: رنځور؛ سيدودوال؛ س. م. د. کونړی(۳۸).

۱٦. د څېړنوال محمد نبي صلاحي مستعار نومونه: باتور، ميوند، شمشاد، زرمتی او بولان(۳۹).

۱۷. د ليکوال او شاعر توريالي ځاځي مستعار نوم: روکيانی.

۱۸. د عبدالجليل وجدي مستعار نوم: ع. و. ماجتي(٤٠).

۱۹. د زيتون بانو مستعار نومونه: ثريا بخاري، شهناز خليل، صفيه خانم او شګلنه(۴۱).

۲۰. د اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد مستعار نوم: افغان کندهاری(٤۲)، پروېز (دا مستعار نوم د "پوهاند رشاد ويښ زلمي" مخفف دی(٤۳)).

۲۱. د زرين انځور مستعار نومونه: م. تکل؛ م. يون؛ سيَندک.

۲۲. د شاه محمود حصين مستعار نومونه: رازبين، کمر فريادي او بځری.

۲۳. د صديق پسرلي مستعار نومونه: زرکه؛ ښارو؛ م. پاسنی.

۲۴. د څېړنوال زکريا ملاتړ مستعار نوم: ارکزی.

۲۵. د پوهاند محمد صديق رازقي نړيوال مستعار نومونه: نرنګی، نرنګوال، کونړی، قيام، ځری، سربښند، زيارکښ، شالماری، سپين کاړی، تماشګير او صديق کونړی.

۲٦. د اسحاق ننگیال مستعار نومونه: ش. مړوند؛ ن. سیوری؛ ن. س؛ سیوری؛ ش. الکوزی؛ م. الکوزی.

۲۷. د څېړنوال عبدالغفور لېوال مستعار نومونه: ل. حسین خېل؛ ل. کوچی؛ کوچی؛ هېواد حسین خېل؛ الماس. (په هینداره او تعاون مجلو کې په همدې نوم لیکنې لري).

"علامه رشاد په ننگرهار کې" اثر کې راغلي چې په مساوات اونیزه کې چاپ شوې زیاتې لیکنې د لیکوالو په مستعارو نومونو دي، چې له دغې جملې څخه د (زموږ د ملت او ملي حرکاتو تاریخي تحلیل او په دغو کې د خلقو او منورانو برخه) تر سرلیک لاندې د "افغان کندهاري" په مستعار نوم په لومړۍ گڼه کې د استاد عبدالشکور رشاد یوه لیکنه چاپ شوې ده. دا اونیزې په ۱۳٤٥هـ ش کال تاسیس شوې او لومړۍ گڼه یې د استاد رشاد په امتیاز د مرغومي په اته ویشتمه نېټه (د ۱۹٦۷م کال د جنوري ۱۸مه) له چاپه راوتلې ده(٤٤).

ښاغلی زرین انځور لیکي چې زیتون بانو په پیل کې څو کیسې په مستعارو نومونو لیکلې دي، د هغه دلیل دا دی چې د تعلیمي او ادبي چاپېریال له مخې داسې روزل شوې وه چې له ادب سره یې تړون یو فطري امر و، خو په کورني چاپېریال کې یې په ښکاره توگه د ادبي هلو ځلو ازادي نه درلوده، نو ځکه یې په پیل کې د ثریا بخاري، شهناز خلیل، صفیه خانم او شگلنه په مستعارو نومونو کیسې لیکلې دي(۴۵).

استاد پسرلي په (م. پاسنی) مستعار نوم دوه آثاره (داستاني غورچاڼ او لېونی باد) خپاره کړي دي. دا چې د استاد پسرلي یو مستعار نوم «زرکه» هم و، نو په دې اړه اسدالله غضنفر وايي چې پسرلي صاحب به ویل چې د دې نوم له لارې یې غوښتل، ښځې وهڅوي چې ترڅو خپل احساسات په لیکنو او شعرونو کې بیان کړي.

باید وویل شي چې آن پر یو شمېر آثارو لیکل شوي تقریظونه یا لیکنې هم په مستعار نوم خپرې شوې دي، لکه په "ولسي سندرې" کتاب کې د بیدیاني گلونه تر سرلیک لاندې د "برېښ" په نوم دولس مخیز تقریظ(۴٦). په دې وروستیو کې د "تاریخي افغانستان د تاریخ په کرښو کې" ۱۷۳ مخیز اثر چې سرکال (۱۳۹٦ل) د

سرحدونو او قبایلو چارو وزارت له خوا چاپ شوی او په څلورم ټوک کې یې د بېلا بېلو لیکوالو لیکنې راغلي او بیا پښتو ته د "برېځر" په مستعار نوم (اکاډمیسین سلیمان لایق) ژباړل شوی دی. دغه راز دویمه سقاوي د «سمسور افغان» په مستعار نوم خپور شوی، چې دا یوه سیاسي لیکنه ده او لیکوال یې لا تراوسه عامو خلکو ته نه دی معلوم.

له دې وراخوا، ځینې داسې مستعار نومونه شته، چې تراوسه یې ما ونه شو کولی چې د لیکوال اصلي نوم یې پیدا کړم، لکه:

باور = ؟؟؟

بری، س، ل = ؟؟؟

پیرزوین = ؟؟؟

سوچ = ؟؟؟

ع، ش = ؟؟؟

م. ص = ؟؟؟

لکه مخکې مو چې اشاره وکړه، د انټرنټ په نړۍ کې په ځانګړې توګه په فېسبوک کې ځینو لیکوالو په مستعارو نومونو پاڼې جوړې کړې دي. دوی له خپلو اکاونټونو څخه بېلا بېل ادبي، سیاسي، فکري او ټولنیز مسایل بیانوي، چې د ځینو مشهورو نومونه یې دا دي: لرغونی لاروی، نورمحمد ضیا، ملک میرام ګل، سیف الملوک شهزاده، سعد عمار، ترلوک سینګ. سره له دې چې د دې مستعارو نومونو اصلي خاوندان اوسمهال نه غواړي چې هویت یې افشا شي، خو د وخت په تېرېدو به یو مهال څرګند شي.

په مستعارو نومونو د لیکل شوو آثارو د لیکوال د اصلي نوم پیدا کول، داسې دي، لکه د یو چا ځمکه چې وي، خو چاته مشخصه نه وي معلومه او کله چې یو څوک هغه معلومه کړي ، نو هغه شخص ته یې ګواکې ډېره فایده رسولې ده؛ په مستعار نوم کې هم همدا مسئله صدق کوي.

بل پلو، که د پښتنو لیکوالو مستعارو نومونو ته نظر واچوو، نو د شکل له مخې یې زیاتره، یو کلمه وي او ډېر کم داسې دي چې هغه دوه یا درې کلمې وي، لکه:

احقر العباد. کله کله داسې هم لیدل کېږي، چې مستعار نوم او مخففات یوځای سره راغلي وي، لکه: «س. م. د. کونړی» یا دا: «بری، س، ل».

د یادونې وړ ده چې ځینې داسې شاعران، فرهنګیان او ادیبان هم شته چې د اصلي نوم په ځای یې مستعار یا بدل نوم دومره ډېر مشهور شوی وي چې د دغه ډول اشخاصو اصلي نوم ډېرو خلکو ته نه وي معلوم، لکه ملنګ جان چې اصلي نوم یې محمد امین دی. یا په پښتونخوا کې دا لاندې کسان:

درویش درانی چې اصلي نوم یې عبیدالله دی، اباسین یوسفزی چې اصلي نوم یې مسلم شاه دی، ډاکټر علي خېل دریاب چې اصلي نوم یې بادشاه روم دی، م.ر. شفیق چې اصلي نوم یې مختار رحیم شفق دی، قلندر مندر چې اصلي نوم یې حبیب الرحمن دی، وزیر شادات چې اصلي نوم یې پایو دی(۴۷)، فوزیه انجم خټک چې اصلي نوم یې زینت انجم خټک دی. انجم خټک د کورنی ستونزو له امله د دې لپاره چې څوک یې په لیکنو پوه نه شي، دا کارکړی دی.

په مستعار نوم د خپرې شوې لیکنې د اصلي لیکوال د پېژندلو څرنګوالی:

دا چې یو څوک وغواړي پوه شي چې په مستعار نوم خپره شوې لیکنه د چا ده او د لیکوال هویت معلومول غواړي، نو له بېلابېلو لارو څخه کار اخیستی شي:

- یو دا چې، له ځینو مشهورو استادانو نه پوښتنه وکړي چې په کومو مستعارو نومونو یې لیکنې خپرې کړې دي.
- بله دا چې، له پیاوړو، تجربه کارو او پخو استادانو څخه هغوی ته د معلومو مستعارو نومونو د اصلي لیکوالو څرک ولګول شي.
- په ځینو تذکرو کې چې کله کوم لیکوال معرفي شوی، نو هلته هم د اشخاصو د معرفي په ترڅ کې کله کله د هغوی د مستعارو نومونو یادونه شوې وي.
- څلورم دا چې، د لیکنې له سبک څخه هم د لیکوال هویت څرګندېدای شي، خو دا کار هغه څوک کولی شي چې د پراخې مطالعې څښتن او د بېلابېلو لیکوالو د سبک د ځانګړنو څه ناڅه درک ورته معلوم وي.

**پایله او وړاندیز:**

مستعار نوم هغه نوم دی چې له ډېر وخت راهیسې په نړیواله کچه او په پښتو ادب کې کارېدلی دی. البته د دې نوم غوره کېدل مختلف سیاسي، ټولنیز او

اقتصادي اړخونه لري. سره له دې چې مستعار نوم یو څه زیانمن ثابتېدلی شي، خو د لیکوال لپاره له ګټو څخه هم خالي نه دی. له تخلص سره د مستعار نوم پولې جوتې دي، ځکه تخلص عام او اوږدمهاله وي او زماني محدودیت نه لري، خو مستعار نوم د لنډ مهال لپاره یا مؤقتي وي.

په پښتو ادب کې ګڼ شمېر لیکوالو او شاعرانو له دې ډول نوم څخه استفاده کړې ده چې په دې مقاله کې د ځینو هغو اصلي نومونه په ډاګه شوي دي.

دا چې دغه لیکنه د دې بحث پیلامه ده، هیله ده، په دې اړه لا نوره څېړنه وشي او په پښتو ادب کې له وسې سره سم، د هغو لیکوالو اصلي نومونه د هغوی په خوښه او یا یې تر وفات او یا شرایطو د بدلېدو پرمهال په ډاګه شي. همدارنګه که په راتلونکي کې د هغو لیکوالو چې په مستعارو نومونو یې لیکنې کړي، د دغه ډول نومونو د غوره کولو د لاملونو په اړه ترې پوښتنه وشي، نو بې ګټې به نه وي. دغه راز وړاندیز کېږي، کله چې څوک د چا ژوندلیک لیکي او یا تذکرې لیکي، هیله ده د لیکوالو او شاعرانو مستعار نومونه هم په کې درج کړي او په پای کې دا وایم، که په راتلونکي کې د هغو لیکوالو چې په مستعارو نومونو یې لیکنې کړي، د دغه ډول نومونو د غوره کولو د لاملونو په اړه پوښتنه وکړي، نو بې ګټې به نه وي.

**مأخذونه:**


۱. عزیزالله امرخېل، محمد نعیم سالارزی، علي محمد منګل....، پښتو – پښتو تشریحي قاموس، څلورم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، اوډنه او چاپ: د افغانستان لپاره د ټولیزو رسنیو مرکز (میدیوتیک)، کابل، ۱۳۸۳ هـ ش کال، ۲۸۸۱مخ.

2.https://www.vajehyab.com/?q=%D9%85%D8%B3%D8%AA%D8%B9%D8%A7%D8%B1&t=like&s=10

3.https://fa.wikipedia.org/wiki/%D9%86%D8%A7%D9%85_%D9%85%D8%B3%D8%AA%D8%B9%D8%A7%D8%B1

4. http://www.mahdighorbani.net/?p=949

5.https://ar.wikipedia.org/wiki/%D8%A7%D8%B3%D9%85_%D9%85%D8%B3%D8%AA%D8%B9%D8%A7%D8%B1

٦. پوهاند صدیق الله رښتین، پښتو گرامر، د سید محی الدین هاشمي ژباړه، یونیورستي بُک ایجنسي، پېښور، ۱۳۷۲هـ ش کال، ۴۵مخ.
۷. پښتو گرامر، ۴۸- ۵۰ مخونه.
۸. سوزان لولجوراج،
http://portal.sdl.edu.sa/arabic/%D8%B3%D8%AA%D8%A9-%D8%A3%D8%B3%D8%A8%D8%A7%D8%A8-%D9%84%D9%84%D9%83%D8%AA%D8%A7%D8%A8%D8%A9-%D8%AA%D8%AD%D8%AA-%D8%A7%D8%B3%D9%85-%D9%85%D8%B3%D8%AA%D8%B9%D8%A7%D8%B1/
9. http://abkenarema.ir/?p=3775
10. https://v.3bir.net/317098/
۱۱. پښتو – پښتو تشریحي قاموس، ٦۲۸مخ.
۱۲. د استاد رشاد ژورنالېستیکي هڅې، امیر جان وحید احمدزی، علامه رشاد په ننگرهار کې (د مقالو ټولگه)، رڼا کلتوري مرکز، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۳هـ ش کال، ۱۳۷ مخ.
۱۳. https://hilnu.com/posts/anonymity-and-pseudonym/، ۲۷ دلـــو، ۱۳۹۵
۱۴. سمیر عطاءالله، الشرق الاوسط، ۲۹ سپتمبر، ۲۰۱٦م،
https://aawsat.com/home/article/748956/%D8%B3%D9%85%D9%8A%D8%B1-%D8%B9%D8%B7%D8%A7-%D8%A7%D9%84%D9%84%D9%87/%D8%A7%D9%84%D8%A7%D8%B3%D9%85-%D8%A7%D9%84%D9%85%D8%B3%D8%AA%D8%B9%D8%A7%D8%B1
۱۵. رشا عمران، العربیة وبېپانه، ۱۴ ډیسمبر، ۲۰۱۴م کال،
https://www.alaraby.co.uk/opinion/2014/12/14/%D9%81%D9%8A-%D9%86%D9%82%D8%AF-

%D8%A7%D9%84%D8%A7%D8%B3%D9%85-%D8%A7%D9%84%D9%85%D8%B3%D8%AA%D8%B9%D8%A7%D8%B1%B1

۱۶. جلال نوراني، از دهخدا تا عشرتی، غزنه باستان مجله، شورای اجتماعی غزنه باستان «نمایندگی کابل»، لومړی کال، درېیمه شماره، پرله پسې شمېره ۳، د هکده چاپ، ۱۳۹۱هـ ش کال، ۹ مخ.

۱۷. جلال نوراني، از دهخدا تا عشرتی، غزنه باستان مجله، شورای اجتماعی غزنه باستان «نمایندگی کابل»، لومړی کال، درېیمه شماره، پرله پسې شمېره ۳، د هکده چاپ، ۱۳۹۱هـ ش کال، ۸، ۹ مخونه.

۱۸. فرازهای از تاریخ نهضت اسلامی در افغانستان .

۱۹. داود جنبش، پښتو سل کاله وړاندې څنګه رسنیزه شوه؟ بي بي سي وېبپاڼه، د ۱۳۹٦هـ کال د تلې ۱۷مه،
(http://www.bbc.com/pashto/afghanistan-41559476).

۲۰. اریانا دایرة المعارف، شپږم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دایرة المعارف ریاست، ۱۳۹٦هـ ش کال، ۷۵ مخ.

۲۱. د څېړنپوه عبدالله بختاني قلمي یادښت.

۲۲. عبدالرؤف بېنوا، اوسني لیکوال (بشپړ متن)، ترتیب او زیاتونې: مطیع الله روهیال، علامه رشاد خپرندویه ټولنه – کندهار، صحاف نشراتي مؤسسه، ۳۲۹مخ.

۲۳. شیخ عبدالقادر المغربي، مکارم الاخلاق، د قیام الدین خادم پښتو ژباړه، پښتو ټولنه، د کابل عمومي مطبعه، ۱۳۳۳هـ ش کال، د کتاب د پښتې دوهم مخ.

۲۴. آریانا دایرة المعارف، درېیم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د دایرة المعارف ریاست، ۱۳۸۹هـ ش کال، ۳۱۲ مخ.

۲۵. څېړندوی محمداصف احمدزی، د استاد عبدالرووف بېنوا «خوشحال د خوشحال له خولې»، مومند خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۱هـ ش کال، هـ مخ.

۲٦. د استاد عبدالله بختاني قلمي یادښت.

۲۷. سید نظیم سیدي، لس کلن زېری، د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالیستانو خپلواکه ټولنه، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱هـ ش کال، ۸- ۱۰

مخونه.

۲۸. لس کلن زېرى، ۸- ۱۰ مخونه.

۲۹. څېړنـدوى محمـد اصـف احمـدزى، د پښـتو د پرمختيـا او پياوړتيـا اداره، د افغانستان ملي تحريک، ۱۳۹۴هـ ش کال، ٦۸- ٦۹ مخونه.

۳۰. د اکاډميسين سليمان لايق شفاهي وينا.

۳۱. لس کلن زېرى، ۸- ۱۰ مخونه.

۳۲. آريانـا دايـرة المعـارف، څلـورم ټـوک، د افغانسـتان د علومـو اکـاډمي، د دايـرة المعارف رياست، ۱۳۹۰هـ ش کال، ۱۲۳مخ.

۳۳. د پښتو د پرمختيا او پياوړتيا اداره، ٦۸- ٦۹ مخونه.

لس کلن زېرى، ۸- ۱۰ مخونه.

۳۴. د څېړنوال حبيب الله رفيع قلمي يادښت.

۳۵. د څېړنپوه علي محمد منګل قلمي يادښت.

۳٦. د څېړنپوه نصرالله ناصر قلمي يادښت.

۳۷. د څېړنپوه سيد محي الدين هاشمي قلمي يادښت.

۳۸. د څېړنوال محمد نبي صلاحي قلمي يادښت.

۳۹. په قلم مجله کې چې په پېښور کې د افغانستان د جهادي څېړنو مرکز له خـوا دوه مياشتنۍ خپرونه وه، په کې يادو شويو ليکوالو په مسـتعارو نومونـو ليکنـي کـړي چې اصلي ليکوال يې استاد رفيع را وښودل.

۴۰. محمد زرين انځور، د زيتون بانو کيسې د ښځمنو د ژوند هينـداره (مقالـه)، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، کابل مجله، ۵مـه ګـڼه، ۱۳۹۴هــ ش کال، ٦۴ مخ. څېړندويه ملکه مشتري، د پښتو د منظومـو ادبيـاتو پـه پرمختيـايي بهير کې د ښځو ونډه، ناچاپ اثر.

۴۱. د استاد رشاد ژورنالېستيکي هڅې، امير جان وحيد احمدزى، علامه رشاد پـه ننګرهار کې (د مقالو ټولګه)، علامه رشاد په ننګرهار کې، ۱۳۱ مخ.

۴۲. اسدالله ارماني، په کندهار کې د علامه رشاد اکاډمي غړى.

۴۳. د استاد رشاد ژورنالېستيکي هڅې، امير جان وحيد احمدزى، علامه رشاد پـه ننګرهار کې (د مقالو ټولګه)، علامه رشاد په ننګرهار کې، ۱۲٦، ۱۳۱ مخونه.

۴۴. محمد زرين انځور، د زيتون بانو کيسې د ښځمنو د ژوند هينداره (مقاله)، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، کابل مجله، ۵مه گڼه، ۱۳۹۴هـ ش کال، ٦۴ مخ. څېړندويه ملکه مشتري، د پښتو د منظومو ادبياتو په پرمختيايي بهير کې د ښځو ونډه، ناچاپ اثر.

۴۵. ولسي سندرې، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، ۱۳٦۱هـ ش کال، شپاړسم مخ.

۴٦. د څېړنوال عبدالظاهر شکيب قلمي يادښت.

څېړندویه ګل غوټۍ خاورۍ

# د ادبیاتو او ژانر اړیکې

**لنډیز:**

په دې وروستیو کې ګورو چې د ځینو ځوانو او مبتدي څېړونکو لـه خـوا د ادبي ډول او ادبي ژانر ترمنځ برید پولې ماتې شـوي، ډېـر ځلـه ادبي ډول او ادبي ژانـر نـه جلا کوي او دواړه ته یا ژانر او یـا هـم ادبي ډول وایـي، پـه داسـې حـال کـې چـې دا دواړه هم د جوړښتي جوړښت له پلوه او هم د منځپانګیز جوړښت له پلـوه ځمکـې او اسمان هومره توپیر لري.

په دې معنا د ارسطو د ډلبندۍ له مخې ادبیات په ټوله کې په دریو لویو برخـو یا ډولونو باندې وېشل کېږي، چې حماسي، لیریک یـا غنـایي او ننـداریز یـا انځـوریز دي او دا هر یو ډول په خپل ذات کې بیا په کوچنیو برخو باندې وېشـل کېـږي چـې همدغـه کـوچنۍ برخـې یـې بیـا ادبي ژانرونـه دي، چـې هغـه هـم د جوړښـت او منځپانګې له مخې سره توپیر کوي، که چېرې د جوړښت له مخـې او منځپـانګې لـه مخې توپیر ونه کړي، نو هغه بیا بېل ژانر نه دی او که چېرې یـې لـه دواړو اړخونـو لـه مخې بدلون وکړ، نو بیا بېل ژانر دی.

**سریزه:**

ادبیات د لویې وېشنې ترڅنـګ کـوچنۍ وېشـنې هـم لـري او هـره وېشـنه یـې ځانته نوم او ځانته ځانګړنې لري، خو مونږ ډېر ځله دغو بـاریکیو تـه نـه ځیـر کېـږو او ټول په یو ډول ګڼو، چې د دې معنا داسې ده لکه مونږ چې ادب تاریخ، ادب تیوري، ادبي کره کتنه او ادبپوهنه ټول یـو ډول وګڼـو او تـرمنځ یـې جوتـو توپیرونـو تـه هـېڅ

توجه ونه کړو.

دقيقاً ډغه ډول نابرابري نه يواځې د ادبياتو مينه وال او لوستونکي لار ورکي کوي، بلکې ادبيات هم له خپلې دايرې باسي او ډېر ځله يې نوم هم له ننګونې او ستونزې سره مخامخوي، نو د دې لپاره چې دغو باريکيو ته ځير شوي اوسو په کار ده چې د ادبياتو هر يو صنف، ژانر، ډول او نوعه په دقيقه توګه مطالعه او ځان يې په مشترکاتو او توپيرونو پوه کړو، نو هله به مو ادبيات، ادبيات شي او که داسې ونه کړو بې له شکه په خپله به مو په خپل لاس خپلو ادبياتو ته د زوال او متروکېدلو کندې کېندلې وي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت:

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې تر اوسه پورې موږ د پښتو ادبياتو په برخه کې کومه داسې مقاله نه لرو يا لږ تر لږه زما له نظره نه ده تېره شوې چې د ادبياتو په دغومره ظريف او ورته وخت کې لوی او بنسټيزې مسئلې باندې يې ځيرنه کړې وي او د ادبياتو د ډول يا نوعې او ژانر ترمنځ دې يې توپيرونه په ګوته کړې وي.

په دې ليکنه کې دا او دې ته ورته لويو او کوچنيو مسايلو توپيرونه او مشترکات په ډېره جوته توګه څرګند شوې دي.

## د څېړنې موخه:

د دې څېړنې موخه دا ده چې زموږ د ادبياتو روح او جوړښت په سمه توګه درک شي، سم ډلبندي شي او هر يو ژانر او ډول د خپل جوړښتي او منځپانګيز جوړښت په رڼا کې تر څېړنې لاندې ونيول شي. يعنې يوه برخه په بلې او بله برخه په بلې کې مختلط نه شي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنې کې لاندې پوښتنو ته ځوابونه ويل شوي:

- ✓ ادبيات څه شی دی؟
- ✓ ادبيات په کومو برخو وېشل شوي؟
- ✓ کوم شيان ادبيات دي او کوم نه؟
- ✓ ادبيات په ټوله کې چا، کله په څو برخو وېشلی؟

- ✓ د ادبیاتو او ژانر ترمنځ اړیکه او مشترکات څه دي؟
- ✓ ایا د ادبیاتو ډول او د ادبیاتو ژانر یو شی دی؟

او د دې ترڅنګ ځینې نورې کوچنۍ پوښتنې هم ځواب شوې دي.

## د څېړنې روش:

په دې څېړنه کې تر ډېره له تحلیلي، توضیحي او تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی.

## د څېړنې اصلي متن:

کله چې د ژانر یا ځېل کلمې یادونه کېږي، نو ورسره د ادبیاتو د کلمې یادول هم اړین دي، ځکه د ادبپوهانو په وینا دا دواړه اصطلاحګانې یو د بل لازم او ملزوم یا نوک او وری دي او له یو بل پرته یې څېړل ناشونې خبره ده، ځکه موږ چې کله هم په ادب کې د ژانر خبره کوو، نو موخه مو جوته وي چې ادبي ژانر یادوو او چې کله یې بیا دقیقه څېړو، نو بیا د نظمي او نثري ژانر ترڅنګ د هر صنف یا ژانر پر ځانګړنو په تخصصي توګه د بحث لړۍ پیلوو او په دې توګه د یوې موضوع ټول اړخونه را سپړو، نو د دې لپاره چې دا دواړه موضوعات هم په دقیقه توګه څېړل شوې وي، اړینه ده چې لومړی د ادب او بیا ژانر په اړه څرګندونې له درنو لوستونکو سره شریکې کړو:

پوهان وایي چې ادبیات د هنر له ژانرونو یا ډولونو څخه یو داسې غوره او عالي ډول دی، چې په کارولو کې یې انسان ځان ښه احساسوي او دا ښېګڼه یې د دې لامل شوی چې ادبیات یې ژبنی هنر نومولی. البته هنر ډېرې برخې یا ډولونه لري چې له رسامی، خطاطی او انځورګری څخه واخله بیا تر نقاشی او موسیقی پورې ټولې برخې په کې شاملې دي او دې برخو د انسان ولاړ، بې خونده او ډارونکي ژوند ته ځانګړې ښکلا او ځلا ورکړې ده، خو ادبیات په دې ټولو ډولونو کې ځانګړی ډول دی چې ادبپوهانو له زړه را پاڅېدلې او زړه راښکونې خبرې بللې دي، خو دا چې تیوریکي مسایل په هېڅ ځای کې اتفاقي نه وي او هر مهال او نسل یې له خپلو غوښتنو سره سم تعریفوي، نو پورته خبرې یا تعریف هم د ځینو له خوا چندانې د منلو وړ نه دی او په اړه یې خپل نظریات داسې څرګندوي:

«هره هغه وینا لیکلې وي که نا لیکلي "شفاهي"، نظم وي که نثر؛ خو چې

هنري ارزښت ولري ادب بلل کېږي». (۱)

دې تعریف ته په کتو سره که چېرې یوه وینا هنري ارزښت ونه لري، خو منظمه او مرتبه وي ایا بیا هم ادب بلل کېږي او که نه، ځکه لکه څنګه مې چې پورته هم اشاره وکړه، هر دور ځانته غوښتنې او اړتیاوې لري او دا اړتیاوې اکثره وخت د دور او مهال له پلوه سره جلا وي، نو ځکه وایو چې دا تعریف ښایي ختیځوالو لپاره د منلو وړ وي، خو لویدیځوال یې په اړه نیوکې لري او په مقابل کې یې خپل نظریات یا اخیستنې داسې شریکوي:

ادب د انګریزي ژبې د literature د ژباړې په معنا استعمالېږي او لټرېچر د لاتیني ژبې (litra) له ریښې نه را وتلې ده چې د خط او لیک معنا ورکوي. لټرېچر د لیک و لوست کول او پوهې حاصلولو معنا هم لري چې په پایله کې لاندې تعریفونو ته زمینه سازي کوي:

- ✓ ادب په عربي کې زیرکی، پوهې او د څه ځیر ځیز د اندازې ساتلو ته وایي.
- ✓ ادب هغو معلوماتو ته وایي چې له کتابونو څخه ترلاسه کېږي. (ډسکودس).
- ✓ د لایقو ښځو او سړیو لیکلي احساسات او خیالات په داسې رنګ څرګندولو ته وایي چې لوستونکی ترې نه خوند واخلي. (بروک)
- ✓ ادب کې منطقي رښتیا خو نه وي، ولې ادبي صداقت په کې وي. (ارسطو).
- ✓ قدرت چې انسان ته کوم دایمي ځیزونه ورکړي دي د هغو څرګندونه لطیف ادب دی. (میاکن).
- ✓ ادب د انساني ژوند تفسیر دی. (آرنولډ)
- ✓ ادب د انسان هغه هڅه ده چې انسان یې په وسیله د خپلو تېروتنو تلافي کوله. (امرسن). (۲)

خو ایا دا تعریفونه بیا هم زموږ د ټولنې او خلکو غوښتنې ځوابولای شي او ایا موږ ته د منلو وړ دي او هغه څه چې موږ وایو په کې یې موندلای شو؟

دا سمه خبره ده چې تیوریکي مسایل د تعریف له پلوه په اکثرو سیمو کې سره ورته وي او د پوهانو په وینا پولې نه لري، خو ایا د هرې ټولنې او ولس کلتوري ارزښتونه او فرهنګي مسایل مشترک دي؟

ایا د یوې ټولنې غوښتنې به کټ مټ د بلې ټولنې له غوښتنو سره ورته وي؟

که څېرې ځواب هو وي، نو بیا خو د ټولې نړۍ ادب هم یو دی او چې ادب یو شو، شونې ده چې ژبه هم یوه شي په داسې حال کې چې د هرې ژبې او هر ولس ادب ځانله ځانګړنې او رنګ لري او همدا علت دی چې پښتو ادب تـه اکـثر راغـلي ژانرونه په لومړیو کې یا ډېر بې خونده دي او یا یې انځورونه او منظر کښنې پښتو نـه دي، خو د وخت په تېرېدلو سره یې پښتني رنګ اخیستی او بیا په کې دومره هـنر او سوچه پښتني ولسي رنګ غالب شوی چې پردي ګڼل یـې هـم ناشـوني برېښـي، نـو همدې ملاحظو ته په کتنې سره د ادب د تعریف په اړه زمـوږ پوهـانو هـم څرګنـدونې کړي چې د پوهاند عبدالحی حبیبي تعریف ته به ځیر شو:

«ادب په عربي ژبه ښېګړې او کیاست او د ژبې او زړه ظرافت او ذکاوت ته وایـي چې ظرافت او حسن تناول یې لنډ لغوي تعریف دی، اما پـه اصـطلاح کـې ادب پـه دې ډول تعریف کېږي: ادب هغـه پوهنـه یـا ښـه ریاضـت دی چـې سـړی د هغـه پـه وسیله یو فضیلت او یو ښېګړه لـه ښـېګړو څخـه مـومي یـا لـه تېروتنـو او خطـاو څخـه ژغورل کېږي.

خلاصه ادب د لغت او اصطلاح له امله ښـېګړې ده چـې سـړی لـه خطـاء او بـد څخه ساتي او په خوی او خلق اړه لري چې بیان یې د اخلاقو د علم کار دی او دلتـه په دې بحث اړه نه لري». (۳)

که د پوهاند حبیبي تعریف ته ځیر شو ډېرې په زړه پورې او ښـې خـبرې لـري، خو لکه څنګه چې معلومېږي علامه حبیبي هم د خپل وخت له غوښـتنو سره سـمې خبرې کړي او تر ډېره یې دا خبرې له عربي قاموسونو او ټولنو څخه رنګ اخـلي او دا جوته خبره ده چې یو نسل د بل نسل له را اخیسـتنو او اقتباسـاتو سره ډېـر همغـږی نه دی، نو ځکه اړ کېږو چې د پوهاند رښتین تعریف ته هم یو ځل متوجه شو:

«د عربو په لغت کې د پوهې، زیرکی، بلنې او د هر شي د انـدازې د سـاتلو پـه معنـاوو راغلـی دی او پـه اصـطلاح کـې ادب پـر دوه ډولـه دی، یـو نفسيـ ادب چـې اخلاقي فضیلت او ښېګړې ته وایي او بل داسې ادب دی چې له دې څخه مطلب په ښه طریقه ویل او لیکل او خپل مطلب ښکاره کول دي». (۴)

د پوهاند رښتین له نظریاتو هم جوتېږي چې ادب له عربي ټولنې راغلی او لکه

ځنګه يې چې له عربي ټولنې را اخيستل شوي بولي، همداسې نظريات يې هم د عربو له ټولنو سره ډېر ورته دي چې بيا هم زموږ د ټولنې غوښتنې او اړتياوې نه شي پوره کولای، نو ځکه اړ کېږو چې د خپل نسل ځوان ناقد او خوږ نثر ليکوال اسدالله غنضفر خبرې په دې اړه واورو:

«زموږ په ژبو کې د (ادبيات) کلمه پخوا نه وه، ډېر امکان شته چې دا کلمه په وروستيو پېړيو کې له اروپايي ژبو سره د بلدتيا او له هغو ژبو د ژباړې په نتيجه کې جوړه شوې وي». (۵)

استاد غضنفر وايي چې د ادب کلمه په اصل کې عربي نه بلکې له اروپايي ژبو څخه پښتو ژبې او ادب ته راغلې او دا چې د (ات) روستاړی ورسره يو ځای شوی، نو دا د دې معنا نه لري چې ګواکې دا دې عربي وي، ځکه موږ په پښتو ژبه کې ډېرې داسې کلمې لرو چې هغه د (ات) روستاړی لري، لکه ، مشکل/ مشکلات، موضوع/ موضوعات، رياضي/ رياضيات او ادب / ادبيات او يواځې د (ات) روستاړي له مخې موږ دا کلمې عربي بللای نه شو چې تر ډېره دا منطق پر ځای هم دی، دا ځکه په پښتو ژبه کې چې څومره نثري ژانرونه موجود دي او اوس پښتو شوي که ورته ځير شو اکثر يې له اروپايي ژبو څخه يا د پارسي او اردو ادب له لارو او يا هم نېغ په نېغه له انګريزي ژبې څخه موږ ته راغلي چې زموږ ادب هم خپل کړي او اوس يې پرې د پښتو داسې سالو غوړولی چې په هېڅ صورت يې بهرني بللای نه شو، نو که چېرې دا خبره ومنو بيا هماغه د لټرېچر تعريف تر نورو تعريفونو غوره دی او د هغې يو لوی غوره والی دا دی چې هره مخيله وينا ادب بولي.

کله چې د مخيلې يا خيال خبره کوو، نو زموږ مطلب لږ څه نور هم اسانېږي او په دې توګه دې پايلې ته رسېږو هر هغه وينا چې خيال ونه لري هغه ادب نه دی چې نني ادبپوهان هم په همدې خبره ډېر ټينګار کوي او په دې توګه زموږ پورته پوښتنه هم ځوابېږي چې که چېرې يوه وينا منظمه او مرتبه وي، خو چې خيال ونه لري هغه ادب نه دی، ځکه ادب خپل ظرافتونه لري او دا ظرافتونه د خيال په وسيله تشخيصېدلای شي.

پوهان وايي خيال او تخيل هغه استعدادونه او وړتياوې دي چې له ليکوال سره نېغ په نېغه مرسته کوي چې خپل فکر او پوهه په روانه ژبه په زړه راښکونکې توګه په

ډېر مهارت سره بیان کړي، خو دې خبرې ته مو هم پام وي چې خپله خیال عقلي کړنه ده یا په بله وینا خیال هغه استعداد او وړتیا ده چې له واقعیت نه د ترلاسه شوو انطباعاتو په وسیله په بشري شعور کې نوي حسي یا فکري انځورونه وپنځوي؛ خو شرط به یې دا وي چې په ټاکلي شبېه کې رښتینی یا واقعي موجودیت ونه لري.(٦)

اوس که چېرې د ادب تعریف ته له همدې عینکو وګورو، جوتېږي چې د ادب تعریف پراخ، عام او ځانګړی شو، یعنې د پخوا په څېر ادب یواځې ښوونیزو مسایلو ته ځانګړی نه دی، بلکې خیال لرونکي مسایل ادب او ادبي اثار بلل کېږي، خو په دې توپیر چې ادبي ژبه یو شی دی او ادب بل شی، ځکه که چېرې د دې مسایلو توپیر ونه کړو، نو بیا د نورو علومو لپاره هم ادب او که ساده یې ووایم خیال کارول کېږي، چې په فزیک، هندسې، جغرافیې او یا بیولوژي کې خیال له چټیاتو پرته بله معنا نه لري.

لکه څنګه مو چې د ادبي ژبې خبره وکړه همداسې د ادبي اثارو مسئله هم ده، په دې معنا موږ ډېر اثار لرو چې علمي او څېړنیز دي، خو ادبي نه دي او پرعکس ډېر داسې اثار لرو چې ادبي اثار دي، خو ډېر ځله څېړنیز نه دي، نو معنا دا ده چې څېړنه یو شی دی او ادبي اثار بل شي.

ادبپوهان وایي ادبي اثار هغو اثارو ته وایي چې د یوې ټولنې شاعرانو او لیکوالو خپل فکري او ذوقي مسایل په کې رانغاړلي وي او یا هم د هغو شعري او نثري ټولګو هنرمندانه کاږنه ده چې د یوې ټولنې لیکوال یې د یوې ټولنې په ژبه کاږي. (۷)

البته کله چې فکري او ذوقي مسایل یادو، نو په دې مسایلو کې د تخیل یا خیال خبره حل ده، ځکه موږ پورته یادونه وکړه چې بې خیاله لیکل ادب نه دی او له نورو اثارو سره د ادبي اثارو توپیرول هم له همدې لارې شوني دي.

پورته خبرو ته په کتلو سره اوس دا پوښتنه پیدا کېږي چې ادبي اثار په څو ډوله دي او څنګه یې توپیر کړو، ځکه موږ عالي، نیمه عالي او بې خونده شعرونه او نثرونه لرو او څنګه کولای شو چې د استاد الفت لیکنې او شعرونه د یو مبتدي لیکوال او شاعر له شعرونو سره چې جبراً لوستل یې هم کافي زور غواړي سره جلا کړو؟

د یادې پوښتنې په ځواب کې ادبپوهانو ډېرې ښې او زړه راښکونکې

ثرګندونې کړي او ټول ځو اړخيز ادبي اثار يې تصنيف او ډلبندي کړي چې دا ډلبندي د نړۍ د ډېرو ژبو او ادبياتو لپاره تقريباً د منلو وړ ده. د دوی په وينا د اوسنۍ ډلبندۍ معيار او اخيستنه دوی د لرغوني يونان له ادبياتو څخه را اخيستې ده او دا الهام د هغه مهال ليکوالو ورکړی چې څنګه يو مشترک الادبيات اساس يا بنسټونه را منځته کړي چې لږ تر لږه يا يو شی وي او يا هم سره ورته وي.

د لرغوني يونان په نوميالیو ليکوالو کې يو ټولمنلی ليکوال ښاغلی ارسطو دی چې په خپل مغتنم اثر "د شعر فن" کې يې ادبيات په دريو لويو برخو حماسي (Epic)، غنايي (Lyric) او ننداريز (Dramatic) ويشلي او اروپايي کره کتونکو همدې وېشنې ته په کتلو سره ادبي اثار هم د همدې وېشنې له معنوي، عاطفي او وجداني له مخې ډلبندي کړي او د دې ډلبندۍ ښېګڼه دا ده چې تر ډېره هېڅ ډول ژبنۍ بريد پوله نه پېژني او په ډېر لږ توپير سره، چې هغه هم فرهنګي او کلتوري توپيرونه دي په کې د تطبيق وړ دي او دا تطبيقات له ډېرې پخوا زمانې، يعنې د لرغونې يونان له زمانې راهيسې تر اوسه پورې روان دي (۸)؛ خو له دې څخه بايد دا معنا وانه خيستل شي چې ګواکې د هر عصر غوښتنې او تعريفات د بل عصر له غوښتنو او اړتياوو سره ورته دي، ځکه که چېرې يې همداسې وګڼو، نو موږ به په خپلې خبرې ضد خبره کړې، په داسې حال کې چې موږ د ادبي اثارو ډلبندي په اکثرو مواردو کې اړتياوو او کلتوري توپيرونو ته په پام کې نيولو سره ورته وبلله، خو ادبيات او غوښتنې يې نه. البته د هرې ټولنې د ادبياتو غوښتنې توپير لري، په دې معنا په اوسني پير کې زموږ د ادبياتو غوښتنې د امن او سولې خبرې دي، د جګړې ضد مسايل بيانول دي او په ټوله کې په يو ډول نه يو ډول له بده مرغه  د شعاري کېدلو خوا ته روان دي، چې بيا هم له بده مرغه همدغه شعاري کېدل يې د ولس د زړه خبرې دي او تر ډېره د ولس له تاوده هر کلي سره مخامخ شوي، خو په دومره بې ذوقۍ او يا ټيټ ذوقۍ سره سره بيا هم ځينې مسايل ورته د زغملو او منلو نه دي او نه يې چنداني ځای ځان ته پيدا کړی دی، د ساري په ډول زموږ ادبيات همدا اوس هم د ځانمرګي، تورې، وينې، مېړانې، اجدادو او سرښندونو خبرې کوي او ښه يې بولي، خو جنسي مسايلو ته چندان ارزښت نه ورکوي او نه يې توجه ورته اوړي، خو له دې برخې منکرېدل هم ناشونې خبره ده، ځکه له نن نه څو

سوه کاله وړاندې د پښتو ستر شاعر خوشحال بابا هم دا ډول مسایل په خپلو شعرونو او قصیدو کې بیان کړي او تر هغه را وروسته په نثر کې د ماټو خان په نامه یو چا دا جرئت وکړ او د جنسیتي مسایلو په اړه یې لیکل وکړل، خو له دومره جرئت سره سره یې بیا هم خپل اصلي نوم په ډاګه نه کړ او په مستعار نامه یې داسې څه ولیکل.

په اوسني عصر کې عبدالوکیل سوله مل شینواری د داسې مسایلو مینه وال دی او په دې برخه کې په افراطي بڼه لیکل کوي، خو لا هم په ټولنه کې دا ډول مسایل چندان ځای نه لري او نه یې ځوک په اسانۍ سره هضمولای شي، خو په ځینو نورو مواردو کې بیا ګورو چې موږ له نورو ټولنو سره په فرهنګي لحاظ ډېر ورته والی لرو او تر ننه پورې، د پارسي ادب، اردو ادب، انګریزي ادب، عربي او حتا چینایي ادب ځینې فرهنګي کیسې نه یواځې خوند راکوي، بلکې ګومان کوو چې زموږ د ټولنې پېښې او انځورکښنې دي او یا لږ تر لږه زموږ د زړه خبرې کوي او زموږ ستونزې را سپړي، نو که په ټوله کې دغه ډول ورته والي او پورتني توپیرونه او جلاوالي وګورو بیا ستونزمنه ده چې موږ دې مطلقه پرېکړه وکړو، چې په ټوله معنا د یوې ټولنې ادبیات بلې ټولنې ته د منلو نه دي او په ټوله معنا ورسره توپیر لري او یا په ټوله معنا یو شی دي او نږدیوالی لري؛ خو که په عمومي توګه ورته پاملرنه وشي په ټوله کې یې تر توپیرونو نږدیوالی زیات دی او کله مو چې دا خبره ومنله بیا نو د یونان د لوی پوه ارسطو دا خبره هم منو، چې وایي په ټوله کې ادبیات په درېو برخو باندې ډلبندي شوي، چې هغه حماسي یا داستاني، غنایي او ننداریز دي او دا نظر په حقیقت کې په څلورمه پېړۍ کې د هغه له خوا وړاندې شوی او تر اوسه پورې په دودیزه توګه پالل کېږي او منل کېږي.

خو ځینې پوهان بیا پر دې درې ډوله ډلبندۍ سربېره څلورم ډول هم ورسره یو ځای کوي او وایي ښوونیز دیدکتیک (Didactic) هم شته، د دې ډول یا تعلیمي ادبیاتو موضوع اخلاق، پوهه او زده کړه ده او په هغه پړاو کې پیدا کېږي چې فرد او ټولنه د پوهې ځینو پوړیو ته ورسېږي.

دغه ډول د زیاترو ولسونو په ادب کې اوږد تېر مهال لري، په اسلامي ادب د ښوونیز (تعلیمي) ادبي ډول ډېر لرغونی ډول ګڼل کېږي. (۹)

ځینې نور پوهان بیا په دې نظر دي چې پنځم ډول نیرتیف (Narrative) وصفي ادب یا ډول هم شته، خو د اکثرو نقادانو په نظر ښوونیز او وصفي ډولونه اصلي او خپلواک ډولونه نه دي او د هغو لومړیو دریو ډولونو په څانګو کې راځي.

په هر حال! کله چې په دې ډلبندۍ کې دومره توان وي چې تر اوسه پورې په ټولنه کې ځای لري او ادبپوهان یې بدیل نظر نه شي پیدا کولی بیا خو اړینه ده چې دا هره یوه ښکارنده یې په لنډه توګه وپېژنو:

حماسه (په لومړۍ فتح) سره په لغت کې د مېړانې او زړه ورتیا په معنا ده، حماسه یو ډېر لرغونی او پخوانی ادبي ډول دی، که څه هم ځینې ادبپوهان په دې نظر دي چې حماسه د انسان په ذهن کې جنګ، جګړې، پهلوانی، یرغلونه او د هېواد د پراختیا انځورونه وړاندې کوي، خو په حقیقت کې د معنا له پلوه حماسې ډېرې معناګانې او اړخونه لري، په دې معنا حماسه د تاریخ داسې شرحه ده چې لا تاریخي دورې نه وي پیل شوې یا د تېرو پیرونو او پخوانیو حالاتو د لومړنیو پېښو شرحه او سپړنه ده.

حماسه د هېوادونو یو ګډ شعر دی داسې ګډ شعر چې لا د خاپوړو په حالت کې وي، یعنې د هغه حالت ګډوالی دی چې په هغې کې تاریخ او اساطیر، خیال او حقیقت سره اغېزل شوې وي او په کې شاعر مورخ او مورخ شاعر وګڼل شي، چې موږ د نړۍ د ادبیاتو په تاریخ او یا په ټوله کې د نړۍ په تاریخ کې داسې پړاوو لرو. (۱۰)

په دغه تعریف کې ګورو چې حماسه یواځې د شعر مسایل نه رانغاړي، بلکې تاریخ ته هم ځي او په حقیقت کې له ټولو بشري علومو غبرګ راچاپېروي، چې همداسې هم ده؛ خو زموږ کار د حماسې له ټولو اړخونو سره ځکه نه شته او دا یو بېل بحث دی، د یوې ځانګړې موضوع په توګه به یې راتلونکې څېړنې ته پرېږدو. دلته مو موخه ادبي حماسه ده، خو دې خبرې ته مو هم پام وي، چې حماسه یو شی دي او حماسي شعر یا نظم بل شی او دا دواړه باید سره ګډ نه شي، خو په ټوله کې د ادبي حماسې د نورو ځانګړنو ترڅنګ یوه ځانګړنه دا ده چې حماسه به یو داستان لري او دا داستان به تر ډېره پر مینه ولاړ وي او په دې کې به حتا د اغراق او غلو ترکچې پورې ادبیات کارېدلې وي، چې کله ناکله به یې منل ستونزمن وي،

خو په ټوله کې دا ډول افراط به د مينې او جزباتو له مخې کېږي چې همدغه جزبات او زړه راښکون د دې لامل کېږي چې شک پرې ستونزمن شي.

په حماسه کې بله ځانګړنه کيسه ييز والی يا داستانوالی دی او که چېرې په کې د مينې داستان او يا په ټوله کې داستان نه وي، نو د حماسې د اوسنيو تعريفونو له دايرې څخه وځي، معنا دا چې دا موضوعات بايد په کې وي. حماسه دا او دې ته ورته ځينې نورې ځانګړنې هم لري، خو موږ پر همدې مسايلو بسنه کوو او ورځو د ارسطو د ډلبندۍ دوهمې برخې ته چې هغه غنايي والی دی.

په غنايي ادبياتو کې ډېر ځله پورته مسايل يا واقعيتونه د شاعر او ليکوال د ذهن د منشور، احساساتو او عواطفو له مخې منعکس او ټولنې ته وړاندې کېږي. (۱۱) په دې معنا شاعر دغه ادبيات د خپل ذهني خلاقيت په وسيله داسې وړاندې کوي، چې د ذهن يا د قلم افراط او تفريط نه شي پټولای او نه هم د اغراق تاوجن انځورونه د زمانې ګردونو ته سپارلی شي، خو دا چې جزابيت او هنريت په کې دومره هنري مراندې ځغلولې وي، چې زړه صبرول ترې ناشونې وي، نو ځکه يې منل هم مجبوراً روا بولي.

ډاکټر شميسا په خپل اثر انواع ادبي کې وايي چې غنايي ادبيات په اصل کې هغه اشعار دي چې په هغې کې شاعر خپل احساسات او عواطف مطرح کوي، د نوموړي په وينا دا ډول اشعار چې لنډکي هم وو په لرغوني يونان کې له بربط (د موسيقۍ يو ډول اله ده) سره يو ځای ويل کېدل او همدا لامل هم دی چې په انګريزي ژبو کې يې د ليريک ادبياتو په نامه شهرت موندلی دی. (۱۲)

نو که خبره را لنډه کړو غنايي ادبيات په حقيقت کې په دوو بڼو يا معناګانو کارول کېږي، چې يوه بڼه يې احساسي يا عاطفي اشعار دي او بله برخه يې عاشقانه يا مينه لرونکي اشعار او دا هم منل شوې خبره ده چې شاعر ټول عمر په يو حالت کې نه وي، کله چې په عواطفو راشي، نو يو ډول خيالات وړاندې کوي او کله يې چې احساسات راوپارېږي، نو بيا بل ډول ادبيات پنځوي چې ښايي ډېر ځله پښېماني هم له ځانه سره ولري، خو کله ناکله شاعر يا ليکوال هم له تو کړو لاړو سره مخامخ شي، چې بېرته راپورته کول يې له وسې پورته شي.

نو د ارسطو د ډلبندۍ درېيمه برخه نندرايز ادبيات دي چې دا ډول ادبيات

ډېر ځله له غنايي ادبياتو زېږي، يعنې په دې ډول ادبياتو کې شاعر د ټولنې واقعيتونه پرته له ځنډه د ټولنې د وګړو په حرکاتو، سکناتو، اداګانو، خبرو اترو او دې ته ورته مسايلو کې ځرګندوي، يعنې د کرکټرونو اکټونه او د خبرو طرز کې يې دا ډول ادبيات پنځوي، چې له همدې امله ورته ډراماتيک يا انځوريز ادبيات هم وايي، انځوريز ورته ځکه وايي چې دا ډول ادبيات ليکل لږ او ښوول ډېر لري.

د ډاکټر شميسا په وينا ارسطو د ادبي ډولونو يو مهم ډول ته ډراماتيک ادبيات يا ننداريز ادبيات ويلي، ډراما په يونان کې د يو کار کولو يا يوې کړنې ترسره کولو ته وايي چې پېښېږي، نو ويلی شو يو داسې هنر دی چې په صحنه کې ښوول کېږي. (۱۳)

نو ګورو چې نندايز ادب انځوريز ادب ته وايي او په نننۍ پير کې دغه ادب تر ټولو پراخ او زيات مينه وال لري او د ژورناليزم د علم مشهوره مقوله هم ده چې وايي يو انځور د سلو او حتا کله ناکله تر سلو هم د زياتو کلمو استازيتوب کوي، خو دلته د تاسف خبره دا ده چې زموږ دغه برخه يا په ټوله کې د پښتو ادب انځوريزه برخه اوس ډېره پيکه شوې ده او که جدي توجه ورته ونه شي، نو نه يواځې به يې خپل اصالت له لاسه ورکړی وي، بلکې يو لوی قوم به يې هم ترهګر او مذبذب معرفي کړی وي.

نو که خبره راټوله کړو د ادبياتو له پورتني وېش او ډلبندۍ نه داسې ښکاري چې په دغې ډلبندۍ کې ټول ادبيات که منظوم دي او که منثور شامل دي او پر دې اساس موږ ويلای شو چې د ښاغلي ارسطو دغه ډلبندي چې تر اوسه پورې لا هم د استعمال موارد لري عمومي او کلي ډلبندي ده او موږ د جزيي ډلبنديو لپاره يا لږ تر لږه د دقيقو او مشخصو ډلبنديو لپاره بايد جزيي ډلبنديو ته لاړ شو، چې بې له شکه هغه د ژانر مسئله ده، چې دلته مطرح کېږي او داسې ښکاري چې ژانر له ادبياتو نه را زېږېدلې صنف يا برخه ده چې يوې لنډې پېژندنې ته اړتيا لري:

ژانر د فرانسوي کلمې له (Genre ) څخه اخيستل شوې چې په لغت کې شکل، جنس او ډول ته وايي او په ادبي اصطلاح کې ژانر د ادبي- بديعي اثر هغه ډول يا بڼه ده چې د ځانګړي ترکيبي جوړښت، وسايطو، ابزارو او په يو ادبي اثر کې د واقعيت بديعي انځور ترسيم او لارو چارو ته وايي چې دغه لارې چارې د بيان

کړندود او امکان تشخیص او معرفي کوي یا په بله وینا ادبي – بدیعي اثار په دریو برخو باندې ډلبندي شوي دي، چې د دغو اثارو د رانغاړلو او د حیاتي مسایلو په کوچني بڼه وېشلو او منعکس کولو لپاره بیا هم کوچني او تخصصي- وېش ته اړتیا شته چې همدغه کوچني وېش ته د پورته عمومي ډلبندۍ په رڼا کې ژانر وایي. (۱۴)

پورته تعریف ته په کتو سره ادبیات په ټوله کې یا په لویه کچه په دریو برخو وېشل شوي، خو دا هره برخه په خپل ذات کې بیا کوچنۍ ډلبندۍ لري، چې همدغو ډلبندیو ته په تخصصي او مسلکي توګه ژانر وایي، خو البته دلته د یوې خبرې یادول اړین دي او هغه دا چې د لویدیځوالو په وینا ژانر د همدغو مسایلو کوچنۍ ډلبندۍ ته وایي، خو دا ډلبندي به د ادبیاتو وي او یواځې ادبي مسایل به په کې تر بحث لاندې نیول کېږي، خو موږ ډېر ځله بیا دغه ډلبندي لکه څنګه چې ادبیات حکم کوي نه مراعتو، بلکې د ادبي، صنف، ادبي ژانر، ادبي ډول او ادبي ډلبندۍ ترمنځ کوم ځانګړي توپیر ته قایل نه یو او حتا ډېر ځله ادبي ژانر او ادبي ډول یو ګڼو په داسې حال کې چې داسې نه ده او پورته یې په اړه پوره څرګندونې وشوې.

د دې لپاره چې دا موضوع مو لږه نوره هم روښانه کړې وي، ورځو عمومي بحث ته یې. موږ چې کله ادبیات ډلبندي کوو، پر لیریک یا غنایي، حماسي او ډرامایي سربېره یې یو بله برخه هم را سپړو او وایي چې پښتو ادبیات په ټوله کې په دریو برخو باندې وېشل کېږي، چې ادب تاریخ، ادبب تیوري او ادبپوهنه، ځینې بیا ادبي نقد یا کره کتنه هم یو بېل ډول بولي په داسې حال کې چې هغه د همدغو دریو برخو د یوې څانګې یا ډول برخه ده، نو اوس که موږ د ادبیاتو دغو دریو څانګو ته د پښتو ادبیاتو ډول یا نوعه ووایه تېروتنه مو نه ده کړې، خو که چېرې موږ د ادبپوهنې کوچنیو او تخصصي- څانګو ته لکه: لنډه کیسه، ناول، رومان، فلمي سناریو، ځان پېښې او داسې نورو ته ادبي ډول یا ادبي نوعه وایو، نو دا بیا په حقیقت کې پر خپلې خبرې ملنډې وهل دي، ځکه دا ادبي ډولونه نه، بلکې ادبي څېلونه یا ژانرونه دي او ژانرونه معمولاً د لویو څانګو کوچنۍ برخې وي، خو دې ته مو هم پام وي، چې دغه ژانرونه بیا یواځې د یوې نوعې یا ډلبندۍ پورې اړه نه لري،

بلکې د ارسطو درې واړه ادبي ډولونه کوچني ژانرونه لري، لکه په ننداریز ډول کې ګورو، ډرامه، تمثیلي ټوټه، فلم، سریال او دې ته ورته نور کوچني ژانرونه شته، همدا شان په حماسي ادبیاتو کې ګورو، چې مسدس، قطعه، غزل، چاربېته، لنډۍ، بګټۍ، قصیده او په دې وروستیو کې سپین شعر، ازاد شعر او دې ته ورته نور کوچني ژانرونه شته او همدا شان په غنایي ډول ګې ګورو، چې ناول، لنډه کیسه، رومان او دې ته ورته نور ژانرونه شته چې دغه ژانرونه له یو بل سره ګډول او یا یې هم ادبي ډول بلل ناسمه خبره او د ادبیاتو له قاموسه سرغړونه ده.

ښايي دلته دا پوښتنه هم پیدا شي که چېرې همدغه ژانرونه چې له پورته ډولونو څخه زېږېدلي په خپلو منځونو کې په موضوعي لحاظ ووېشل شي ایا بیا به هم ژانر وي، لکه: موږ ګورو چې په ناول کې عشقي، هېوادني، پولیسي، جاسوسي، اقتصادي، فولکلوري او دې ته ورته ناولونه ولرو، نو ایا کولای شو دا هر یو یې یو ژانر وبولو، ځکه موږ وویل چې که چېرې لویې برخې یا لوی ادبي ډولونه په کوچنیو ادبي ډولونو ووېشل شي هغه بیا ژانر شي، نو د ژانر څانګې به بیا څه شی شي؟

د يادې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو چې دا یواځې او یواځې ژانر دی، خو داخلي جوړښت یې چې معنایي جوړښت دی توپیر کوي او دا ډول توپیرونه موږ نه صنف، نه څېل او نه هم یو بېل ژانر بولو، بلکې دا ډول بدلون د یو ژانر بېلابېلې بڼې او منځپانګيز جوړښت دی؛ خو که کله هم په دغه ژانر کې پر منځپانګيز بدلون سربېره شکلیاتي بدلون راغی، نو هغه د همدې ژانر بېلابېلې برخې نه، بلکې بېل ژانر دی، د ساري په ډول یو مهال موږ په پښتو ادبیاتو کې د داستاني یا کیسه ادبیاتو په نامه یوه اصطلاح یا ژانر لاره، خو دا ژانر هله په نورو ژانرونو ووېشل شو، چې کله یې فزیکي جوړښت، مکالمو، د خبرو اترو ډول، د پېښو زیاتوالي او کموالي، د کرکټرونو زیاتوالي او دې ته ورته په لسګونو نور بدلونونه په کې هم په فکري لحاظ او هم په جوړښتي لحاظ پیدا شول او هر یو ته یې د ځانګړو آرونو د وضع کولو په رڼا کې یو ژانر وویل شو، چې له هغې نه نن ناول، لنډه کیسه، رومان او دې ته ورته ژانرونه جوړ شول او حتا نن د ناول او ناولټ، کیسې او کیسه ګۍ ترمنځ هم بحثونه روان دي، چې هغه دې یو بېل ژانر وګڼل شي، نه د یادو ژانرونو یوه برخه، چې د جوړښت او ډلبندۍ له مخې یې حق هم دی.

نو که خبره را لنډه کړو په پخوانیو زمانو کې یې د همدغو قرابتونو او ورته والو له مخې د ادبیاتو د ډول او ژانر توپیر چندان نه کاوه او هر ډول ادبي پدیدې ته به یې ادبي ډول وایه، خو کله چې په شپاړسمه میلادي پېړۍ کې د لومړي ځل لپاره په فرانسه کې ژرار ژنټ (Gerard Genette ) د ادبیاتو د کوچنیو ډولونو لپاره د ژانر کلمه وکاروله، نو له هماغې وروسته د نورو هېوادونو ادبپوهان هم ورته ځیر شول او د رایو په اتفاق یې له دې ډول ډلبندۍ سره هوکړه وکړه او تر هغې را وروسته یې نه هېڅ ادبي ډول ته ژانر او نه یې هېڅ ژانر ته ادبي ډول ووایه، بلکې هر یو یې دا توپیر او نوم په دقیقه توګه غوره او تر موږه یې را ورساوه، هیله ده زموږ ځوان او مبتدي څېړونکي هم همدغه نزاکت او باریکۍ ته ځیر شي او تر دې وروسته نور نه ادبي ډول ته ادبي ژانر ووایي او نه ادبي ژانر ته ادبي ډول یا ادبي نوعه، ځکه دا هر یو جلا ادبي ښکارندې دي، چې هم په منځپانګیز لحاظ او هم په جوړښتي لحاظ توپیر لري.

**مأخذونه:**


۱- سیدمحی الدین هاشمي، د نثري ادب ډولونه (ادبي ژانرونه)، وحدت خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۸۹ لمریز کال، ۳۹ مخ.

۲- سحر ګل سحر کتوزی، ادب څه ته وایي؟، بورا پاڼه،
http://www.bowraa.com/index.php?option=com

۳- عبدالحی حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ(لومړی ټوک)، ۱۳۲۵ لمریز کال، ۴ مخ.

۴- صدیق الله رښتین، د پښتو ادب تاریخ، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، کابل، ۱۳۲۵ لمریز کال، ۵ مخ.

۵- اسد الله غضنفر، ادبیات څه ته وایي؟، تاند انټرنټي پاڼه، ۱۳۹۳ لمریز کال.
http://www.taand.com/archives/29046

٦- ریمونډ لارنس برت، تخیل، د سیدنظیم سیدي ژباړه، پښتو کاروان د ژباړې مرکز، کابل، ۱۳۹۲ لمریز کال، ۱۰ مخ.

۷- پوهندوی محمد عالیم لبیب. مسأله ژانر در ادبیات، خراسان مجله، درېیمه دوره، نهم کال، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو علمي خپرونه، د ۱۳۹۰ لمریز کال اسد- سنبله، ۱۱۸ مخ.

۸- شفیعي کدکني. ډاکټر محمد رضا، انواع ادبی و شعر فارسی. د خرد او کوشش مجله، څلورمه دوره، پنځم کال، دویم او دریم دفتر، ۴- ٦ مخونه.

۹- ډاکټر رضا، شفیعی: موازین نقد و داوري در باب انوع شعر و آثار ادبي، مجله فرهنگ، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، درېیمه او پنځمه ګڼه، ۱۳٦۸ کال.

۱۰- ډاکټر سروش شمیسا، انواع ادبی، لسم چاپ، رامین خپرندویه ټولنه، تهران، ۱۳۸۳ لمریز کال، ٦۳ مخ.

۱۱- پوهندوی محمد عالیم لبیب. مسأله ژانر در ادبیات، خراسان مجله، درېیمه دوره، نهم کال، د افغانستان د علومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو علمي خپرونه، د ۱۳۹۰ لمریز کال اسد- سنبله، ۱۱۹ مخ.

۱۲- ډاکټر سروش شمیسا، انواع ادبی، لسم چاپ، رامین خپرندویه ټولنه، تهران، ۱۳۸۳ لمریز کال، ۱۳۴ مخ.

۱۳- همدغه اثر، ۱۵۹ مخ.

۱۴- پوهندوی محمد عالیم لبیب. مسأله ژانر در ادبیات، ۱۲۰ مخ.

پوهندوی دکتور اجمل ښکلی

# تصوف د اوسمهال په هینداره کې

**لنډیز:**

تصوف خدای ته د رسېدو یوه داسې موثره لار پاتې شوې، چې یوازې پر څو کسو نه، بلکې د مسلمانو ټولنو پر زیاتره برخه یې اغېز شیندلی، ځکه چې تصوف پخوا د دین د زده کړې مهمه لار وه؛ خو اوس د تصوف هغه تود بازار سوړ شوی. د دین د زده کړې لپاره خلکو نورې لارې موندلي او آن هغه معلومات چې پخوا به ورپسې خلکو د بغداد او هند سفرونه کول، اوس په خپله خونه په انټرنیت کې موندلای شي او دې آن عامې دیني مدرسې هم اغېزمنې کړې دي.

د تصوف د سرېدو بل لامل له دینه سیاسي استفاده هم ده. پخوا هم ځینو باچاهانو د یو بل پرخلاف له دینه دا ډول استفاده کوله؛ خو اوس یې د ایډیالوژیو پرخلاف د موثرې وسلې په توګه وکاراوه او سیاسي شو، چې له دې سره د دین په اړه نوې زاویې راپیدا شوې، چې د تصوف د سیاسي انزوا فکر یې وځاپه. تصوف له دینه د سیاسي استفادې مخالفت او ډېر تمرکز پر اخلاقي سم سمکي کړی، ځکه چې بې له اخلاقي سپېڅلتیا د وحدت پر سمندر ورګډېدل شونې نه دي، چې د تصوف لویه موخه ده.

**سریزه:**

پوهان وایي، چې په لومړي ځل په مسلمانانو کې تصوف هله ریښې وزغلولې، چې د مسلمانانو ترمنځ اختلافونه راپیدا شول. دا د اسلامي تصوف لومړی پړاو دی، چې د مسلمانانو ترمنځ یې د اختلاف د ختمولو او سره نېږدې کولو هڅه وکړه. "په

عباسي خلافت کې تصوف عشق شو..." (۱)

په دې وخت کې د لرغونيو يوناني علومو ژباړې عامې شوې او پر دين متکلمانه بحثونه پيل شول؛ نو اسلامي تصوف دا خپله دنده وګڼله، چې دين د فلسفې له منګولو راوباسي او عشق يې کړي، چې له خپلو پيروانو نه قرباني غواړي.

د اسلامي تصوف په وينا، خدای ته رسېدل په عقل نه، په عشق شونې دي. عقل پوښتنې راولاړوي او عشق له يقينه پيلېږي.

**د څېړنې اهميت او مبرميت:**

د دې څېړنې اهميت په دې کې دی چې د تصوف رښتينې لار يا د تصوف آرې موخې وپېژنو، پرې پوه شو او د کارونې موارد يې درک کړو، ځکه ډېر ځله د تصوف په اړه هغه خبرې يا ناسزاوې اورو، چې انسان يا بشريت پرې خپه او خوا يې پرې بده شي، په داسې حال کې تصوف ډېر لوی او پراخ مفاهيم رانغاړي او سرو کار يې له انساني ځواک او په انساني ځواک کې له عقيدوي مسايلو سره دی، چې له هر ډول ناپاکيو يې پاکوي.

**د څېړنې موخه:**

په دې څېړنه کې هڅه شوې چې د تصوف ټولې خواوې را وسپړل شي او هغه ګونګې خواوې يا هغه اړخونه چې خلکو ته ګونګ دي او په ناسمه توګه ترې ګټنه کوي يا پرې منفي تبليغات کوي هغه روښانه شي، کره له ناکره او دين له مسخرفاتو جلا کړي، د دې ترڅنګ فردي مسووليتونه او د تصوف دندې روښانه کړي.

**د څېړنې پوښتنې:**

اوس موږ تصوف ته څومره اړتيا لرو؟ دا پوښتنه مو اړ باسي، چې تصوف له اخلاقي پلوه پر بېلابېلو اجزاوو ووېشو او بيا هر جز ته د اوسنۍ نړۍ د اړتيا په تناظر کې وګورو. د تصوف ټولې برخې اوس زموږ په ګټه نه دي، بلکې ښايي د اوسنۍ نړۍ فرد او له دې لارې ټولنې ته زيان واړوي، چې په هغه کې د نفس د ګوشمالي کولو او تعذيبولو په نامه له جسمي غوښتنو بې پروا کېدل، له دنيا نه مخ اړول، په تصوف کې بشپړ ورکېدل، د ظلم پرخلاف د صبر تلقين او داسې نورې ځانګړنې راځي؛ خو په تصوف کې د ټولنيز زغم(رواداری)، مينې، خواخوږی، له قومي، سمتي او مذهبي تعصب پاک ټول انسانيت ته په يوه سترګه کتل، د ګناهګار

پرځای له گناه نه کرکه او داسې نور زرین اخلاق هم شته، چې اوس ورته هم موږ اړتیا لرو، بلکې اوس چې موږ جگړې او تشدد ځپلي یو، تر پخوا دې اصولو ته ډېر اړ یو.

**کلیدي کلمې:** تصوف، سیاسي انزوا، اوسمهال او تصوف، د صوفیانو اخلاق، ټولنیز زغم، د نفس گوشمالي کول، مینه، خواخوږي، انسانیت، له گناه کرکه، له تعصب پاک چلن.

## د څېړنې روش:

په دې څېړنه کې تر ډېره تحلیلي، تشریحي او د اړتیا تر بریده له انتقادي میتود څخه استفاده شوې ده.

## اصلي متن:

اسلامي تصوف که څه هم د عقلپرستۍ مخالفت وکړ او اشراق ته یې لومړیتوب ورکړ؛ خو بیا هم هغه وخت له دود فرهنگه اغېزمن شو. د اپلاتون او پلاتینوس (Plotinus) د وحدت پرستۍ خبرو پرې اغېز وکړ او له همدې وخته صوفیانو هڅه پیله کړه، چې خپلو تصوفي افکارو ته د شریعت برغولی جوړ کړي او د وحدة الوجود او وحدة الشهود د اثبات لپاره آیتونه او احادیث ومومي. له همدې وخته د شریعت او طریقت سره جگړه پیل شوه.

خو د اسلامي تصوف په ټول تاریخ کې یوه خبره مشترکه ده او هغه دا چې د تصوف ډېره مخه له عوامو سره وه او دربار له صوفیانو سره د خپل سیاسي نفوذ له امله ښه چلن کاوه او بل دا چې تصوف داسې یو مسلک و، چې د انتشار پرځای یې د صبر تلقین کاوه.

اهل تصوف د خپلې انزوا دلیل دا وایي، چې صوفیان اړ دي، چې له بدیو له ډکې ټولنې ووځي، ځان پاک کړي او بیا د ټولنې پاکۍ ته لېچې راونغاړي. له دې ځایه دا خبره پیدا کېږي، چې تصوف له ټولنې بېخي منزوي هم نه دی او تل یې د ټولنې په ښه بده کې نقش لوبولای.

دا سمه ده، چې تصوف د خواصو مسلک دی او هر څوک د عطار د منطق الطیر له دېرشو پرته نورو مرغانو غوندې دا ظرفیت نه لري، چې تر لوړو پوړیو(مدارجو) پکې ورسي؛ خو د دې معنا دا نه ده، چې گنې تصوف په ټولنیز اړو

دوړ کې نقش نه دی لوبولی. پخوانو، صوفیانو ته د دوی د تقوا له امله احترام درلوده او داسې صوفیانو په ټولنو کې نفوذ لاره؛ نو د تصوف په اړه د انزوا خبره بالعموم له سیاسي لیدلوري سمه خبږي.

تصوف هغه وخت دین ته د ورننوتو مهمه دروازه وه؛ خو تر راشده خلافت وروسته عموما اسلامي خلافتونه د اقتدار د چلولو مرکزونه وو، چې له دین سره یې چلن ثانوي و؛ خو بالعموم اداري او سیاسي چارې او ستونزې د خپل چاپېریال او فرهنګ په رڼا کې هوارېدې او له بله پلوه تصوف د دین اخلاقي اړخ ته ډېر ارزښت ورکاوه، ځکه نو صوفیانو د دربار په چارو کې د مداخلې مخه نه لیده او له سیاسي پلوه منزوي وو. البته کله ناکله چې تصوفي ډلو سیاست ته لاس اچولی، تصوفي رنګ یې اغېزمن شوی. یوه بېلګه یې پیر روښان دی، چې له مجبورۍ ورځې یې سیاست ته مخه کړې.

مورخین زیاتره په دې نظر دي، چې روښان له مغولو سره د وسلوالې مبارزې هوډ نه لاره، خو د ده ستر مذهبي مخالفین او ځینې تصادفي پېښې د دې لامل شوې، چې روښان دې دومره چټک له یوې سترې امپراتورۍ سره ټکر شي. دا هم د یادونې وړ ده، چې پښتون ولس تر ډېره حده د بایزید روښان په عرفاني شخصیت یو موټی شوي وو او مغول چې په طبیعي ډول یې له پښتنو سره دوښمنۍ لرلې؛ د روښان عرفاني غورځنګ ته به یې هم لا له پیله د تاریخي تناظر پر بنسټ په شک کتل. د "اغازپور" د جنګ له پیله ړومبی بایزید خپل پیروان د مشورې لپاره وبلل او چې له جنګ پرته بله لار نه وه، نو هغوی هم د جنګ مشوره ورکړه او سوبمن شول." (۲)

او له دې سره پرې جګړه وروتپل وشوه او چې کله د مغولو له پرله پسې تعقیبه تنګ شو، هله یې مقاوت ته لاس واچاوه؛ خو دا مقاومت یې له خپل وحدة الوجودي تصوفي فکره او مسلکه بېخي بېل وساته. له حالنامې پرته له خیرالبیانه نیولې د روښانیانو د ټولو پیروانو تر آثارو پورې په یوه ځای کې هم له مغولو سره د جګړو د جواز په اړه کوم سیاسي او دیني استدلال نه وینو او دا خبره د هغو ټولو تصوفي ډلو په اړه کولای شو، چې د اسلامي قلمرو په بېلابېلو څنډو کې راپیدا شوې دي.

## اوس مو تصوف څومره په کار دی؟

پوښتنه دا ده، چې که تصوف سیاسي انزوا ته تمایل ښودلی؛ نو په اوسنۍ ولسواکه(دموکراتیکه) نړۍ کې یې څه اړتیا ده؟

پخوا چې باچا د خدای سیوری ګڼل کېده، اطاعت یې فرض و او مخالف یې د خدای دوښمن باله شو. یوازې محدودې طبقې یې هله مخالفت ته دلایل تراشل چې ګټې به یې ناخوندې شوې؛ نو ویلای شو، چې هغه وخت فرد هم په ټولنیزو قبایلي زولنو تړلی و او هم په سیاسي توګه محکوم و؛ خو اوسنۍ ولسواکې نړۍ فرد ته مخه خلاصه کړه، چې په سیاسي بدلونونو کې د رای او لاریون په مټ ونډه واخلي. له همدې امله د تصوف له سیاسي انزوا سره دلچسپي نه لرو، ځکه د مسؤولو افرادو په توګه ټولنه زموږ نقش ته سترګې پر لار ده.

په تصوف کې په هره برخه کې انتخاب کولای شو. تصوف زموږ لپاره د پخواني فرهنګ د بلې هرې برخې غوندې د اوسنیو معیارونو له مخې انتخابي دی.

پخوا تاریخ ته د یوه نکلچي په سترګه کتل کېدل، چې مازې پخوانۍ کیسې راته کوي؛ خو په شلمه پیړۍ کې تاریخ د یوه ژوندي سري په توګه راڅرګند شو. ټي ایس ایلیټ وویل، چې موږ د ماضي په حال کې اوسو. مطلب دا چې، زموږ ټولنیز شعور د تاریخ له کیسو ډک دی، ځکه نو خپل حال او راتلونکې ته د ماضي په سترګیو(عینکو) کې ګورو او د سمولو هڅه یې کوو.

د تاریخ په اړه دا ډول فکر مو اړ باسي، چې په پخواني فرهنګ کې د وسمهال له غوښتنو او اړتیاوو سره سم انتخاب وکړو. کومې برخې چې یې اوس هم راته ګټورې دي، هغه راخلو او کومې برخې یې چې زموږ د پرمختګ مخه نیسي یا یې له پامه غورځوو یا پرې انتقاد کوو.

تصوف د پخوانیو پرخلاف موږ ته تقدسي جنبه نه لري، ځکه نو د یوه علمي سوچ په رڼا کې پکې انتخاب کوو. پاس مو د دې انتخاب په لړ کې د تصوف پر سیاسي انزوا نیوکه وکړه. د تصوف بل مهم اړخ اخلاقي دی. " حضرت ابوالحسن نوري(رح) فرمایي: تصوف د علم نوم نه، بلکې د ښو اخلاقو د مجموعې نوم دی." (۳) تصوف یوازې د وحدت آرزو نه وه، بلکې د انسانیت د معراج حصول هم و او د مولینا جلال الدین محمد بلخي د دې وینا:

دي شـيخ بـا چـراغ همـی گشـت گـرد شـهر
کـــز دیـــو و دد ملـــولم و آنســـانم آرزوســـت
گفتنـــد:یافت مـــی نشـــود، جســـته ایـــم مـــا
گفـت: آنکـه یافـت مـی نشـود، آنـم آرزوسـت

او د رحمان بابا د دې شعر:

کـر د گلـو کـړه چـې سـیمه دې گلـزار شي
اغـزي مـه کـره پـه پښـو کـې بـه دې خـار شي
تـه چـې بـل پـه غشـیو ولـې هسـې پـوه شـه
چې همدا غشی به ستا پـه لـور گـوزار شي (۴)

غوندې ټولو صوفیانو پر اخلاقو ټینګار کاوه، ځکه بې اخلاقـو د وحـدة پـر لـوی سمندر ورګډېدل ممکن نه وو او د دې فکر ګټه ټولنې ته هم رسېده، چې ښه اخلاق د انسان بقا او ټولنيز نظم تضمینولای شي.

د اسلامي تصوف په اخلاقي نظام کې کومو اړخونو ته موږ اوس هم اړتیا لرو؟

ټولنیز زغم: زموږ د هېواد په ګډون په ټوله اسلامي نـړۍ کـې انتشـار يـوه لويـه ستونزه ده، چې بنسټ يې فکري اختلافات دي. د تصوف يوه تاريخي کارنامه دا ده، چې انسانان يې سره نېژدې کړي دي او په دې نېژديوالي کې يې فرقه يي اختلافات خو څه چې آن مذهبي تبعيض هم رد کړی دی. د ابو سعيد ابـوالخير(۳۵۷-۴۴۲ق) شعر دی:

بـــاز آ بـــاز آ هـــر آنچـــه هســـتی بـــاز آ
گـــر کـــافر و گـــبر و بـــت پرســـتی بـــاز آ
ایـــن درگـــه مـــا درگـــه نومیـــده نیســـت
صـــد بـــار اگـــر توبـــه شکســـتی بـــاز آ

او دا فکر په ټول اسـلامي تصـوف کـې خپـور وور او پـه پخوانـو مسـلمانانو کـې موجود و، چې د هر مذهب له پیرو سره يې ښه چلن کاوه او آن ټول مذهبونه يې يـوه سیند ته وتلې ويالې ګڼلې، ځکه "مسلمان صـوفي چـې د نفـس د تزکيـې تـر پـوړيـو اوښتی وي، بشرپالنه يې ړومبنۍ فريضه ګرځي. رحمان بابا رح د يوه رسېدلي بـزرګ په توګـه ټـول انسـانان د ځـان غونـدې ګڼـي او دا د هغـه مبـارک نبـوي(ص) ارشـاد

ترجماني ده، چې گرد انسانان د يوه بدن غړي دي. د يوه غړي پر درد ټول بدن متاثره کېږي:

واړه د خپل ځان پـه نظر گوره، که دانا يې
ای عبدالرحمانه، جهان ټول عبدالرحمن دی"(۵)

پر دې بنسټ که د اسلامي تصوف ټولنيز زغم راواخلو، په اوسنيو رسنيو، نصابونو او نورو کې يې تبليغ کړو، زموږ له ټولنيز او سياسي ثبات سره مرسته کوي.

خو له ټولنيز زغم هاخوا د تصوف هغه فردي صبر د کرنې دی، چې خلک د رغنده مخالفت پرځای ارامی ته هڅوي.

پخوا چې د طبيعي ناورينونو، وباگانو، لوږو تر شا الهي آفتونه ليدل کېدل، له درباره يې د مخنيوي غوښتنه نه کېده او خلک يې پر وړاندې د اوسنی ساينسي-ټيکنالوجی د نشت له امله بېوسه وو؛ نو د صبر تلقين کېده. فرد هڅول کېده، چې نهرې تېرې کړي، سختی وگالي او صبر وکړي، ځکه چې له تصوفي فکر سره سم له جسمي الايشونو ماورا کېدل د فنا فی الله تضمين کولای شي. بايزيد بسطامي چې حج ته تللو، ابراهيم بن ادهم ورغی، پوښتنه يې تري وکړه: "... ای بايزيده! زهد او تقوا څه گڼې؟ هغه وويل، چې ومومو، خورو يې او که نه شکر وباسو. د بلخ ځوان(ابراهيم بن ادهم) وويل: د بلخ سپي هم همداسې کوي. بايزيد بسطامي ترې پوښتنه وکړه: د بلخ خلک د زهد او تقوا حق څه گڼې؟ ځوان(ابراهيم بن ادهم) وويل: چې نه يې مومو، شکر وباسو او چې ويې مومو، نذرانه کوو يې او نورو ته يې ښو." (٦)

د ابراهيم بن ادهم دويمه خبره له نورو سره د خواخوږی او ټولنيز تعامل بريالی بېلگه ده، چې هر وخت ورته انسان اړ دی؛ خو اوسنی انسان که ونه مومي، شکر نه وباسي او نه صبر کوي، بلکې هڅه کوي او سياسي نظام ملامتوي، چې ولې ورته کار نه پيدا کوي.

اوس چې سياسي نظامونو ته مسؤوليت راجع کېږي، پر افرادو د لوږو تندو ټينگار معقوليت نه لري، بلکې افراد هڅول کېږي، چې په قانوني لارو نظام اړ باسي، چې د دوی اړتياوې ورپوره کړي.

بله خبره دا ده، چې د معاصرې نړۍ په اوسني پرمختگ کې د فرد ډېر خوله

توی شوې، ځکه نو له فرده غوښتنه کېږي، چې له جسمي او ذهني پلوه فعاله اوسي. پر دې بنسټ نه لوړه او نه انزوا د افرادو او ټولنې په ګټه ده. همداسې د تصوف د وحدة الوجود آرزو هم په اوسني انسان کې ورکه شوې. پخواني انسان چې له دې دنیا ښه خاطره نه درلوده او تل به له طبیعي او ټولنیزو ناورینونو سره مخ و، د هوساینې آرزو په تصوف کې په مسکین کېدو کې لیده؛ خو اوسني انسان ته دا دنیا مهمه شوې ده او هڅه کوي، چې ځان ته یې ښکلې کړي، ځکه نو د تصوف د وحدت تلقین اوس رنګ بایللی. څرنګه چې د وحدت خبره د تصوف په مرکز کې ده، په معاصر وخت کې چې دا خبره د ثقل له مرکزه وتې، د تصوف ټوله ودانۍ ړنګه شوې او بازار یې سوړ غوندې ښکاري. اوس مرکزیت دنیا نیولې. په اوسمهال کې د وحدة الوجود خبرې یوازې نااشنا نه ښکاري، بلکې ناسمې هم برېښي.

د انسان لوی صفت انسانیت دی. انسان که هر څومره پرمختګ وکړي؛ خو انسانیت ته اړ دی او تصوف د انساني کرامت خبره کوي او په خپله طریقه د انسان د بقا پوښتنې ته ځواب وایي؛ نو که له یوې خوا له بل انسان سره د خپلې ډوډۍ د نیمولو خبره کوي، چې اوس هم موږ ورته اړ یو، له بلې خوا د ښښنې لارښوونه هم کوي.

وایي چې منصور حلاج تر مرګ وروسته یوه شپه شبلي(رح) ته په خوب ورغی او ویې ویل، چې هغه کسان یې ښښلي، چې د ده په مرګ کې یې لاس درلود. د غچ پر ځای د ښښلو تلقین د تصوف یو عام روایت دی، چې د هر صوفي په ژوند کې یې بېشمېره بېلګې موندلای شو.

اوسمهال چې زموږ په ټولنه کې د غچ فرهنګ عام دی او په ټولنه کې د ګډوډۍ او بې امنۍ یو مهم علت دی، موږ د تصوف د ښښلو صفت ته اړتیا لرو، چې باید د صوفیانو هغه کیسې او شعرونه په خپلو نصابونو او رسنیو کې عام کړو، چې د غچ پر ځای د ښښلو د فرهنګ له خپراوي سره مرسته کوي.

د ګناهګار پرځای له ګناه نه کرکه: په تصوف کې د انسان اصلاح په اساسي چارو کې راځي، ځکه یواځې پاک انسان د پاک ذات سره د پیوستون وړتیا لري. د دې موخې د ترلاسي لپاره د انسان پرځای له ګناه نه نفرت پکار دی، چې د انسان او لوی ذات ترمنځ یې پرده حایله کړې ده. ګناه هغه ناوړه صفت دی، چې د انسان

د زړه هېنداره يې ګردجنوي. که د ګناهګار(انسان) مخالفت وشي، بيا خو د وحدة خبره تش سراب ده. تصوف د انسان او خدای تعلق ته په ډېر ژور نظر وکتل، چې ګټه يې ټولنې ته هم ورسېده او د افرادو ترمنځ يې د کرکې په ختمولو کې مرسته وکړه، چې موږ ترې هم په معاصر وخت کې ورنه استفاده کولای شو. بل دا چې د صوفيانو د نظر دايره ډېره پراخه وه، په اسانه يې څوک نه تکفيرول، نه بد بلل او دا هم د تصوف هغه ځانګړنه ده، چې اوس زموږ د خوږ دوا کېدای شي.

۱. استغنا: له دنيايي خوندونو مستغني کېدل د تصوف د اخلاقي نظام په مهمو اجزاوو کې راځي. په اوسنۍ نړۍ کې خلک د شتو د راټولولو او د ژوند د لا ښه کولو لپاره منفي سيالۍ کوئ، چې له دې سره بېوزلي زياتېږي، ځکه چې يو کس چې ډېر شته راټولوي، په اصل کې د نورو افرادو حقونه خوري او له دې سره ټولنه طبقاتي کېږي، غلاوو ته لار جوړېږي؛ خو که په فردي کچ په انسانانو کې استغنا وي، د ټولنې د انتشار مخه نيول کېدای شي.

۲. مينه: د انسان نوم له انس نه اخيستل شوی، چې مينې ته وايي. د دې معنا دا ده، چې انسانان د بقا لپاره انس ته اړتيا لري او چې له کومې ټولنې نه انس او خواخوږي کډه وکړي، د افرادو ترمنځ په کې تعصبونه او کرکې پيدا شي؛ خو د صوفيانو ژوند له مينې ډک دی. د اکرام الله ګران د لاندې بيت په مصداق آن له دوښمن سره هم مينه کوي:

۳. که څوک مې وژني، لاس يې هم نه نيسم
زما په يو حالت کې شر نه لګي

د صوفيانو مينه يوازې تر انسانه محدوده نه ده، بلکې دوی مينه د ټولو کايناتو ترمنځ غزېدلی تار ګڼي. وايي، چې "مولانای روم له خپلو شاګردان سره په يوه تنګه کوڅه کې ويده سپي ته تر هغې ودرېد، چې هغه سپی پخپله له خوبه راپاڅېد" (۷)

د صوفيانو د مينې دا ډول کيسو او شعرونو ته اوس موږ اړتيا لرو، چې د تشدد خوښونې احساسات مو رام کړي او له يوه بل سره مو مينې او خواخوږۍ ته وروبولي.

د نفس ګوشمالي کول: د تصوفي تعبير پر بنسټ روح د جسم په زندان کې بندي دی. نفس د جسم استازی دی، چې خواهشات پالي او ډېر خوراک او ناروا چارو ته هوسېږي؛ نو د تصوف موخه دا ده، چې سالک خپل نفس وځپي او رياضت

وکړي، چې توجه یې د ځان او جسمي اړتیاوو پر ځای حق ته واوړي. د نفس د ځپلو لپاره په تصوف کې ډېرې سختې لارې هم انتخابېږي. صوفي په ځان لوږې تېروي او آن کله تشدد کوي. په تاریخ مرصع کې د شیخ رحمکار کاکا صاحب په اړه لولو: "... او څو ورځې به یې هېڅ نه خوړل. پس له څو ورځو به یې په شپه خوړل، پس د څو مدت یې په ورځ هم خوړلي دي... او په اوړي په وخت د گرمۍ به یې مالگه او په تودو اوبو گوشمالي د نفس کاوه...او گوتې د پښو او پوندې او تلې به یې پاره پاره وو چې ډېر نفل به یې په ډېر ساړه کې گزارل او هغه ځایونه به د زخم وچ شوي وو..." (۸)

بل ځای د فقیر جمیل بېگ په اړه وایي: " نقل دی چې په ابتدا کې هسې حال پرې راغلی و، چې دیوانه وار په صحرا گرځېده، خوب یې نه کاوه. چې چېرته به یې ارام کاوه، په مېږتانه باندې به څملاست او دوه میاشتې به یې هېڅ نه خوړل. وایي، چې افطار به یې کاوه. څو مدت یې دا وظیفه نیولې وه، مالگه به یې په غوړو کې گډه کړه، هغه به یې خوړه. نقل دی، چې یوه ورځ پیشو راغله، هغه غوړي یې وڅټل، د مالگو له زوره په ځای سروتیر شوه...د عمري په کلي چې راغلم، مابین د چشمې او د شیخ د درگاه کم و زیات نیمه شپه وه، چې خوب مې په سترگو سرایت وکړ، هغه شاگرد ته مې ووې، چې که چرته یو لړم پیدا شي. مطلب مې دا و، چې ځان پرې وچیچوم، چې دا خوب مې برطرف شي. اما هغه وخت میسر نه شه. چې کتابخانه مې د شیخ جیو د وړاندې(کېښوه) یو لرم په هغه پټار کې پیدا شه. ما زر په زر په لاس واخست، ومې وې، چې یار در خانه و ما گرد جهان می گردم، ته زموږ په پیتار کې وې، مونږ دې تا جست و جو کاوه." (۹)

له جسماني الایشونو نه د بې پروا کېدو لپاره د نفس ځپل د تصوف اړینه لار ده؛ خو په اوسنۍ نړۍ کې ټولنه له فرده غواړي، چې د هوساینې لپاره یې خوله توی کړي، ځکه نو د فزیکي او ذهني فعالیت لپاره سالم بدن ته اړتیا ده. د تصوف په ډول د نفس گوشمالي کول په اوسنۍ نړۍ کې پر ځان د تشدد معنا لري. کوم فرد چې له جسمي پلوه کمزوری وي، ټولنې ته یې گټه څه چې نه رسي، لا پر ولیو یې بار وي. د تصوف د وحدت د آرزو ځای اوس د ټولنې هوساینې نیولې. د فنا فی الله مقام ته د رسېدلو لپاره که په تصوف کې د خپل ځان فنا اړینه وه؛ نو اوس د

ټولنې د بقا لپاره د فرد بقا اړینه ده. که فرد پیاوړی نه وي، ټولنه بـه کمـزورې وي او که ټولنه کمزورې شي، افراد به يې خوار وي. پر دې بنسټ اوس نـړۍ بـدلون کـړی. د پخواني ډسکورس د مرکز توکي حاشیې ته تللي او مرکـز تـه نـوي شـيان ورننـوتي. البته د انسان داسې اړتیاوې لا شته، چې له پخواني فرهنګه يـې پـوره کـولای شـو. تاریخ مرصع چې د پښتنو صوفیانو، پـه تېـره د شـیخ رحمکـار کاکـا صـاحب او فقیـر جمیل بېګ د سخاوت او ایثار کومې بېلګې راوړي، موږ ورته اوس هم اړ یو .

**پایله:**

تصوف له خپله نفسه د انسانیت پر لور سفر دی. انسانیت د انسـان يـوه آفـاقي اړتیا ده. په دې توګه ویلای شو، چې انسان به بیا بیا دا سفر کـوي. د دې مطلـب دا دی، چې انسان به تل د تصـوف د مـذهبي روداری، ښښـنې، مینـې، خواخـوږۍ، لـه تعصبه پاک چلن او داسې نورو آفاقي خویونو محتاج وي؛ خو د دنیا او انساني جسـم یا د اوسنۍ نړۍ د داسې نورو اړتیاوو په اړه د تصوف وچ چلن مو اوس نه لګـي. مـوږ اړتیا لرو، چې د خپلې ټولنې لپاره کار وکړو، په سوله ییزه توګه د ظلم مخالفت وکړو او له ژونده خوند واخلو، د خدای له نعمتونو برخمن شو او له نـورې نـړۍ سره سـیال شو. دا ټول هغه څه دي، چې موږ په مادي ژوند کې فعال ساتل غواړي او دا دنیـا او ځان راته مهم کوي. په دې توګه ویلای شـو، چـې د پخـواني فرهنـګ د بـل هـر جـز غوندې په تصوف کې هم د اوسمهال له غوښتنو سره سم انتخاب پکار دی. لنـډه دا چې تصوف راسره د خپل ځان له ناوړو خویونو نه پـه سـفر کـې ملګرتیـا کـولای شي. رحمن بابا فرمایي:

د مکې سفر اسان دی، مرد هغه دی
چې له ځانه سفر کاندي سفر دا دی

**مأخذونه:**

۱. بنووال، محمد افضل، ادبیات عرفانی، دانش کتابخانه، پېښور، ۱۳۷۷ لمریز کال.
۲. ناګار، فضل ولي، د بایزید روښان عرفاني- ادبي ښوونځی، دوهم چاپ، ناګار خپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۴: ۲۲مخ.

۳. مومند، سباوون، عرفان او د پښتو ادب په لرغوني دوره کې يې ځرکونه، سريزه، فضل ولي ناګار، ناګار خپرندويه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۸۸: ۲۵مخ.
۴. د رحمان بابا ديوان، د عبدالروف بېنوا په زيار، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۲٦، ۱۳۹مخ.
۵. مومند، سباوون، عرفان او د پښتو ادب په لرغوني دوره کې يې ځرکونه، سريزه، فضل ولي ناګار، ناګار خپرندويه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۸۸: ۳۳-۳۴ مخ.
٦. پاسنی اثر: ۴مخ.
۷. پاسنی اثر: ۳۷مخ.
۸. خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، د دوست محمد خان کامل مومند په زيار، يونيورسټي بک ايجنسي، پېښور، ۲۰۰٦: ۵۸۸.
۹. پاسنی اثر: ٦۲۰-٦۲۱ مخ.

**رحمت الله حکیمي**

# د خوشحال انسان پالنه

**لنډیز:**

که د خوشحال خان خټک فن او هنر له هره اړخه وکتل شي د بلوري غمي په څېر څو بعدي ښکلاوې لري، یو هم د ده د افکارو هیومانیستي ښکلاده، د نومـوړي په افکارو کې به ډېر د بشرپالنې څرکونه لګیدلي وي دلته په لنډ ډول د نومـوړي ځینې شعرونه او وېناوې او د هغه چا خبرې چې نوموړی یې د هیومانیستي لیکوالـو په کتار کې درولی په هیومانیستي تله کې په تحلیلي توګه اچوم، دابايد واضح شي چې نوموړي واقعاً له دې اړخه انساني تنده ماته کړې که نه؟ لومړی مې په هیومانیزم (انسان پالنه) په پېژندنې رڼا اچولې وروسته مې د خوشحال هیومانیستیک افکار په دریو برخو کې څېړلي الف ــ انسان پېژندنه ب ــ د انسان او انساني ژوند هغه ښکلاییز عناصر چې د ټولو شریک دي، لکه (همکاري، نیکي، اتفاق، عدل، سخاوتمندي، علم، انساني نیرنګونه، د ملګري انتخاب، تواضع، بې له توپیري چلنده افاقي مینه، ازادي، او د میړني ځانګړنې) ج ــ د ښوونې او روزنې په عرصه کې د خان هغه افکار چې د نړیوالو مفکرینو افکارو ته ورته هیومانیستي رنګ اوخوند لري، د دې موضوع د لیکلو لپاره د موثقو مأخذونو نه استفاده شوې، چې تحلیلي سپړنه به یې دا وضاحت کوي چې خان هیومانیست لیکوال او شاعر دی اوکه نه؟ پیل یې دهیومانیزم له پېژندنې کوو ورپسې په همدغه آئینه کې د خان افکارو ته تم کیږو.

**سریزه:**

لیکوال او شاعر د ټولنې سترګې دي، چې وګړو ته ژوند په رښتیني توګه

تفسیروي، دا هله شونې ده چې لیکوال د خپلې ټولنې ورهاخوا بشري ارزښتونو ته ژمن او بې له کوم توپیري چلند څخه انسان ته په درنه سترګه وګوري، دا چاره د بشري ټولنو د اړیکو د ټینګښت موثر پیوند (ادبیات) رامنځ ته کوي، هر لیکوال د بشري ټولنې یو غړی بلل کیږي طبعي ده چې انسان ته به د خپل مافی الضمیر هغسې اظهار کوي په کوم چې دی د ضلالت نه رڼې لارې ته رهبري کیږي ادبیات هم په همدغو بشري ټولنو کې د پیاوړو، افاقي فکره حساسو او ذوق لرونکو لیکوالو په مټ هله رامنځ ته کیږي، چې د خپلې پنځونې سوژه انسان وګرځوي.

د بشرپالنې فکر د هر انسان فطري غوښتنه ده، چې ځینې یې د خپلو محددویتونو له امله نه شي بیانولای؛ مګر په نړۍ کې ډېر داسې لیکوال او شاعران شته چې د ټول بشریت تنده د انساني ارزښتونو له چینې څخه ماتوي، چې پښتو ژبه او ادب هم په دې عرصه کې له چا کم نه دی د هر شاعر او لیکوال له خولې څخه یې د هیومانیسي فکر ناره وتې، چې دلته ما د نوموړو له جملې څخه د پښتو ژبې او ادب د مخکښ سرلاري خوشحال خان خټک په هیومانیستي فکر څه ناڅه رڼا اچولې.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې له پخوا نه د خوشحال خان خټک د منظومو او منثورو اثارو په اړه ډېر څه لیکل شوي او لا لیکل کېږي، خو دا ځل ما هوډ کړی چې د خان بابا پر هیومانیستي یا انسان پالنې افکارو رڼا واچوم، چې څنګه دي او څنګه یې بیان کړي؟

البته دا جوته خبره ده چې د خوشحال خان خټک افکار بلوري غمي ته ورته څو بعدي رڼاوې خپروي پښتو ژبې او ادب ته یې داسې ساه ورکړه، چې د ډېرو شرقي او غربي لیکوالو د حیرت ګوتې ورته په غاښ شوې د انساني ژوند په ټولو خواو یې خپل درانه افکار د انسان د هوساینې په پار راسره شریک کړي چې په هر خوا یې تحلیلي کار کول ستره حوصله غواړي، ما هم زړه لوی کړ د نوموړي په هیومانیستي افکاروباندې مې څه ناڅه تحلیلي اوسپړنیز کار وکړ، د دې موضوع دروښانه کولو هڅه مې وکړه چې ایاد نوموړي له خولې د انسان پالنې نارې وتلې که نه او که چېرې مې خپله دا مدعا زبات کړه، نو د څېړنې مبرمیت او هدف په خپله

ترې په ډاګه کېږي؛ یعنې په حقیقت کې زما څېړنه د همدغو مسایلو سپیناوی غواړي.

### د څېړنې موخه:

د دې څېړنې موخه په دې کې ده، چې هیومانیزم څه شی دی، څنګه یې پښتو ادب ته لاره کړې، خوشحال بابا ورته په کوم نظر ګوري؟ په نظم کې یې ډېره کارولې او که په نثر کې او ایا د دې انسان پالنه په رښتینې معنا انسان پالنه ده او که نه یوازې شاعري خبرې دي.

زما په نظر خوشحال بابا یوازې د خبرو سړی نه و، بلکې د عمل سړی هم او دا چاره یې په کراتو مراتو په خبرو، ویناوو او اثارو کې موندلای شو، چې بابا په رښتینې معنا یو هیومانیست یا وګړپال انسان و او تل یې د افغان انسان سرلوړي او هوسایي غوښته.

### د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنې ځواب شوي:

- ✓ هیومانیزم څه شی دی؟
- ✓ تر خوشحال مخکې هم وګړپال شاعران یا لیکوالان تیر شوي او که نه؟
- ✓ ایا خوشحال یواځې شاعري وګړپال و او که په عمل کې یې هم دا مدعا زباد کړې وه؟
- ✓ د خوشحال بابا د فرهنګي ژوند کومه برخه له وګړپالنې زیاته مالامال ده؟

او دې ته ورته پوښتنې ځواب شوي چې له امله یې یادې څېړنې ته لومړیتوب او غوره والی ورکړی دی.

د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې تر ډېره له تشریحي، توضیحي او تحلیلي روش څخه استفاده شوې ده.

### هیومانیزم:

انساني ارزښتونو ته ژمنتیا، له هغه سره مینه لرل، په لیکنو کې ددې مفکورې ترویج او انځوریز کیدل د شاعر او لیکوال هیومانیستي بلل کیږي.

هیومانیزم له لغوي اړخه لاتیني کلمه ده چې معنا یې انسان پالنه ده، هومان

انسان دوست ته وايي چې د هوماني معنا انسانيت، مروت، شفقت او انساني صفات دي په اصطلاحي لحاظ هغه فلسفه ده، چې انسان ته د خپلو تاملاتو په مرکز کې ځای ورکوي او د ټولو شيانو محور يې ګرځوي او د انساني اصالت، ودې او غوړيدو ته ښه شرايط برابروي. ( ۷ ـ ۱۷ مخ)

هيومانيزم يو فکري او روحي حالت دی چې د انسان شخصيت او ودې بشپړتوب مقدم ګڼي، عبدالرسول بيات يې د لغاتو په فرهنګ کې داسې راپېژني: ((په اګاهانه ډول فکر او عمل کول او پر انساني حيثيت باندې ټينګار او اصيل انسانيت ته لاس رسی کول دي.))

هيومانيزم د بشريت په تفکر کې يو مترقي ميلان دی، چې له انسان سره د زياتې مينې په ځرګندولو کې د ظلم، تعصب، کينې او تنګ نظريو په مخالفت راولاړيږي او دانسان د نيکمرغه ژوند په ټاکلو کې په دغه اخلاقي او انساني اصل تکيه کوي.

انسان د بشري ټولنې غړی دی ((ارسطو يې ټولنيز حيوان، ګرتسن يې متفکر حيوان او سقراط يې ځان پېژندونکی حيوان بولي.)) ( ۸ ـ ۸ مخ )

کارل مارکس انسان د اجتماعي مناسباتو مجموعه بولي، که په لنډ ډول ووايو چې انسان د خپلو خلاقو کارونو په جريان کې د علم او هنر ډېرو سترو بريـاليتوبونو ته رسيدلی د خپلې بشردوستانه مبارزې په لار کې يې په ميليونونو انسانان له اجتماعي مصيبتونو، ټولنيزو بې نظميو، طبقاتي تضادونو او داسې نورو آفتونو ځخه ژغورلی او په دې لاره کې لاپسې روان دی.

د انسان پالنې رڼه لاره د يوه فلسفي او ادبي غورځنګ په ډول په (۱۴ مه او ۱۵مه) پيړيو کې په ايټاليا کې رامنځ ته شوه او ډېر ژر داروپا نورو هيوادونو ته انتقال شوه، دغه فلسفي فکري لاره د فرهنګ د نوو لاملونو په پايله کې رامنځ ته شوه چې د انسان مقام ته په ډېر زيات احترام قايل وو او انسان يې د ټولو شيانو معيار او ترازو وګاڼه.

له ښه مرغه پښتو ژبه او ادب په خپل تاريخ کې داسې ستر شاعران او ليکوال لري چې د خپلې ټولنې له بريده بهر په نړيواله کچه د انسان پالنې ولولې يې د هر چا غوږونو ته رسولي او خپل هيومانيستي افکار يې د نورو شاعرانو او ليکوالو لکه

هېروديت، شکسپير، تولستوی، ټاګور، علامه اقبال او نورو په څېر په خپلو پنځوونو کې انځوريز کړي.

((په ګڼو نورمونو لکه  د نيکۍ اوبدۍ، دوستی او دښمنۍ، کسۍ او ناکسۍ، ظلم او مظلوميت، ازادۍ او غلامۍ، علم او عدل، باندې يې له خپل هيومانيستي فکره رڼا اچولې، نومونړي په معنوي لحاظ دخپلو تلپاتو انساني افکارو پرمټ زموږ سره اوږه په اوږه روان دي. )) (۲_ ۲۰۷ مخ)

**انسان پالنه:**

دانسانيت تاريخ دا ثابتوي چې حقيقي انسان پال هومانيست متفکرين د (ښه کوه بدمه کوه!) پر پرنسيپ باندې باوري وو، يعنې ددوی هومانيزم فعال او اکتيف و، خوشحال خان خټک هم يو حقيقي او اکتيف انسان پال و، ډېر زړور د ژوندي زړه خاوند، حيات دوست او اجتماعي انسان و، په ډېر جرآت سره يې انساني کړنې او خويونه بيان کړي د ټولنې وګړي يې دې ته متوجه کړي چې په دې کړنو کې هغه لار ونيسئ چې وګړي په سمه لاره رهبري کوي، نوموړی انسان ته په لوړ ارزښت قايل دی انسان يې تر بل هرڅا ښه پېژندلی دلته يې د شعر هغې برخې راوړو چې د انسان پېژندنې افکار او  اقدار ترې ډېرښه څرګنديږي:

لکه کار لري نظر
هسې ژبه کا اثر
ماهيت يې مونده نشي
چې څه څيز دا بشر
هم ترکيب د نيک او بد دی
هم معجون د خيرو شر
هم فرشته دی هم حيوان
هم مومن دی هم کافر
کله اور کله اوبه شي
کله توره کله سپر
څه خو لږ تر خدای راکوز دی
که يې نه دی برابر

دا وچاتـــــه کـــــړې خوشـــــحاله
د مســــــــــتیه شـــــــــور او شر
( ۴ ـ ۴۵ مخ )

بل ځای دانسان په جوړښت او نیکـۍ کولـو خـبرې کـوي وګـړي ښـو کړنـو تـه رابولي وايي:

خـو يـوه سـاه يـې بـود دې همـدا دی
يوموټی خاوره يـې جـود دې همـدا دی
نـور سـود دي نـه ويـنم پـه دا دنيـا کـې
که څو نيکي وکړې سـود دې همـدا دی
(۴ ـ ۴٦ مخ )

پورته بيتونه انسان ته دا درس ورکوي، چې دا دنيا د ازميښت دنيا ده، هرچاته په کار ده چې له دې ازموينې څخه بريالی راووځي ديوه کس نه د نيکـۍ تمـه لـرل، نيکي خوښول د هـر انسـان فطري ځانګړنـه ده، خـان لـومړی دانسـان پـه جوړښـت غږيږي، ورپسې د هغه له جوړښت سره سم نوموړی داسې مثبتو کړنو ته رابولي چې په دارينو کې ورته د سرلوړۍ پګړۍ ورپه سر شي؛ نو خان له انساني مزاج سره سـمه هيومانيسي فکر انځوريزکړی.

خوشحال خان خټک له انساني نيرنګونو څخه وګړي داسې اګاه کوي:

فکـر مـې کـړی چـې دا انســان دی
ځينې فرښتي دي ځيـــنې شيطان دی
ځينې سړي دي پـه خـوی خصـلت کـې
ځينـــــې ببشــــکه لکــــه ددان دی
(۳ ـ ۴۹ مخ )

پورته بيتونه انسان تـه د هغـه انسـان ځانګړتيـاوې بيـانوي، چـې ظـاهراً انسـان ښکاري مګر باطن يې د حيوان صفته خويونو څخه ډک وي؛ دا چې خان پـه انسـان پېژندنه کې ستره تجربه لري وګړي د انساني نيرنګونو څخـه اګـاه کـوي د هوښـيارتيا او ځيرکوالي درس ورکوي او په پايله کې يې پورتنۍ وينا له خولې وځي.

**د خوشحال خان خټک په اشعارو کې د انسان او انساني ژوند ښکلايیز عناصر:**

- **مرسته او همکاري کول:**

همکاري د ټولنیز ژوند ساه ده همدې اصل ته په پام خوشحال خان د انسان مغرور او عالي جناب نوم پورته کوي وايي:

وگـــــړي واړه کارونــــه خپــــل کــــا
مـردان هغــه دي چــې کـار د بـل کـا
څـوک چـې ارام گټـي د نیکـو نـام گټـي
دخـــوړو زړونـــو دارو بـــه تـــل کـــا

( ۴ـ ۴٦ مخ )

تحلیلي کتنه: که پورته څلوریزې ته پام وکړو خوشحال خان هغه څوک غښتلی او دښه ژوند څښتن یادوي، چې د دردمنو درد خپل بـولي. یـو لـه بـل سره مرسـته او همکاري کول د بشـري ټولنې د رغښت اساسي توکي دي، هېڅوک په یـواځې ځـان بریمن ژونـد نـه شي تـرسره کـولای، خـان پـه دې پوهیـده چـې خـاني، حکمـراني او مشـرتوب په خپل نوبت تېریږي یواځنی څېز چې دده په ښـه نـوم پـاتې کیـږي هغـه ښېگڼه، ښه عمل او همکاري کول دي، په منطقي لحـاظ کـه لـه یـوه عـدد سره نـور حسابي ارقام ملتیا ونه کړي؛ نو د ابده پورې به مو د شـمېریز سیسـتم واحـد یـو وي، چې داپه خپله د شمیر مفهوم له منځه وړي، همـدا شـان انسـاني ټولنـه د وگـړو گـډ کور دی باید چې یوبل ته په کې د همدردۍ لاس ورکړل شي؛ ابن سینا او فـارابي او نورو مفکرینو د خوشحال خان وینـاوو تـه ورتـه وینـاوې کـړي ابـن سـینا وایـي: ((کـه انسان وغواړي، چې د نورو له مرستو پرته د ژوند لاره ونیسي سمه نه ده، انسـان بایـد یو دبل د ځینو اړتیاوو دلرې کولو لپاره خپلې قـواوې پـه کـار واچـوي، چـې داډول د ټولنو د تشکیل سبب کیږي.)) همداشان بل ځای کې فارابي وايي: ((فاضله مدینه (هیومانیستي ټولنه) هغه ټولنه ده چې انسان پالنه په کې ارزښـت ولـري چـې مهـم عناصر یې تعاون او خوشبختیو ته ځان رسول دي.)) زما په اند په پورته څلوریزه کـې لوړ هیومانیستي فکر څېې وهي، چې هیڅوک ترې سترگې نه شي پټولای.

- **اتفاق (یووالی):**

د بشرپالنې بل مهم عنصر چې انساني ټولنې لوړو پوړونو ته خېژوي هغه اتفاق

او یووالی دی، خان نوموړې موضوع ته داسې اشارې کوي:

څــو څوښــادۍ دي پــه دا افــاق کـــې
واړه بــه بیــا مــومې پــه اتفــاق کـــې
څـــو څـــو غمونـــه یـــا محنتونـــه دي
یـا پـه دروغ کـې دي یـا پـه نفـاق کـې
( ۳ ــ ۴٦ مخ )

بل ځای وایي:

پنځـــه دې گـــوتې کـــه یـــوه نـــه وي
د نـــورو گوتـــو چـــار بـــه دې څـــه وي
د لاس خـــوبي ده پـــه پنځـــه گـــوتې
چې سره جوړې وې کـار بـه دې ښـه وي
(۷ ــ ۱۰۸ مخ )

تحلیلي کتنه: که نوموړې مفکورې ته د خپلو تجروبو نه ور وگورو له کوره نېـولې تـر نـړۍ پـورې د ملتونـو د کامیـابۍ راز پـه یـووالي کـې دی، چـې انسـانانو تـه د (سوکالۍ، کامیابۍ، استقلالیت او ښه ژوند کولو) تـاج ورتـړي، فـارابي پـه خپـل اثـر (اراء اهل المدینه الفاضله) کې وایي: ((ټولنه دانسان د بدن د اعضاوو سره ورتـه ده، زړه په بدن کې رئیس دی، چې ټولې چارې تنظیموي همدا شـان پـه انسـاني ټولنـه کې ولسمشر باید همداسې چاره ترسره کړي.)) د خـان لـه خـولې څخـه پـه همـدې مفهوم د بریا دغه ناره وتې چې د هر انسان لپاره اغېزمنه نسخه بلل کېږي.

- **عدل:**

عدل دانساني ژوند سېستماتیک جوړښت دی چې په رعایت کولـو سره انسـان ته هوساینه ورپه برخه کېږي په اړه یې خان خپل فکر داسې سندریز کړی.

په خصلتونو کې عدل انصاف ښه دی
له ښـــو له بدو سره زړه صاف ښه دی
چې څوک دې غابښ مات کا ته یې هم غابښ مات کړه
که عذر خواه شي غابښ یې معاف ښه دی
(۳ ــ ۴۷ مخ )

تحلیلي کتنه: انسان لـه آدمـه تـر دې دمـه دعـدل او انصـاف غوښـتونکی دی، عدل په انساني ژوند کې دانسانیت نورمونه برابروي، پـه وسـیله یـې ټولنـه د افاقیـت څلي ته خیژوي بالمقابل بې عدالتي ده، چې وګړي له خپلو حقوقو څخه لرې ساتي او ټولنه د تاترین په ژۍ دروي؛ نو همـدې تـه پـه پـام د بشـري ټـولنې د هوسـاوالي، پرمختګ مهم عنصر عدل او انصاف دی چې خوشحال خان خټـک پـه دې اړخ کـې هم خپل هیومانیستي فکر سندریز کړی.

• **سخاوت:**

د سخاوتمندۍ په باب خوشحال خان خپل هیومانیستي فکـر داسـې انځـوریز کړی:

نـامرد هغـه دی چـې چاتـه څـه ورکـا
منـــت د پاســـه وربانـــدې زبـــر کـــا
پـه رنـځ کـې ومـره هغـه دارو مـه خـوره
چـې پـه منـت یـې وتاتـه څـوک درکـا
(۳ ــ ۴۸ مخ)

تحلیلي کتنه: فقر هغه ناوړه پدیده، چې په انساني ټولنه کې دهر ډول ناخوالو په سر کې ځای لري، د دې ناوړه پدیدې د له منځه وړلـو بهترینـه لاره سـخاوتمندانه فکر دی چې په ټولنه کې فقر، بېوزلي له منځه وړي، د وګړو ترمنځ د خوشحاله ژونـد لارې چارې برابروي په همدې خاطر خوشحال خان خټک په نوموړې موضـوع خپـل هیومانیستي فکر د انسان د هوساینې په پار انځوریز کړی.

• **علم:**

خوشحال خان خټک د علم د ترویج او علم زده کړې لپاره څومره ښکلې نسخه وړاندې کوي:

په هغه جهـان بـه خـلاص وي لـه عذابـه
چــې دلــې یــې سریکــار وي لــه کتابـه
(٦ ــ ٨ مخ)

تحلیلي کتنه: په نړۍ کې د مثبت بدلون ستر مبلغ کتاب دی چـې د جهالـت تورې تیارې یې د خپلو تور په رڼا سره وویشتلې، خان همدې ارزښت ته په پام وایـې

چې له کتاب سره ملګري وکړئ، همدا یواځنی ملګری دی چې تاسو ته له ناخوالو څخه د نجات لاره پیداکوي، د فارابي هیومانیستي ټولنه هم په دریو آرونو (علم، عمل او فضلیت) جوړه ده چې علم یې اړین رغښتي توکی بلل کیږي.

پورته بیت واقعاً د مطالعې او کتاب لوستنې نظریه پر سړي باندې هیومانیستي مزه څکلای شي.

- **د ښه ملګري انتخاب:**

خوشحال خان خټک د ملګري ټاکلو لپاره داسې نسخه وړاندې کوي:

داپند دې هرڅوک سره سند کا
هوښیار به نه وي چې څوک حسد کا
همراه چې ښه وي بد سړی ښه کا
همراه چې بد وي ښه سړی بد کا

(۳ ــ ۵۰ مخ )

تحلیلي کتنه: د خوشحال خان خټک پورتنۍ وینا انسان ته د ملګري پېژندلو او نیکۍ کولو درس ورکوي، په ژوند کې د ښه ملګري انتخاب د بریا راز او هدف ته د رسیدنې مهمه لاره ده، چې وګړي افاقي پوړونو ته رسوي، په ولسونو کې هم دغه خبره ډېره پخه ریښه لري، چې له تور دیګ سره کښېنې توریږې، خان همدې ته په پام د ښو او بدو ملګرو محک په پورته ډول انځوریز کړی.

ډېرو شرقي او غربي پوهانو د خوشحال خان خټک په اثارو ګوتې وهلي هغه یې د افغاني ټولنې د ادبیاتو د ملاتیر ګڼلی او د نوموړي په اثارو کې یې د هیومانیزم څرکونه په ګوته کړي، یوه هم ډاکتره خدیجه فیروزالدین بیګم ده، چې د خوشحال خان خټک په ژوند او هنر یې د دوکتورا تیزس (ډېزرټیشن) لیکلی یوځای لیکي: ((د خوشحال د شهرت لوی لامل هیومانیزم (وګړپالنه) ده، چې بې له کوم توکمیز او مذهبي توپیره یې ټول بشر ته په درنه سترګه کتلي او له ټولو انسانانو سره یوشان خواخوږي ښیي، د خپلو سپېڅلو هیومانیستي احساساتو په اور کې یې ټوله نړۍ توده او روښانه کړې؛ نو ځکه یې خپل شعر ته له دې اړخه هم ښکلا ورښلې.)) ( ۱ ــ ۳۹۴ مخ )

دلته غواړم په هغو نقطو تحلیلي کتنه وکړم کومې چې ډاکترې خدیجې بیګم

د هیومانیزم په کتار کې درولي:

- **انساني ارزښت او تواضع:**

خوشحال خان دغه نظریه چې هر انسان ته باید په ارزښت قایل و اوسو داسې هیومانیزمه کړې:

چاتـــه ســـهل نظـــر مـــه کـــړه
پـــه هـــر سر کـــې د خـــدای سِر دی
د مـــــزري ځخـــــه کـــــه زور دی
دلـــــومبړي ځخـــــه رای شـــــته
ځېرکــــــي د قارګــــــه کــــــوره
کروفـــر کـــه د هـــمای شـــته
هـــېڅ مکـــان تـــرې خـــالي نـــه دی
پـــه هـــر لـــوري کتـــه خـــدای شـــته

( ۴ ـ ۸۷۲ مخ )

تحلیلي کتنه: انسان باید د نرګیست په داسې جامو کې ځان ونه پیچې چې نور وګړي تر نظر هېڅ ور شي؛ ځکه د هر ژوندي مخلوق په خلق کیدو کې بېل حکمت دی، د خان پورتنۍ وینا موږ ته د تواضع، زړه سوي او عاطفې درسونه راکوي د هغه شاعر خبره راپه زړه کوي چې وایي:

هـېڅ تحقیـر دصـغیر مـه کـوه کبیـره
ګـرداب وګـوره دریـاب حلقـه بګـوش کـا

د هر ژوندي مخلوق په پیداکیدو کې بېل راز دی، انسان باید نفس ماتوونکی فکر ولري؛ همدې ته په پام خوشحال په خپله پورتنۍ وینا کې د انسانیت رښتیني نورمونه بیان کړي چې درته هیومانیستي مفکوره تمثیلوي.

- **خپلواکي (آزادي):**

د آزادۍ په اړه خوشحال خان ختک خپل فکر د یوه انسان لپاره داسې هیومانیز کړی وایي:

آزادي تـــر پاچاهیـــه لا تیـــری کـــا
چې د بل د حکم لاندې شي زندان شي

(۷ ـ ۱۰۰ مخ )

تحلیلي کتنه: په بشري ټولنه کې انسان په فطري ډول له آزادۍ سره ټینګه اړیکه لري، د بل لوړ غړ په ځان نه مني، خان ته انساني مزاج ښه معلوم دی؛ ځکه یې آزادي تر پاچاهیه ورته لوړه کړې اوانساني غوښتنه یې د هیومانیستي اړخه سندریزه کړې.

- **میړنی او میړانه:**

میړنی یوصفتي او نسبتي کلمه ده، په پښتني ټولنه کې یاده کلمه، د هوساینې او سر لوړۍ درانه مفاهیم له ځانه سره وړي، خان په لاندینو بیتونو کې داسې وړاندې کړي چې انسان په هوساوېه ځان بسیا ټولنه وربرابروي وایي:

مرد هغه چې همتناک برکتناک
له عالمه سره خوړ په زیست و ژواک
مخ یې مخ، قول یې قول عهد یې عهد
نه دروغ، نه یې فریب، نه تش تپاک
لړ ویل ډېر یې کول په خاموشی کې
د غونچې غوندې خوله ډکه سینه چاک

( ۴ ـ ۷۱ مخ )

تحلیلي کتنه: انسان له آدمه تر دې دمه له دروغو، فرېب، دوکې او بې وفایۍ څخه ځوریږي، همدا ناوړه کړنې دي، چې ټولنه د تاترین پړ ژۍ دروي، د دې لپاره چې په ټولنه کې د هوساوالي روح وچلیږي خوشحال خټک هغه سړی میړنی بولي چې په وعده وفا کوي، رښتیا وایي، فریب او دوکه نه کوي، په لږو ویلو عمل کوي، چې د نوموړي دغه نظریه دټول بشریت لپاره بهترینه نسخه ده.

- **افاقي مینه:**

خوشحال خان خټک صوفیانو او ټول بشریت ته دافاقي مینې داسې درس ورکوي چې هیومانیستي څرکونه په کې له ورایه ښکاري او د عرفي اعظم دي وینا ته ورته ((در حیرتم که دشمن کفر و دین چراست ـــ ازیک چراغ کعبه وبت خانه روشن است)) وایي:

کــــه مســـــجد گـــورې کـــــه دېـــــر
واړه يــــــــودي نشـــــــــته غيــــــــر
يـــو مـــو بيـــا مونـــد پـــه هرڅـــه کـــې
چـــــې مـــــې وکـــــړه دزړه ســـــير
هغـــــه ځـــــای پـــــه ســــير گـــرځم
چـــــې تــــرې نــــه رســــيږي غيــــر
( ۴ ـ ۹۹ مخ )

تحليلي کتنه: خوشحال خان خټک له اصـولو پسـې هڅـه کـوي پـه فرعـو کـې ځان بندول د هيڅ انسان لپاره نه خوښوي، د يوه صوفي د افاقي مينې ډېوه يې بلـه ساتلې او په رنگارنگ توپيرونو يې ايمان نه درلوده، د نومورې پـه انـد يـواځې يوه رڼا ده چې ټول نمانځتونونـه روښـانه کـوي، پـه هـره لاره ځـان رڼـا تـه رسـول د بشريت موخه گڼي، د نومورې دا مفکوره واقعاً هيومـانيزمي خونـد لـري، چـې د بشرـ هر وگړي ته په کې لاره ښودل شـوې، همـدا مفکـوره بـل ځـای د عشـق لـه دريڅـې څخه داسې سندريزه کوي:

عاشـقان يـې صـد هـزار يـوه معشـوقه
پـه هـر لـوري ورپسـې دي پـه پـی پـی
څوک په کور دننه ناست ورسره کېـل کـا
څوک هميش ورپسې گرځي لی پـه لـی

که پورته بيتونو ته پام وکړو خان محبوب ته رسيدل غواړي هغه که پـه هـره لاره وي وايي ستاسو رڼا په کار ده هغه که د هر څومره سوريو نه رالويږي همغه رڼا ده.

يعنې مذهب يوه روحاني هيله او داسې خپلـوي ده، چـې بنـده او څښـتن سره نږدې کوي، دغه نږدې کېدنه که په هر لاره شوې وي نږدې کيدنه ده، خپل اصـليت ته لاره باسي له همدې امله ټول بــشر تـه د يـوه رښـتيني مسـلمان پـه توگـه پـه يـوه سترگه گوري نو وايي:

مستظهر په عفوشوی بيا پرخاش دانتقام
دا کار د مردی نه دی پرې پوهيږي خاص وعام
د خپل دين، دخپل ملت سيله ثنا کا

مومنان دي، که ترسادي، کـه جهود دي
(۴ ـ ۴۰۲ مخ )

ډاکټره خدیجه بیگم د پورتنیو بیتونو په اړه وایي: ((خان غوښتل چې د فاني او لافاني ترمنځ نه شلېدونکې اړیکې پیدا کړي او خلکو ته وښیي چې څښتن د ټول بشر شریک دی او په هر ځای کې د خپل مخلوق لیدنه کوي او دغه د اصل او وصل بېلابېلې لارې بیرته په اخر کې د وصل په لاره ورگډوي. )) ( ۱ ـ ۳۹۷ مخ )

د ښوونې او روزنې پـه عرصـه کـې نړیوالـو مفکرینـو تـه ورتـه د خوشـحال خـان خټک هیومانیستي جاج:

خوشحال خان خټک د ښوونې په عرصـه کـې د بشرـپال فکـر پلیـونی او مبلـغ دی. کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي د خان دغه ډول اثار څېړلي په اړه یـې وایي: ((دخوشحال خـان دسـتارنامه د ښـوونې او روزنـې ټـول عمـده مسـایل لکـه د ښـوونې او روزنـې ایـډیال، تعلیمـي نصـاب، د تـدریس میتـود، چاپیریـال، د وراثـت موضوع او نور په عالمانه توگه څېړلي.)) ( ٦ ـ ۵ مخ )

د بېلگې په ډول انگریز فیلسوف جان لاک د سـپینې لـوحې پـه وړانـدې کولـو سره په فلسفه کـې سـتر انقـلاب راوسـتلو او ویـې ویـل: ((د ماشـوم مـاغزه د سـپینې لـوحې پـه څېـر دي او لـه تجربـې نـه وړانـدې پـه مغـزو کـې کومـه فطـري مفکـوره نشته.)) خوشحال په همغه وخت ( ١٦٨٩ م ـ ١٦١٣ م ) کال کې وایـي: ((د هلـک زړه لکـه سـپین کـوره کاغـذ هسـې دی هرڅـه چـې پـرې وکـاږې هغـه حـرف پـرې پریوزي.)) همدارنگه بل ځای د نوموړي دغه تیوري د کامینوس لـه نظریـو سره ورتـه ده چې وایي: ((په ښوونه او روزنه کې د جنس، طبقې، اجتماعي او اقتصادي موقف توپیر نه کوي، د ده په اند بادار او غلام، نـر او ښـځه ټـول د علـم پـه زده کـړه مکلـف دي.)) ( ٦ ـ ۷ مخ )

تحلیلي کتنه: انسانانو یو له بـل سره د (انـس) پـه کلمـې سره گـډې او ټینگـې اړیکې لري، طبعي ده چې یو د بل درد بې له جغرافیایي، قـومي او سـمتي توپیرونـو څخه محسوس کوي، ټولو ته یې په یوشان د هوسایني ناره له خولې وځي، که پورتـه نظریو ته پام وکړو جان لاک او کامینوس نه د خوشحال خټک کلیـوال وو او نـه د ده د عقیدې ملگري؛ مگر د دریو واړو له خـولې څخـه د انسـاني ژونـد د ارتقـا پـه موخـه

رښې لارې په ګوته شوي علت يې دا دی چې انسان پالنه د دغسې وړو پولو نه ورهاخوا يوه بېله لاره ده چې روڼ اندي او پياوړي مفکرين يې راته په ګوته کولای شي.

**پايله:**

هغوی چې وايي خوشحال خان خټک دقومي، ژبني پولو ورهاخوا د بشر۔ لپاره څه نه دي وړاندې کړي.) تيروتي او خپلې خبرې دې بېرته واخلي، خوشحال خان خټک د انسان پېژندنې له هغې فاکولتې نه ډېګرې اخيستې چې دغه ټولنيز او فکري موجود يې ذره په ذره څېړلی او د ((لقد خلقناالانسان فی احسن تقويم.)) ( سورة التين ۴ ايت ) له چينې څخه سېرابه دی، بله دا چې که خوشحال خان هيومانيست نه وای؛ نو ولې به دده په اثارو شرقي او غربي ليکوالو ګوتې وهلې؛ نو اوس په يقين سره ويلای شو چې خوشحال خان خټک د پښتو ژبې او ادب هغه وتلې څېره ده، چې د خپل قوم، ژبې او نورو محدوده پولو ورهاخوايې ټول بشريت ته د نجات لاره ښودلې.

**وړانديزونه:**

له موضوع سره سم مې د ښاغلي اسدالله غضنفر هغه خبره خولې ته راځي، چې ويل يې ماچې کله د جادوګر هنر د کتاب مقالې راټولې کړې، پلار ته مې وويل چې داکتاب وګوره چاپوم يې، پلار مې مريض وو، لږ لږ يې وکتلو راته وويل چې که د خوشحال خان او لنډۍ په اړه څه په کې لرې چاپ يې کړه، له دې نه معلومېږي، چې نوموتی شاعر او ليکوال د پښتني ادب رښتينې ساه چې د پښتوادب درانه اثار يې په خپلو مرغلرو ښکلي کړي، هيله ده چې په نوموړې او د دې نه ورهاخوا د خوشحال خان خټک د ژبې او قلم نور ښکلاييز اړخونه رابرسيره شي.
د پښتو ژبې او ادب دلا ارتقا په موخه.

**مأخذونه:**

۱. بېګم فېروزالدين، خديجه، د خوشحال خان خټک ژوند او هنر، د اجمل ښکلي ژباړه، د افغان کلتوري ټولنو جرګه، دانش مطبعه، کابل، ۱۳۸۷ ل کال،۳۹۴ ـ ۳۹۷ مخونه.

۲. شاولي خان، خوشحال پېژندنه، دويم چاپ، ختيځ خپرندويه ټولنه،۱۳۹۲

ل کال، ۲۰٦ ـ ۲۰۸ مخونه.

۳. عثمان محمد عارف، خوشحال خټک او د ده ادبي مکتب، علوموااکاډمي ـ کابل، ۱۳٦۱ ل کال، ۴۵ ـ ۵۰ مخونه.

۴. خټک خوشحال خان، کلیات، د عبدالقیوم مشوانۍ په زیار دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۷ ل کال.

۵. شکیب، عبدالظاهر، د خوشحال خټک اشعار د بدیعي ښکلا له نظره، علومو اکاډمي، شعیب مطبعه، ۱۳۸۸ ل، ۱۰۱ ـ ۱۰۲ مخونه.

٦. روهي، محمد صدیق، د خوشحال د مفکورو لنډ جاج، د خوشحال کلیات، مقدمه لومړی ټوک، د افغانستان علومو اکاډمي، د ژبو ادبیاتو مرکز، کابل، ۱۳۵۹ل، کال، ۵ ـ ۸ مخونه.

۷. منگل، سلطاني، هیومانیزم د شرقي او غربي فلاسفه وو له نظره، محله جنگی پشاور، ۱۳۹۰ ل کال.

۸. مندوزی، ولي محمد، هیومانیزم، آریانامطبعه، ۱۳٦۸ ل کال.

۹. عثمان، عارف، د خوشحال خان خټک څلویښت پندونه، د اشرف عظیمي په اهتمام، د خان د درې سوم تلین د بین المللي سیمنار په ویاړ، ۱۳۵۸ ل کال، کابل.

څېړنواله ظاهره هنگامه

# استاد عبدالحی حبیبي د پوهانو له نظره

## لنډیز:

علامه عبدالحی حبیبي زموږ د هېواد یو وتلی او منلی علمي شخصیت ستر لیکوال، ادیب او نومیالی مؤرخ، تکړه ژباړن، شاعر، ژبپوه او وتلی ژورنالیست دی، د استاد د شخصیت، علمیت او نورو علمي خواصو په اړه ډېرو پوهانواو استادانو علمي- څېړنیزې مقالې لیکلي دي او د هغه د شخصیت په اړه یې خپل اندونه او نظرونه څرگند کړي دي چې ما په دې مقاله کې د (( مشت نمونه، خروار)) په دود د یو څو پوهانو نظرونه را اخیستي اوپه دې وسیله غواړم تر یوه بریده د استاد حبیبي د شخصیت بېلا بېل اړخونه د همدغو پوهانو د لیکنو او نظریو په ترڅ کې څرگند او روښانه کړم.

## سریزه:

زموږ په هېواد کې له تېرو زمانو څخه تر نن پورې ډېر داسې پوهان، لیکوالان، عالمان او شاعران تېر شوي دي چې د دغو پوهانو له ډلې څخه یو هم علامه پوهاند عبدالحی حبیبي دی چې په بېلا بېلو ډگرونو کې یې ډېر معتبر او علمي آثار او په لسگونو مقالې په میراث پرېښي دي نو بویه چې د دغسې یوه علمي شخصیت په اړه لا نورې څېړنې او گروېږنې هم وشي.

## د څېړنې اهمیت مبرمیت:

د دې موضوع مبرمیت په دې کې دی، څرنگه چې علامه حبیبي د معاصر بهیر په اسمان کې ځلانده، روڼ او ځلېدونکی ستوری دی چې د خپل عمر زیاته

برخه یې د افغانستان د تاریخ او ادبیاتو په تېره بیا پښتو ادبیاتو ته ځانګړې کړې وه. د استاد په ژوند او له مړینې وروسته ډېرو پوهانو قلم را واخیست او د هغه پر علمي او ادبي شخصیت یې څېړنې وکړې. مناسبه وګڼل شوه، د استاد په اړه د پوهانو نظریات را ټول او د یوې مقالې په بڼه لوستونکو ته وړاندې شي.

## د څېړنې هدف:

څرنګه چې څرګنده ده د استاد پر ژوند، افکارو او آثارو باندې د هېواد ډېرو درنو او نومیالیو پوهانو علمي او تحقیقي مقالې لیکلې، د دې څېړنې موخه همدا ده چې دغه نظریات را ټول او په ترڅ کې یې تر یوه بریده د استاد د علمي شخصیت ځینې اړخونه روښانه کړم.

## د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې له تحلیلي او تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## د څېړنې پوښتنې:

۱- آیا علامه حبیبي پر پښتو، دری او عربي ژبو سر بیره په کومو نورو ژبو پوهېده؟

۲- استاد حبیبي پر تحقیق سر بېره تدریس هم کاوه که څنګه؟

په دې لیکنه کې به هڅه وشي چې دغو او دې ته ورته پوښتنو ته ځواب وویل شي.

زموږ په لرغوني او تاریخي هېواد کې له پېړیو راهیسې ډېرو قومونو، قبیلو او ملیتونه سره یو ځای ژوند تېر کړی او لا تېروي یې. دوی په ټولنیزو، فرهنګي او سیاسي برخو کې په ګډه کار او فعالیت کاوه د دوی معنوي او مادي ګټې سره شریکې وې د دوی دودونه، رسمونه او رواجونه هم یو شان وو. همدې اصل ته په پاملرنه زموږ په هېوا د کې له تېرو وختونو څخه تر نن پورې ډېر داسې پوهان، لیکوالان، عالمان او شاعران هم تېر شوي چې په خپلې مورنۍ ژبې سربېره یې په هېواد کې پر نورو مروجو ژبو هم ډول ډول آثار لیکلي او ژباړلي دي.

یو له دغو سترو پوهانو، عالمانو، لیکوالانو او شاعرانو څخه د هېواد وتلی او منلی پوه، ستر لیکوال، ادیب پوخ مورخ تکړه ژباړن، شاعر، ژبپوه او وتلی ژورنالیست پوهاند علامه عبدالحی حبیبي دی.

استاد حبیبي نـه یـواځې پښـتو ژبـې او ادبیـاتو تـه خـدمت کـړی بلکـې ده پـه مجموع کې د افغاني فرهنګ د ځلولو او پېژندلو په لاره کې نه هېرېدونکي خدمتونـه تر سره کړي دي.

استاد حبیبي په پښتو او دري ژبو ځینې قیمتي او غوره مسـتقل آثـار لـیکلي او هم یې په سلګونو درنې مقالې لـیکلي دي او همـدا راز اسـتاد پـه پښـتو، دري، اردو، عربي او انګریزي ژبو پوهیده چې پر ځېنو دغو ژبو یې ډېر ارزښتمن آثـار لـیکلي دي او د هېواد په معتبرو خپرونو کې چاپ شوي دي. همدارنګه یـې لـه ځینـو ژبـو څخـه ژباړې هم کړي دي.

لکه دمخه  مې چې یادونه وکړه د علامه حبیبي پر ژوند، افکـارو او آثـارو بانـدې زموږ د هېواد ډېرو تکړه او سترو پوهانو او لیکوالانـو زیـاتې علمـي او تحقیقـي مقـالې لیکلي چې د هغو شمېر لسګونو ته رسېږي. که زه د هغو ټولو ښاغلو لـه مقـالو څخـه یو یو نظر را واخلم نو یـو کتـاب بـه تـرې جوړ شي، نـو پـه دې فرصـت کـې د یـو څـو محدودو استادانو نظر یې چې د دغه ستر پوه، لیکوال او تکړه ادیـب د ژونـد، فکـر او آثارو په اړه یې  کښلې دي، را اخلم او  په دې وسیله غواړم د هغه د شخصیت ځینـې ابعاد روښانه شي.

دا ټولو ته ښکاره ده، چې استاد یو علمي، ادبي، فرهنګي، سیاسي، اجتماعـي او بالاخره څو بعدي شخصیت و، چې په هېواد کې دننه او له هېوا د څخه بهـر ډېـرو پوهانو او څېړونکو د ده په څو بعدي شخصیت باندې هر اړ خیـزې خبرې کـړي دي چې له هغو څخه یو هم استاد پوهاند عبدالشکور رشاد دی چـې د اسـتاد حبیبـي د څو اړخیز شخصیت په باب خپل نظر داسې وړاندې کوي:

((د لوی استاد ځای تش دی قرنونه، قرنونه، عمرونه، عمرونـه پـه کـار دي چـې دا ځای ډک شي استاد یواځې زموږ نه دی د هغه د علم له سرچینې څخه یـواځې د افغانستان خلکو یا افغانانو فیض نه دی موندلی بلکې د هغـه فـیض پـه منطقـه کـې عام و او د ټولې منطقې خلک غالباً د ده له فیض څخه برخمن شوي او لـه ده څخـه یې فایده وړې ده. د ده له آثارو څخه یې زده کړه کړې ده.)) (۱)

په بل ځای کې استاد داسې وایي:

(( علامه حبیبي ډېر صفات مزایا او خاصې درلـودې، خـو زمـا پـه نظـر دا دوی

برخې زه غواړم وڅېړم یو د ده د سیاست برخه او بله د ده د علم برخه:

دا ځکه چې دا دواړه برخې ده ته د کورنۍ څخه په میراث ور رسېدلې وې، علم ده ته له نیکه څخه ور رسېدلی و، د ده غور نیکه حبیب الله اخوند زاده کندهاری چې په محقق کندهاری سره مشهور و، او ډېرش کتابه یې لیکلي دي، په عربي، فارسي او پښتو ژبو یې ډېر آثار درلوده او سیاست یې له نیکه څخه ور رسېدلی، د ده نیکه عبدالرحیم اخوند زاده نومیده هغه څوک و چې افغان سید جمال الدین په خپلو آثارو کې لیکلي دي چې زه کندهار ته ورغلم د کندهار له علماو ماله پلانی او پلانی سره ولیدل یو یې له هغو څخه عبدالرحیم اخوندزاده و.)) (۲)

یو بل وتلی لیکوال محمد صدیق روهي هم د استاد د شخصیت پر اجتماعي برخورد رڼا اچولې او همدارنګه د هغه رویه په علمي غونډو او علمي بحثونو کې داسې ارزوي:

((په کندهار کې د احمد شاه بابا له زمانې راهیسې د کاکړو یوې مشهورې کورنۍ افغاني ټولنې ته ډېر درانده پوهان او ستر روښنفکران وړاندې کړي دي چې له هغې جملې نه یو هم عبدالحی حبیبي و. استاد حبیبي د تاریخ او ادبیاتو په ساحه کې د خپل علمي تبحر او ارزښتمنو خدمتونو له کبله په علمي او ادبي ټولنو کې د لوی استاد په لقب مشهور شو.

د ایران په ځینو درنو مجلو کې هم د ده له نامه سره د علامه کلمه لیکل کېده د سیمینارونو او سمپو زیمونو په غونډو کې د پرابلماتیکو موضوعاتو د حل لپاره به د استاد حبیبي رایه غوښتل کېده، په ځینو وختونو کې چې ما هم لیدلی دي چې میلمنو پوهانو به د ځینو په ځواب کې د عجز د څرګندولو په ترڅ کې لوی استاد ته بلنه ورکوله چې هغې ټاکلې پوښتنې ته ځواب ورکړي. ښه مې په یاد دي، چې د امیر خسرو په نړیوال سیمینار کې دا وضع څو واره تکرار شوه او ټولو به د استاد له محضر نه استفاده کوله.)) (۳)

محمد ابراهیم عطایي د پوهاند حبیبي په اړه خپل نظر داسې وړاندې کوي:

((... هغه سړی چې د فیض منبع او د پوهې سرچینه وه پر ابدي جاده یې یون پیل کړ. لوی ویر یې زموږ په نړۍ نابېره خپور کړ... هغه د هېواد د فرهنګ لپاره چوپړ وواهه او خپلې په سلګونو علمي لیکنې یې را پرېښودې، په سلګونو ملي او

نړیوالو علمي سیمینارونو او کنفرانسونو کې یې د لوړ ځای په درلودلو سره ګډون وکړ او د هېواد لپاره یې ویاړونه تر لاسه کړل، هغه په بشپړې ورتیا سره خپل علمي رسالت سرته ورساوه او د ۱۳٦۳ لمریز کال د غويي په شلمه ورځ دغه د پوهې د نړۍ ځلېدونکی لمر د آسمان د ځلانده لمر سره په یوه مهال غروب وکړ.)) (۴)

علامه حبيبي یو ادبي، علمي او اجتماعي شخصیت و، له هر چاسره یې ډېره ښه او نېکه رویه درلوده او د ښه سلوک خاوند و هېڅوک د ده لـه ښو او عالمانـه لار ښوونو څخه بې برخې نه و، هر چا کوښښ کاوه چې له ده سره خبرې او اترې وکړي او د ده له ښو سلا مشورو څخه ځان مستفید کړی، په همدې اړه عبدالرحیم هاتف داسې وايي:

(( استاد ډېر ښه متواضع انسان و، خو هېڅکله یې تکبر ته د الکبر مع المتکبر عبارت ( پربنا،) غاړه نه کږېدله. استاد ډېر مستمع و په خبرو اترو کې یې د هر چا سره د هغه په سویه او د هغه پر ژبه خبرې کولې. داسې چې ډېر ځله به په مجلس کې مقابل طرف دا خیال کاوه چې د خپل یو هم سویه انسان سره غږېږي.

استاد ډېر مېلمه پال انسان او مشر و، که کشر عالم و، که عامي هر څوک چې د استاد صحبت ته ورتلل، استقبال ته به دروازې ته ورته را ووت او په وداع کې یې تر وره د باندې سپاره چې ما رنګه خلکو ته به د خجالت موجب ګرځېده.)) (۵)

څرنګه چې استاد حبيبي یو لوی عالم، پوخ لیکوال، محقق او ادیب و، خو له دې ټول نبوغ او پوهې سره یو متواضع، خوش برخورد، سخاوت مند او یو انتقاد منونکی انسان هم و. په همدې اړه محمد صدیق روهي داسې لیکي:

(( پوهاند حبيبي سخاوتمن ښوونکی و څېړونکو او محصلانو ته به یې ماخذونه ورښودل او له علمي کادرونو سره یې مرستې کولې. استاد له ټول علمي تبحر سره سره یومتواضع انسان و. یوه ورځ چې له کوم علمي مجلس څخه را ووتو نو ماته یې وویل:

زه نه پوهېږم چې دا ځینې کسان په انتقاد ولې دومره خپه کېږي ما له خپل ځان سره فیصله کړې ده چې د انتقاد څخه خپه نشم ځکه چې زه خو په ټولو شیانو نه پوهېږم.)) (٦)

د محمد صدیق روهي له پورته نظر څخه داسې جوتېږي، چې لوی استاد یو

عالي علمي شخصيت و، او ډېر شکسته نفسه انسان و. خو افسوس چې داسې لوړ او درونږ خویه انسان به هېڅ کله پیدا نه شي او هر وخت به یې ځای تش وي. استاد حبیبي سربېره په دې چې د پښتو ژبې او ادب ته یې ډېر خدمت کړی دی او ډېر آثار یې کښلي دي د دې تر څنګ یې دری ژبې ته هم ډېر کار کړی دی او په دې ژبه یې هم ډېر آثار لیکلي دي. استاد په ټولیزه توګه پر مقالو سربېره یوسلو دوه دېرش ځانګړي علمي او فرهنګي آثارهم لیکلي دي.

محمد معصوم هوتک هم د استاد حبیبي د فرهنګي او علمي فعالیتونو په اړه خپل نظر داسې لیکي:

(( علامه مرحوم د خپل څه د پاسه نیمه پېړۍ فرهنګي فعالیت په ترڅ کې خورا ډېرې نوښتګرې هڅې کړې دي. په معاصر فرهنګي ډګر کې تر ټولو زیات پر کاره عالم و، د ګوتو د سترګیا کلمه یې د ژوند په قاموس کې نه وه او د همدغې پرکارۍ محصول یې د ده تر قد واووښت. کله چې د مرګ پر بستر پروت و او معالج ډاکتر ورته د بشپړ استراحت، لږ خوراک لږ حرکت او لږ مطالعې توصیه کوله، ده په ځواب کې ورته ویلي وو ((... آخر حضرت ملک الموت ته په انتظار کښېنم؟ ... په رشتیا چې د ملک الموت پذیرایي سخته ده.))(۷)

د اوسني لیکوال د کتاب مولف عبدالروف بېنوا د استاد په اړه داسې وایي:

(( ښاغلی عبدالحی حبیبي د پښتو ژبې په اوسنیو لیکوالو کې د اولیت حق لري، نه یوازې په پښتو کې بلکې په فارسي کې پوخ لیکوال دی او په دواړو ژبو کې هم آثار او پاخه اشعار لري په تېره بیا د ده ادبي، تاریخي او علمي څېړنې ډېرې ګټورې او د قدر وړ دي چې دا پوه لیکوال په پښتو او فارسي ژبه کې د استادي مقام ته رسېدلی دی، په تېره بیا د پښتو ژبې د اوسني ادبي نهضت په خدمت کې یې زیاته برخه اخیستې، خو تر دې ټولو مهم خدمت چې ښاغلي حبیبي پښتو ژبې او پښتو ادب ته کړی دی هغه د پښتو شعر زرکلنی او دولس سوه کلنی مستند قدامت دی چې ده د سلیمان ماکو د تذکرې او پټې خزانې په پیدا کولو ثابت کړی دی.)) (۸)

لوی استاد هغه علمي، ادبي شخصیت و چې د ادب په اسمان کې لکه لمر وځلیده په ادبي رڼا یې نه یوازې زموږ هېواد بلکې نور هېوادونه هم روښانه کړل،

چې د خپل عمر زیاته برخه یې د هېواد او ټولنې پېژندلو په څېړنو کې تېره کړې وه، ډېر قیمتي او ارزښتمن آثار یې کښلي او لیکلي دي.

د هېـواد ځـوان او پـوه لیکـوال نصرالله نـاصر پـه خپلـه مقالـه کـې چـې ((نـه هېرېدونکی فرهنګي شخصیت علامه حبیبي)) تـر سرلیـک لانـدې یـې لیکلـې ده د استاد په اړه داسې لیکي:

((لوی استاد علامـه حبیبـي هغـه پېژنـدل شـوې علمـي څېـره ده چـې د هغـه فرهنګي خدمتونه د لمر په شان روښانه دي. ده د خپل نږدې شـپېته کلـن فرهنګـي ژوند په بهیر کې هغه غوره خدمتونه کړي دي چې لـه مړینـې وروسـته بـه یـې کلونـه کلونه د هغو په برکت نوم او نښان ژوندی او تلپاتې وي.)) (۹)

د استاد د آثارو زیاته برخه تاریخي آثار جوړوي د افغانستان د تاریخ په باره کـې یې ډېرې په زړه پورې خبرې کړې دي او هم د تاریخ په باره کې ډېـر ارزښـتناک آثـار لري. د ده په تاریخي آثارو کې د ټولنې او خلکو تاریخي او ملي ارزښتونه په پام کـې نیول شوي دي. استاد د دغو آثارو په لیکلو کې د خپل هېواد د تاریخ تیـاره ګوټونـه روښـانه کـړي چـې لـه هغـو تـاریخي آثـارو څخـه یـو هـم ((جنـبش مشروطیت در افغانستان)) نومېږي چې د همدې کتاب په اړه علامه پوهاند رشاد داسې لیکلي:

((جنبش مشروطیت در افغانستان)) د لوی استاد تر ټولو وروسـتی تـالیف دی تاسو ته به معلومه وي چې علامه له څوارلسو کالو را هیسې د زړه په ناروغۍ اخته و. د ۱۳٦۲ ش. کال د عقرب په شپږمه د ځای سو او شپږنیمې میاشتې پـه خپـل کـور کې د مشروطیت غوښتنې په باب یې د عمر ټول یاداښتونه په دې کتاب کـې سره را ټول کړل. زه چې به هر کله د ده پوښـتنې تـه ورتلـم، دی بـه مـې د دغـه کتـاب پـه ترتیب او تالیف بوخت لیده په ډېره درناوي به مې ورته وویل:

تاته استراحت لازم دی. ته باید په دغسې قلبي ناروغۍ کې له دغه درانـه کـاره څخه ډډه وکړې. ارواښاد به د خپل عادت سره سم په مسکا راته وویل:

د دغه کتاب لیکنه نه یواځې زما د ډېرو کلونو آرزو ده، بلکې زما په غـاړه یـو پـور دی ما د خپل ګران هېواد د مشروطیت د غورځنګ ډېر نومیالي په خپله لیـدلي او د دوی د مبارزو په باب مې د هغوی خبرې اورېدلي دي زما دنده ده چې دغه لاس تـه راغلي معلومات له ورکې او هېرې وژغورم او دا امانت د قوم ځوانانو ته ورسوم.

علامه د حسرته ډکه ساه وکښله او بیا یې خپلې خبرې داسې اوږدې کړلې: د افغانستان د دغه سیاسي غورځنګ په باب لیکلې شوې تېروتنې یا تېر ایستنې شته زه باید د اولني نسل د ځوانانو پام هغو ته را واړوم. علامه حبیبي د دې کتاب له لیکلو سره خاصه مینه درلوده او دا یې خپله وروستۍ فریضه بلله، ده په دغه بحث کې تل دغه بیت تکرا راوه:

خدایه هومره مهلت ورکړه په دنیا کې

چې کاږه کارونه سم کاندي خوشحال)) (۱۰)

په رښتیا چې لوی استاد ډېر مهربانه، زړه سوانده او صمیمي انسان و. د خپلو شاګردانو او محصلانو سره یې ډېره ښه رویه کوله د هغوی سوالونه یې په ورین تندي ځوابول له هغوی سره یې داسې رویه کوله لکه یو پلار یې چې له خپل اولاد سره کوي په ډېره مینه او اخلاص یې هغوی سره خبرې کولې او هغوی ته یې ښه لارښوونه کوله. په همدې اړه د هېواد پېژندل شوی لیکوال زلمی هېواد مل د خپلې لیکنې په یوه برخه کې کاږي:

((د شاګردانو په روزنه او پالنه او د شاګردانو په رهنمایي کې ښایي ډېر لږ خلک د استاد حبیبي مقام ته ورسي، هغو شاګردانو چې د استاد له علمه فیض موندلی دی په دې پوهېږي چې استاد پر خپلو شاګردانو څومره مهربان، څومره زړه سواند او تر کومې درجې د خپل شاګرد د رسولو او پوهولو طرفدار او غوښتونکی و. استاد له خپلو شاګردانو سره ډېر مخلصانه برخورد درلود چې شاګرد به یې کورته راغی، له ځایه ورته جګیده او په مینه یې روغبړ ورسره کاوه د احوالو پوښتنه به یې ترې کوله او په دې توګه به یې خپلو شاګردانو ته خپل صمیمیت ښوده، د تکبر او ځان لوړ ښودنې هېڅ ډول احساس به یې په خپله استادي کې نه کوت چې کله به شاګرد کار خلاص کړ او له استاده به رخصتېده استاد به بیا هم نېغ له ځایه را ولاړ شو او د انګړ تر دروازې به له خپل شاګرد سره روان و....)) (۱۱)

نور محمد سهیم د علامه حبیبي د علمي شحصیت او د هغه په غمجنې مړینې داسې خپل نظر څرګندوی:

(( د لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي غمجنه او له خواشینۍ ډکه مړینه ( د ۱۳٦۳ کال د ثور شلمه) هم د ژوند او مرګ د دې ناپایا وه جګړې د سره اور نتیجه

شوه چې تاثیر يې نه یواځې د پښتو ادب د مینه والـو زړه دردوي ، بلکـې د پـوهې او فرهنګ ټول مینان په غم اړوي او د زړه د خواشینتیا په تارونو يې زلزلـه راولي، ځکـه د ده مرګ عادي مرګ نه و بلکې هغه مرګ و چې د علمي محافلو شـوراو زوږ يـې پـه خپتیان (خپګان) واړاوه. د دې لوی تاثیر پـه لـړ کـې زه نـه پوهېدم چـې د اسـتاد د فضیلت په دومره لوی سمندر کې د ده سپېڅلي روح ته د خدمت په هیله، کوم ډول مرغلرې انتخاب او د کابل مجلې ګرانو لوستونکو ته يـې وړانـدې کـړم ځکـه د ده پـه لاس جـوړې کـړای شـوي علمـي، ادبي، هـنري، تـاریخي، فلسـفي، ټـولنیزې اوان تصوفي مرغلرې رنګارنګ ښـکلا لـري او هـره ښـکلا يـې د زړه احسـاس لـړزوي او پـه خوځېدو يې راولي، هڅوي يې، پاځوي يې او د ده د قلم د قوت حوصلې تـه اریـاني، اریانه دروي.)) (۱۲)

استاد د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې پښتو ادب، ژبې او په ټولیزه توګه افغاني فرهنګ ته بې ساری خدمت کړی او د خپل عمر تر پایه يې قلم له ګوتو ایسته نه کـړ او نه يې له مطالعې څخه ډډه وکړه.

ډاکتر نور احمد برېښ چې د لوی استاد معالج ډاکتر و، د خپلـو سـترګو لیـدلی حال او هم یوه خوږه خاطره د لوی استاد د پېژندګلوی په خاطر داسې بیانوي:

((لوی استاد زه د خپل لس کلني ژوند څخه پېـژنم چـې د دې پېژنـدګلوی ۴۶ کاله کېږي، خو د ۲۴ کالو را هیسې چې به هر وخت رنځور شو نو لومړی مراجعه بـه يې ماته وه.

په تېره بیا د وروستۍ ناروغۍ په موده کې یا به ده په خپـل راتـګ سره او یـا بـه يې زما په غوښتنه ما ته د لیـدنې او صـحې کتنـې افتخـار را باخښـه او مـا بـه د ده د هرې لیدنې په ترڅ کې د ده خوندورې قصې او با ارزښته توصیې د ژوند پـه مختلفـو برخو کې د ډېرو بـا ارزښـته ملغلـرو پـه څېـر د خپلـې حـق الزحمـې پـه توګـه ځینـې اخیستلې.

نوموړی ډاکتر زیاتوي:

زه به دلته زما په نزد یوه ډېره با ارزښته او نه هېرېدونکې خاطره بیـان کـړم چـې د لوی استاد د لیدنو په لړ کې یوه ورځ زما په حافظه کې نقش شوه هغه دا ده:

کومه ورځ چې د استاد د امر په اطاعت، د ده کورته ورغلم او تر اجازې وروسـته

په کوټه ور ننوتم استاد د خپلې بیماري پر بستر پروت و او په لاس کې یې یو کتاب وو چې وایه یې زه چې یې ولیدلم کتاب یې کت کړ او په بستره یې کېښود، او په دواړو لاسو یې داسې ټینګ ونیو لکه یو ډېر خوږ دوست او ملګری چې یې وي ما د احترام تر اداء او تر احوال پوښتنې او صحي کتنې وروسته زړه را غوند کړ او ځانته مې په ډېر فشار سره دا جرئت ورکړ او په ډېر احترام مې ورته وویل چې ګران استاده! نشي کېدلای چې ځو ورځې د کتاب د مطالعې څخه په تېره بیا د تاریخي کتابونو څخه چې تاریخي خوږې او هم ترخې قصې په کې وي ځان وساتئ، ځکه چې خوږې قصې  خو یې ښې مګر ترخه مطالب یې ستاسې روحي حالت تنبیه کوي او ستاسو د زړه پر ناروغۍ مستقیم بد اثر لري.

د ژوند په رمز پوه استاد سمدستي کتاب د ټېر څخه پورته او پر هغه مېز یې چې د کټ اړخ ته یې پروت و، د دواګانو څنګ ته په دونه احتیاط کېښود چې استاد کوښښ کاوه چې ځینې خوږ نه سي او بیا یې په خاصه شیوه چې صرف له ده سره وه، راته وکتل او دا شعر یې في البدیهه ووایه:

مسیحا در علاجم گفت روی یار کمتر بین
عــلاجم کرد لیک از زندگی فرمود پرهیزم

زه چې هغه ګړۍ د استاد د مینې په دریاب کې لاهو وم، عرض مې ورته وکړ چې ستاسو د ژوند هره ثانیه زموږ لپاره د قدر او اهمیت وړ ده، نو سوله به داسې وکړو چې په ورځ کې معین وخت مطالعه کوئ، نه ټوله ورځ او یا شپه؛کټ کټ یې وخندل ویې ویل دا دې مصلحانه فیصله او ښه توصیه ده درسره منم یې.)) (۱۳)

څرنګه چې استاد یو هېواد پال او د خپل هېواد په ملي ګټو او آزادۍ مین و، او تل په دې هیله و چې هېواد یې ودان او هوسا اوسي، همدغه موضوع د حبیب الله رفیع په نظر کې وګورو:

(( لوی استاد یو هېواد پال او د خپل هېواد په ملي ګټو او آزادۍ مین او د هېواد د ودانۍ، هوسایۍ او پرمختګ لېوال عالم او پوه و او په دې لاره کې یې علمي مبارزه کړې او قربانۍ یې ورکړې وې، نو کله چې په هېواد کې د غوایي خونړۍ کودتا وشوه او د کمونیزم ټکه راولوېده، دی د خپل تاریخي او ملي بصیرت له مخې پوهېده چې نور به څه کېږي او هېواد به پر کومه خوا ځي هم هغه و چې د

وطـن لـه مینـې ډک زړه یـې ټکانونـه وخـوړل او د زړه پـه درنـه نـاروغۍ اختـه شـو او بـالاخره یـې همـدې نـاروغۍ لـه علـم، مینـې احسـاس، درد او درک نـه ډک زړه لـه غورځنګه وغورځاوه او سپېڅلې اروا یې د جنت هوا وکړه.)) (۱۴)

د هېواد یو بل لیکوال شاه محمـود حصـین د اسـتاد ټـولنیز شخصـیت او ادبي څېړنو په اړه داسې لیکي:

(( د داسې یو ټولنیز شخصیت او ستر ادبي او تاریخي څېړونکي په هکلـه چـې ټول عمر یې د ادب د دنیا خورې ورې څانګې را ټولې کـړې او د نـوې پـوهې پـه رڼـا کې یې د خزان وهلې بڼ په غېږ کې د هنر او ادب د مینه والو تنده ور ماته کـړه او د هغه سره یې سم د هېـواد د خلکـو د پراخـو پرګنـو د تـاریخ اصـلي جـوهر او تـاریخي ورکې زېرمې را برسیره کړې او د نیمې پېړۍ څخه زیاتو هڅو له برکته یې څه د پاسه یو سلو دودېرش ډېر شتمن تاریخي او ادبي آثار ولیکل او یا خـو یـې پـر هغـو داسـې سریزې، لمنلیکونه او تعلیقات ور زیات کړل چې واقعاً یې د نـامعلومو او ډېـرو پېچلـو ادبي تاریخي او تصوفي آثارو اصلي زېرمه خلکـو تـه روښـانه کـړه، څـه اسـانه کـار نـه دی.)) (۱۵)

لکه دمخه مې چې وویل د اسـتاد حبیبـي د څـو بعـدي شخصـیت پـه اړه ډېـرو پوهانو، څېړونکو، د تاریخ او ادب مینه والو، د استاد شـاګردانو او دوسـتانو قلمونـه را اخیتسي او د ده د شخصیت په یوه نـه یـوه اړخ یـې رڼـا اچـولې ده، زه د مقـالې دنـه اوږدېدو په خاطر د ((مشت نمونه خروار)) په دود په همدغو نظریو بسنه کوم.

**پایله:**

په لنډو ټکو کې ویلی شو چې علامه حبیبي زموږ د هېواد د معـاصر ادبي بهـیر په اسمان کې هغه روښانه لمر دی چې رڼا یې نه یـوازې زمـوږ پـه هېـواد کـې خپـره ده، بلکې د دې ځلېدونکي ستوري رڼا له هېواد څخه بهـر هـم خپـره شـوې او نـورې سیمې یې هم روښانه کړې دي.

پوهاند حبیبي داسې ځلېدونکی ستوری و چې د آثارو په لیکلـو او د شـاګردانو په روزلو کې یې ډېره زیاته ونډه لرلې ده او له سلو څخـه زیـات څېړنیـز آثـار او تـر زرو زیاتې مقالې یې لیکلي دي او د ژوند تر وروسـتیو شـېبو پـورې قلـم لـه لاسـه نـه دی غورځولی.

لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي د خپلو نه ستړې کېدونکو او نه هېرېـدونکو

هلو ځلو په پایله کې په پښتو او دري ژبو په بېلابېلو څانگو کې ډېر علمي قيمتي تلپاتې ژبنۍ ملغلرې د علم او ادب مينه والو ته په ميراث پرېښي دي. د علم او ادب مينان به هېڅکله هم د دغه ستر پوه او لوړ ادبي شخصيت نوم له خپل ذهن نه ونه باسي او هېڅکله به يې هېر نه کړي. موږ عملاً وينو چې د استاد له آثارو څخه زموږ د زمانې ليکوال او څېړونکي په زغرده گټه اخلي.

**مأخذونه:**

١- افضل ټکور، لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي او د هغه شاعري، افغاني شمله، - ١٣٧٩ ل کال، ١١٠ مخ.

٢- رحيمه، د استاد حبيبي زوکړه او ټاټوبی او د استاد حبيبي تاريخ ليکنه، افغاني شمله، افغاني کلتوري ټولنه، ١٣٧٩ ل کال. ١٣٠- ١٣٢ مخونه.

٣- محمد صديق روهي، د پوهاند حبيبي د ادب پېژندنې ميتود ته يوه کتنه، د استاد ياد (د مقالو ټولگه) د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، دولتي مطبعه، ١٣٦۴ ل کال ١٢٢مخ.

۴- کندهار، علمي، تاريخي، ادبي او ټولنيزه مجله، دوهمه گڼه، ١٣٨٣ لمريز کال، ٣ مخ.

۵- عبدالرحيم هاتف ، لوی استاد حبيبي، افغاني شمله، افغاني کلتوري ټولنه... ١٣٧٩، ۵٨ مخ.

٦- محمد صديق روهي، د پوهاند حبيبي د ادب پېژندنې ميتود ته يوه کتنه، د استاد ياد، ١٣٦۴ لمريزکال، ١٢١- ١٢٢ مخونه.

٧- محمد معصوم هوتک، درنه کورنۍ، د علامه حبيبي د څېړنو مرکز، ٢٠٠٣ م کال، ٨١- ٨٢ مخونه.

٨- عبدالروف بېنوا، اوسني ليکوال، لومړی ټوک، د مطبوعاتو مستقل رياست، دولتي مطبعه، ١٣۴٠ل، مخ.

٩- نصرالله ناصر، نه هېرېدونکی فرهنگي شخصيت علامه حبيبي، کابل مجله، ١١- ١٢ گڼه، ١٣٨٣ ل کال. ۴٦ مخ.

١٠- عبدالشکور رشاد، جنبش مشروطيت در افغانستان، د استاد ياد، (دمقالو ټولگه) د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز، پښتو ټولنه، دولتي

مطبعه، ۱۳٦۴ ل کال. ۱۹۹- ۲۰۰ مخونه.

۱۱- زلمی هېواد مل، استاد حبیبي د معاصر فرهنګي بهیر سرلاری، افغاني شمله. ۱۳۷۹ ل کال ۸۹- ۹۰ مخونه.

۱۲- نصرالله ناصر، د شلمې پېړۍ په فرهنګي – ادبي بهیر کې د علامه حبیبي دریځ، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳۹۲ لمریز کال، ۲۵۰ مخ.

۱۳- نور احمد برېښ، د استاد حبیبي یاد، د استاد یاد، (د مقالو ټولګه)، ۱۳٦۴ل کال، ۱۹۷- ۱۹۸ مخونه.

۱۴- حبیب الله، رفیع، د علامه حبیبي د څېړنو مرکز، افغاني شمله، ټولوونکی طارق رشاد، افغاني کلتوري ټولنه، ۱۳۷۹ لمریز کال ۷۷- ۷۸ مخونه.

۱۵- شاه محمود حصین، د استادحبیبي ټولنیز شخصیت او د ده ادبي څېړنو ته لنډه کتنه، د استاد یاد، ۳۷ مخ.

پوهنیار عبدالعظیم صدیقمل

# کومکي فعلونه او د هغو دندې

**لنډیز:**

په دې څېړنه کې چې سرلیک یې ((مرستیالکړونه او د هغو دندې)) دی د کومکي فعلونوپر پېژند،ډولونو،دندو او ارزښت رڼا اچوي.کومکي فعل یو خپلواک مورفیم دی چې په نومیزو جملو کې د خبر اساس دی او داصلي فعلونوپه جو ړښت ،بشپړتیا او د گردان بېلابېل اړخونه بشپړوي.په پښتو ژبه کې څلور ډولونه لري چې د ډلبندۍ د کره توب لپاره نورې څېړنې هم غواړي.

**سریزه:**

ژبه له غږونو راپیلېږي او په ترتیب سره تړي ویبونه ،ترکیبونه ، غونډلې او اوږده اوږده متنونه جوړېږي چې هر ژبنی فورم یې له اړتیا سره سم د وړ معنا لپاره کارول کېږي.د ژبې مطالعه که څه هم ډېره پخوانۍ ده خو تر ډېره په دودیزو او افسانوي خبرو کې پټه پاتې شوې ده . دغه ستونزه یوائې په یوې ژبې پورې اړونده نه ده، بلکې د نړۍ ډېرې ژبې له دې پېښې سره مخامخ وې او ځېنې یې لا اوس هم دغه ربړې گالي.

په لومړي سر کې د ژبې پېژند یا تعریف څېړونکو او پوهانو د ننی پېژند اپوتپه خلکو ته وړاندې کړی و چې ځېنې یې لا اوس هم په خپل اند ټینگ ولاړ دي.

په دوهم گام کې بیا دژبو ډلبندي او وېشنه یې پر داسې بنسټونو کوله چې هغه دژبو د ډلبندۍ او وېشنې نورمونه، نه بلل کېږي.،د بېلگې په

ډول د ژبوپه پرتله کې یې د فونیمونو پر ځای لومړی وییونه یا لغتونه پرتله کول چې د تاریخي او پرتلیزو څېړنو له ارونو سره هېڅ اړخ نه لګوي ،همدارنګه دا او دې ته ورته نورې ګڼې ستونزې د ژبپوهنې په برخه کې موجودې او ځینې یې لا اوس هم پر خپل ځای پاتې دي.

زه په دې لیکنه کې په پښتو ژبه کې په کومکي فعلونو او د هغو پر دندو او ارزښت رڼا اچوم خو له دې وړاندې د موضوع د لا څرګندتیا لپاره مناسبه ده، چې د ژبپوهنې په تړاو تـولیزې ستونزې د نمونې په توګه وړاندې کړم او د پښتو ژبې په برخه کې هم یو څو داسې ټکو ته ګوته ونیسم چې لوستونکي او زده کوونکي یې له کړاوونوسره مخامخ کړي دي.

په لومړي سرکې د ژبې د فونیمونو په ډلبندۍ کې پښتو پوهان سره یوه خوله نه دي چې د نیمواکو اوازونو د شتون او نه شتون خبره یې یوه لویه ربړه ده چې غبرګغبرونه یې هم تر پوښتنې لاندې راوستي دي.د مورفولوژي په برخه کې د مورفیمونوډلبندي هم له کره آثارو څخه د نه ګټې اخیستنې له امله په بېلابېلو ډولونو وېشل شوي دي.د غونډله پوهې یا نحوې په برخه کې د ترکیب او عبارت ناانډولیز توپیرونه او بېلونه هم د یوې ژورې مطالعې غوښتنه کوي او په همدې برخه کې د غونډلو ډلبندي په کره توګه چا نه ده منلې دا او دې ته ورته نورې ستونزې هم شته دي.

کومکي فعلونه په پښتوګرامرکې یوه لویه موضوع ده چې لومړی په مورفولوژي کې پرې بحث کېږي او بیا په غونډله پوهه کې هم بېلابېلې دندې پر مخ بیايي. داچې کومکي فعلونه ډېر کارول کېږي.له همدې امله یو کومکي فعل رازراز بڼې غوره کوي.کله کله داسې هم ښکاري چې سړی ورته د اصلي فعل په سترګه ګوري. په دغې څېړنې کې د کومکي فعلونو بېلابېلې دندې ،ډولونه او پېژندونه وړاندې شوي او له منلو او کره لاسوندونو څخه په کې کار اخیستل شوی دی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

دا چې کومکي فعلونه په پښتو ګرامر کې یوه لویه برخه جوړوي او تر دې دمه په ځنګیز ډول څېړل شوي دي، په کار وه چې مخکې له مخکې

پـرې ګڼـې او کـره ليکنـې او څېړنـې شـوې واى، خـو د ګرامـر پـه کتـابونوکې يـې يـوائې تشـې يـادونې شـوې دي.تـر دې وړانـدې پـرې چـا پـه دې نـوم او مفهـوم څه نه دي ليکلي.

## د څېړنې موخې:

د مرستيالکړونو(کومکي فعلونو) کره پېژندنه.

د مرستيالکړونو دندې په ګوته کول.

په بېلابېلو ګرامرونو کې د يادې موضوع ارزونه.

په پښتو ګرامر کې د مرستيالکړونو دريځ ځرګندول.

د مرستيالکړونو ډلبندي روښانه کول.

## د څېړنې پوښتنې:

مرستيالکړونه (کومکي فعل) په کره توګه څه ته وايي؟

مرستيالکړونه په څو او کومو ډولونو وېشل کېږي؟

د مرستيالکړونو ارزښت او دندې څه دي؟

د مورفيمونو دا ډله د ژبپوهنې کومې څانګې سره اړخ لګو؟

## د څېړنې مېتود:

د دغې څېړنې مېتود تشرېحي دی او په تشرېحي کې بيا د تېرو څېړنو تقـابلي او کره کتنيز جاج اخېستل شوی دی او د څېړنې ډول کتابتوني دی.

## مرستيالکړونه (کومکي فعلونه)

ګرامر دتشريحي ژبپوهنې هغه برخه ده چې دوه لـويې او بنسـټيزې برخـې يـې مورفولوژي او غونډله پوهه ده چې د فعل لومړی ځای په مورفولوژي پورې اړه لري.

داچې فعل مورفيم دی نو ښه ده چې د مورفيم په اړه لنډه او کره خبره وکړم:

کوچنی ترين معانيـز ــ پښوييز توک دی چې لـه يـو واوېـل يـا څـو اوازونوڅخـه رغښت مومي. كه وشنل شي، نامعانيزـ پښوييز توک يا توکونه لاس ته راځي.(۱)

فعل او بيا کومکي فعل هم د مورفيمونو ديوې ډلې برخـه ده چـې پـه خپلـواک ډول معانيز باور لري. ښه به دا وي چې د مورفيمونو د ډلبندی يو انځورليک وړانـدې کړم چې د موضوع په لا روښانتيا کې مرسته وکړي




پورته انځورلیک ته په کتو اوس پوه شو چې کومکي فعلونه د مورفیمونو یوه برخه ده.

**مرستیالکړ(کومکي فعل) څه ته وایي؟**

کومکي فعلونو ته په بېلابېلو څېړنو او لیکنو کې بېلابېل نومونه او تعریفونه کارول شوي دي نو ښه به دا وي چې د هغو اثرونو پاڼې واړوو په کومو کې چې ددې سکالو په تړاو خبري راغلي دي.

د کومکي فعلونو په اړه محمداعظم ایازي لیکي: ((په پښتو کې کلمات ربط عموماً دادي(یم،وم او شوم) د نحوې په اصطلاح کې افعال ناقصه ته کلمات ربط وایي.))(۳)

په یاد اثر کې کومکي فعلونو ته په نومیزو غونډلو کې د اسناد نومونه هم کارول شوي ده. د نوموړي له تعریف څخه ښکاري چې کومکي فعلونه د ارتباط کلمې دي او په نحوه کې د نیمګړو فعلونو مفهوم لري. که څه هم ده یواځې پورته درې کومکي فعلونه یاد کړي خو کېدای شي دایې یواځې د بېلګې په ډول راوړې وي.

هربرت پنزل د کومکي فعلونو په تړاو لیکي: ((د افعالو یوه کوچنۍ ډله چې اصلاً د ((اسم ــ فعل)) په ترکیبونوکې استعمالېږي، دکومکي فعلونو په نوم یادولی شو ((یم ))ــ ماضي یې ((وم)) د قریبې ماضي ترکیبونه تشکیلوي.((شم)) (سم) ماضي یې شوم اقتداري ترکیبونه جوړوي. کېږم د متعدي افعالو مجهول ترکیبونه جوړوي او د اسم ــ فعل لازمي ترکیبونه ترکیبوي.

((کوم))(پاړسوـ مېکنم)لـه اسـماوو سره ترکیبېـږي او د متعـدي فعـل ترکیبونـه ورڅخه جوړېږي. ((کوم)) او ((کېږم)) څلور قسم فعلونه دي چې د مختلفـو صـورتونو یوه مکمله مجموعه لري . ((یم)) او ((شوم)) ناقص فعلونه دي، مگر لـه دې سره هـم لومړی ماضي او تمنایي صورتونه لـري،((یم)) د دویـم حـال یـو صـورت هـم لـري . د دغـو دواړو کـومکي فعلونـو پـه صرفي اجـزاوو کـې ځېنـې بـې قاعـده والـی لیـدل کېږي.))(۴)

د ((یم)) د کومکي فعل په اړه لیکـي:د ((یـم)) کـومکي فعـل د پښـتو یـوازینی داسې فعل دی چې غایب له پاره بې قاعده صورتونه لـري او د اصـلي مـادې صـورت یې بدلېږي.له دې څخه معلومېږي او د حال ز مانې لپاره د ماضي علامې په کې پـه کارېږي. د متکلم او مخاطب خاتمې یې باقاعده دي مگر امري صورتونه ، نه لـري. د ((یم)) د کومکي فعل مختلف صورتونه په دې جدول کې وگورئ!

| | **متکلم** | **مخاطب** | **غایب** |
|---|---|---|---|
| مفرد | یم | یې | دی/ده |
| جمع | یو | یئ | دی |
| | | | وې/یې |

د ((یم)) اخوات دادرې اصلي مادې لري: (یم ـ،د،و)(۵)

داوې د پنزل څرگندونې د پښتو کومکي فعلونو په تړاو چـې څـه ناڅـه یـې لـه ایازي څخه پرې ډېرې څرگندونې وړاندې کړې وې، که څه هم پرله پېیلـې نـه دي او هم یې د اړتیا پر وخت د فعل نوم یا مصدر نه دی کارولی او هر وخت یې د فعـل یـوه گرداني ستړه راوړې ده.

پوهاند رښتین ((دکومکي فعلونوجوړېدنـه))تر سرلیـک لانـدې پردغـې موضـوع شا و خوا لس مخه بحث کړی چې په دې لړ کـې یـې د کـومکي فعلونـو یـوه تړولیزه پېژندنه نه ده وړاندې کـړې. نومـوړی لیکـي: ((کـومکي فعلونـه پـه پښـتو کـې زیـات اهمیـت لـري او د ترکیبـي فعلونو،پـه خاصـه توگـه د مجهولـو او امکـاني فعلونوپـه جوړښت کې مهمه برخه لري .کومکي فعلونو ته نیمگړي فعلونه هـم وایي،ځکـه چـې له هغو څخه تړولې صیغې نه شي جوړېدای.دلته په لانـدې ډول کـومکي فعلونـه او د هغو د جوړښت طریقه بیانېږي چې لاندې ډولونه یې راوړي دي.

کول، کړل،شول، کېدل،شول،يدل،ول،اوسېدل،ښايي،بويه.(٦)

پوهاند رښتين د کومکي فعل هر ډول ته يو لړ توضېحات هم ورکړي او يو څو گردانونه يې هم ورته په گوته کړي دي. د ((نه)) مختاړي په يوځای کولو سره يې منفي کومکي فعلونه يو بېل ډول گڼلای دی.

پوهاند محمداقا شېرزاد په پښتو نحو کې په څنگيز ډول ((ده،دی او دي)) د ربط کلمې نومولې دي او هم يې ورته په دوديز ډول د اسناد نومونه هم کارولې ده.(٧)

نوموړي د کومکي فعلونوپر سرليک ځانگړی بحث نه دی کړی خو په نوميزو او خبري غونډلو کې يې پورته موضوع ته نغوته کړې ده.

پوهاند زيار چې د معاصرې ژبپوهنې يو مخکښ څېړونکی دی هغه پر مرستيالکړونو يا کومکي فعلونو باندې د نوو څېړنو په رڼا کې په لاندې ډول بحث کړی دی چې دلته يې په لنډيز سره را اخلم:

((داهغه راز کړ دی چې له اره په يو ځاني يا خپلواک ډول نه بلکې د ار کړ په ملتيا د اېښوني (خبر) چاره پر غاړه اخلي ـــ هرگوره له نومونوسره چې ترښتي کړ رامينځ ته کړد ار کړ دنده راخپلوي او يو نيم ډول يې لکه انگريزي (have)له ځايه هم ار وي او هم مرستيال.)) (٨)

د پوهاند زيار نورې څرگندونې به د کومکي فعلونو د ډلبندۍ په تړاو راواخلو.

د پورته گڼو څرگندونو په پام کې نيولو سره غواړم د کومکي فعل يو لنډ او ټوليز تعريف وړاندې کړم چې د کومکي فعل له کارونې سره اړخ ولگوي.

## د مرستيالکړ(کومکي فعل) پېژندنه:

کومکي فعل ته په بېلابېلو څېړنو کې راز رازنومونې کارول شوې ، لکه:اسناد،دربط کلمې، نيمگړي فعلونه ،ناقص فعلونه،مرستيالکړونه(کومکي فعلونه) چې له دغو نومونو څخه يې غوره مرستيالکړيا کومکي فعل دی چې تر ټولو ښه او د نوموړو مورفيمونو له کارونې سره اړخ لگوي چې له پښتو پرته په نورو ژبو کې هم ورته اندېولونو ته نوموړې نومونه کارول کېږي.

کومکي فعل د خپلواکو مورفيمونو يوه ډلگۍ ده چې کله په خپلواکه توگه او کله د اصلي فعل د لا بشپړتيا لپاره د غونډلې په خبر کې راځي او غونډلې يا جملې

ته بېلابېل نومونه ورکولای شي یا اصلي فعل راز راز بڼو بدلولای شي او یو نیم په کې داسې هم پیداکېږي چې کله کله د اصلي فعل دنده پر غاړه اخلي او په یوه جمله کې له یو څخه ډېر کومکي فعلونه هم راتلای شي. که څه هم ځینې ژبپوهان وایي چې کومکي فعل په یواځې توگه د جملې خبر نه شي جوړولای خو داسې نه ده، ځکه چې د ټولو نومیزو جملو خبرونه (خبر) د کومکي فعل په شتون کې جوړېږي، که چېرته کومکي فعل نه وي نو کېدای شي هېڅ نومیزه جمله هم جوړه نه شي.

که څوک وایي چې په نومیزه جمله کې خو نومیزه ډله د خبر په جوړولو کې له کومکي فعل سره غاړه وري، نو دغه کار له ځینواصلي فعلونو سره کومکي فعل په فعلي جملو کې هم کوي نو بیا ویلای شو چې گواکې اصلي فعل هم هر وخت په یواځې توگه خبر نه شي جوړولای . کله چې په نومیزه جمله کې کومکي فعل نه وي او په فعلي جمله کې اصلي فعل نه وي نو هېڅ ډول جمله نه جوړېږي.

بېلگې: ((زه دلته یم .))او((زه ځم. ))په دغو جملو کې ((یم))او ((ځم)) فعلونه دي که دا نه وي نوبیا جمله منځ ته نه راځي.

په هره برخه کې چې یو توک دومره اړین وي چې په نه شتون کې یې کار نه تر سره کېږي او یا منځ ته نه راځي نو هغه ته مور د هماغې برخې بنسټیز توک ویلای شو.لنډه داچې کومکي فعل د نومیزې غونډلې یا جملې د خبر بنسټیز توک دی او همدارنگه اصلي فعل د فعلي غونډلې بنسټیز توک دی.په گرامري دندو کې اصلي فعل د کومکي فعل د بشپړتیا لپاره نه کارول کېږي بلکې هر وخت مرستیالکړ د ارو کړونو(اصلي فعلونو) د لا غښتلتیا لپاره په کار وړل کېږي.

د بېلگې په ډول په نومیزو غونډلو کې ارکړ (اصلي فعل ) نه شي راتلای خو د کړیزوغونډلو (فعلي جملو) ډېر ډولونه له مرستیالکړونو پرته نه جوړېږي،لکه:بېچار کړ(مجهول فعل)،نږدې تېرمهال کړ، لر تېرمهالکړ او نور.

په لنډ ډول د مرستیالکړ (کومکي فعل) پېژند په دې ډول وړاندې کولای شو:

*مرستیالکړونه د خپلواکو مورفیمونو هغه ډله ده چې په نومیزو غونډلو کې په یواځې توگه او په فعلي غونډلو کې د ارو کړونود لابشپړتیا لپاره د غونډلې په خبر کې راځي چې د اصلي فعل بېلابېل گرداني اړخونه جوړوي او د مرکبو فعلونو په*

*جوړښت کې رغوونکې ونډه لري او هر کړ چې په یواځې توګه یې د یو کړ یا عمل ښودنه ،نه کوله مرستیالکړ دی.*

*لکه: کول، کېدل، شول، ول، لرل، اوسېدل، اوسل، باید، بویه، ښایي، ایسېدل، برېښېدل، پرېږده، غوښتل اونور.*

اوس راځو دمرستیالکړونو  په ډولونو یو څه تمېږو

## د مرستیالکړونو ډولونه

لکه څنګه چې مې د مرستیالکړ د پېژندلو لپاره د بېلابېلو کتابونو پاڼې واړولې اوس غواړم چې د ډولونو په تړاو یې هم یو څه له نورو ځایونورا واخلم او د هغو په رڼا کې ترې یوه ټولمنلې ډلبندي غوره کړم.

په پښتو ژبې کې چې کوم ګرامرونه لیکل شوي دي په ډېرو کې د مرستیالکړونو تر سرلیک لاندې ډېر څه نه تر سترګو کېږي، خو په دې د پوهاند صدیق الله رښتین او پوهاند دوکتور زیار څېړنې د پاموړ دي، دوی یې په ډلبندۍ یو څه کار کړی چې دلته زه لومړی د پوهاند رښتین د څېړنې لنډیز را اخلم او بیا ورپسې د پوهاند زیار .

پوهاند رښتین مرستیالکړونه د (کومکي فعلونو جوړېدنه) تر سرلیک لاندې په شمېرلې بڼه یویو مرستیال فعل څېړلی دی، که څه هم په ځانګړي ډول یې د مرستیالکړونو ډولونه، نه دي ښودلي خو هغه شمېرې چې ده مرستیالکړونو ته ورکړي لسو ته رسېږي، سرې ویلای شي چې دده د څېړنې پر بنسټ مرستیالکړونه لس ښودل شوي چې لنډیز یې دادی:

۱- کول: یو متعدي مصدر دی چې د حال ،امر او مستقبل فعل ټولې ریښې ورڅخه جوړېږي او په ماضي فعلونو کې یواځې استمراري ،مطلقه او امکاني ماضي ګانې ورڅخه جوړېږي.(۹)

*یادونه: پوهاند رښتین د نورو ګرامر پوهانو په توپیرفعل له مصدر څخه راباسي او پوهاند زیار فعل له ریښې څخه ګڼي.*

۲ - کړل:  یو متعدي مصدر دی چې ټول حالیه فعلونه ورڅخه جوړېږي او د معنی له مخې له ((کول)) سره مترادف دی.(۱۰)

*ماته داسې ښکاري چې له ((کړل)) فعل څخه ټول حالیه فعلونه نه جوړېږي.*

۳ - شول: یو لازمي مصدر دی چې له استمراري حال او استمراري ماضي پرته نورې ټولې حال او ماضي ریښې ورڅخه جوړېږي.

۴- کېدل: یو لازمي مصدر دی چې د معنا له مخې لـه ((شـول)) سره مـترادف دی، یواځې استمراري فعلونه ورڅخه جوړېږي.

۵ - شول: دغه متعدي مصدر دی چـې د توانېـدو معنـا لـري لـه ((کـول))فعلي صفت سره د مرستیال په توگه راوړل کېږي او امکاني فعلونه رامنځ ته کوي.(۱۱)

## مجهول کومکي فعلونه

٦ - یـدل: دغـه مصـدر پـه یـدل والا مصـدرونو کـې پـه ضـمني توگـه کـومکي استعمالېږي او ورڅخه یو به، یې به،یئ به ) او د راتلونکي لپاره یې امري بڼه داسې ده.(یه،یئ،یې) دي.همدارنگه (شـته او نشـته)کلمې پـه حـال زمانـه کـې د کـومکي فعل دنده سرته رسوي،لکه:دلته اوبه شته که نشته؟.(۱۲)

۷ - ول:دغـه مصـدر پـه ول والا مصـدرونو کـې پـه ضـمني توگـه کـومکي هـم استعمالېږي او دغه فعلونه ورڅخه جوړېږي: (( وم،وو،وئ،و،وه او وې).

۸ - اوسېدل:دغه مصدر کله کله د کومکي فعلونودنده سرته رسوي.

۹- ښایي،بویه: کلمې هم د کومکي فعلونو دنده سرته رسوي .

۱۰- منفي کومکي فعلونه:د منفي کومکي فعلونود جوړولو لپاره د ((نه)) تـوری په استمراري فعلونو کې له مثبت فعل څخه دمخه او په مطلقـو فعلونـو کـې لـه ((و)) څخه وروسته او په امکاني فعلونو،نږدې،لېرې،احتمالي او نـورو مـاضي گـانو کـې لـه فعلي صفت څخه وروسته راوړل کېږي،لکه: نه کوم،ونه کړم او کولای نه شم.(۱۳)

له پورته ډلبندۍ څخه ښکاري چـې د نومـوړي لیکـوال لـه انـده مرسـتیالکړونه لس ډولونه لـري، غـواړم چـې پـه دغـې وېشـنه یـو لنـډ بحـث وکړم.لـه دې ډلبنـدۍ ښکاري چې (کول،کړل،کېدل،شول او بیا شول معلوم کومکي فعلونه دي،ځکه چـې یدل،ول،اوسېدل،ښایي،بویه او منفي کومکي فعلونه یې د مجهولو کـومکي فعلونـوتر سرلیک لاندې ځېړلي دي.

زما په اند مرستیالکړونو ته د معلوم او مجهول نومونه کارول هم د سوچ وړ خبره ده، ځکه چې په معلوم فعل کې فاعل څرگند وي او په مجهول کې فاعل څرگنـد نـه وي او د فاعل اړتیا یواځې او یواځې د اصلي فعلونو له پاره اړینه ده.

بله خبره داده که چېرته د مرستیالکړونولپاره د معلوم او مجهول ډولونه ولـرو نـو بیا مجهول فعلونه لـه ((شـول او کېـدل)) څخـه جـوړېږي او لیکـوال هغـه ډولونـه پـه مجهولو فعلونو کې نه دي شمېرلي.په دغې وېشنه کې د مرستیالکړ هـر ډول تـه یـې نوم نه دی ورکړی،یواځې شـمېرې یـې ورتـه بنسـټ نیـولی دی.ځېنـې فعلونـه یـې د بېلابېلو گرداني اړخونوله مخې بېل بېل گڼلي دي،لکه:شول لازمي او شـول متعـدي یا د ((کول )) بله گرداني بڼه ((کړل))یې بېل کومکي فعل گڼلی دی.

((یدل)) چې له اره د کېدل برخـه ده او(( ول )) چـې د ((کـول)) پـاتې شـونی دی. د ((یدل)) مصدر تـه یـې د ((ول)) مرسـتیالکړونه منسـوب کـړي دي.د ((ول)) مصـدر تـه ټـول هغـه فعلونـه منسـوب دي چـې د یـو حالـت او یـا د یـو څـه شـتون ښیي.همدارنگه د منفي کومکي فعلونو نومونې ته اړتیا نه وه ځکـه چـې لـه هـر فعـل سره چې د ((نه)) مختاړی یو ځای کړو منفي کومکي فعـل تـرې جـوړېږي.د اوسـنیو څېړنو پر بنسټ پښتو کومکي فعلونه پر څلورو برخو وېشل کېږي چـې پـه دې برخـه کې د پوهاند زیار وېشـنه د پـام وړ ده، کـه څـه هـم نومـوړي لـومړی پـه دریـوو برخـو ښودلي خو بیا یې څلور وړاندې کړي چې څلور ډولونه یې کره هم دي چې دلتـه هـر ډول په سپړلي ډول وړاندې کوم:

۱- ډېر کـاري یـا څـو اړخیـز مرسـتیالکړونه (کـومکي فعلونه):دغـه فعلونـه چـې لازمي او متعدي دواړه بڼې لري،لکه: کول،کېدل،شول ،استل او ول.(۱۴)

داچې دغه مرستیالکړونو ته د ((کول)) فعلونه هم وایـي .پـه لنډ او ټـولیز ډول ډېر کاري فعلونه دادي: کول،کېدل او شول .

د ((کول)) نورگرداني ډولونه: ((کړل)) لکه:زه کار کوم.، مـا کـار وکـړ.،زه مجلـه خپروم.، ما مجله خپره کړه.له دې بېلگو ښکاري چې د ((کول)) یوه بڼـه ((ول)) هـم ده چې د سر توری یې د ځېنو ژبنیو عملیو پر بنسټ لرې شـوی دی چې((کـول)) او ((ول)) یې په اوسمهال کې کارول کېږي او ((کـړل)) یـې دوهمـه ریښـه ده چـې پـه تېرمهال کې کارول کېږي.

د ((کېدل)) نورې بڼې ((کېږل)) او ((یدل)): زه خفـه کېـدم.، زه سـتنېدم.، زه خفه کېږم. دغه مرستیال کړ تل د نابشپړو تېرمهـالو او اوسـمهالو کړونـو (فعلونـو) پـه رغښت کې ونډه اخلي. مجهول فعلونه هم جوړوي.

د ((شول)) مرستیالکړ بله بڼه نه لري خو کېدای شي ((شته)) له همدې ریښې څخه راوتلی وي.

۲ ـ اکرښود مرستیالکړ(حالت ښودونکی کومکي فعل): ددې موضوع په تړاو پوهاند زیار لیکي چې زه دلته دهغې اوږدې لیکنې لنډیز را اخلم: ((ول)) او ((کېدل)) یا((شول)) له بشپړاندو کړ ستڼو (فعلي تنو) (است،یاست)،(ی او د) سره بېلابېلې (to be) یا(the verb be)اوړون یا بڼې رامنځ ته کوي، همداراز په جوړه یې ډول له شته سره دغه بېلابېلوالی یا نادودیوالی (بې قاعده توب) یې هم د انګریزي،جرمني او نورو غونډې د ډېرپېښې او ډېر کارونګ زېرنده ده،لکه په دې لاندې پردایګمو کې:

| ګڼه / وګړی | یو ګړی | | ډېر ګړی | |
|---|---|---|---|---|
| | اوسمهال | تېرمهال | اوسمهال | تېرمهال |
| ۱ | یم(am) | وم(was) | یو(are) | وو(were) |
| ۲ | یې(are) | وې(were) | یئ/یاست (are) | وئ/واست (were) |
| ۳ | دی(is) ده(is) | و(was) وه(was) | دي(are) دي(are) | ول ــ وه ولې |

(۱۵)

د پورته فعلونو مصدر ((ول)) پر دې نومول شوی دی چې په پښتو ژبه کې د ټـل لپاره مصدر د فعل له دوهمې ریښې څخه جوړېږي.ددغې ډلې ټول مرستیالکړونه(کومکي فعلونه ) دادي:

((ول)) چې پورته ټول ګردانونه له همدې ریښې جوړېږي او کله کله ((اوسل)) یا اوسي، اوسئ ،اوسي اونورو بڼو باندې هم اوړي.

((شته)):هم یو ځیزښودیا اکرښود کړ دی چې ((لرل))یا((درلودل)) هم په همدې ځای کې ټیکاو لري.

۳ ـ ټینګاري مرستیالکړونه(کومکي فعلونه) :چې د یو کړن ،پېښې یا حالت د څرګندونې ټینګار په ګوته کوي .لکه:باید،بویه ،ښایي.(۱٦)

په دې ډله فعلونو کې :دي،بويه ،بايد او ښايي ،راځي.

کېدای شي يا کېږي هم کله کله د ((ښايي)) پرځای کارول کېږي.

۴ ــ دودتپاکي کړونه(model verb) :چې تر هر څه د مخه د اصلي فعلونو درغاونې لپاره پر کار لوېږي،لکه:توانېدل،ايسېدل،برېښېدل،غوښتل،پرې يا پرېږده.(۱۷)

د (گوندې،به،دي) ويېکې هم لږ و ډېر د پورتنيو کومکي فعلونو په څېر ورته دندې تر سره کوي او هغو ځايناستي کېږي. يو لړ څېرمه غونډلې هم د اصلي غونډلو په ملتياکې د اړوندو اصلي فعلونو بشپړونه کوي،لکه:بايد يا بويه پر ځای ((په کار ده.))(۱۸)

په تولیز ډول دودتپاکي کومکي فعلونه دادي: ايسيدل يا ښکارېدل،پرې يا پرېږده (پرېښودل) او همدارنگه (گوندې،به،دي، کاشکې او لکه چې) که څه هم ويېکي دي خو د کومکي فعلونو دندې پر ځای کوي.

## د مرستيالکړونو (کومکي فعلونو) دندې

مرستيالکړونه د ارو کړونو(داصلي فعلونو)غوندې خپلواک مورفيمونه دي او په خپلواکه توگه معنا ورکوي او ډېر ځله د اصلي فعلونوپه بشپړتيا ،جوړښت او گردان کې مرسته کوي. دلته د مرستيالکړونو دندې په شمېرلې بڼه په گوته کوو:

۱ ــ مرستيالکړونه ټولې نوميزې غونډلې يا جملې جوړوي.له دې پرته نوميزې جملې نه جوړېږي،لکه:زه دلته يم.،دغه هلک دی.،هغه نجلۍ ده.،زرمينه ستړې ده. اوداسې نور

په پورته جملو کې (يم،دی،ده او وه)مرستيالکړونه دي.

۲ ــ د ((شته)) ((لرل))يا ((درلودل)) او((ول))کړونه يا فعلونه د يو څه شتون ښيي.لکه:زه قلم لرم. له ما سره پيسې شته دي.

۳ ـــ د ((کول)) او ((کېدل)) مرستيالکړونه په ژبه کې مرکب فعلونه جوړوي.(۱۹) لکه:ملامتول، سپکول،پخول،پخېدل،کوچول،پخلاکول،پخلاکېدل او نور.د ((کول او کېدل)) کومکي فعلونه چې کله له داسې نوم يا ستاينوم سر ه يو ځای شي چې په بېواک غږ ختم شوی وي نو د ((کومکي فعل)) لومړی توری له منځه ځي.

۴ ــ ټول مجهول فعلونه د((شول)) او ((کېدل)) په ملتياجوړېږي،لکه: ډوډۍ

خوړل کېږي.، ډوډۍ خوړل کېده.، ډوډۍ وخوړل شوه.(۲۰)

((کېدل)) ډېر ځله نابشپړ فعلونه جوړوي او ((شول)) بشپړ فعلونه جوړوي. په ځېنو ګړدودونو کې ((شول)) هم د نابشپړ په توګه کارول کېږي،لکه: کارشي.

۵ ـــ د تېر مهال لرې او نږدې فعلونه هم د کومکي فعلونو په مرسته جوړېږي،لکه:

ما ډوډۍ خوړلې ده. ما ډوډۍ خوړلې وه.

٦ـ تواني تېرمهال(امکاني ماضي):د مرستیالکړونو په ملتیا جوړېږي.لکه:ما وخوړلای شو. تا خوړلای یا خوړای شو.

۷ ـ ګوماني تېرمهال یا احتمالي ماضي:هم د ((ول)) یا((اوسل)) د مرستیالکړ په یو ځای کېدو جوړېږي.لکه: موږ به خوړلی وي(اوسي).

۸ ـــ د کاشکې مرستیالکړ د ارماني ـــ ګوماني تېرمهال(تمنایي احتمالي ماضي)په جوړښت کې پوره ونډه لري.لکه:کاشکې ما وخوړای. ، کاشکې زه تللی وای.

۹ ـ ټینګاري تېرمهال(تاکیدي ماضي):د ټینګاري کومکي فعلونوپه مرسته جوړېږي.

لکه: ما به خوړلای وای. ـــــ ما به خوړلی و. ـــــ ما باید خوړای.ـــــــ ما بویه خوړای.

۱۰ ـ نابشپړ ګوماني فعل(استمراري احتمالي):د ګوندې ،ښایي یا لکه چې په ملتیا جوړېږي. لکه:ښایي زه راتلم. ـــــ لکه چې زه راتلم. ـــــ ګوندې زه راتلم.(۲۱)

۱۱ ـ روږدونی ګوماني(اعتیادي احتمالي):د ګوندې ،ښایي او لکه چې په ملتیا جوړېږي. لکه:زه به ګوندې راتلم. ـــ زه به ښایي راتلم. ـــــ زه به لکه چې راتلم.

۱۲ ـ تواني بشپړ فعل هم د ((شول)) مرستیالکړ په راوړلو سره رغېږي. لکه: زه ډوډۍ خوړای شم. هغه که مڼه وخوړای شي.

۱۳ ـــ ټینګاري بشپړ اوسمهال : فعل هم د کومکي فعلونو په مرسته رغېږي.لکه: زه دې وخورم. ودې خوړل شم. ـــــ بویه وخورم. ـــــ باید

وخورم.

۱۴ ـ گوماني بشپړ اوسمهال : د کومکي فعلونو په ملتیا جوړېږي. لکه: ښایي وبه خورم.ـــ گوندې وبه خورم. ـ کېږي چې وخورم. ـــــ کېدای شي چې وخورم.

۱۵ ـ گوماني نابشپړ اوسمهال: گوندې خورم.

۱٦ ـ ټینگاري نابشپړ اوسمهال : زه دې وخورم. ــــــ خوړل کېږم دې.

۱۷ ـ ارماني بشپړ اوسمهال: کاشکې وخورم.

۱۸ ـ ارماني نابشپړ اوسمهال:کاشکې ما خوړلای.

۱۹ ـ راتلونکی بشپړ اوسمهال : هم د کومکي فعلونوپه راوړلو سره جوړېږي. لکه: زه به ولاړ شم .

که ولاړ شم. ـــ کاشکې زه ولاړ ځ. ـــ ولاړشم. ـــ ښایي چې ولاړ شم.

۲۰ ـ ((به)) چې د فعل زمانه په نسبي توگه بدلولای شي نو دا هم په کومکي فعلونو کې راتلای شي.   لکه: د راتلونکي فعل په جوړښت کې ،لکه: وبه خورم. ـــ وبه خوړل شم. ـ خورم به. ـــ خوړل کېږم به. دا او دې ته ورته نورې دندې هم درلودای شي.

**پایله:**

مرستیالکړونه یا کومکي فعلونه چې د خپلواکو مورفیمونو یوه غوره برخه ده، د نومیزو غونډلو په جوړښت کې بنسټیز رول لري او داصلي فعلونو جو ړښت ،بشپړتیا اود گردان بېلابېل اړخونه بشپړوي.مرستیالکړونه پر څلورو برخو وېشل کېږي چې هر ډول یې ځوځوفعلونه لري او بېلابېلې دندې سرته رسوي.

مرستیالکړونه په پښتو گرامرونو کې د پوهاند زیار له پښويې پرته په پرله غښتې ډول نه دي څېړل شوي خو د خورو ورو څېړنو په یو ځای کولو ترې څېړونکي یو څه برابرولای شي.د پایلې په توگه ویلای شو چې مرستیالکړونه د خپلواکو مورفیمونو هغه ډله ده چې په نومیزو غونډلو (جملو) کې د خبر بنسټیز توک دی او په فعلي جملو کې داصلي فعلونو د لابشپړتیااو بېلابېلو گرداني اړخونو د څرگندولو لپاره کارول کېږي.د ترکیبي فعلونوپه جوړښت کې هم مرسته کوي .

مرستیالکړونه څلور ډولونه لري ډېر کاري،اکرښود،ټینگاري او دودټاکي چې یو څو یې دادي: (شول،کول ، کېدل،ول،شته، لرل،دې،بویه ،باید او ښایي،

توانېدل،ايسېدل يا ښکارېدل،پرې يا پرېږده(پرېښودل)او همدارنګه (ګونډې،به،دې او کاشکې ) که څه هم وييکي دي خو د کومکي فعلونو دندې پر ځای کوي. د کومکي فعلونو د ډلبندۍ کره توب نورې څېړنې هم غواړي .

**مأخذونه:**


١ - مجاور احمدزيار،پښتو وييپوهنه او وييرغاونه،دانش خپرندوي ټولنه،کابل،١٣٩٦(ل ،٣٢او٣٣مخونه.

٢ - مجاوراحمدزيار،پښتوپښويه،دانش خپرندويه ټولنه،پېښور،١٣٨۴ل،٢١٣مخ.

٣- محمداعظم ايازي،د پښتو نحوه،د پوهنې وزارت دولتي مطبعه،کابل،١٣٣٧ل،٢٨مخ.

۴ - هربرت پنزل،دپښتو ګرامر،د الهام ژباړه،دانش خپرندويه ټولنه،کابل،١٣٨٩ل،٢١١مخ.

۵- همدغه اثر،٢٠٣مخ.

٦- صديق الله رښتين،پښتو ګرامر،دمحی الدين هاشمي ژباړه،يونيورسټي بک ايجنسي، پېښور،١٣٧٢ ل،٣۴٣ـ٣۴٨مخونه.

٧ - محمداقا شېرزاد،پښتو نحو،ميهن خپرندويه ټولنه ، ننګرهار، ١٣٩۵ل، ١۵٨مخ.

٨ - مجاوراحمدزيار،پښتوپښويه،دانش خپرندويه ټولنه،پېښور،١٣٨۴ل،١۴۵مخ.

٩ - صديق الله رښتين،پښتو ګرامر،دمحی الدين هاشمي ژباړه،يونيورسټي بک ايجنسي،پېښور،١٣٧٢ل،٣۴٠مخ.

١٠- همدغه اثر ،٣۴١مخ.

١١ - همدغه اثر ،٣۴۵مخ.

١٢ - همدغه اثر ،٣۴٧مخ.

١٣- همدغه اثر ،٣۴٧او٣۴٨مخونه.

١۴- مجاوراحمدزيار،پښتوپښويه،دانش خپرندويه ټولنه، پېښور،١٣٨۴ ل،١۴۵ مخ.

١۵- همدغه اثر ،١۴۵مخ.

١٦ - همدغه اثر ،١۴٧مخ.

۱۷- همدغه اثر ،۱۴۷مخ.

۱۸- همدغه اثر ،۱۴۷مخ.

۱۹ - محمدصابرخوېشکی، پښـتوغږپوهنه او وييپوهنـه، ختـيځ خپرندويـه ټولنـه، ننگرهار، ۱۳۹۴ل،۱۱۰مخ.

۲۰ - د.ا.شافيف، د پښتوژبې لنډ گرامر، د دولت محمد لودين ژبـاړه،ختيځ ادبي بهير، جلالکوټ، ۱۳۹۵ل،۸۰مخ.

۲۱- مجــاور احمــدزيار، پښــتو پښــويه، دانــش خپرندويــه ټولنــه، پېښــور، ۱۳۸۴ل،۱۷۸مخ.

**پوهنیار فهیم بهیر**

# په لیکوالۍ کې د بهرنیو ژبو رول

## لنډیز:

لیکوالي له دوه برخو څخه جوړه ده، چې یوه برخه یې د لیکوال له فطري استعداد او وړتیا سره اړیکه لري او بله برخه یې د لیکوال د کوښښونو او مهارتونو له زده کړې سره تړاو لري. دوهمه برخه یې په لومړۍ برخې پورې اغېزه لري، که چېرې د یو لیکوال، بهرنۍ ژبې زده وي، د نورو پوهانو او لیکوالو تیوري او د هغوی نوې ادبي او څېړنیزې پنځونې مطالعه کړي، نوې علمي تجربې واخلي، نو د دغه لیکوال په لیکنو کې یې هم تاثیر لیدل کېږي او لیکنې یې په علمي، ادبي او نورو ادبي ښکلاو له پلوه بشپړېږي.

اوسمهال ځوانو لیکوالو، څېړونکو او ادب محصلینو ته په کار دي، چې د بهرنیو ژبو د زده کړې له لارې د خپلو لیکنو تیوریکي مسایل، ادبي او هنرې نظریې او بېلابېل اړخونه وڅېړي او په خپلو لیکنو کې ترې کار واخلي، ترڅو ټول هغه فني او علمي اړخونه زموږ د لیکوالۍ په برخه کې پوره شي او په پایله کې ګټوري او پخې لیکنې خپلې ټولنې ته وړاندې کړو، چې په دې مقاله کې پر همدې لارو چارو باندې څېړنه شوې ده.

کله چې د بهرنیو ژبو له لارې نوې علمي تیوري، د لیکنې ګڼې فني او نوي تیوریک مسایل زده شي، د لیکوالو په لیکنو کې علمي قوت، پوخ منطق او استدلال او نورې ښیګڼې لیدل کېږي، چې د لیکوالو لیکنو ته لوړ معیارونه ورکوي او ټولنیز ارزښت یې هم لوړوي.

**سریزه:**

د لیکوالۍ په اړه دوه نظرونه ډېر مهم دي، ځينې په دې اند دي چې لیکوالي له فطري استعداد سره تړاو لري، په دې برخه کې هڅه کول دومره ګټوره نه ده، دوی په دې اړه د شعر یا د نورو هنري لیکنو تخلیق ته اشاره کوي، خو بل مهم نظر په دې اړه د لیکوال د تجربو، کوښښونو او د نورو ژبو د مطالعې او د زده کړې موضوع ده. که چېرې په لیکوالۍ کې د فطري استعداد سره دا برخې هم پوره شي، نو د لیکوال لیکنې په ټوله معنا لوړ ارزښتونه خپلوي.

اوسمهال د نړۍ هېوادونه د ټکنالوژي د وسایلو پر اساس سره ډېر نژدې شوي دي، دوی اوسمهال په اسانه خپل پرمختګونه، نوي لید لوري د نړۍ له ګوټ ګوټ سره شریکولای شي. نوې علمي څېړنې، نوې ادبي تیورۍ او د لیکوالۍ ګڼو خوا وو په اړه نوي مسایل د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په ژبو کې شته دی او په دې اړه ګڼ شمېر څېړونکي او پوهان کار کوي، نو ستره اړتیا ده، چې زموږ د ټولنې لیکوال، څېړونکي او د ژبې او ادب محصلين د بهرنیو ژبو پر زده کړې د لیکوالۍ په ډګر هم وځلیږي. د دې ځلېدو لپاره باید بهرنۍ ژبې زده شي او بیا کولای شي، په لیکوالۍ کې د خپلې ټولنې او ادب لپاره نوي لیدلوري، نوي ژانرونه، د لیکنې نوي فني او تخنیکي جوړښتونه درک او په خپله ژبه کې عملي کړي، ترڅو زموږ هنري او علمي لیکنې د جوړښت او معنا له مخې لوړ معیارونه خپل کړي.

په دې مقاله کې پر همدې باندې څېړنه شوې، چې بهرنۍ ژبې زموږ په لیکوالۍ کې څومره رول لوبولی شي او په کومو برخو کې؟

چې د دې برخو په پېژندلو سره نوي لیکوال، څېړونکي او د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصلین کولای شي د ښې لیکوالۍ په اړه هغه لارې چارې زده کړې چې له امله یې د دوی لیکنې علمي، ادبي او نور ټولنیز ارزښتونه خپلوي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

په دې څېړنې سره د لیکوالۍ په ډګر کې د هغو ټولو لارو چارو پېژندل ترسره کېږي چې له امله یې لیکنه په علمي او فني لحاظ لوړ ارزښتونه خپلوي.

**د څېړنې موخه:**

ځوانو لیکوالو، څېړونکو او د ژبو او ادبیاتو محصلینو ته د بهرنیو ژبو د زده کړې

له املا هغه لارې چارې په گوته کوي چې له املا یې په ژبه او ادب کې نوې، پخې او په علمي لحاظ لوړې لیکنې رامنځته کېږي.

د څېړنې فرضیه: په لیکوالۍ کې د بهرنیو ژبو رول کولای شي، چې لیکنې په تیوري او فني لحاظ لوړو ارزښتونو ته ورسوي.

## د څېړنې اصلي پوښتنه:

ایا بهرنۍ ژبې په لیکوالۍ کې دومره رول لري، چې لیکنې په علمي او فني لحاظ لوړې کړې او لیکوال ته هم د لیکنې نوې لارې چارې ورزده کولای شي؟

فرعي پوښتنې: الف ـ ایا د بهرنیو ژبو د زده کړې له املا د نورو لیکوالو په لیکنو کې یوازې نوې تیوري رامنځته کېږي؟

ب ـ ایا د لیکنې نورې لارې چارې ترې هم زده کېږي؟

ج ـ ایا په لیکوالۍ کې د بهرنیو ژبو رول کولای شي لیکنې په علمي او فني لحاظ پخې کړې؟

د څېړنې شالید: د پښتو په لرغونو ادبي تاریخونو کې یوازې د عروضي ادب د ژانرونو د رامنځته کېدو په اړه معلومات وړاندې شوي دي، همدا ډول اوسمال چې د معاصرې دورې څلورم ادبي پړاو اثر چاپ شوی دی، په هغې کې هم ځینې نوي ژانرونه لکه، هایکو، ازاد شعر یا نور ژانرونه معرفي شوي دي او د نثري ادب جوړښتونو اثر کې یوازې نثري ژانرونه معرفي شوي چې کله پښتو ادب ته داخل شوي دي، خو دا مقاله نوې ده او یوازینۍ مقاله ده چې په لیکوالۍ کې د بهرنیو ژبو د رول په اړه لیکل شوې ده او نوي او بېلابېل اړخونه په کې د لیکوالۍ په تړاو څېړل شوي دي.

البته د استاد وفا تر کتاب وړاندې ځینې نور آثار هم په دې اړه چاپ شوي، خو لکه څنگه مې چې یادونه وکړه موږ دلته یواځې په لنډون سره د هغه نوي اثر یادونه وکړه چې له نورو سره په تفاوت د نوو ژانرونو په زیاتوالي سره چاپ شوی دی او تر دې د زیاتو اثارو معرفي کول د موضوع د حوصلې نه وتلې خبره ده.

## د څېړنې مېتود:

په دې مقاله کې له تشریحي مېتود څخه کار اخیستل شوی دی او ځینې برخې تحلیل شوي دي او له نورو اثارو څخه مثالونه هم وړاندې شوي دي. د دې

مقالې په مېتود کې سروې او مرکې هم شوي دي او پایله یې د مقالې په پای کې وړاندې شوې ده.

## په لیکوالۍ کې د بهرنیو ژبو رول

د لیکوالۍ یو ځانګړی اړخ فن دی، خو بل اړخ یې د زده کړو، تجربو او هڅو پر اساس پیاوړی کېږي. زما په اند د دویمې برخې تجربه او عملي کارونه په لومړۍ برخې هم اغېزه کوي او لومړنۍ برخه نوره هم ځواکمنه کوي. په دې برخه کې د نورو اساسي عواملو تر څنګ بهرنۍ ژبې هم ځانګړی نقش لري، چې د بهرنۍ ژبو پر زده کړې سره، لیکوال په ګڼو برخو کې معنوي او مادي پرمختګ کولای شي .

زموږ په دې لیکنه کې د بهرنیو ژبو څخه موخه هغه ژبې دي چې اوسهال د نړۍ د پرمختللو هېوادونو ژبې دي، موږ په دې لیکنه کې د هغوی نوملړ نه وړاندې کوو، بلکې د یو شمېر ژبو هغه تیوري او مهمو اړخونو ته اشاره کوو، چې زموږ ژبې، ادب او لیکوالۍ ور سره پرمختک کړی او یا په دې برخه کې اساسي رول لري، د بهرنیو ژبو زده کړه د ځوانو لیکوالو، څېړونکو او ادب محصلینو سره د یو ښه لیکوال، ادب څېړونکي او د ښې لیکنې په رامنځته کېدو کې پوره مرسته کوي.

په لیکوالۍ کې د بهرنیو ژبو د رول په اړه ځینې مهم ټکې په لاندې توګه تر څېړنې لاندې نیسو:

**۱ ـ د نوو ژانرونو پېژندل:**

د نړۍ هېوادونه د پرمختګ په حال کې دي، دوی نه یوازې په سیاسي او اقتصادي لحاظ پرمختګ کوي، دوی په علمي او فرهنګي لحاظ هم د ځینو نورو هېوادنو په پرتله پرمختګ کړی دی. د خپلې ژبې ادبي، ګرامري، تیوریکي او نورو اړخونو کې کار کوي، ځینې شیان له نوو زاویو ګوري، چې په پایله کې نوي موضوعات او نوي ژانرونه رامنځ ته کېږي، دوی په نوو ژانرونو کې نوو خیالونو یا د ژوند بېلابېلو خواوو ته ځای ورکوي، خو وروسته د څو لسیزو دا نوي ژانرونه وروسته پاتې هېوادونو ته د ژباړو له لارې داخلېږي.

زموږ د لرغوني ادب تاریخ که د غزل، قطعې، مثنوي یا په ټوله کې د عروضي ادب ژانرونو ته ځېر شو، ډېر د ژباړې له لارې له عربي او پارسي ژبو څخه زموږ ژبې ته راغلي دي. د نمونې په توګه زموږ د لرغوني ادب په تاریخ کې د دې سرلیک: «

پښتو ادبیات د نوو شعري ډولونو د خپلولو په درشل کې» لاندې لیکل شوي دي: « د پښتو شاعرۍ کې له دغو خپلو ملي او وطني شعري ډولونو سر بېره د خپلې سیمې د فرهنګي او ادبي جریان تر اغېز لاندې او له نورو فرهنګونو سره د نږدیکتونو له پلوه پښتو شاعرانو د شرقي شاعرۍ شعري ډولونه هم خپل کړي دي، لکه: د دربیمې هجري پېړۍ په جریان کې په پښتو شاعرۍ کې قطعه پیدا شوه او په پنځمه هجري پېړۍ کې د قصیدې په چوکاټ کې پښتو شاعري وشوه؛ خو د اتمې هجري پېړۍ تر دوهمې نیمایي وروسته چې د پښتو کوم اثار ایجاد شوي دي او موږ ته یې نمونې رسېدلې دي، په دغو اشعارو کې د شرقي شاعرۍ ځینې داسې انواع په پښتو شاعرۍ کې مومو، چې تر دې زمانې د مخنیو په اشعارو کې موږ داسې شعري انواع نه لرو.

... د ده د دیوان په دغو پاڼو کې د اکبر دوې ټوټې (مثنوي) خوندي دي... د اکبر زمینداوري د دیوان په لاس ته راغلو پاڼو کې د پښتو دوې غزلې هم شته...د اکبر د دیوان په لاس ته راغلو پاڼو کې د شرقي شاعرۍ د دوو مشهورو او عمده شعري ډولونو لکه غزل، مثنوي د نمونو تر څنګ د پښتو چاربیتې موجودیت په دې دلالت کوي چې زموږ پخوانیو شاعرانو که د شرقي شاعرۍ شعري ډولونه خپلول...»«۱۲: ٦۸».

استاد حبیبي په خپل اثر« د پښتو ادب لنډ تاریخ» کې د (۱۲۵۰ هـ ق) را پدیخوا په یوه پېړۍ کې د پښتو ادب د تحول ځینې عاملونه په ګوته کړي دي، چې موږ یوازې یو عامل دلته راوړو: « په دې وروستۍ دوره کې د پښتو په نظم او نثر دواړو کې د ترجمې حرکت هم پیدا شو، ځینې کتابونه له اردو او انګریزي څخه او ځینې هم له عربي او فارسي څخه په پښتو ترجمه شول، ... د ترجمې دغه حرکت و، چې له ځانه سره یې نوي فکرونه او د نوي مدني ژوند اساسونه هم راوړل او پښتو ادب ته یې یو نوی ادبي تحول ور وباخښه، په دې ترجمه کې شاعران او لیکوالان دواړه مجبور وو چې په داسې ژبه خبرې وکړي چې لوستونکي یې په مطلب ښه پوه شي. نو له دې جهته هم په نظم هم په نثر کې رواني او شګفتګي موجوده شوه، خلک خپل قدیم تاریخ ته متوجې شول او د اروپا د مدنیت او د ژوند نوي فلسفي فکرونه هم په نظم او نثر کې وارد شول او هغه فکري انقلاب چې د ۱۹ قرن له ملي

او قومي نهضتونو سره راغلی و د پښتو ادب ته یې هم نوې ښکلا، نوې مفکوره او نوي تغییرونه ور وبخښل»« ۲: ۱۸۰».

اوسمهال په پښتو ادب کې ازاد شعر او هایکو ډېر مروج شول په دې شعري فورمونو کې ګڼ شمېر اثار چاپ شوي دي او ډېر شاعران او مینوال یې هم پیدا کړي دي چې ازاد شعر لومړی په اروپا کې رامنځته شوی دی او وروسته یې پښتو ادب ته لار وکړه. همدا ډول هایکو یو جاپانی فورم دی، چې ځینې پښتو ادب څېړونکي یې له لنډیو سره ډېر نږدې ګڼي په دې فورم کې د کوزې پښتونخوا ډېرو شاعرانو اثار چاپ کړي دي خو اوسمهال یې په افغانستان کې هم بازار ګرم دی.

هایکو فورم یا شکل : هایکو د شکل له مخې لنډ فورم یا شکل دی خو دمعنا له مخې بشپړ دی چې قافیه نه لري او درې نیم بیتۍ وي، سیلابوتونیک ( Syllabus- tonic) جوړښت لري چې هر نیم بیت یې په ترتیب سره ۷،۵ او ۵ هجاوې لري.«۱۷: ۲۸٦».

اوسمهال د پښتو ژبې مهم نثري ژانرونه، چې ډېر اثار پرې چاپ شوي دي، د ادبیاتو په تیورۍ کې ځانګړی ځای لري او د ادبیاتو په ایجاد کې مهم رول لري دا ژانرونه یا شکلونو هم د نړۍ له نورو ژبو څخه پښتو ژبې ته داخل شو ي دي، چې په څو کرښو کې به په لنډه توګه ورته اشاره وکړو: « خو هغه څه چې اوس یې موږ لنډه کیسه بولو او په اصطلاحي لحاظ د غربي ادب له «شارټ سټوري» سره هم معنا ده، په اوسني مفهوم او ځانګړې فني بڼه په نولسمه پېړۍ کې په اروپا کې دود شوې او له هغه ځایه یې د نورې نړۍ ادبیاتو ته لاره موندلې ده، له څېړنو څخه جوتېږي چې دغه نثري ادبي فورم له انګریزي ژبې څخه اردو او بیا له هغې څخه د شلمې پېړۍ په لومړیو کې پښتو ادب ته راغلی دی.« ۱۳: ٦۲».

ناول هم پښتو ژبې ته د اردو ژبې له ژباړې څخه راغلی، چې وروسته سید راحت زاخیلي هم په دې برخه کې ځلیدلی دی او د «ماه رخې» په نوم یې ناول ولیکه«۱۳: ۱۱٦».

همدا ډول ډرامې لیکنې بهیر په افغانستان کې د شلمې پېړۍ دویمې لسیزې ته رسېږي چې لومړني ځرکونه یې د مولوی صالح محمد کندهاري په آثارو کې لیدل کېږي« ۱۳: ۲۳۷».

طنز هم په افغانستان کې د لومړي ځل لپار د استاد حبیبي په لیکنو کې لیدل کېږي. نوموړي خپلې ګڼې طنزي لیکنې په طلوع افغان کې خپرې کړې دي« ۱۳: ۲۹۱».

ادبي ټوټه هم پښتو ادب ته لومړی د ژباړې له لارې داخل شوې ده، لومړی په لویدیځ ادب کې رامنځته شوې ده او په افغانستان کې په دې فورم کې لومړی ځل استاد حبیبي لیکنې کړې دي« ۱۳: ۳۳۲».

په دې فورم کې وروسته نورو لیکوالو هم ګڼ شمېر اثار چاپ کړي او اوسمهال یې د لنډو کیسو، ناولونو نه وروسته درېیم ځای خپل کړی دی.

**۲ ـ د نوو اصطلاحاتو رامنځ ته کېدل**:

د بهرنیو ژبو په زده کړې سره د لیکوال په لیکنه کې نوي اصطلاحات رامنځ ته کېږي، چې یو ځانګړی مفهوم تشریح کوي. د نویو اصطلاحاتو لیکل په لیکنه کې علمې خوا وې قوي کوي، د نوو تیوریو او نوو ژانرونو او اړخونو په پېژندنه او د لیکنې په قوت کې اساسي رول لري. نوي اصطلاحات د بهرنیو ژبو د لارې لیکنې ته داخلیږي، د دې اصطلاحاتو په پېژندنې سره د لیکنې په لفظي او معنوي برخو کې نوي بدلون رامنځته کېږي او لیکنې ته نوې والی هم ورکوي.

د بېلګې په توګه په جادوګر هنر کې رحمان بابا د شعر سبکي خصوصیاتو په اړه لیکل شوي دي: « رحمان بابا چې خپل شعر یادوي معمولاً ستاینه یې کوي، خو چې ځان یادوي ځان غندي. دی د خپل خوی او عمل د ذکر په وخت انډرسټېټمنټ (Understatements) ته تمایل لري، یعنې غواړي ځان کم وګڼي»«۹: ۳۰۴».

په پورتني متن کې د انډرسټیټمنت د اصطلاح په پېژندنې سره موږ په اسانۍ سره کولای شو د نورو شاعرانو په سبکي ځانګړنو کې دا برخه هم وپېژنو.

په پخوانیو ګرامري اثارو کې ما د ټاکندویانو(Determiners) برخه نه وه لیدلې اوسمهال چې د کابل پوهنتون استاد پوهاند محمد صابر خویشکي د پښتو معاصر ګرامر لیکلی په هغې د دې برخې په اړه لیکلي دي: « هاکي او متیاک (۱۹۹۸) زیاتوي چې د معنا د یوې نارسمي تشریح په توګه، د کلمو دغه ډله د نومیز عبارت تفسیر ته کمي معلومات (د بېلګې په توګه دغه سپی، څو سپي، ډېر سپي) خو

صفتونه د نومیز عبارت تفسیر ته کیفي معلومات(د بېلگې په توگه غټ سپی، تور سپي، چټک سپي، وړی سپی) دغه کلمې په انگریزي کې Determiners او په پښتو کې د ټاکندویانو په نامه یادېږي»( ۳: ۲۹۲».

**۳ـ نوي کلمات:**

پښتو ژبې اوسمهال د نړۍ له نورو ژبو څخه نوي ژانرونه راخپل کړي دي، د دې ترڅنگ نوي اصطلاحات او کلمات هم پښتو ژبې ته رانوتي دي. د یو شمېر کلماتو لپاره ځینو لیکوالو د پښتو کلمې کارولي دي، خو ځینې د خپل علمي قوت او پوخوالي له امله په خپل شکل کارول کېږي. دا کلمات د نوو موضوعاتو په ځانگړي ډول په ادبي څېړنو، تاریخ لیکنه، کره کتنه او نورو برخو کې ډېر کارول کېږي. دا کلمات د ژبې په غنیتوب کې هم گټور دي او پېژندل یې د لیکوال سره د پوهې او لیکوالۍ د مهارت په وړاندې کولو کې هم مرسته کوي.

ځینې لیکوال بهرني کلمات یا سخت کلمات په دې هدف کاروي، چې لیکنه یې قوي معلومه شي او خپله لایقه، خو دا کار په لیکوالۍ کې یو ستر عیب دی. ځینې لیکوال د یوې لیکنې د ربښې د قوت او علمیتوب په هدف همغه بهرنۍ کلمه یا سخته کلمه کاروي چې د مفهوم په وړاندې کولو کې د لیکوال او لوستونکي سره مرسته کوي دا بیا ښه ځانگړنه ده. د وخت سیاسي، اقتصادي او فرهنگي وضعیت او د ټکنالوژۍ پرمختگ هم په دې برخه کې ستر اغېز لري چې نوې کلمې رامنځته کېږي او په لیکنو کې کارول کېږي . د بېلگې په توگه که موږ د استاد روهي اثر«پښتو معاصر تاریخ» متن لولو نو اړتیا ده چې د لاندې کلمو او اصطلاحاتو په معنا پوه شو:

اپټیمیزم(Optimism) (خوشبنیي)،استیتیکس(ښکلا پېژندنه)، ابجکټویټي (Objectivity) (عینیت گرایي)،ایماژ(I mage)(ذهني انځور)، پاسیفیزم (سوله غوښتنه)، پسمیزم(Pessimism )(بد بیني)،تطور( تحول)، ډینامیزم( Dynamism) (محرکه قوه)، ریفرنډم(Referendum) (په یوه سرنوشت ټاکونکي مسله کې د ټولو خلکو رایو ته مراجعه کول )، سټاټس کو( Status quo)( مخالف تحول)، شهود(لیدل)، فانتیزي(Fantasy)(خیال)، فور مالیزم(Formalism)(شکل پرستي)، قرض الشعر(د شعر تحلیل او ارزیابي، مضراب (د وهلو اله)»( ۵: ۳۴۳».

**۴ ـ نوې تیوري**:

د بهرنیو ژبو پر زده کړې په لیکوالۍ کې نوې تیوري هم رامنځته کېږي. بهرنۍ ژبو کې نوي تغییرات او پرمختګونه لیدل کېږي او ځینې لیکوال کوښښ کـوي چـې همغه تیوري یا د یوې نوې تیوري په رامنځته کېدو سره هغـه تغییـرات پـه خپلـه ژبـه کې هم پلي کړي. کله چې د کوم لیکوال په لیکنه کې، که هغه شـعر وي، نـثر وي یا نورې ادبي او ګرامري څېړنې وې نوې تیوري څرګنده شي، د لیکـوال لیکنـه قـوت پیدا کوي، خپل ارزښت ټاکي، لیکنـه یـې علمـي او ادبي معیـار ګټـي او ګـڼ شـمېر لوستونکي هم پیدا کوي.

زموږ په ژبه کې هم یو شمیر هغه لیکوال چې بهرنۍ ژبې یې زده دي د هغـوی تیوري په خپله ژبه کې هم پلي کوي یا د هغوی د تیوریو پـه رڼـا کـې د خپلـې ژبـې مسایل له یوې نوې زوایې څېړي. د بېلګې په توګه به یو شـمېر برخـې د ځینـو اثـارو څخه واخلو:

د جملې د اهنګ په اړه ګڼ شمېر لیکنې هم شـوې دي، خـو د پوهانـد محمـد اقا شېرزاد په خپل اثر«پښتو نحوه» کې دې برخې ته داسې اشاره شوې ده: « آهنـګ د هغـو وسـایلو مجموعـه ده، چـې وینـا تنظیمـوي او د وینـا د وییـزې بڼـې حتمـي خصوصیت دی، بې له اهنګه وینا ممکنه نه ده، هغه وسیلې چـې د اهنـګ د اجـزاوو په حیث د وینا په وییز نظم کې برخه اخلي دا دي:

۱ ـ میلودي: د اساسي توکو د اواز حرکت(ټیټېدل او لوړېدل) دي.

۲ ـ ټیمپ: د جملې پر کومې برخې د اوازونو توقف دی.

۳ ـ خج: چې د جملې کومه برخه نسبت نورو برخو ته په زیات فشـار سره ویـل کېږي.

۴ – ټیمپ: چې د جملې یوه برخه د نورو برخو په تناسب په زیـات سرعـت سره ویل کېږي.

۵ ـ ټیمبر: یعنې د جملې موسیقیت.

د آهنګ دغه پورتني اجزا د مفاهیمې په پروسه کې په ګډه په یوه وحـدت کـې عمل کوي»«٦: ٧٨».

په پورتنۍ بېلګه کې لیدل کې چې د بهرنۍ ژبې د زده کړې له املـه د اهنـګ

د اجزاو په اړه نوې برخې هم پېژندل شوې دي.

د «شعر د پېژندنې او کره کتنې ځینې نوي معیارونه» تر سر لیک لاندې څېړندوی عبدالغفور لېوال یوه لیکنه کړې ده، په دې لیکنه کې لیوال د شعر د پېژندنې له پاره داروا پوهنې له تعریفونو او اړیکو څخه کار اخیستی دی. د اروا پوهنې په څېړنې سره د شعر د سرچینې په اړه نوې خبرې شوې دي په هغه کې د شعور او لا شعور خبره رامنځته شوې ده، نوموړي لیکلي دي: « د شعور تر شاه د لا شعور ساحه، چې نوې اروا پوهنې را وپېژندله، له موږ سره مرسته کوي، چې نور هم د شعر الهامي سرچینې ته ورلنډ شو. په حقیقت کې د اشیاوو، اشخاصو، احساساتو، عواطفو غریزو او تمایلاتو خاطرې له شعور څخه وتلو د لا شعور ساحې ته تنبول کېږي او هلته زېرمه کېږي. وروسته د ځانګړو رواني پېښو یا شرایطو له امله د بېرته را څرګندېدو له پاره یو کوچنی منفذ یا لار مومي. چې ډېر ځله خوب لیدلو ته په ورته تصور کې ځان را څرګندوي، همدغه له لا شعور څخه راوتلې خاطرې که د تخیل د ځواک په وسیله خوندي او د یوې شعوري هڅې په مرسته په لنډه او اهنګینه ژبه بیان شي، د بشپړولو له پاره یې تفکر او تخیل مرسته وکړي، نو په حقیقت کې موږ یو شعر تخلیق کړی دی» « ۱۱: ۱۰۳ ».

په پورتني متن کې لیدل کېږي چې لیکوال د اروا پوهنې د علم په رڼا کې د شعر د سرچینې په اړه نوې تیوري لري او د شعر د سرچینې د پېژندنې نوې لارې چارې یې تشریح کړې دي.

د سبک د پېژندنې په اړه ګڼې مقالې لیکل شوي دي، خو د «نثر لیکلو په هنر» کې د سبک په اړه نوې مقاله لیکل شوې او د سبک د پېژندنې لارې چارې په کې په اسانه ښودل شوې دي. په دې مقاله کې د سبک په اړه د کورنیو او بهرنیو لیکوالو نظرونه وړاندې شوي دي، خو په اخر کې دا تعریف وړاندې شوی دی: «د سبک یو بل مشهور او معاصر تعریف چې له نورم Norm څخه کږېدلو او انحراف ته سبک وایي، د پاسنیو خبرو تاییدونکی دی. په دې تعریف کې له نورم څخه منظور په سبکي لحاظ هماغه خنثی یا شنډ حالت دی»« ۱۰: ۳۴».

زما په اند پورتنی تعریف له لودیځې ژبې څخه داخل شوی دی او د «نثر لیکلو هنر» لیکوال د بهرنۍ ژبې د مطالعې وروسته خپلې ژبې ته د سبک د پېژندنې په

اړه نوې تیوري وړاندې کړې ده، چې هم د سبک په پېژندنه کې مرسته کوي او هم د لیکوال لیکنې ته يې د نورو لیکنو په پرتله غوراوی ورکړی دی. استاد غضنفر د سبک د پېژندنې په اړه خپله نظریه داسې وړاندې کړې ده: « له نورم څخه زیاتوالی له مختلفو اړخونو مطالعه کولای شو. مثلاً که په یوه لیکنه کې خاص ډول جملې(مثلاً سواليه جملې، لنډې جملې، مرکبې جملې، فعلي جملې، اسمي جملې..) تر معمول حد زیاتې وي، دا له نورم څخه انحراف دی. د ځینو نثرونو اهنگونه ډېر محسوس وي او د ځینو لږ، په ځینو لیکنو کې د ابهام ښکلا وینو او په ځینو کې نورو د وضاحت رڼا، يو شمېر لیکوال اطناب ته مایل دي او ځینې نور ایجاز ته. د دغو او داسې نورو ګڼو تمایلاتو پېژندنه د سبک پېژندنې موضوعات دي» « ۱۰: ۳٦».

**۵ ـ د لیکنې ښکلا:**

د بهرنیو ژبو په زده کړې سره د لیکنې په بیلابیلو برخو کې هغه ښکلاوې هم رامنځته کېږي، چې لیکنه کې کشش، جذبه او تلوسه پیدا کوي، دا برخې که په معلوماتي لیکنه کې هم وي، تر ډېره بریده لیکنه بریالۍ ښکاري، چې زیاتره مهال د لیکنو په پیل کې موجوده وي تر څو لوستونکي پاتې معلوماتې لیکنه په مینه او تلوسې سره ولولي. زموږ د ژبې ډېر لیکوال د داسې لیکنو ډېرې بیلګې لري، چې د لیکنې پیل په داسې انداز کوي، چې لوستونکی هوسېږي تر څو پاتې لیکنه ولولي. دا لارې چارې هم د بهرنیو ژبو د زده کړې له لارې ډېر مهال رامنځته کېږي. د بېلګې په توګه د استاد اجمل ښکلي د لیکنې پیل راوړو، چې نوموړي د موسی شفیق د شاعرۍ په اړه لیکلي دي: «ژان پل سارتر ویلي وو، چې د مونالیز پر شونډو رنسانس خاندي. همداسې د مرحوم موسی شفیق په شاعرۍ کې راته تر انقلاب مخکنی افغانستان موسکی دی. هغه وخت حالات ځنګه وو، خلکو څه ډول فکر کاوه او شاعري کوم لوري ته روانه وه، دا راته مستقیم او نامستقیم د هغه وخت شاعري وایي« ۸: ۷۷ ».

په پورته بېلګه کې وینو چې د لیکنې پیل ځانګړې ښکلا لري او دا ښکلا د بهرنۍ ژبې د زده کړې په پایله کې رامنځته شوې او د لیکوال لیکنه يې هم خونده وره کړې ده.

### ٦ ـ د لیکنې معنوي اړخ:

د بهرنیو ژبو په زده کړې سره په لیکنه کې معنوي اړخ هم پیاوړی کېږي. د بهرنیو ژبو د زده کړې په پایله کې نوي فکرونه، د علمي موضوعاتو په تړاو نظریې، د ادب، علم او د ژوند د نورو مسایلو په اړه نوي فکرونه وړاندې کېږي. دا فکرونه د لیکنې منځپانګه قوي کوي او په لیکوالۍ کې ستر ارزښت لري. که هر څومره ښه لیکنه وي چې منځپانګه یې بې ګټې او بې ارزښته وي خپل ارزښت نه شي ساتلای. د دې کار له پاره د بهرنیو ژبو زده کړه مهمه ده، چې د نورو ادبپوهانو او عالمانو د تیوریو او نوو فکرونو په رڼا کې موږ هم د خپل ادب، فرهنګ او د ژوند نورو برخو ته ترې رڼا واخلو.

که موږ ګرامر لیکنه کوو او په دې کې یوازې د خپلو پخوانیو لیکل شوو اثارو څخه ګټه واخلو، نو په حقیقت کې مو د پخوانیو کار په تکراري توګه وړاندې کړی دی. که موږ بهرنۍ ژبې زده کړو د هغوی د تیوریو په رڼا کې د نوو نظریو پر اساس خپله ژبه هم و ارزوو، کیدای شي نورې نوې خوا وې په کې پیدا شي. نو کله چې نوې لیکنه رامنځته شي نوې منځپانګه ولري د لیکنې معنوي اړخ پیاوړی کوي او لیکنه د ژبې، ادب او لوستونکو لپاره ګټوره کوي. د نمونې په توګه په تشریحي ژبپوهنه کې د مورفولوژیکي اوښتنې تر سر لیک لاندې لیکل شوې دي : « ... ساندهي یا غونډله غږونج(Sandhi ) : چې له اره په سانسګریت پورې اړه لري، خو کیدای شي په پښتو کې یې هم څرک ولګي. د ساندهي معنا پیوستون دی. هغه داسې چې په یوه غونډله کې د ځینو ویونو د پای غږونه د ورپسې ویونو د پیل له غږونو څخه اغېزمن شي، لکه : (زه سین ته تللی وم) چې اره بڼه یې (زه سیند ته تللی وم) دی، چې دلته د (سیند) دویي (د) د ورپسې ویي یعنې (ته) له (ت) غږ څخه اغېزمن شوی او نه تلفظ کېږي« ۴: ۸۲».

ډېر مهال د بهرنیو ژبو د لیکوالو د نظریو پیل هم د لیکنې معنوي اړخ قوي کېږي، خو کله کله د کلیشو تر حده رسي، مګر که چېرې د لیکوال د پیغام په رسولو کې د مرستې په توګه راوړل شي او د لیکنې د منځپانګې په غنیتوب او اهمیت کې ونډه واخلي، نو د لیکنې معنوي اړخ ته ښکلا وربښي. د بېلګې په توګه: «په زده کړه کې د سمعي او بصري وسیلو مرستې: د اوسني ارواپوه کور نباخ له نظره

: زده کړه (د سلوک او روش بدلون څخه عبارت ده)، دا چې زده کړه څه ډول تر سره کېږي او اموزش څنګه صورت نیسي او د زده کړې عملیه څنګه اسانه کېږي. نوموړي پوه اووه توکي (عنصره) د زده کړې د عملیې مرستندوی بللي دي، هغه په لاندې توګه یادوي:۱ـ زمینه یا دریځ(موقف).۲ ـ شخصي ځانګړنې(خصوصیات). ۳ ـ موخه(هدف). ۴ ـ تعبیر. ۵ـ کړنه(عمل). ٦ـ پایله (نتیجه). ۷ـ د ماتې(مغلوبیت) په وړاندې عکس العمل»(٦: ۱۵۵).

یوه بله بېلګه هم وړاندې کوو چې د بهرنیو ژبو په زده کړې سره زموږ د لیکنو منځپانګې د نوو فکرونو له امله غني کېږي او داسې لیکنې به ټولنه کې تلپاتې ارزښت ساتي او لوستونکي هم لري، د ژبې ادب او فرهنګ ته هم ګټه رسولای شي. د پښتو ګرامر په خپله بڼه کې ( د ړندو لیک ) تر سرلیک لاندې لیکل شوي دي: «یو فرانسوي پوهه چې (براېل) نومېده، د خپلو ړندو د پاره یو ډول لیک رامنځ ته کړو، چې یو ډول پنډ کاغذ د شا له خوا په مېخونوو ټونګري، کاغذ د وړې دانوکې په څېر لږ را وه سپړېږي، خو سوری کېږي نه. په دې دانو کې و ړانده ګوتې وهي او پرې پوهېږي چې څه لیکل شوي. اوس دا لیکونه د داروګانو په پوښونو هم لیکي. ما هم د خپلو ړندو لپاره د خپلې ژبې سره برابر دا لیک تیار کړلو. پوره به نه وي خو یو پل(قدم) ګوندې وي« ۱: ۵۸».

### ۷ ـ د لیکنې لفظي اړخ:

د لیکنې له لفظي اړخ نه زموږ هدف د هغه لارو چارو زده کول دي، چې د لیکنې د کلمو، ترکیبونو، عبارتونو او د جملو د نورو داخلي اجزاو ترمنځ منطقي جوړښت ولري او هر ژانر او موضوع ته په کتو یوه ښه لیکنه رامنځ ته شي چې لوستل یې اسانه، مطلب په کې ښکاره وي او د لیکوال پیغام په ښه توګه ولېږدوي. البته هره لیکنه د موضوع او فورم له مخې ځانته جوړښت لري، ژبه یې هم سره توپیر کوي. د بهرنیو ژبو د زده کړې څخه موږ هغه څه زده کوو، چې د لیکنې په پورتنیو برخو کې ترې ګټه اخیستی شو. د نثر لیکلو په هنر کې لیکل شوي دي: «یوه انګریز لیکوال ویلي وو، چې هغه لیکنه چې بې زحمته ولیکل شي، په زحمت سره لوستل کېږي او چې په زحمت سره ولیکل شي، بې زحمته یې لولو» « ۱:۱۰».

استاد غضنفر لیکي: « په شعري سبک کې معمولاً خیال، تصویر، مبالغه،

موسیقي، ابهام، ایجاز او ایهام وینو. په مقابل کې له نثر لیکونکي معمولاً غواړو چې خبرې دې یې تر وسه وسه واضح وي او د لیکنې جملې او پاراگرافونه دې یې منطقي ارتباط سره ولري. لکه څوک چې خپل مقصد ته د رسېدو له پاره نېغه لار انتخابوي، خو د اخوا، ها خوا نه تاوېږي، ښه نثر لیکونکی دې هم خپله موضوع نه پرېږدي، د مقصد په لور دې سم سیده روان وي. په انگریزي کې نثر ته Prose وایي او دا کلمه د لاتین ژبې له Prosa راغلې ده چې نېغ او سیده معنا ورکوي» « ۱۰: ۳».

په سبکپوهه کې لیکل شوي دي: « په لویدیځ کې په همدې موخه د متن غړونه او کلمې څېړل کېږي. زموږ په ټولنه کې پوهان پر عملي ډگر سبکپوهیز کره کتونکي نه مني، ځکه چې د دوی په اند نوموړي ته د پنځونې ښېگنې او بد گڼې اهمیت نه لري، د موضوع ښه والي او بد والي ته نه گوري. د پنځگرټولنیزې، اخلاقي او سیاسي ژمنتیا تعهد ته ارزښت نه ورکوي ... زما زړه خو غواړي چې د کره کتنې پر ځای ورته شننه ووایم، لکه گوپي چاند نارنگ چې وایي: له سبکپوهې سره خبره وي، خو نظر نه، د ښکلا پلټنه د سبکپوهې کار نه دی»« ۷: ۱۷۵».

استاد ښکلي زیاتوي: «په پښتو کې په کار ده، چې سبکپوهیزې کره کتنې ته چې د پنځونې د سبک په ښېگڼو او بد گڼو پسې گرځي ډېر کار وشي. موږ باید په گړنۍ او لیکنۍ دواړو کره کتنو کې هڅه وکړو چې د نورو مواردو پر ځای د پنځونې سبک ته ډېر پام واړوو، ځکه چې سبک د پنځونې بنسټ دی، سبک پنځونه هنري کوي او که سبک نه وي، هغه شعر یا نثر ته هنري نه شي ویل کېدای، ځکه چې سبک له مجازي معنا نه راوړلاړېږي په حقیقي ژبه کې نه وي، نو دې ته خنثی یا صفر سبک وایي«۷ : ۱۷٦».

په پورتنیو کرښو کې لیدل کېږي چې د بهرنیو لیکوالو، د نظریو او د کلمو د ربښو د شننې له مخې موږ د خپلې لیکنې په لفظي جوړښتونو کې ترې کار اخلو او په همدې امله زموږ لیکنې ځانگړی معیار او ارزښت هم پیدا کوي.

**۸ـ د لیکوال ټولنیز شخصیت:**

په ټولنه کې د هر مسلک خاوند ځانگړی شخصیت لري، ښه لیکوالي په ټولنه کې د لیکوال شخصیت لوړوي، نو د بهرنیو ژبو د زده کړې د لارې د ښې لیکنې

لارې چارې زده کېږي، چې د لیکوالو لیکنو ته علمي او فني لوړتیا هم ورکوي او د هغوی د اثارو په چاپ کېدو سره د دوی موقف هم په ټولنه کې لوړېږي. د تکړه لیکوال اثار پلورل کېږي، لوستونکي لري، ډېری مهال یې خلک د هغوی اثار د هغوی د ښې لیکوالۍ له مخې لولي او په پیسو یې اخلي. په ټولنه کې د لیکوال د نقش په اړه لیکل شوي دي: «څرګنده ده، چې لیکوال لیکنه د ځان له پاره نه کوي. هغه چې د لیکنې له پاره هره طرحه او موضوع له ځان سره لري او د هغې د لیکنې له پاره قلم پورته کوي په دې پوهېږي چې په وړاندې یا مقابل کې لوستونکي شته، چې د ده لیکنه لولي او په یوه بله بڼه پر هغوی اغېز لري، نو له همدې امله د لیکوال مسوولیت هم دروند دی، هر لیکوال چې خپل دغه مسولیت، مکلفیت او د دندې سپیڅلتیا(تقدس) درک کړی وي، په دې پوهېږي چې د ټولنې د وګړو د معنوي روزنې او پالنې دنده هم ور تر غاړې ده»(۱۴: ٦).

د لیکوال د ارزښت په اړه همدا ډول لیکل شوي: « که لیکوال نه وای نن به هم انسان په هغه بڼه ژوند کاوه، لکه څنګه چې یې زر ګونه کاله وړاندې کاوه. لیکوال ټولنې ته په سیاسي، فرهنګي، ساینسي، جنګي، عقیدوي او یا دې ته ورته برخو کې فکر ورکوي او په دې توګه ټولنې ته سوکالي او ارامي بخښي. لیکوال که پنځونه او یا هم څېړنه کوي، په یو نه یو ډول ټولنې ته د هغوی د کړنو په بهیر کې نوی او کره فکر ورکوي» « ۱۵: ٦».

**۹ ـ ټولنې، علم او ادب ته یې ګټه:**

کله چې د بهرنیو ژبو د زده کړې په پایله کې د نورو هېوادونو د پوهانو نظرونه مطالعه شي، نوې تیورۍ او څېړنې مطالعه شي په پایله کې یې تاثیرات زموږ په لیکنو کې هم لیدل کېږي او پر دې اساس زموږ د لیکنو علمي او فني جوړښتونه هم پخېږي، نوي کېږي او زموږ اوسنیو اړتیاو ته په کتو پر مخ ځي او وده کوي. ښې لیکنې د ټولنې وګړو، علم او ادب ته ګټه رسوي، یوه سالمه ټولنه رامنځته کوي، نوې علمي لارې چارې را ښیي او د یو نړه او ښه ادب ټولې پېژندنې او ځانګړنې را معلوموي چې زموږ ادب هم ور سره وده کوي او ور سره ورو ورو د ښکلا نیمګړتیاوې پوره کوي. د تخلیقي ادب د رسالت او نقش په اړه ګڼې لیکنې شوې دي دا چې څېړنه کومې ګټې لري د «څېړنې بنسټونه» نومي اثر کې د استاد زلمي هېوادمل

نظر داسې راوړل شوی دی: « د تېرې او اوسنۍ زمانې د حالونو د معلومولو لپاره د لټون ذوق او میلان اقناع کوي. د انسان د مادي او معنوي ژوند د ارزښتونو د تغییر یا تثبیت لپاره د غوره او ښو لارو لټول. د علومو په بېلابېلو څانګو کې د عملي ژوند دوام. حقیقت ته د رسېدو لپاره د حرکت او هڅو ادامه. د څېړنې علاقه مندانو ته د تحقیق د لارو خلاصول. د پخوانیو په اند او ژوند پوهېدنه او د هغوی د فکري سیر مطالعه. د طبیعت په تحلیل او تجزیه کې د بشر د ذهني کوښښونو او تلاښونو پېژندنه. په خلکو کې د سلیم ذوق خپرول او د پخوانیو فرهنګي میراثونو د ساتلو زیار« ١٦: ١٨».

**١٠ - بهرنۍ ژبې او زموږ نومیالي لیکوال:**

زموږ اوسني ستر او نومیالي لیکوالو د بریالیتوب تر شاه د بهرنیو ژبو اغېز شته دی، چې دوی د تکړه لیکوالو، څېړونکو، کره کتونکو او تیوریستانو په توګه مطرح شوي دي او د اوسني ادب ځلانده ستوري دي. دا په دې معنا نه ده چې یوازې د بهرنیو ژبو د مطالعې او زده کړې پر اساس دومره ځلیدلي دي، ډېر نور لیکوال هم شته، چې بهرنۍ ژبې هم زده وي، مطالعه هم لري خو ښې لیکنې نه شي کولای. زموږ اوسني نومیالي لیکوال فطري وړتیا او استعداد که لري هڅې او کوښښونه یې هم د خپل مسلک د پوخوالي لپاره کړي، خو د دې تر څنګ بهرنیو ژبو هم ښه رول لوبولی دی. د بېلګې په توګه د یو څو تنو یادونه کوو:

اوسمهال په ادبي څېړنو کې استاد زلمی هېوادمل نومیالی لیکوال دی، چې په دې برخه کې د هېواد په کچه یوازېنی استاد دی چې د ادبي مسایلو په څېړنه کې غوره او کره څېړنې کوي او د نوموړي پخې څېړنې د نورو لیکوالو سره توپیر لري زما په اند د استاد هېوادمل په اردو او نورو بهرنیو ژبو کې پراخه مطالعه لري نو په همدې اساس یې څېړنې په لوړه کچه دي.

اوسمهال استاد غضنفر په کره کتنه کې د سیمې د هېوادونو په کچه نومیالی لیکوال او استاد دی، نوموړي ګڼې تیوریکي لیکنې هم کړې دي، چې استاد هم په انګلیسي او نورو بهرنیو ژبو کې پراخه مطالعه لري.

همدا ډول اوسمهال د ادبیاتو او اروا پوهنې په اړه کمې لیکنې شوي، خو په دې برخه کې عبدالغفور لېوال، کرګر او استاد اجمل ښکلي لیکنې کړي دي. د

لیوال صیب او کرگر صاحب له لیکنو ښکاري چې دوی په انگلیسي ژبه کې پراخه مطالعه لري او د نوو نظریاتو په رڼا کې د خپلې ژبې ځینې رواني او ادبي مسایل تشریح کوي. استاد اجمل ښکلی اوسمهال پخې او گڼې تیوریکي لیکنې کوي نوموړي په اردو او انگلیسي ژبه کې پراخه مطالعه لري په همدې اساس نوې تیوري او د ادب او هنر په تړاو نوي فکرونه وړاندې کوي.

همدا ډول نور لیکوال لرو، چې د عربي ژبې، روسیې، فرانسوي او جرمني ژبې څخه یې نوې تیوري او نوي مسایل پښتو ژبې ته وړاندې کړي دي. په دې اړه موږ د ځوانو لیکوالو، ژباړونکو، ادب څېړونکو او د پوهنتون له استادانو او محصلینو سره سروې کړې او مرکې مو هم تر سره کړي دي چې ٪٦٢ په دې اند دي، چې بهرنۍ ژبې د لیکوالۍ په تیوري، نوي ژانرونو او د نوو تخنیکونو په پېژندلو او له هغې څخه په گټه اخیستنه کې مهم رول لوبوي.

مناقشه: ځینې لیکوال او ادب څېړونکي په دې اند دي، چې لیکوالي تر ډېره بریده د فطري استعدا د سره اړیکه لري او څوک چې فطري جوهر ونه لري هغوی ښې لیکنې نه شي کولای. د دوی په اند لیکوالي یوازې فن یا هنر دی چې ځینې خلک د دې وړتیاوې لري.

اوسمهال د ژوند په ډېرو برخو کې د انسانانو هڅې ډېرې مهمې دي، چې په لیکوالۍ کې یو له دې هڅو څخه د بهرنیو ژبو زده کړه او مطالعه ده، چې له لیکوالو سره د ښو لیکنو په رامنځته کېدو کې مرسته کوي او تجربو هم په ډاگه کړې ده. که یو څوک فطري وړتیا ولري، د دې تر څنگ د نورو ټولنو په ژبو او ادب کې پراخه مطالعه ولري، د نورو ملتونو فرهنگي او علمي اثار ولولی نو د ده په فکر کې هم نوي خبرې رامنځته کېږي ځینې بهرنۍ مطالعه شوې تجربې د خپل ذهن د لارې په خپله ټولنه کې گوري له نویو زایو د ژوند برخې ارزوي د لیکوالۍ او د علم په اړه نوې لارې او تخنیکونه پېژنې چې په دې پېژندلو سره د ده په لیکنو او اثارو کې علمي قوت، تخنیکي او فني جوړښتونه رامنځته کېږي او لیکنې یې ارزښتمنې بلل کېږي.

**پایله:**

لیکوالي یوازې د هنري اثارو پنځونه نه ده او یواځې د شاعرانو او هنري اثارو

لیکوالو کار نه دی، بلکې لیکوالي عامه ده. ځینې کسان شته چې فطري وړتیا لري دوی به ښه شعر لیکي، ښې هنري لیکنې به کوي، خو ډېر نور لیکوال لرو چې هغوی کره کتونکي، ادب څېړونکي او په علومو کې د نویو تیوریو نومیالي لیکوال دي. دوی که ښه شعر نه شي لیکلی، خو ښه کره کتونکي دي، په علم او ادب کې ښې نظریې لري چې حتی زموږ د ادب لیدلوري یې هم بدل کړي دي.

نو بهرنۍ ژبې، د نورو ملتونو د فرهنګ او ادب مطالعه، د نوو علمي تجربو پېژندل دا ټول په لیکوالۍ کې مهم دي او د دوی په پېژندلو سره د لیکوال په لیکنه کې جوت توپیر رامنځته کېږي، لیکوال په علمي او فني لحاظ لوړوي، د ښو لیکنو او علمي نظریو وړتیاوې ورکوي او په خپله ټولنه کې ښې لیکنې رامنځته کولای شي. ځوانو لیکوالو، ادب څېړونکو او د ژبو او ادبیاتو پوهنځي محصلینو له پاره د بهرنیو ژبو زده کړه مهمه ده چې دوی کولای شي په اسانه د بهرنیو ژبو د زده کړې له لارې د خپلې لیکوالۍ خامې او پخې برخې درک کړي او په علمي چارو کې دواړو برخو ته پاملرنه وکړي.

**مأخذونه:**


۱ - پېښوری، ش. ک، د پښتو ګرامر په خپله بڼه کې، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۹ هـ ش کال.

۲ ـ حبیبي، عبدالحی، د پښتو ادب لنډ تاریخ، د علامه رشاد د څېړنو مرکز، کندهار، ۱۳۸۷هـ ش کال.

۳ - خویشکی، محمد صابر. پښتو معاصر ګرامر، جهان دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۵هـ ش کال.

۴ ـ چمتو، محمد قسیم. تشریحي ژبپوهنه، جهان دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۵ هـ ش کال.

۵ ـ روهي، محمد صدیق. د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ هـ ش کال.

٦ـ رفیق، محمد رفیق. د پښتو ژبې تدریس اصول، د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه، کابل، ۱۳۹۴ هـ ش کال.

٦ ـ شېرزاد، محمد اقا. پښتو نحوه، مېهن خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۵هـ ش کال.

۷ ـ ښکلی، اجمل. سبکپوهه، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۰هـ ش کال.

۸ ـ ښکلی، اجمل. گونگه خړه (کابل مجله، گڼه )، علومي اکاډمي، جلال اباد، ۱۳۹۵هـ ش کال.

۹ ـ غضنفر، اسدالله. جادوگر هنر، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۳هـ ش کال.

۱۰ ـ غضنفر، اسدلله. نثر لیکلو هنر، مومند خپرندویه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۲هـ ش کال.

۱۱ ـ لېوال، عبدالغفور. د شعر پېژندنې او کره کتنې نوي معیارونه (کابل مجله اومه گڼه)، علومو اکاډمي، کابل، ۱۳۹۴هـ ش کال.

۱۲ ـ هېوادمل، زلمي. د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۳ هـ ش کال.

۱۳ ـ هاشمي، سید محی الدین. د نثري ادب ډولنه، وحدت خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۸۹هـ ش کال.

۱۴ ـ هاشمي، سید محی الدین. د لیکوالۍ هنر، میهن خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵هـ ش کال.

۱۵ ـ همکار، محمد ابراهیم. لیکوالي، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵هـ ش کال.

١٦ ـ هاشمي، سید اصغر. د څېړنې بنسټونه، یار خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۴هـ ش کال.

۱۷ ـ هاشمي، سید اصغر. سیندونه او اندونه(د مقالو ټولگه)، هاشمي خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۵هـ ش کال.

**پوهنمل ډاکټر عزیز الله جبارخېل**

# په پښـتو ادب کې د ننګرهار د میندو ونډه

**لنډیز:**

پښتو ادب کې د ننګرهار د میندو ونډه، خورا زیاته ده او د پښتو ولسي ادب پـه بډاینه کې یې له خپل پښتانه ورور، خاوند او زوی سره د خور، مېرمنې او مور په نامـه قدم اخیستي دی، چې په دې توګه یـې پښـتو ادب هغـو پوړیـو تـه رسـولی چـې نـن پښتون د نړۍ د ژوندي او باتور قوم په نوم یادېږي.

د ننګرهار میندې په ځانګړو ټپو، د واده په سندرو، د اتڼ پـه نـارو، د ماشـومانو اللوګانو او د فالونو په نظمونو کې پښتو ادب کې ځانګړی مقام لري.

**سریزه:**

د نړۍ پر مخ د انسـان د پیدایښـت سره سـم الله(ج) هغـه تـه ژبـه د (وعلـم ادم الاسما کلها) په بنیاد ورپه برخه کړه، چې همـدا ژبـه بیـا د ادب لپـاره ضروري تـوکی دی او ورسره د هر قوم د بقا او پایښت لپاره ژبه ډېره مهمه ده. پښتون قوم هم ځانتـه ژبه لري چې د (پښتو) په نوم یادېږي، پښتو که له یوې خـوا د ژبـې نـوم دی لـه بلـې خوا د یو ثقافت او کلتور نوم هم دی، پښتو ادب چې د پښتانه قوم له مـنځ تـه راتـګ سره خوا په خوا رامنځ ته شوی دی، په غنا او بډاینه کـې یـې هـم پښـتنو ونـډه لرلـې ده، چې د هغو له جملې نه پښتو ادب کې د ننګرهار د میندو ونـډه د یـادونې وړ ده. پښتو ادب کې د دوی ونډه هر چاته څرګنده او ښکاره ده.

**د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

دا چې پښتو شفاهي ادب سینه په سـینه لـه یـو نسـل نـه بـل نسـل تـه انتقـال

مومي او په دې کې میندې پوره ونډه لري. د دې لپاره چې د ننګرهار د سیمې د میندو ونډه هم په کې معلومه شوي وي، نو په دې څېړنیزه مقاله کې پرې بحث وشو، له یوې خوا به یې د ضایع کېدو مخنیوی شوی وي او له بلې خوا به یې د فوکلور څېړونکو او مینه والو ته د یو ماخذ حیثیت لرلی وي.

### د څېړنې موخې:

د میندو سندرې چې پښتو شفاهي ادب کې بارز رول لري او هم د اتڼ د نارو او ښادۍ غاړو په باب به په دې څېړنیزه مقاله کې د فوکلور څېړونکو او مینه والو ته څه نا څه نوي مواد په لاس ورشي، همدارنګه به د دغو نارو، لنډیو او سندرو په ثبتېدو سره به یې د ضایع کېدو مخنیوی وشي.

### د څېړنې پوښتنې:

- ولسي ادب کوم ادب دی؟
- د ټپې په پالنه او ترقۍ کې پښتنو ښځو ونډه څومره ده؟
- د واده سندرې کومې سندرې دي؟
- د ننګرهار په سیمه کې د اتڼ کومې نارې دود دي؟
- د ننګرهار د سیمې په میندو کې کوم ډول فالونه رواج لري؟

### د څېړنې روش:

په دې مقاله کې له کتابتوني، تشریحي- تحلیلي میتود نه کار اخیستل شوی او هم د سیمې له وګړو نه د پوښتنو پر بنسټ معلومات راغونډ شوي دي.

### متن:

پښتنې که له یوې خوا په ټولنیز ژوند کې له پښتانه ورور، خاوند او زوی سره د خور، مېرمنې او مور په نوم ګام په ګام، ګام اوچت کړی او له دوی سره یې د ژوند کاروان تر منزله پورې رسولی دی، له بلې خوا یې د ژوند ادبی ډګر کې هم د نارینه ملا ورتړلې او حتی له هغه وړاندې شوې ده. چې ښه مثال یې په پښتنې او ولسی ادب کې ددوی ونډه او برخه ده. "ولسی ادب د ټولنې د ادب هغه برخه ده چې د خلکو په ژبه جاری وي او له یوې خولې څخه بلې خولې ته انتقال شوی وي او لومړی جوړوونکی یې معلوم نه وي او نه د هغه په باب څوک فکر کوي." (۱)

"پښتو عوامی ادب ژوندی او فعال دی، دا په هر دور کې د پښتون ولس د

فطرت ترجمان دی، څکه پخپله د هېرېدو او ورکېدو وېره خو یو پلو، چې پښتو ژبه او پښتون ولس یې هم د هېرېدو او ورکېدلو له خطرې څخه په امان کړیدی. حقه خو داده چې په اصل کې د پښتو ولسي ادب د دې ژبې د ژوند امین او ضامن دی( ۲)

ولسی ادب هغه ادب دی چې پښتون یې د کمال په پوړیو د ژوند هغه مواردو ته رسولی دی چې نن په نړۍ کې د ژوندي او با تور قوم په نوم نوماند دی.

دا چې زما د لیکنې موضوع پښتو ادب کې د ننګرهار د میندو ونډه ده، نو له نورو خبرو تېرېږم او په خپله موضوع پیل کوم. د ننګرهار ولایت د افغانستان د ختیځو ولایتونو څخه یو ولایت دی چې د تاریخ په اوږدو کې تل د علم زانګو،دسولې او امن کوراو همېشه بهار په نوم یاد شوی دی. د ننګرهار د سیمې میندو د نورو میندو په شان په پښتني ادب کې بې برخې ندي پاتې او د ادب په دې ډګرکې یې ښه پوره حصه اخیستې ده.

ټپه چې په پښتو ولسي ادب کې ممتاز صنف دی او له پښتنو میندو سره کلک تړون لري او ددوی د ژوند پوره عکاسي کوی.« او د حمزه صاحب په خیال د ټپې په پالنه او ترقۍ کې د پښتنو ښځو برخه د نارینه وو نه زیاته ده آن تر دې چې د ټپې کره وږه بلکې نوم یې هم مؤنث دی لکه: ټپه،لنډۍ،مصرعه».(۳)

د ننګرهار د سیمې میندو هم په کې پوره حصه اخیستې ده ،چې د بېلګې په توګه څو ټپې دلته راوړل کیږي:

امان کوټ کړکۍ کړکۍ ده
د منځ کړکۍ کې لیلا سترګې توروینه
مسافري په بیغمی کړه
ترله دې خپله یم په ننګ دې ناسته یمه
په تور ټوپک ویشتلی راشې
چې پرهارونه دې ګنډم خوله درکومه
ته په وطن باندې سر کېږده
زه به ټکری ستا په زیارت وغوړومه
دا جبارخیل واړه خانان دي
چې چېرته لاړ شي بېلابېل غواړی کټونه

کله چې د خوښۍ او ښادۍ په مراسمو کې د کلی ښځې را ټولې او دار یا را واخلي، د سندرو په منځ کې ټکۍ اچوي، کله کله یو له بله سره مقابله کوي کله چې مقابل طرف په خپل نوبت لنډۍ ونه وایي، نو مخالف اړخ ورته داسې وایی:

د ټیکۍ وار در باندې راغی
شو تل خورکې رنګ دې ژېړ وتښتېدنه

په ټیکیو کې د نوبت مراعات کول او ځان آماده ښودلو په باره کې وايي:

ټیکۍ په وار راسره وله
ما د ټیکیو ګوډي ډک راوړي دینه

په ټیکیو کې یوه ملګرې د خپلې بلې ملګرې داسې ملاتړ کوي:

چې وارخطا نه شې ملګرې
د وارخطا په ځای دې زه ولاړه یمه

یو بل د غندلو لپاره هم لنډۍ لري، لکه په دې ډول:

(پلانکۍ) مې وازه خوله نیولې
زه پرې ډاربېرم مچ به سي ورواچوینه

کله کله په لنډیو کې یو چاته واده کولو یادونه په دا رنګ کوي:

چې د (پلانکي) ته ښځه نه کړئ
دا د( پلانکي )پرتوګ دې غلو وتښتوینه

خو په بېلابېلو مواردو او حالاتو کې ډول ډول لنډۍ وایي، د نمونې په ډول یې لولو:

د هرچا خپل وطن یادیـږي
دما یادیږي حصارک شینــکي باغونه
ځنګه په شرنګ رانه تـېرېږي
لکه راکټ چې د تودګي بازار ته ځینه
ګل مې په لاس درته ولاړ یـم
یا مې ګل واخله یا رخصت راکړه چې ځمه
موزي مې بله توره وکړه
په لوټه سپور شهٔ پتیوات یې ولېدنه

موزي که خوري سوکړک دې وخوري
سر مې خوږيږي ځانته چرګ حلالومــه
نن مې همزولې مېلمـــنې دي
شولې خشتې دي چرګ نيوی نه راکـوينه
خدايه توده يې سړه مه کـړې
ليلا سپينکۍ متې نغړي توده لړيــنه
ورځه ورځه اوس يې واده که
دا شربتي شونډې يې منږ ځبيښلی ديـنه
ماخو به دا ويلي نـه ؤ
چې يار مې مړ کړې ما ترې کونډ ه کړې مـينه
موزي په ژرنده کې ويده دی
په ټنډه خېټه يې مړک رباب وهينه
دا آخري لـنډۍ دې دا وي
آخر يې مه کې د ځوانانو مجــلسونه
دا آخري لنډۍ دې دا وي
د بانجاني چاينکې چای مزه کويــنه
يوه دې بله ورپســې وي
چې چاته خوب ورځي رخصت دې وي مينه
ښېګا مې تاسې کره شپه وه
سپړو واده ؤ ريچو ډول ورته واهنه
د لونګين په لړ راخېژه
په اوږۍ شپه کې د چارګل وکه سيلونه

**د واده سندرې:**

د واده سندرې چې د پښتني ولسي ادب يوه غوره او مهمـه برخـه جـوړوي، د ننګرهار د سيمې ميندې هم په دې اړه ډول ډول سندرې لري، چې په لانـدې توګـه ښودل کيږي:

**ښادۍ غاړه:**

کله چې يو ځوک د خپلې کورنۍ کوم غړي ته کوژدن يا واده کـوي، نـو د کـلي

نه ډلې ښځې د ښآدۍ والا کورته راځي. کورته له رسېدو سره پـه دروازه کـې ښـادي غاړه وايي. په دې وخت کې دکلي ښځې دوه ډلې کيږي، يوه ډله داسې ښادي غاړه وايي:

جانان ښه، ښه وروره ښادي ده

(همدا جمله دوه ځل تکراروي)

بله ډله ورسره داسې وايي:

ښادي مې دې(پلانکي) ده ښه ځواني، وه مې د (پلانکي) ده

چې په دې ترتيب د (پلانکی) په ځای کې د واده والا د خلکو نومونه يادوي.

کله چې ناوې د پلار له کوره رخصتيږي، د پلار د کـور والا ښـځې داسـې ورتـه وايي:

زمونږ خورې ورځه سالو سرداره شې

(پلانکی) د کوځو سپی ده ته يې واکداره شې

يا:

(پلانکی) د شه مزدوره ته يې واکداره شې

کله چې د ښادۍ او خوشحالۍ واده يا کوژدنې مراسم وي ،د کلی نجـونې سره راټوليږي او دمراسمو د لمـانځلو او گرمولـو پـه خـاطر سـندرې وايـي، دا سـندرې پـه بېلابېلو شکلونو کې وي،«کله د نيمکۍ په شکل وي چې سروکي هم ورته وايي چې دا د ولسي سندرو ترټولو نه آسان او ساده صنف دی».(۴)

او کله د ملي آوازونو په نوروفورمونو کې.

د مثال په ډول يې په لاندې توگه يوځو نمونې راوړل کيږي:

وه گرده گلاپه ـ گرده گلاپه سبا ځم له دې اتراپه (طرافه) ــ وه گرده گلاپه

ما درته وې نه دې منله ــ گرده گلاپه

گرده گلاپه ــ خاورې ايرې شوې اوس(او) دې باد راپسې وړينه ـ گرده گلاپه

بله نمونه په دا ډول ده:

وه انجۍ ــ الله وی ــ الله مړه سوم ربه

گل نازک بدن (په باغ) کې پاڼې ټولومه

انجۍ واوړې ما مورې ـ انجۍ واوړې ماموري

وه انجۍ ـ الله وی ـ الله مړه سوم ربه
ګل نازک په باغ کې پاڼې ټولومه –انجۍ...
مسافري دې ډېره وکړه
وه انجۍ ـ الله وی ـ الله مړه سوم ربه
راځه راځه روزي به خدای را رسوینه
انجۍ واوړې ماموري ـ انجۍ واوړې ماموري
وه انجۍ ـ الله وی ــ الله مړه سوم ربه
ګل نازک په باغ کې پاڼې ټولومه - انجۍ

**بله نمونه:**

شاه عبدالرحمانه زوروره
د شاه غاسی کلا دې ولې ورانوله
شا یاد رمانه (شاه عبدالرحمانه)
عاشقي لال بیلتون ښامار دی
شا یاد رمانه
شاه یاد رمانه زوروره
څوک چې د لال تمه لري ښامار به یې خورینه- شاه یاد رمانه
شاه یاد رمانه زوروره
د شاآغاسي کلا دې ولې ورانوله ـ شاه عبدالرحمانه

**بله نمونه:**

د کونړ غلام محمده ــ باډېل ته مه ځه
ساپو ډېر وژلي دینه ـ د کونړ غلام محمده ــ باډېل ته مه ځه

**بله نمونه:**

ادکې مورې! ماڼو له ځمه ــ د کوکدرې توتان ګلۍ وهلي دینه ــ ماڼو له ځمه
په خوړ کې ټکی اوبه نه وې ـ ماڼو له ځمه ــ ادکې موري ماڼو له ځمه
د سر آسیا مرګ لره راغلهٔ سیلابونه ـ ماڼو له ځمه ـ ادکې موري ماڼو له ځمه
د کوکدرې توتان ګلۍ وهلي دینه ــ ماڼو له ځمه

**بله نمونه:**

دتودې چینې یکه انځره

ځلور د ښاخه پنځه گله

**بله نمونه:**

مازيگري چکر وهم دا مې روزگار ده
ډنډوکې مې لړ کار ده - په دغو ملايانو کې

**بله نمونه:**

ودرېږه سرتوره چې دې ټوله ووينم جلۍ نه دې پېژنم جلۍ
ودرېږه سرتوره – دا جلکۍ دغره دسره ده ـ تکه شنه کوتره ده
دام به ورته کيږدم بيا به لوبې پرې کوم جلۍ ـ نه دې پيژنم جلۍ
ودريږه سرتوره ـ د جلکۍ زلفې ماران دي نا- واړه ښاماران دي نا
راشه ما پرې وخوره - زه اوده درته لرم جلۍ - ندې پېژنم جلۍ

**بله نمونه:**

پرې مې ږده دا تورې ځښې چې په مخ ځانگی
نه ږدم د رنجو خالونه خال به مې وران شي

**بله نمونه:**

و ړلۍ اورېږي نا و ليلو باران ده و ړلۍ اورېږي نا

**بله نمونه:**

گردو گله واد گڼ
گڼ لمنه نيسه گردو گله وا دگڼ

**بله نمونه:**

ماته د شارو د شارو په ژبه مه وايه
دربه شم بيگاته ابۍ ته دې څه مه وايه
ماته د شارو

**د آتڼ نارې:**

اتڼ د پښتون کلتور يو مهم اړخ دی، نن سبا خو اتڼ نړيـوال شـهرت مونـدلی او د نړيوالو کلتورونو ته ور داخل شوی دی، کله چې په نړۍ کې د آتڼ نوم اخيسـتل کيږي، ورسره جوخت د پښتون کلتو، پښتون او پښتو ژبه يې ذهـن تـه لـويږي د اتـڼ نارې خاص د آتن په وخت کې ويلی کيږي، ښځو او نرانو دواړو په کې برخـه ده، خـو

د اناري زياتې د ښځو لخوا جوړې شوې دي، ښځې ځانته بېلې مخصوصي نارې هم لري چې نارينه يې په خپل اتن کې نه وايي.(۵)

د اتن نارې ډېر لرغونی تاريخ لري. اتڼ په بېلابېلو ټولنو کې ځانګړی رنګ لري د کار او پېښې له مخې او دجنس له پلوه هم اتڼ بيل ډول سره کيږي. لکه: منګي سره د ګودر په غاړه د پېغلو اتڼ، د تورو سره د زلمو اتڼ، د يوم (بيل) سره د دهقانانو اتڼ. ((د ښځو اتڼ مخصوصې نارې دادي چې يو مرجع او کسر وايي او بيا لنډۍ پسې وايي بيا مرجع وايي)).(٦)

لونګينه په څنګ څنګ راواوړه
هو لونګينه په څنګ څنګ راواوړه
په څنګ راواوړه چې دې شرنګ د بنګړو شينه
لونګينه په څنګ څنګ راواوړه
ته به دکوم مجلس چراغ يې
لونګينه په څنګ څنګ راواوړه هو لونګينه...
زه د هجران په تړږمو کې ناسته يمه
لونګينه په څنګ څنګ راواوړه هو لونګينه...
په څنګ راواوړه چې دې شرنګ د بنګړو شينه
لونګينه په څنګ څنګ راواوړه هو ...

د ننګرهار د سيمې د اتڼ په نارو کې دغه لاندې يو څو د مثال په ډول را وړل کيږي:

کله چې اتڼ پيل کيږي اول دوه ډلې وي، د هرې ډلې غړي يو بل ته لاسونه ورکړي وي او د ميدان له څنډې د ميدان منځ خواته لاسنيولي قدم وراخلي او د اتڼ ناره وايي او بيا د يوې چېغې په کولو ېبرته شاوخواته ځي. خو کله چې ورو ورو اتڼ ګرميږي. د اتڼ نارې هم ورسره ګرمې او تېزې شي.

نارې په دې ډول دي:

تور سر دې سرتور ده
پيکۍ دې اړولې خيال دې نور ده
شين ده زړه مې شين ده

شيرين يار مې د غاړې لونګين ده
شين ګيډۍ مې اوبو يووړ
تور ځونډۍ ــ شين ګېډۍ
لاړه ليلا لاړه
د لويو غرو کجير زېړه يې غاړه
دی ده خورې دې ده
چلم په سر نری نری د وګی ده
ټک وهئ لاسونه
له دې ميدانه وباسئ ګردونه
واړوئ لاسونه
له دې ميدانه وځئ خړ غوړونه
پورې وورې کلی مې د يار دی
يار مې په کې نشته- زړګې مې په ګوګل کې ناقرار دی
توديږي د غرمې
د غرمې تنور توديږي
شا مسته ورته ناسته
په مخ يې رنګارنګ خولې بهيږي
د حصارک ناور جنت ددې دنيا ده
ای ښاده،ښاده جبارخيله ای ښاده

**د ميندو سندرې (اللهو) :**

ميندې خپلو ماشومانو ته په بيلابيلو وختو کې منظومې سندرې وايي، چې يو له هغونه د ماشوم د ويده کولو په وخت کې سندرې وي. د ننګرهار د سيمې ميندې هم په دې باب دا رنګه سندرې لري چې للو ګانې يې هم بولي:

آللو للو پيشو مه راځه له غرو
دا (پلانکی) داسې ويده ده لکه غورنده پيشو
آللو للو پيشو مه راځيه له غرو
دا (پلانکی )داسې ويده دی لکه ګوډی د رنجو

آللوللو - آللو للو - آللو للو للوللو للو- آللو للو للوللو للو
مه راځه توتو - دا (پلانکی) داسې ویده ده لکه ګوډۍ د رنجو
کله چې ماشوم په ژړا شي ،دهغه د کرارولو لپاره یې مور څه دا ډول وایي:
زوی مې چا وهلی ده    دا چا ډبولی ده
زه به ګورم ورسره

**فالونه:**

شعبان المعظم د میاشتې په پنځلسمه شپه چې د شب برات شپه وي، د کلي ښځې را غونډې شي. یوې پیغلې ته ښایسته کالي ور اغوندي. په اوداسه د پاکو اوبو ډک منګی ورته مخکې کښېږدي، ټولې ښځې خپلې نخښې لکه غمی،ګوته،چاقو،سیخکی،بندکی،ګوتمۍ او داسې نور...... په منګي کې ور اچوي. پېغله یو یو شی له منګي نه راباسي او ورسره یو فال وایي، د هرچا نښه چې راووته، فال د هغې په نوم خيژي.(۷)

د ننګرهار په سیمه کې د فالونو یو څو مثالونه په لاندې ډول ښودل کيږي:

خاصه حوض خاصه
لمانځه کوزه دې مه لوېږه له لاسه
ما اوله تا ایسی
مرغۍ ده که یې نیسې / ما اوله تا ایسې
ختما دې ډیسې ډیسې
دروازې پورې ولاړې
د تا پیش متیازې لاړې / ګل د کدو ګل دی، ما لا یو شکولی نه ترې لاندې بل دی

پښتو ولسي ادب کې د ننګرهار د سیمې د میندو ونډه ډېره زیاته ده چې دلته یې د پورته نمونو په راوړلو بسنه وشوه.

**پایله:**

د ننګرهار همېشه بهار سېمه که له یوې خوا د علم او ادب زانګو ده، له بلې خوا د سولې او امن کور هم دی. وګړي یې علم پرور او د ادب په ګاڼه سینګار دي. د پښتو ادب په بډاینه کې یې خورا مهم کردار د تاریخ په اوږدو کې له چانه پټ نه

دی. خصوصاً د ننگرهار د میندو ونډه د پښتو ادب په ډگر کې د پوره پاملرنې وړ ده، دوی که له یوې خوا د سیمه ییزو ټپو په ویلو پښتو ادب ته غنا ورکړې له بلې خوا یې د واده د سندرو او د اتڼ په نارو هم د دې ادب په ارتقا کې پاخه گامونه اخیستي دي.

یوه لنډۍ په دې ډول ده:

امان کوټ کړکۍ کړکۍ ده
د منځ کړکۍ لیلا سترگې تور وینه

**مأخذونه:**


۱ـ دوست محمد دوست شینواری، د پښتو ولسي ـ ادب لارې، پښتو ټولنه، کابل، ۱۹۷۸ زېږدیز کال.

۲- نواز طائر، روهي ادب، لومړی ټوک، ۱۹۷۸ زېږدیز کال.

۳- داور خان داود، پښتو ټپه، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي ـ، ۱۹۷۹ زېږدیز کال.

۴- قاضي عبدالحلیم اثر افغاني، پشتو ادب، ۱۳۷۰ لمریز کال.

۵- سیال کاکړ، فولکلوري سوغات، ۱۹۷۸ زېږدیز کال.

٦- حبیب الله رفیع، د خلکو سندرې، د افغانستان د علومو اکاډمي، د تاریخ او ادب ټولنه، ۱۹۷۰ زېږدیز کال.

۷- پورته اثر.

جانباز

# د پښتو ژبې لومړنی درسي کتاب

**لنډیز:**

په دې څېړنه کې موږ د معرفة الافغاني پر اثر باندې چې د پښتو ژبې لومړنی اثر دی بحث کوو او دا څېړو، چې دا اثر ښاغلي پیر محمد کاکړ کله او د څه لپاره ولیکو.

کله یې چې دا اثر لیکه موخه یې څه وه او د چا لپاره یې ولیکه، یعنې په هغه وخت کې د پښتو ژبې په منظم او سیستماتیک ډول کتابونه چاپېدل، که چاپېدل چېرته او څنګه وو، شرایط ورته څومره مساعد و او د هغو شرایطو او حالاتو په رڼا کې دا کتاب د اوس وخت لپاره څنګه دی او په هغه وخت کې یې د کومو پوښتنو او د خپلو سیالو ژبو ننګونه کولای شوه.

د دې کتاب په اړه په دې مقاله کې ګورو چې دا ډېر مهم او د وخت تر ډېره غوښتنه یې ځوابولای شوې، خو دا چې په لومړي چاپ کې یې د ځینو ملاحظو له امله ستونزې وې، نو په وروستیو کې یې د دویم چاپ شاهدان یو چې هغه د هېواد درونډ شخصیت او علمي څېړې ښاغلي حبیب الله رفیع ترتیب او له زیاتونو سره یو ځای یې چاپ کړ.

دا چې منځ کې یې څه شی دی او څومره مهم مسایل په کې خوندي شوي د دې مقالې په لوستلو سره تاسې ته دا هر څه جوتېږي.

**سریزه:**

که د پښتو د تاریخ له پیله یې را پیل کړو، له بده مرغه پښتانه په فرهنګي

لحاظ ډېره ښه مخیښه نه لري، البته موخه مې له ښې مخیښې څخه دا نه ده چې گواکې لیک او کتابت یې نه دی کړی، بلکې موخه مې دا ده چې د پښتنو او د پښتو ژبې اکثره کتابونه د وخت زبر ځواکونو تالا ترغی. کړي آن د ستر خوشحال بابا تر دوو سوو زیاتو کتابونو څخه هم موږ یواځې تر شپاړسو او د ځینو په وینا تر اتلسو کتابونو پورې شاهدان یو، خو په ټوله کې تر شلو پورې نه رسېږي، په داسې حال کې چې خان بابا هم د تورې سړی و او هم د قلم، نو کله چې یو سړی مشر هم وي، ملي قاعد هم وي، قلموال هم وي او په پوره توگه امکانات هم ولري او بیا یې هم کتابونه تر موږه نه را رسېږي، نو د عادي او بې وزله لیکوالو به څه را پاتې شي؟

ښکاره خبره ده چې د حالاتو څپېړو له ځان سره وړي او موږ ته یې یواځې نومونه را پاتې دي.

په دې لیکنه کې تاسې د معرفة الافغاني په اړه ځینې مسایل لولئ، چې ایا دا په رښتیا هم لومړنی کتاب دی او که نه تر دې وړاندې نور کتابونه هم و او که چېرې دا لومړنی کتاب وي، نو ایا لیکوال یې دومره پوخ او د ښه قلم خاوند دی چې په لومړي ځل دې دومره ښکلي او ښه لیکل وکړي.

پر دې سربېره په دې کتاب کې داسې مسایل هم لولئ چې ښایي نوي او تر اوسه یې په اړه ډېر معلومات نه وي ورکړل شوي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې موږ او یا په ټوله کې ځوان لیکوال له دې خبروي چې زموږ لومړني نثرونه څنگه وو او ایا دا ډول کتابونه زموږ لومړني نثرونه دي او که نه تر دې وړاندې نور هم شته، ځکه موږ په دې پوهېږو چې لومړني کارونه په کافي اندازه له ستونزو او نیمگړتیاوو څخه ډک وي، خو کله چې کار زیات شي بیا د پخته گي حالت ته ورسېږي.

## د څېړنې هدف:

د دې څېړنې هدف په دې کې دی چې موږ د پښتو ژبې لومړنی درسي کتاب لولو چې په څومره سلاست او رواني ژبې لیکل شوی، څومره ښکلو او حساسو مسایلو ته په کې نغوتې شوي او په رښتیا هم چې باید درسي کتاب څنگه او په څه ډول وي، ځکه موږ په اوسني عصر کې هم په خپل نصاب او په درسي کتابونو کې

په لسګونو ستونزې ګورو او ډېر ځله همدا لامل هم دی چې زموږ کوچني زده کوونکي له ښوونځيو څخه زړه توري شوې دي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنې کې لاندې پوښتنې ځواب شوي:

- ✓ د دې کتاب یا اثر ارزښت په څه کې دی؟
- ✓ د کومو اساساتو او قواعدو یا شواهدو له مخې موږ وایو چې دا د پښتو ژبې لومړنی درسي کتاب دی؟
- ✓ ایا پخوانی نصاب د ټولنې له کچې سره برابر و؟
- ✓ او ایا دغه کتاب د اوس لپاره هم څه راکولای شي؟

دا څېړنه دا او دې ته ورته کوچنۍ پوښتنې ځوابوي.

## د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې له تشریحي، توضیحي او تر ډېره له تحلیلي میتود څخه ګټه اخیستل شوې ده.

## اصلي متن:

د پښتو ژبې د تدریس په برخه کې لومړنی کتاب چې د زمانې له تاړاکونو څخه خوندي پاتې شوی او تر موږ پورې را رسېدلی، هغه (معرفة الافغاني) دی. معرفة الافغاني د پیرمحمد کاکړ اثر دی، چې په (۱۱۶۸ هـ.ق) کال کې یې دشهزاده سلېمان د واکمنۍ پرمهال دپاچا حضورته وړاندې کړ، دغه اثر دکتاب په بڼه لومړی ځل دکندهار د کتابونو تاجرانو ملا جان محمد او ملا بسم الله په (۱۳۴۱ هـ ق) کال کې له دري ژباړې سره په لاهور کې چاپ کړ، څرنګه چې دغې چاپي نسخې ځینې نیمګړتیاوې درلودې، نو دوهم ځل د پښتو ادبیاتو محقیق (حبیب الله رفیع) له یوې مفصلې او ارزښتناکې سریزې سره سم په ( ۱۳۵٦ هـ ق) کال د ننګرهار مجلې له خوا په دوو وروستیو پېړیو کې د پښتو د چاپ شوو اثارو د سیمینار په ویاړ چاپ شو.

د معرافة الافغاني د نسخو په اړه ښاغلی استاد رښتین لیکي: د دې کتاب ځینې قلمي نسخې پیدا شوي دي، مګر چاپ شوي نه دي، خو خبره ښځي اپوټه ده، هغه داچې تر اوسه په هېڅ کتابتون کې د دې اثر د کومې قلمي نسخې پته نه

شته یواځنی هغه د کندهار د تاجرانو د (۱۳۴۱هـ ق) کال د لاهور چاپي نسخه چې بشپړ متن په کې خوندي دی شته.

له دې چاپي نسخي څخه ښکاري، چې په پورته ذکر شوي کال کې له نوموړو تاجرانو سره د دې کتاب کومه قلمي نسخه وه، خو معلومه نه ده چې بيا څه شوه. دا چاپي نسخه چې ډېرې تېروتنې لري دا ښيي چې د کتاب متن په ډېره بې پروايی را نقل شوی، د معرفة الافغاني متن او محتويات ښيي چې دا اثر د دې لپاره ليکل شوی وو، چې درباريان، منشيان او ميرزايان د پښتو جملو جوړول او ليکل ترې زده کړي او بيا د همدې اثر په مرسته د دربار او دفتر چارې ټولې په پښتو شي، ترڅو پښتو د دفتر او ديوان ژبه شي او د نورو ژبو غوندې د دربار په ملاتړ او حمايت پراختيا او پرمختيا وکړي.

لوی استاد علامه حبيبي د دې اثر په باب داسې ليکلي: «دا کتاب په خپل وخت کې د ژبې د زده کولو لپاره مفيد وو او بايد له اوسنيو تجربه شوو متونو سره پرتله نه سي، خو د نمونې په توگه د هغه وخت د مفکورې نمايندگي کوي او دا کتاب د پښتو د تعليمي کتابو د سلسلې لومړی کړی گڼلی سو.»

**د معرفة الا فغاني محتوا لس بابه لري:**

په لومړي باب کې يې حمد په دوهم باب کې يې نعت، په دريم باب کې يې داصحابو ذکر، په څلورم باب کې يې د وخت د پاچا مدح راغلې، چې دا څلور بابه يې د نظم برخه  او په پنځم باب کې يې چې اصلي موضوع پيل کېږي هغه خبرې راغلي چې پاچاهان او حاکمان يې وايي، په شپږم باب کې يې د عامو خلکو خبرې راغلي، په اووم باب کې يې د خوراک، څښاک  او پوښاک خبرې راوړي، په اتم باب کې يې د کليوالو او مالدرانو خبرې راوړي، په نهم باب کې يې د ښکار خبرې را وړي، چې له دې باب سره يې د جملو برخه هم ختمېږي او په لسم باب کې يې لغاتونه راوړي دي، چې شپږ فصله لري. دا برخه د کابل مجلې د (۱۳٦۰ ) کال په ( ۷۳۳ ) پر له پسې گڼه کې روهي صاحب د موضوعي قاموس په نامه هم ياده کړې، چې د بېلابېلو موضوعاتو نومونه په کې راغلي دي.

لومړی فصل يې اسماني او اسمان ته د نږدې شيانو نومونه دي، دوهم فصل يې له مرغانو پرته د نورو حيواناتو نومونه دي، دريم فصل يې د مرغانو نومونه دي،

څلورم فصل یې د نور راز – راز شیانو نومونه دي، پنځم فصل یې د ناروغیو نومونه دي او شپږم فصل یې د تورو په باب دئ.

د دې اثر خاصه ځانګړنه او ابتکار دا دی، چې پیل یې له کُل نه د جز پر لور شوی دی، چې لومړی جملې بیا یې لغاتونه او په اخیر کې یې توري راوړي دي، چې د ښوونې او روزنې د نوو او عصري میتودونو له مخې ډېره د پام وړ خبره ده.

د پیر محمد کاکړ قلمي ځواک او قدرت دا ښیي چې ډېر کتابونه به یې لیکلي وي، خو د زمانې له تاړاکونو څخه یې ډېر لږ اثار موږ ته را پاتې دي.

۱ – د پیرمحمد کاکړ دېوان: چې پنځه زره بېته لري په (۱۱۹٦ هـ ق) کال د ده له خوا ترتیب او بشپړ شو. د دېوان یوه زړه نسخه په (۱۲۳۰ هـ ق) کال کې ابراهیم کاکړ چې د ده شاګرد و، خطاطي کړې او د پښتو ټولنې په کتابتون کې خوندي ده. د دېوان یوه بله نسخه د جمهوري ارګ په کتابتون کې ده، یوه نسخه یې له مولانا ابو لوفا افغاني سره وه، یوه نسخه یې رشاد صاحب له فضل اللهي ساکزي سره لیدلې وه، د دېوان تر ټولو زړه چاپي نسخه یې په (۱۳۰۳ هـ ق) کال چاپ شوې ده، چې امیر محمد پېښوري د (کتابونو تِجار) د ډیلي په فاروقي مطبعه کې خپره کړه، د دېوان انتقادي متن یې استاد بېنوا تهیه کړی او په کابل مجله کې پرله پسې چاپ شوی او بیا په (۱۳۲۵ هـ ق) کال پښتو ټولنې چاپ کړ، چې د پښتو ټولنې (٦٦) نمبر کتاب دی.

د دیوان په سر کې د استاد بېنوا سریزه په (۱۵) مخه کې راغلې، چې په هغه کې د دېوان پر خطي نسخو او رسم الخط غږېدلی دی او د پیرمحمد کاکړ پېژندګلوي یې په کې راوړې، د دیوان له (۱٦) مخ څخه اصلي متن شروع کېږي تر (۱۴۰) مخه پورې او د پای په دوو مخونو کې یوه یادونه راغلې ده، چې دا دیوان ټول (۱۴۲) مخه دی. د دېوان انتقادي متن د دوو خطي او یوې نیمګړې چاپي نسخې څخه تیار شوی.

۲ – معرفة الافغاني: هغه کتاب دی چې اوس موږ ورباندې بحث کوو.

۳- د پښتنو تاریخ: په دې هکله استاد بېنوا وایي: «پیرمحمد د احمد شاه بابا په امر د پښتنو یو تاریخ په پښتو هم کښلی وو، د دې کتاب کومه نسخه چې د امیر عبدالرحمن خان په دربار کې موجوده وه ... تر (۱۳۰۰ ش) کال وروسته له کابله

خارج ته وتلې ده او اوس يې درک نه لرو.»

۴ – څو پاڼې: د رفیع صاحب په وینا دی وایي: «د پیرمحمد کاکړ د دېوان یوه قلمي نسخه چې ماته لاس ته راغلې وه، څو د نثر پاڼې یې هم په پای کې ورسره درلودې، چې له دېوان سره متصلې او د دېوان د خطاط په قلم دي. په دې پاڼو کې د قیامت او ورپسې د جنت احوال د دیني نصوصو (ایتو) په استناد څېړل شوي او د نثر برخه یې د کېږي، لوېږي ... په سجع ده، خو تر دې پرته یې نور نثر روان دی.

څرنگه چې د دې نثر نمونه ما په بل کوم چاپي او خطي اثر کې نه ده لیدلې او هم له دې امله چې د ده له دېوان سره یوځای راغلې اټکل کېدای شي چې دا نثر دې هم د ده وي او نوم دې قیامت نامه یا جنت نامه وي.

۵ – هدایة المبتدي: دا هم د پیرمحمد کاکړ اثر دی، چې په دري ژبه یې لیکلی.

تر دې وروسته د ده د نورو اثارو په هکله کوم معلومات نشته.

د معرفة الافغاني لیکوال پیرمحمد کاکړ په اصل پښتون او د کاکړو له لوی ټبر څخه دی، دی په خپلو اثارو او اشعارو کې له خپل نامه سره د کاکړ کلمه نه راوړي، خو د ده د ادبي مکتب پیرو او لاروی (شمس الدین کاکړ) چې په (۱۲۳۸ هـ ق) کال کې یې خپل دېوان بشپړ کړی دی د ده له نامه سره یې د کاکړ کلمه داسې راوړې ده:

پیرمحمد کاکړ په شعر کې نامدار وو<br>
یــو وړ قبــــر لره ده ارمان دشـــعر<br>
( شمس الدین کاکړ)

تر دې وروسته ټولو تذکره لیکونکو او ادبي څېړونکو د پیرمحمد له نامه سره د کاکړ کلمه کښلې. د پیرمحمد کاکړ د استوګنځی په هکله استاد حبیبي داسې نظر لري چې دی په اصل کې دږوب وو، ځکه د کاکړو اصلي مسکن ږوب دی.

خو مولانا ابوالوفا صاحب (۱۳۱۰ – ۱۳۹۵ هـ ق) کال کې چې کله د حیدر اباد دکنه د پیرمحمد کاکړ د دېوان یوه قلمي نسخه له یوه لیکه سره د حبیبي په نامه را ولېږله. په رالیږل شوي لیک کې مولانا صاحب د پیرمحمد کاکړ د پېژندګلوی

په اړه داسې لیکلي:

«ملا پیر محمد اخند د ړوب نه وو، بلکې د هندو باغ وو، په کاکړو کې سنټیا په سنټیا کې مهترزی وو، ملک طبیب مرحوم بې د کلي نوم هم اخیست، زما له یاده ووت. زه بې د کوټې له دوستانو پوښتنه وکړم، ګوندې وي چې دکلي حال یې هم را معلوم سي دی له هندو باغ څخه کندهارته د تحصیل لپاره راغلی وو، پس له تحصیله وطن ته ولاړ، دکاکړو تمدن خوند ورنه کړ بېرته کندهار ته راغی او عمر یې په کندهار کې تېر کړ.»

د پیرمحمد کاکړ د زوکړې نېټه دقیقه نه ده معلومه نو د اټکل له مخې د پیرمحمد کاکړ د زوکړې نېټه (۱۱۲۰ – ۱۱۳۰ هـ ق) کالونو تر حدودو نه وځي، د حبیبي صاحب په وینا: کله چې پیرمحمد کاکړ تر( ۱۱۹٦ هـ ق) کال وړاندې خپل ځان سپین ږیری ګڼي او د ده د علمي شهرت له مخې د هغه وخت واکمن احمدشاه بابا (۱۱٦۰ -۱۱۸٦ هـ ق) دی را بولي، نو ښایي چې د ژوند دومره کلونه پرې تېر شوي وي چې د وخت علوم یې په ممتاز ډول زده کړې وي او نوم یې په کې ایستلی وي، چې حد اقل دا تر (۳۰ ) کاله وړاندې نه شي کېدلای، نو ځکه د ده د زوکړې نېټه په ذکر شوي ډول ټاکل شوې ده.

د مولانا ابوالوفا په وینا چې مخته یې هم ذکر وشو، دی د هندوباغ څخه د تحصیل لپاره کندهار ته راغلی. رفیع صاحب لیکي: چې مولانا ابوالوفا صاحب د ذکر شوې وینا لپاره کوم سند نه لري او وینا یې په شفاهي روایاتو ولاړه ده، خو د رد وړ ځکه نه ده چې کندهار هغه وخت د هوتکو د واکمنۍ (۱۱۱۹ – ۱۱۵۱ هـ ق) او بیا د دُراني لوی احمدشاه بابا ستر واکۍ(۱۱٦۰ – ۱۱۸٦هـ ق) مرکز و، نو ځکه به دپیرمحمد کاکړ د زد ه کړې تکل د کندهار پر لوري شوی وي، د ده له وینا څخه ښکاري چې د وخت په مروجو علومو کې پیاوړی او رسېدلی و، د تبلیغ اوتدریس حلقې یې درلودې او په کندهار کې یې وظیفه د تبلیغ په وسیله خلکو ته لار ښودل وه، د شاهي کورنۍ او نورو هلکانو ته یې تدریس کاوه.

د سفرونو په اړه یې ډېر څه په لاس کې نه شته، په لومړي ځل له خپل وطنه کندهارته د زده کړې لپاره راغی بیا بېرته خپل پلرني وطن ته ځي. هلته له یوڅه وخت تېرولو وروسته بېرته د هغه وخت د پاچا له خوا راغوښتل کېږي او دلته د تل

لپاره په کندهار کې پاتې کيږي، د ده يو بيت څرګندوي چې دی څو ځله کابل ته هم تللی، خو بېرته خوا بدی ځنې راغلی:

د ښو بدو تميـز نشته په کابل کې
خـرم زړه چې ورته راوړم رنجيده شي

دا نه ده معلومه چې پيرمحمد کاکړ به په خپل وطن کې ښځه او اولادونه درلودل که به يې نه درلودل؟ او له هغه ځايه به متاهل که مجرد راغلی و.

خو په کندهار کې د ده د وينا له مخې ده د ژوند ملګرې او اولادونه درلودل، ده درې لوڼې، د (فاطمې، ماهرې او صالحې) په نامه درلودې، چې په اووه کلنی، يوولس کلنی او نهه کلنی کې مړې شوې او ده يې مرثيې ويلې دي، د نورو اولادونو په هکله يې معلومات نه شته، استاد عزيزالدين وکيلي د يو فرمان په استناد وايي: «پيرمحمد کاکړ د دين محمد په نامه يو زوی هم درلود». رفيع صاحب زياتوي: «دا خبره ماته زلمي هېودمل کړې ده، د پيرمحمد کاکړ مالي وضعيت ډېر ګډوډ وو، خو لوړ همت يې دا اجازه نه ورکوله، چې له چا څخه څه وغواړي.

ده بيا هم پر خپلې ناداری قناعت کړی و، چې وايي:

هرچه ګنـج د قناعـت لـري پـه زړه کې
کـه فقير تر پيرمحمد وي خوار به نه شي

دپيرمحمد کاکړ د مړينې ټاکلې نېټه نه ده معلومه، خو له يوې خوا د محمود سدوزي د فرمان له مخې ده د ژوند تر (۱۲۱٦ هـ ق) کال پورې يقني دی او له بله پلوه په (۱۲۱۳ هـ ق) کال چې د ده شاګرد (محمدابرهيم کاکړ) د ده ديوان کښلی دی، داسې يادوي چې وفات شوي دی.

نو د ده مړينه د (۱۲۱٦ او ۱۲۳۰ هـ ق) کالو ترمنځ اټکلو، تر دې دمخه د پيرمحمد کاکړ د ديوان په سريزه کې چې ښېنوا صاحب پرې ليکلې وه، سهواً د ده مړينه تر(۱۲۰۳ هـ ق) کال وړاندې بلل کېدله، چې دا د کاتب غلطي وه. همدا رنګه علامه رشاد بابا هم د ديوان د استنساخ ( ۱۲۰۳ هـ ق) کال نېټه دفکر وړ بللې ده.

د پورتنی ناسمې نېټې لپاره يو بل دليل دا هم کېدلای شي، چې د ابراهيم کاکړ پلار (نصرالله کاکړ) په (۱۲۱۹ هـ ق) کال د فرحت الافغان په نامه يو اثر نظم

کړ او د ده د وينا له مخې د ده لومړنی اثر دی، نو کله چې په دغه ذکر شوې نېټه د ابراهيم د پلار ادبي فعاليت شروع کېږي، نو دا لږ څه له عقله لرې خبره ده، چې زوی به يې په (۱۲۰۳ هـ ق) کال کې پوخ شاعر وي او د خپل استاذ دېوان به د خپل زوی نورمحمد لپاره، چې د نصرالله کاکړ لمسی کېږي خطاطي کوي.

**پايله:**

او بالاخره د دې څېړنې د پايلې په توګه ويلای شو، چې پيرمحمد کاکړ په کندهار کې وفات او د حضرت جي بابا زيارت ته نږدې خښ دی.

شهزاده سلېمان چې دا کتاب ورته ليکل شوی وو، د احمد شاه بابا له اتو زامنو څخه دوهم زوی و، ده په ژوند کې مهم ماموريتونه کړي وو، د ښکار پور په ولايت کې يې يادوګارونه پرې ايښي وو او کله چې د پلار له خوا بلخ او خُلم ته واستول شو په خُلم کې يې د هغه ځای د حکومت کلا هم ودانه کړه او څو کاله د ښکارپور حکمران وو، کله چې په (۱۱۸۴ هـ ق) کال کې احمدشاه بابا له هراته کندهار ته راغی، دی يې د کندهار په مرکزي حکومت وټاکه، دا کار يې د دې لپاره وکړ، چې که د ده ناروغي سخته شي او تر سره يې نه کړای شي شهزاده به دا بار پر اوږو واخلي.

شهزاده سلېمان په ( ۱۱۷۹ هـ ق) کال کې د وزير شاه ولي خان له لوري بلقيس سره واده وکړ کله چې احمدشاه بابا سخت ناروغ شو او تيمورشاه په هرات کې واکمني کوله سلېمان د خپل خسر په مشوره د پلار تر مرګ وروسته، چې په ( ۱۱۸٦ هـ ق) مړ شو د واکمنۍ واګې په لاس کې ونيولې، کله چې تيمورشاه له دې موضوع خبر شو له هراته ډېر په غوصه او له قهره ډک را روان شو، د شاولي خان مخالفينو تيمورشاه ولمساوه او د ټولو وروستيو پېښنو محرک يې شاه ولي خان وباله.

تيمورشاه هم ورسره ژمنه وکړه، چې دی به ژوندی نه پرېږدي، کله چې شاه ولي خان د تيمور شاه له راتګه خبر شو، نو د سلېمان په سلا له خپلو دوو زامنو، دوو خوريونو او يو سلو پنځوس تنو مخورو سره مخې ته ور روان شو، تيمور شاه په بکوا کې اړولي و، مخکې له دې چې له تيمورشاه سره و ويني مخالفينو د ده کار کړی وو او تيمورشاه ته يې ويلي و، چې تر ليدو دمخه به يې ختموې، تيمورشاه هم د ده دښمن انکو خان ور واستاوه، چې ډېر په قساوت يې د ده اود ده د زامنو سرونه قلم

کړل او د خوریو سرونه یې اسلام خان له تنو پرېکړل او پنځه واړه سرونه یې تیمورشاه ته راوړل.

کله چې کندهار ته را روان شو سلېمان د خپل خسر له وژل کېدو خبر شو او پر ځان وډار شو له قرآن کریم سره مخ ته ور روان شو او بخښنه یې ترې وغوښته، تیمورشاه هم وباخښه په غېږ کې یې ونیو او ډاډ یې ورکړ، سلیمان شاه په دې ډول خپل ورور ته تسلیم شو او د واکمنۍ دوره یې تر درو میاشتو اوږده نه شوه.

**مأخذونه:**


١ - پیرمحمد کاکړ، معرفة الافغاني، د حبیب الله رفیع په سریزه او سمون، ١٣٥٦ل. کال چاپ.

٢ - پیرمحمد کاکړ، دېوان، د عبدالروف بېنوا په مقابله او تصحیح، ١٣٨٩ل. کال چاپ.

٣ - محمدصدیق روهي، د پښتو لومړني درسي کتاب ته یوه کتنه،کابل مجله، پرله پسې( ٧٣٣ ) گڼه، د ١٣٦٠ل. کال.

نوماند څېړنیار شریف الله دوست

# د خطي نسخو لنډه پېژندنه

**لنډیز:**

په عام ډول ټولې هغه لیکنې چې په لاس کښل شوي وي، خطي نسخې بلل کېږي. زموږ مطلب دلته لرغونې او تاریخي خطي نسخې دي.خطي نسخې د یوه هیواد تاریخي، علمي او فرهنګي هویت څرګندوي.دخطي نسخو ارزښت دهغه په لرغونتیا،ښکلي خط، علمیت، تذهیب، تجلید، عتیقه توب، نقاشي، میناتوري، علمي، ادبي تحقیق کې دی، تر عصري تکنالوژۍ مخکې همدا خطي نسخو د دیني علمي او فرهنګي مسوولیت دلېږد چارې سرته رسولې خو اوس دا ځای چاپي او الکترونیکي کتابونو نیولی دی. د بشر د ژوندانه له پیله کله چې انسان، پر لیک کښنه برلاسی شو د خپل نظر دڅرګندولو لپاره یې خپل نظریات په طبیعي رنګونو پر توکو باندې کښل لکه: ختین توکي، ډبرې، طلا او فلزات، دڅارویو پوستکي، دڅارویو او ژوو هډوکي، پاپیروس یا قرطاس، دونو پاڼو او پوټکو باندې کښل چې دا وخت دود او غوښتنه وه.

**سریزه:**

خطي نسخې یا لاس کښنې په نړۍ او پـه ځـانګړې توګـه پـه پښـتو ادب کـې لرغونې مخینه لري، نړۍ او په خاصه توګه په آریانا ، چـین ، مصر او یونـان کـې لـه اسلام څخه وړاندې خطي نسخې پر لرګیـو، د غویـانو پـر پوسـتکو، د خرمـا پـر پـاڼو ،ټوکر ، هډوکو، فلزي او طلایي ټوټواو نورو څیزونو باندې لیکل کېدلې، بشر دخپلـې پوهې، علمـي، فرهنګي، او حقوقي میراث د بقا او تـر نـوي نسـل پـورې یـې رسـول د

خطي نسخو په مټ کول، د عصري ټکنالوژي او ماشینرۍ تر منځ ته را تـګ وړانـدې همدې خطي نسخو، د انسان د معنوي امانت چارې سرته رسولې. خطـي نسـخې د موډرن اوعصري چاپي کتاب پخوانۍ بڼه ده، هغه چې انسانانو به پـه لاس پـه خطـي بڼه لیکلې.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې له دې څېړنې څخه موخه د خطي نسخو یـوه ټـولیزه پېژندنـه ده او هڅـه شـوې چـې پـه دې برخـه کـې جـامع معلومات له درنو لوستونکو سره شریک شي.

**د څېړنې موخې:**

د دې څېړنې هدف یا موخه دا ده چې خطي نسخو وپېژنو، د هغې ډولونه راتـه معلومه شي، تاریخچه یې څه ده او په ټولـه کـې کـوم ډول نسـخو تـه خطـي نسـخې ویلای شو؛ یعنې هدف د خطي نسخو په علمي توګه پېژندنه او معرفي ده.

**د څېړنې پوښتنې:**

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ خطي نسخه څه ته وایي؟
- ✓ کومو اثارو ته خطي نسخې ویل کېږي؟
- ✓ د خطي نسخو او نورو نسخو ترمنځ توپیر په کې دی؟
- ✓ خطي نسخو پر څو ډولونو باندې وېشل شوې.

او دې ته ورته ځینې کوچنې پوښتنې ځواب شوې دي.

**د څېړنې روش:**

په دې څېړنه کې تر ډېره له تشریحي، تحلیلي، توضیحي او د اړتیـا پـه صـورت کې له انتقادي میتود څخه ګټه شوې ده.

**د څېړنې اصلي متن:**

**خطي نسخې:**

خطي نسخې یو مرکب نوم دی چې له دوو کلمو څخه جـوړ شـوی دی، لـومړی خطي نسبتي صفت دی، خـط تـه منسـوب، دچـاپ پـه مقابـل کـې لاس کښـنې تـه وایي(۱) دوهم " نسخَ " یا "نسخه" ؛ هغه کتاب چې په لاس لیکل کېږي، هغـه اصـل

کتاب چې له هغه څخه بل وليکل شي، ، يا هغه لاسي ليکلې پاڼه چې معالج ډاکټر د خپل ناروغ لپاره درمل په کې ليکلي وي(۲)، په ټوليزه توګه هره ليکنه چې د کتاب په بڼه پر کاغذ، پوټکي ، پاڼو،ونو پرخورکو(پوستکو) وليکل شي خطي نسخه يې بولي. يو ځيني څېړونکي د نسخې د نامه په اړه ليکي چې دا لغت د نون په زور له " نسخ " څخه مشتق شوی دی نسخ زايل کولو د عتبار له منځه وړولو او دکوم شي ردولو ته وايي (غياث اللغات). کله چې يو خطاط يو کتاب له بل کتاب څخه را نقل کړي ، په دې ډول لومړی (منقول عنه) کتاب دنوي نسخې په منځ ته راتګ سره له اعتباره لويږي او ردېږي ځکه نو دې نوي ليکل شوي متن ته "نسخه" وايي. (۳)

**د مخطوطې تعريف او معنی في معجم المعاني الجامع - معجم عربي - عربي کې**

۱. مَخطوطة) :اسم

- مؤنَّث مخطوط
- مَخْطوط ، كتاب أو وثيقة أو نصّ مكتوب باليد لمّا يطبع بعد
- هغه کتاب،مخطوطه او وثيقه چې په لاس ليکل شوې وي او وروسته طبع شي

۲. مَخطوط) :اسم

- المؤنث: **مخطوطة**
- مفعول مِنْ خَطَّ
- **المَخْطُوطُ**: كتاب أو نصّ مكتوب باليد لمّا يُطبع بعد
- قِسْمُ **الْمَخْطُوطَاتِ**: القِسْمُ الَّذِي يَحْتَوِي عَلَى الكُتُبِ الَّتِي خَطَّهَا القُدَمَاءُ بِأَيْدِيهِمْ
- هغه ډول ليکنې چې پخوانيو خلکو په لاس کولې

۳. مخطوط) : اسم

- **مخطوط**: اسم المفعول من خَطَّ(۴)

په عام ډول ټولې هغه کتابي لیکنې چې پخوابه خلکو په لاس کولې مخطوطې بلل کېږي.

په اروپايي ژبو کې خطي نسخې تـه Manuscript وايـي چې لـه دوو لاتینـي کلمو Manu د(لاس) اوscript د(لیکنـې) معنـا، ښـندي او کتیبـې تـه Inscription وايي . په کمبریج ډیکشنري کې خطي نسخې داسي را پېژني:

man·u·script(**măn′yə-skrĭpt′**):

**1.** A handwritten book, poem, or other document, or a collection of su ch handwritten documents bound together.

۱ : هغه لاسي لیکلی کتاب، که شعري ټولګه یا بله لیکنه او مجموعه وي ، چـې پـه لاس لیکل سوی وي خطي نسخه بلل کېږي.

**2.** A version of a book, article, or other work before being published or prepared for publication.

۲: د کتاب هغه متن او بل لاسي کار چې لا چاپ او خپور شوی نه وي؛خطي نسـخه وي.

**3.** Handwriting, especially in contrast to print(۵)

۳: هغه لاس کښنه په ځانګړې توګه چې چاپ شوې نه وي، خطي نسخه ورته وايي.

## د خطي نسخې تعریف:

پوهانو د خطي نسخو تعریف داسي کړی : هغه لرغوني او پخواني کتابونه چې د ځانګړي لیکوال لـه خـوا پـر یـوې ځـانګړې موضـوع د چـاپ د ماشـین تـر اختـراع مخکي او جریان یا هم وروسته په لاس لیکل شوي خطـي نسـخې بلـل کېـږي . پـه دې شرط چې له سندونو، قبالو او مکتبونو او لاسي لیکونو څخه بېل وي.

دخطي نسخو په تعریف کې د کاغذ ــ مرکب ، لاسي کښنه او د چاپ دماشـین تر اختراع مخکي خبره اړینه ده.ترڅنګ یې اوس مهال هغو علمي، ادبي او تـاریخي لاسي نوشتو ته هم خطي نسخې وايي چې لیکوال په لاس لیکلې او چمتو کـړې وي چې چاپخانې ته یې دچاپ لپاره واستوي.د "نسخه " کلمې منشاء چـې هرڅـه وي ، مراد ورڅخه هغه لیکنې او مطالب دي چې په بڼکه، نی(شړ)، یا فلـزي قلـم سره پـه

رنګه یا توره دودی(سیاهي) پر یو پاڼه باندې لیکل شوي یا له کوم بل کتابه را نقل شوي وي خطي نسخه بلل کېږي.

**د نسخې ریښوي کلمات:**

نُسّاخ : نسخه لیکونکی، هغه چې له کتاب یا بلې لیکنې څخه لیکنه وکړي.

نَسّاخ : ناسخ،کاتب،خطاط،هغه څوک چې له یوه شي نسخه ولیکي.

نَسخ : دشپږګونو ښکلو خطونو څخه یو ډول چې قرآني خط هم ورته وايي.

نُسخَت : نوشته، لیکنه، مکتوب، یادابنت.

نُسخت کول: لیکل، یادابنت کول.

نُسخه: هغه لیکنه چې پر کاغذ باندې د شخص له خوا په لاس ولیکل شي، یا هغه پاڼه چې معالج ډاکتر خپل مریض ته درمل پرې لیکلي وي.

نُسخه اخیستل: کتاب یا مکتوب ، دبل کتاب یا مکتوب له مخې لیکل.

استنساخ: نسخه اخیستل، دکتاب له مخې نسخه ایستل ، یو مطلب د یوې بلې لیکنې له مخې لیکل.(٦)

**د خطي نسخو ارزښت:**

خطي نسخې دیوه هیواد تاریخي،علمي او فرهنګي هویت څرګندوي.

په خطي نسخو کې ارزښتناکه خبره د هغوی لرغونتوب دی، یعنې هره خوانا او بشپړه نسخه چې یا مؤلف په خپله لیکلې وي یا هم د هغه په غوښتنه بل خطاط لیکلې وي مخینه یې زیاته وي، د ارزښت وړ وي، دلته یې دوو مهموارزښتونو ته نغوته کوو:

الف : د نسخې لرغونتوب او عتیقه توب antique دی،په ځانګړې توګه که د لیک ښکلا، تذهیب، تجلید، او نقاشي ـ میناتوري څخه د نسخې په ښکلا کې ګټه اخیستل شوې وي.

ب : د نسخې علمي او تحقیقي اړخ: یعنې که نسخه تصحیح ، چاپ او خپره شي د متن، سبکپوهنې، علمي او تحقیقي چارو ته لاره پرانیستل کېږي.(٧)

خطي نسخو ته له دوو زاویو څخه پاملرنه کېږي. دمتونو مصحح له یوه نظره ورته ګوري او هغه نسخه پوه چې سرو کار یې د نسخې له مادي ارزښت او دانتیک پلورنې له مارکېټ یا موزیمونو سره وي، بیا له بل لوري ورته ګوري. متن څېړونکي او

نسخه پوه دواړو ته دخطي نسخې دکاغذ دنوعیت، د خط ځرنګوالی ، دنسخې ښنتی ، تذهیب او میناتوری په باب معلومات خورا اهمیت لري خو په دې اهمیت کې د دواړو اړخونو دلچسپي بېل بېل استقامتونه لري.(۸)

د خطي نسخو بل ارزښت د متن څېړنې او تحقیق په لړ کې د متن لوستل دي او دا تر ټولو وروستی منزل دی. د خطي نسخو لوستل چې څومره ضروري دي دغسې ستونزمن هم دي د تجربې له مخې عامې نسخې تر ډېره په شکمن او مشوش حالت کې پیداکېږي او په غلطیو ښه بار وي ، دخطي نسخو غلطی به یا د مؤلفینو له لوري او یا د خطاطانو له لاسه رامنځ ته شوي وي(۹) پر مصحح ده چې د نسخو متني تېروتنې به په پوره غور او علمي صلاحیت سره اصلاح کوي او دیوې نسخې ارزښتناکه بڼه به لوستونکو ته وړاندې کوي.که چېري د یوه متن ډېره زړه چاپي نسخه پیداشي، د ډېر ارزښت وړ وي ، ځکه چې د اعتبار وړ نسخې څخه به بشپړه شوې وي. دچاپي نسخې بل ارزښت دا دی چې ښایي د لومړي چاپ څېړونکي به د متن په باب ډېر مجهول ټکي کشف کړي وي.(۱۰)

### د خطي نسخو دکښلو انګېزه:

د خطي نسخو کښل ځانته ځانګړې بشري انګېزه او علت لري، دلته یې یوازې د دوو اړینو انګېزو یادونه کوو:

#### الف : علمي انګېزه:

بشر دتاریخ په اوږدو کې راتلونکو نسلونو ته د دیني ، مذهبي، علمي او فرهنګي میراث د لېږد لپاره د خطي نسخو لیکلو ته مخه کړه، دا انګېزه د دې لامل شوه چې دامهال په نړۍ کې په مختلفو برخو کې سلګونه زره خطي نسخې تر موږ پورې را رسېدلي دي اوسنی نسل یې تر تصحیح وروسته ټولنې ته دګټې اخیستې لپاره وړاندي کوي.

#### ب: تعلیمي او تربیوي انګېزه:

د خطي نسخو دکښلو او خوندیتوب یوه اړینه انګېزه نوي نسل ته د سالمې ښوونې او روزنې انتقال وو، علماوو، د خپلو شاګردانو دروزلو لپاره په حجرو، مدرسواو مسجدونو کې او صوفیانو دخپلو مُریدانو د روحي تزکیې لپاره په خانقاوو

کې خطي نسخې ليکلې،هغه چې په اسلامي نړۍ کې يې خاص ارزښت او درښت درلود.

**د لرغونو خطي نسخو ډولونه:**

تر دا مهاله نسخه پېژندونکو په نړۍ کې د خطي نسخو څلور ډولونه ښوولي دي:

**۱ : طوماري نسخې:**

دا دخطي نسخو خورا لرغونی ډول دی چې بېلګي يې له ميلاده ( ۲٦۰۰ ـــ ۳۰۰۰)کاله پخوا په مصر کې لاس ته راغلی دي.

**۲ : بياض نسخې:**

دا ډول خطي نسخې تر طوماري وروسته تاريخي ځای لري او د جيب دکتابچو په اندازه يې کوچنۍ کچه درلوده، پاڼې يې په بر او عرض صحافي کېدلې او داوړده اړخه خلاص او تړل کېدې او دمسلمانانو په منځ کې يې رواج په درلود، دې ډول نسخو کې به شعر، نثر، دعاګانې، زيارتنامې او نورې موضوعګانې ليکل کېدې.

**۳: مُرقع نسخې:**

دا ډول خطي نسخې په لرغوني آريانا او ورسته په کوچينۍ اسيا او د هند په نيمه وچه کې دود وې، مرقع نسخې دخط له قطعو او نقاشۍ څخه جوړېدلې او صحافانو دقطعو له يوځای کېدو څخه صحافي کولې، دا ډول نسخې آريايانو له چينايانو څخه زده کړې وې.

۴: کتابي نسخې: له دې ډول نسخو څخه منظور اوسني کتابونه دي چې په تېر کې يې ورته کډکس (۱۱) وايه، اوس دنړۍ ډېرې مروجې نسخې همدا دي.(۱۲)

له بله پلوه ټولې خطي نسخې د زوړوالي او علمي والي په لحاظ سره برابرې نه وي. په خطي نسخو کې ځينې نسخې اصلي وي او ځينې نورې په غير رسمي ډول له اصلي نسخو څخه نقل شوي وي، بل ډول فرعي نسخې هم شته چې له هغو نسخو سره تړاو لري ، خو دليکلو او خطاط نوم يې نه وي څرګند.(۱۳)

## د خطي نسخو د خوندیتوب ځایونه:

خطي نسخو ته په معاصرو پېړویو کې زیات پام نه کېده ، دې چارې تـه لـومړی ختیځ پوهانو په ۱۹ او ۲۰ پېړۍ کـې توجه وکړه،معـاصرو اسـتعماري ټولواکیـو لکـه دهند شرقي کمپنۍ د هند له نیمي وچې او فرانسې له منځني ختیځ څخه یو زیات شمېر کتیبې او خطي نسخې په غارت یوورې. او په خپلو موزیمونو کې یـې خونـدي او فهرست بندي کړې، د خطـي نسـخو د خونـدیتوبب لپـاره دا مهـال ځـلور عمـومي مرکزونه پېژندل شـوي دي ، لکـه: موزیمونـه، آرشـیفونه، عامـه کتابتونونـه او د خلکـو شخصي کتابخانې.

## د خطي نسخو مادي اجزاوې:

د خطـي نسـخو مـادي اجـزاوې پـه لانـدې ډول دي : کاغـذ، رنـګ، مشـوانۍ، قلم،پښتۍ، بیاتي، قلم تراش، برس، توږونکی، سوری کوونکی، خط کش او نور...

## د نسخه لیکلو پاڼې:

د بشر دژوندانه له پیله کله چې انسان، پر لیک کښنه برلاسی سو د خپـل نظـر دخرګندولو لپاره یې خپل علوم او نظریـات پـه طبیعـي رنګونـو پـر توکـو کښـل، لکـه ختین توکي،ډبرې،طلا او فلزات،دڅارویو پوستکي،دڅارویو او ژوو هډوکي، پاپیروس یا قرطاس، د ونو پاڼې او پوټکي. په دوهمه میلادي پېړۍ کې دکاغذ اخـتراع دبشرـ له خورا ارزښتناکو اختراعګانو څخه وه ، علم ورسره پراختیا او پرمختیـا وکـړه. دکاغـذ خـورا لرغـونی شـکل پـاپیروس کاغـذ دی چـې دوه زره کالـه لـه مـیلاده مخکـې د پاپیروس په نوم جګې ونې له مغز څخه جوړېدل، وروسته په ۱۰۵ م کـې چینایـانو، په لسمه مېلادي پېړۍ کې هندیانو د(تاري) په نوم ونې څخه دکاغذ لپـاره اسـتفاده وکړه.کله چې ابومسلم خراساني په دوهمه هجري پېړۍ کې چینایان پـه جګـړو کـې ونیول، په هغوی کې یې یو شمېر د کاغذ جوړولـو پـه فـن کـې مـاهر وو لـه دې لارې افغانستان ته هم دکاغذ جوړولو فن راغی او په بېلابېلو ځایونو کې کاغذ جوړول پیل شوه، په دې کې د هلمند په زینداور کې هم کاغذ جوړېده چې زینداوری کاغـذ یـې باله.(۱۴)

## د کاغذ ډولونه:

چینایي کاغذ، هندي کاغذ، فرنګي کاغذ، سمرقندي کاغذ، وربښمیني کاغذ،

بخارايي کاغذ،طاهري کاغذ،ماموني کاغذ،نوحي کاغذ،منصوري کاغذ،فرعوني کاغذ،کشميري کاغذ،مصلوح کاغذ،سليماني کاغذ، دولت ابادي کاغذ،عادلشاهي کاغذ،بغدادي کاغذ، آملي کاغذ، خونج کاغذ،عاليشاهي کاغذ،شامي کاغذ،حموي کاغذ، حَلَبي کاغذ،دمشقي کاغذ، ابري کاغذ او نور...

د خطي نسخې تر ليکلو وروسته مؤلف هڅه کوي چې خپل اثر ته ښکلې او ټينګه پښتۍ ورجوړه کړي. دجلد او پښتۍ جوړولو هم په پخوا کې خپل فنکاران درلودل ، په ښارونو او وطنونو کې به د صحافۍ ځانګړي دوکانونه پرانيستې وه.

**پایله:**

په لرغوني دوره کې چې لا کاغذ نه و اختراع شوی، خلکو دليکلو لپاره ، دډبرينو او خټينو ټوټو،څارويو له پوستکو،درختو له پاڼو او پوټکو، دژوو له هډوکو څخه استفاده کوله چې بېلګي يې دنيل په وادي او لرغوني بابل کې ډېرې لاس ته راغلي دي. کله چې کاغذ په چين کې د (تساى لون) په مټ په (۱۰۵م) ميلادي کې اختراع شو دخطي نسخو کار تر مخکيني ډول چټک، منظم او ښکلى شو، علم پراختيا ومونده.(۸)خطي نسخه ليکنه په لرغوني آريانا او اوسني افغانستان کې ډېره لرغونتيا لري، په پخوانيو وختونو کې به واکمنانو په خپلو دربارونو کې دبيرخانې او ليکنځايونه درلودل، کاتبان او خطاطان به ګومارل شوي وو، د دربار اړوندې پېښې به يې ليکلې، دا چاره معمولاً په ټولو شاهي دربارونو کې دود وه، ځينو ليکوالو او شاعرانو به بيا په آزاد ډول خپل اثار يا په خپله يا هم د خطاطانو او کاتبانو په مټ ليکل، دبېلګې په توګه پير روښان به دخپلو اثارو زياتې نسخې په خپلو مُريدانو او کاتبانو ليکلې او دخپراوي لپاره به يې دشاهانو دربارونو او د ملکانو حجرو ته لېږلې تر څو روښاني فکر او تصوف په سيمه کې خپور کړي. د اسلام د مقدس دين په راتګ سره د قرآن عظيم الشان تر نزول وروسته د قرآن کريم او نبوي احاديثو زياتو خطي نسخې په اسلامي نړۍ کې وليکل شوې او خپرې شوې. په دې توګه خطي نسخې د چاپ د ماشين تر اختراع پورې د علومو، فنونو او نظرياتو د لېږد او خونديتوب ښه وسيلې وې دننو علومو منشاء همدا زموږ له اسلافو څخه په ميراث را پاته خطي نسخې دي چې نن يې تحصحيح او سمون کيږي او نوي نسل ته دګټې اخيستنې په خاطر وړاندې کېږي.

**مأخذونه:**


۱. دهخدا، علي اکبر، فرهنگ متوسط دهخدا، جلد دوم ، چاپ اول ۱۳۸۵ش ص،۱۱۸۴

۲. دهخدا،علي اکبر، هماغه اثر،۲۹۸۸مخ

۳. هوتک، محمد معصوم ، پښتو متون سمېدل غواړي، علامه رشاد اکاډمي، کندهار، ۱۳۹۰ لمریز، ۳۴-۳۵مخونه

۴. معجم المعاني الجامع - معجم عربي، آنلاین،www.google.com

5 .Cambridge dictionary,vol 2,onlinewww.google.com

٦. فدایی، غلامرضا ، آشنایي با نسخ خطي وآثار کمیاب، چاپ چهارم، ۱۳۹۲ش،تهران، ۱۱مخ.

۷. آشنایی با نسخ خطي، مخکینی اثر، ۱۲مخ.

۸. هوتک، محمد معصوم ،هماغه اثر،۳۵مخ.

۹. هیواد مل،زلمی، دمتن څېړنې مېتودولوژي، لومړی چاپ، د افغانستان علومو اکاډمي، دژبو او ادبیاتو مرکز،۱۳٦۹لمریز،۲۱۴مخ.

۱۰. هیواد مل، زلمی، هماغه اثر،۲۸۹مخ.

۱۱. Codex

۱۲. هیواد مل،زلمی، مخکینی اثر،۲۸۸مخ.

۱۳. عظیمي، حبیب الله ،نسخه شناسی/کاغذ درنسخه شناسی وکتاب پردازی نسخ خطی،ایران،۱٦۸،۱۳۸٦ – ۱٦۹ مخونه.

۱۴. عظیمي، حبیب الله ،نسخه شناسی/کاغذ درنسخه شناسی وکتاب پردازی نسخ خطی،ایران،۱٦۸،۱۳۸٦ – ۱٦۹ مخونه.

حبیب الله میرخېل

# اسطوره

## لنډیز:

اسطوره د تخیل او غیر واقعي په معنا کارول کېږي، چې تر ډېره حقیقت ونه لري خیال او موهومات وي یا په بله وینا اسطوره هغه روایت یا بیان دی چې تر ډېره او یا ټول افسانوي اړخ ولري او دا اړخ به حتا له اغراق او غلو څخه هم ډک وي، خو داستاني والی یې هم شرط دی.

ځینې پوهان بیا اسطوره د ایستوریا له یونانې کلمې څخه را اخیستل شوې بولي، چې معنا یې تاریخ، کیسه او داستان دی او کله چې د داستان خبره کېږي، نو په هغې کې بیا په ټوله معنا خیالي او موهومې خبرې کول هم تر ډېره ځای نه لري، ځکه کیسه لیکوال وایي چې کیسه به یا ریښتیا وي او یا به ریښتیا ته ورنږدې وي، خو په دې توپیر چې یا به په کې نومونه بدل شوې وي او یا به هم په یو مهال کې داسې کیسه پېښه شوې وي. دا چې په ټوله کې اسطوره څه شی دی او کومې ځانګړنې لري په دې څېړنه کې یې په تفصیل سره لوستلای شئ.

## سریزه:

کله چې د اسطورې بحث راځي، په لسګونو کسانو ته پوښتنې پیدا کېږي، چې اسطوره څه شی دی، ایا تر حده زیات اغراق او غلو هم اسطوره ده، ایا له ادب پرته په نورو برخو یا علومو کې هم اسطوره شته او که نه او داسې په لسګونو نورې پوښتنې، خو که تر ډېره انسان د اسطورې ځانګړنې او جاجونې ته ځیر شي، نو په خپله دې پایلې ته رسېږي، چې اسطوره د ادبیاتو پر مټ اسطوره ده او دومره لوی

نوم ادبیاتو ورکړی دی او که چېرې له ادبیاتو پرته په نورو علومو کې هم د اسطورې رول ته وکتل شي، نو بیا معلومات کېږي لکه څنګه چې د ادبیاتو په زور دومره پراخه او معنا لرونکې ده په نورو علومو کې به نه وي.

د دې لپاره چې اسطوره په سمه توګه وپېژندل شوې وي، تاریخ او پیلامه یې په ډاګه شوې وي، په اړه یې پوره معلومات پیدا شوې وي او د دې برخې مینه والو یې په اړه هر اړخیز معلومات پیدا کړې وي، نو په دې مقاله کې یې په اړه ډېرې نوې او ناویل شوې خبرې شوي او هیله ده چې پاتې مسایل یې هم د دې برخې د څانګوالو له خوا بشپړ شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی، چې اسطوره په ټوله معنا معرفي شوې او په رول یې خبرې شوي، دا چې په ادبیاتو کې یې رول څه دی پرې رڼا اچول شوې، کله پښتو ادب ته راغلې، پښتو ادب کې څومره اسطورې شته، د کومو څانګړنو پر اساس ورته اسطورې ویل شوي او دې ته ورته نور مسایل یې په واضحه توګه څرګند کړي.

البته د څېړنې څانګړی مبرمیت هم په دې کې دی چې تر دې وړاندې د اسطورې په اړه موږ په نورو ژبو کې لږو ډېرې خبرې اورېدې، خو په پښتو ادب کې مو په مشخصه او څانګړې توګه چې د لوستونکو پوښتنې ځواب کړای شي څه نه لرل، په دې مقاله کې هڅه شوې چې تر ډېره دا پوښتنې هوارې شي.

## د څېړنې موخه:

د دې څېړنه موخه په دې کې ده چې ایا اسطوره په ادبیاتو کې کوم څانګړی رول لري او ایا له ادبیاتو پرته په نورو برخو کې هم اسطوره شته، که وي رول یې څنګه ده او څپل اصالت څومره ساتلای شي.

همدا راز د دې څېړنې عمده هدف دا دی چې موږ اسطوره په ټوله معنا دروغ، مبالغه، اغراق او غلو ونه ګڼو، ځکه بې ګټې او له دراغو څخه ډک مسایل ډېر ځله په اوسنۍ یا بوختې نړۍ کې له غولونې او وخت ضایع کېدلو پرته بله معنا نه لري، نو ځکه هڅه شوې چې اصلي رول یې روښانه شي.

**د څېړنې پوښتنې:**

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ اسطوره څه شی دی؟
- ✓ ادبیات څه شی دی؟
- ✓ د اسطورې او ادبیاتو تړښت او بېلتون په څه کې دی؟
- ✓ په ادبیاتو کې د اسطورې رول څنګه او څومره دی؟

او دې ته ورته کوچنې او څېرمه پوښتنې پوښتل شوي او ځواب شوې دي.

**د څېړنې روش:**

په دې څېړنه کې تر ډېره له انتقادي، توضیحي او تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی او ځای ځای بېلګې هم په کې وړاندې شوې دي.

**د څېړنې اصلي متن:**

په سیندونو یا قاموسونو کې د دې اصطلاح بشپړ او علمي تعریف نه شو موندلی. جان هینلز په دې اړه لیکلي: «په ورځنۍ ژبه اسطوره د تخیل او غیر واقعي معنا په توګه کارول کیږي او د دې کار اصلي مشوق آکسفورډ انګلیسي- سیند دی چې د اسطورې تعریف یې دا ډول کړی: (هغه روایت چې خالص افسانوي اړخ ولري). دغه تعریف ګمراه کوونکی دی او داسې تړې زباتیږي چې اسطوره باید داسې نیمه واقعي کیسه وګڼل شي چې ښایي رښتیا یا هم دروغ وي. په پښتو او فارسي قاموسونو کې اسطوره عربي کلمه بلل شوې او په دوه ډوله توجیه شوې ده: لومړی دا چې «اساطیر» د «سطر» له فعل څخه چې د لیکلو معنا لري را وتلې او د جمع صیغه یې اسطار، اسطیر، اسطور یا اسطوره ده. دویم دا چې «اساطیر» د «اسطوره» جمع ده او اسطوره کلمه هم د «ایستوریا» (Istoria) یوناني کلمې عربي شوې بڼه ده چې په انګلیسي- ژبه کې هېستوري(History) د تاریخ په معنا او ستوري(Story) د کیسې او داستان په معنا راغلې ده.

په اروپایي ژبو کې اسطوره موت(Mouth) بلل کیږي چې د خولې، بیان او روایت معنا لري او دا هم له میتوس(Muthos) یوناني کلمې څخه اخیستل شوې چې کیسې، افسانې، خبر، حکایت او داسې څه ته ویل کیږي چې واقعي وجود نه شي درلودای.

همدارنگه له دغې کلمې بیا د مېتولوژي(Mythologie) یعنې اسطوره پېژندنه او میتوگرافي (Mythographie) یعنې اسطوره لیکنه کلمې هم راوتلې دي.

## اسطوره په اصطلاحي معنا:

د یوه فرهنگي نظام په توگه یوه ټولنیزه پدیده یا سېمبولیک حالت دی چې د نړۍ، د نړۍ د سرچینې، په طبیعت کې د انسان د مقام او دریځ په اړه او همدارنگه لوړو یا عرشي ځواکونو په اړه عمومي نړۍ لید بیانوي.

## د اسطورې تعریف:

اسطوره یوه موهومه کیسه(conte bieu)، د ژویو کیسه، د مینې کیسه(romance) او ولسي- داستان دی. اسطوره د ځانگړو خصلتونو کیسه ده، یعنې هغه نقل او روایت دی چې خدایان په کې بنسټیز رول لري. اسطوره منحصراً هغه عقلاني پدیده ده چې احساس په کې هېڅ رول نه لري.

اسطوره د هغه سپېڅلي او معنوي سرگذشت کیسه ده چې په ازل کې رامنځ ته شوې او په سېمبولیکه، تخیلي او له وهم څخه ډکې بڼې ته وایي چې یو شی څنگه منځ ته راغلی، ژوند کوي او له منځه ځي. یعنې دا چې اسطوره حکایت کوي چې څه ډول د مافوق الطبیعي موجوداتو په وسیله یو واقعیت یا یې یوه برخه رامنځ ته شوې؛ ځکه نو، اسطوره تل د یوه خلقت روایت دی او وایي چې یو شی څه ډول پیل شوی دی.

په بل عبارت اسطوره د خدایانو او مافوق الطبیعي موجوداتو په اړه هغه کیسې دي چې اصلي ریښه یې د پخوانیو انسانانو دیني اعتقادات جوړوي، د ژوند پیل، مذهبي معتقدات، مافوق الطبیعي ځواکونه، قربانۍ او خیالي اتلولۍ بیانوي.

اسطورې تاریخي حقیقت نه لري او جوړونکي یې نا پېژاند دي. اسطوره اخلاقي اړخ نه لري او په کې د طبیعت مظاهرو، پېښو او آفتونو ته انساني شخصیت ورکړل شوی او د دوی لپاره اتلولۍ کښل شوې دي او په پای کې اسطوره د خدایانو، پرښتو، مافوق الطبیعي موجوداتو او په عمومي توگه د نړۍ په اړه هغه کیسې او روایتونه دي چې یوه قوم د خلقت په اړه په خپل تفسیر کې ترې کار اخیستی.

## د اسطورې جوړښت:

نامتو اسطوره پوه میرچا الیاده ( Mircea Eliade په ۱۹۰۷ کال د رومانیا په پلازمېنه بخارېست کې زیږیدلی) د اسطورې جوړښت داسې بیان کړی دی:

۱. اسطوره د مافوق الطبیعي موجوداتو د کارونو تاریخ جوړوي

۲. دغه تاریخ او سرگذشت دقیقاً سم، رښتیا او سپېڅلی دی

۳. اسطوره تل په خلقت او تکوین پورې اړه لري، کیسه کوي چې یو شی څه ډول رامنځ شوی

٤. د اسطورې پېژندل د څیزونو د اصل پېژندلو، منشاء او بیروني معرفت په معنا دی.

۵. اسطوره تل یو ډول ژوندی ده او ورسره ژوند کیږي.

لکه څنگه چې انسان تل په دې هڅه کې دی چې خپله نړۍ او طبیعت وپېژني، پټ رازونه او تیاره گوټونه یې کشف کړي، څکه نو لمر، سپوږمۍ، ستوري، آسمانونه، ځمکه او د ځمکې طبیعي پېښې تل د مختلفو بشري اقوامو د توجه په مرکز کې وو او له دې امله چې دغه مظاهر یې خدایان گڼل، د انسان او دغو خدایانو ترمنځ یې د یو ډول اړیکې او پیوستون په شته والي عقیده لرله. له همدې امله د اسطورې د تاریخ په اړه ویل کیږي چې اسطوره پېژندنه له عرش څخه فرش ته د خدایانو را کښته کېدو څخه پیل شوې ده. الیاده د اسطورې جوړښت په منظمه توگه مشخص کړ، د هغه اساسي محور یې په گوته کړ او د خلقت روایت یې وباله؛ د اساطیرو آیینونه او سېمبولونه یې سپېڅلی او معنوي امر وگاڼه.

## د اسطورې ډولونه:

ایراني لیکوال دوکتور اسماعیل پور په خپل اثر«اسطوره، بیان نمادین» کې د اسطورې بېلابېلو اړخونو ته په کتو سره، په مختلفو برخو وېشلې ده چې لنډیز یې دلته وړاندې کیږي:

۱. **ریښه یي او بنیادي اسطورې:** دغه شان اسطورې د نړۍ، آسمانونو، لمر، ځمکې، ستورو او انسانانو په خلقت پورې اړه لري، د نړۍ ریښه او سرچینه په گوته کوي، د عالم د پیدا کېدو او پیداکوونکي په اړه خبرې کوي.

۲. **د وروستۍ ورځې اسطورې:** دغه اسطورې د جهان د پای، د ځمکې،

آسمانونو او لمریز نظام د نابودۍ، وروستۍ اور لګېدنې او قیامت ورځې په اړه خبرې کوي. دغه اسطورې له هرڅه ډېرې د مرګ سرچینه مطرح کوي. د انسان، عالم او کایناتو مرګ. په اکثریت اسطورو کې مرګ د ژوند پای نه دی، بلکې تل داسې ازلي وخت شته چې مرګ ورته لاره نه لري.

۳. **د ژغورنې اسطورې:** ځینې اسطورې د انسان او جهان د سربښندنو او ژغورنې په اړه دي. له دې څرګندیږي چې د ملتونو په اساطیرو کې وروستۍ بریا او د خیر ځواک ته هیله وجود لري.

٤. **د خدایانو اسطورې:** په نړۍ کې د شته اسطورو یوه له مشهورو ډولونو هم د آسماني موجوداتو او خدایانو اړوند اسطورې دي. دغه شان اسطورې تر ډېره د یوه داسې ستر او متعال خدای په اړه خبرې کوي چې د نورو خدایانو مشري کوی. لکه زیوس/ ژوپیټر، د خدایانو خدای، انکی/ مردوک، اهورامزدا او نور.

۵. **د سپېڅلو اسطورې:** د کنفوسیوس، زردشت، بودا، مانی او نورو لرغو سپېڅلو کسانو او پیغمبرانو ژوند په اساطیري روایتونو کې بیان شوی دی.

٦. **د کاهنانو اسطورې:** د ځینو ملتونو اسطورې هم د کاهنانو او مقدسو پادشاهانو په اړه روایتونه دي، لکه د ګېلګمېش روایت چې هم د اوروک ښار ستر پادشاه او هم د هغې خاورې نامتو پهلوان دی او هره خوا اتلولۍ کوي.

٧. **د بخت او تقدیر اسطورې:** د لرغونې پېر انسان فکر کاوه چې د ده د برخلیک او ستورو د حرکت ترمنځ تړاو شته او له دې امله یې د آدمیانو بخت او تالې د ستورو په حرکت کې لټولې. په ځینو اساطیرو کې د عالم پر برخلیک د خدای اقتدار ښکاره دی. د یونان په اساطیرو کې هم زیوس څو شخصیته لري، یعنې بخت او برخلیک یې په لاس کې دي خو کله کله نه شي کولای، حتا تر دې چې د خپل زوی ساریدون ژوند وژغوري.

٨. **د یاد او هېرولو اسطورې:** دغه شان اسطورې تر ډېره د لرغونو ټولنو د مراتبو په سلسله پورې اړه لري. په باب عروج کې د نړۍ او معرفت په اړه بنسټیز معلومات هغه څه نه دي چې په اسانۍ سره ترلاسه شي. یاد، د ژوند او خلاقیت پایه ده او هېرول په تیارو او مرګ کې د لاهو کېدو په توګه د ځان سرچینه او بنسټ دی.

٩. **د اتلانو اسطورې:** ډېرې اسطورې د یوې سیمې یا ملت د اتلانو اوپهلوانانو د

ژوند احوال دي. د یونان په اساطیرو کې د هراکلس او آشیل په سرگذشت کې د اتلانو اساطیرو مضامین لیدلای شو. د زمري ښکار ته د هراکلس تلل، د دوولسو خانانو داستان، په پلوپنز، کرت، ترکیه او نورو سیمو کې د ده حیرانوونکې جگړې، ټرای ته د آشیل سفر، د دې مبارزې او د اپولون له فرمان څخه د سرغړونې په پلمه د بارش په لاس یې غمجن مرگ، دا ټولې د نړۍ د اتلانو تر ټولو زړه راښکونې اسطورې دي.

**۱۰. د ژویو او بوټیو اسطورې:** د ژویو او بوټیو په اړه روایتونه د لرغونې زمانې په اساطیرو کې پرېمانه دي. گڼ ژوي او بوټي د ملتونو او قبایلو ترمنځ تقدس لري او توتمي رول لوبوي. حتا حیواني او گیاهي خدایان هم په دغو اساطیرو کې ترسترگو کیږي داسې چې ځینې ژوي او بوټي سپېڅلتیا لري، د نارغیو په درملنه، ښکار او بزگرۍ کې مهم رول لوبوي.

**اسطوره د څه لپاره؟**

اسطوره له ډېرې پخوا زمانې راهیسې له بشر سره موجوده وه، خو پوښتنه دا ده چې اسطوره څه گټه لري؟ اسطوره پېژندونکي وایي بشر د اسطورو له مطالعې څخه د یوه ملت له تاریخ څخه نیولې تر فرهنگ او د پرمختگ تر تمدن پورې هرڅه پېژندلی شي، همدارنگه کولای شو د پخوانیو زمانو دودونه، باورونه، عقاید او فرهنگ هم له اسطورو څخه را وباسو. د اسطورو تر ټولو ښکاره گټه د طبیعي او فرهنگي حقایقو توجیه او سپیناوی دی. د بېلگې په توگه، د شمالي امریکا د سور پوستانو یوه اسطوره د جوارو د دانې پیدا کېدو منشاء په ډاگه کوي. کولای شو ووایو چې د لرغونو اسطورو په څېړنې او مطالعې سره کولای شو د یوې ټولنې فرهنگي او ټولنیزې کړنې په ښه توگه تجزیه او تحلیل کړو. په هنر او ادبیاتو کې هم له اسطورو څخه ډېره گټه اخیستل شوې او دغه چاره د هومر له ایلیاد او اودیسې څخه ښه څرگندیږي. د اسطوره پېژندنې بله گټه دا ده چې کولای شو د قومونو پېژندنې او ولسي معرف په برخه کې ترې کار واخلو.

اسطورې د اساطیري زمانې د انسانو لپاره د داسې پل حیثیت درلود چې د دوی او شاوخوا نړۍ ترمنځ یې ذهني اړیکه ټینگوله او په بنسټیزه توگه یې د دوی دودونو، کړنو، اخلاقیاتو، مقرراتو، ټولنیز او کورني ژوند او عقایدو کې ریښه لرله.

لومړني انسان د اسطورو په مرسته د نړۍ او طبیعت رازونه او معماوې په تمثیلي او سېمبولیکه بڼه توجیه کولې او د اسطورو په تحلیل سره کولای شو د لرغونو قومونو له عقایدو، طبقاتي جوړښت او دودونو ځان خبر کړو.

## اساطیري موجودات:

ارباب الانواع، ارواح، توتمونه، آسمانونه، پیغمبران او... هغه لوبغاړي یا عناصر دي چې اسطورې یې په اړه کیسې کوي، مګر داسې اسطورې هم شته چې د سپېڅلو داستانونو په بڼه دي، د جهان، خدایانو او انسانانو خلقت شرحه کوي. ځینې اسطورې چې وایي آداب، رسوم، قواعد او مقررات څه ډول وضع شوي او ځینې نورې بیا د انسان او جهان د راتلونکي برخلیک په اړه خبرې کوي.

## اسطوره، افسانه او حماسه:

حماسه او افسانه هغه کلمې دي چې تر ډېره له اسطورې سره یوځای یا د ځینو له خوا مترادفې کارول کیږي. څېړونکو هڅه کړې د دغو کلمو تر منځ معنایي کرښه را کاږي، ورته والي او توپیرونه یې په ګوته کړي. دلته به هم هڅه وشي چې د هرې یوې تعریف وړاندې او له یو بله یې توپیرونه په ډاګه شي:

**حماسه:** هغه وصفي شعر دی چې په کې فردي یا قومي پهلوانیو، اتلولیو، مېړانو، ویاړنو او افتخاراتو ستاینه کیږي او د ژوند تېول اړخونه را نغاړي. په حماسي منظومه کې یواځې جګړې او وینې بهول نه دي شامل، بلکې یوه بشپړه حماسي منظومه باید د یوه کس یا قوم د مېړانې او اتلولیو پر توصیف سربېره د هغه عقاید، نظریات او تمدن هم بیان کړي او دغه خاصیت د نړۍ په ټولو سترو حماسو کې شته دی.

څېړنپوه زلمی هېوادمل لیکي: «حماسه د ادبیاتو په موضوعي یا معنوي ډولونو کې یو ډول دی، چې د یو ملت، قوم، قبیلې او یا شخص د میړانې او تورې کیسې او جنګي کارنامې په حکایتي ډول بیانوي.... که په حماسه کې اتل یو شخص، یوه قبیله او یا یو ملت وي، اما شرط په کې دا دی چې د شخص، قبیلې، قوم او ملت کارنامې، تورې او میړانې به یې په داستاني شکل بیان کړي وي.»

همدارنګه حماسه د یوه ملت د تمدن یا د تمدن د یوې برخې ځرګندونه د تمدن د زیږېدو په حال کې کوي، نو له دې په ډاګه کیږي چې حماسه د تمدن له

منځ ته راتګ وروسته د يوه ملت اتلولۍ، عقايد او وياړونه بيانوي او پر يوې ټاکلې زمانې پورې اړه لري، حال دا چې اسطوره ازلي ده او ټاکلی وخت نه لري. پر دې سربېره، په اسطورو او حماسو کې د خدايانو رول هم توپير لري؛ د پخوانيو قومونو ډېر خدايان په حماسو کې د پادشاهانو او پهلوانانو په توګه راڅرګنديږي، مګر برعکس د يوه قوم ډېر ستر پادشاهان او پهلوانان د هغه قوم په اساطيرو کې د خدايانو په بڼه څرګنديږي.

د اسطورې او حماسې بل لوی توپير وخت او زمان دی. په اسطوره کې وخت تاريخي نه دی، بلکې په ازلي او ابدي توګه جريان لري. يعنې اسطوره بې زمان او مکان ده. اساطيري مکان هم ازلي او مقدس بنسټ لري او ممکن په آسمانونو، ستورو، لمر، نور، سپوږمۍ يا هم د بحرونو په تل کې وي.

خو داسې هم نه ده چې حماسه او اسطوره له يو بله هېڅ اړيکه نه لري، بلکې حماسه د اسطورې يوه برخه ده. د حماسې او اسطورې اړيکه دومره ده چې د حماسې يو ډول «اساطيري حماسه» ده. اساطيري حماسه تر ټولو پخوانۍ او اصيل ډول دی او په ماقبل التاريخ پورې اړه لري، لکه د ګلګمېش سومري - بابلي حماسه چې له ميلاد مخکې پر دريمې پېړۍ پورې اړه لري. د ايلياد، اوديسې، رامايانه او مهابهاراتا ځينې برخې هم په اساطيري حماسو کې راځي، ځکه نو ويلای شو چې د حماسې او اسطورې اړيکې سره نږدې دي، يعنې په حماسه کې هم اساطيري پېښې او اتلان رول لري او اسطوره د حماسې لومړنۍ سرچينه ده.

**افسانه:** د لغت په کتابونو کې له افسانې سره د اسطورې لغت مترادف کارول شوی او په ادبي لحاظ هغه سرګذشت ګڼل شوی چې د انساني ژوند په خيالي پېښو، حيواناتو، الوتونکو، د دېب، پېرې، ښاپېريانو او اژدهاوو په څېر ډاروونکو موجوداتو پورې اړه لري. افسانه له رمز او راز، اخلاقي او ښوونيزو مقاصدو سره مل وي او تر ډېره د لوستونکو د سرګرمولو او تفريح لپاره ليکل کيږي.

**پايله:**

د پايلې په توګه ويلای شو، چې د افسانې او اسطورې ترمنځ توپير هم په دوو برخو کې را لنډولای شو: تقدس او تخيل. اسطورې تر ډېره مقدسې او ربښتينې ګڼل کيږي، خو افسانه غير مقدسه او تر يوې اندازې تخيلي وي. افسانې چې په تېره

زمانه کې نامشخص وخت لري، د لرغونو زمانو د اسطوره يي روايتونو هغه پاتې شوني دي چې د ټولنې د مادي او معنوي تحولاتو او دين له منځ ته راتګ سره يې خپل مقدس اسطوره يي رول له لاسه ورکړی او د ناسپېڅلو افسانوي روايتونو په توګه پاتې شوي دي.

افسانه د خلکو په عادي ژبه کې هغه دوديزې کيسې دي چې تاريخي او نيمه تاريخي مخينه لري؛ ځکه نو د مافوق الطبيعي او مقدسو موجوداتو اړوند اسطورې او د دې نړۍ په حقايقو پورې تړلې نيمه تاريخي او نسبتاً تخيلي افسانې سره توپير لري. افسانه په ولس کې د منل شوو اتلانو، پهلوانانو او سپېڅلو کسانو په اړه روايتونه دي چې که څه هم کرېکټرونه يې د دې نړۍ دي، خو له عادي نړۍ څخه نه دي او له عادي وګړو سره توپير لري او لرغونو قومونو د اساطيري شخصيتونو( خدايانو او آسماني ځواکونو) او افسانوی شخصيتونو ترمنځ توپير کاوه. د هغوی په اند، خدايان تقدس لري حال دا چې افسانوی اتلان يواځې محبوبيت او جذابيت لري. اسطوره «رښتيني او حقيقي سرګذشت» خو افسانه «ناسم او تصويري سرګذشت» دي.

دا خبره بايد له ياده ونه باسو چې د اسطورې او افسانې ترمنځ د توپير کرښه خورا نازکه ده او دغه اصطلاحات بايد په ډېر احتياط سره وکارول شي. اسطوره حتا هغه وخت چې د مشخصو پېښو روايت کوي هم له انساني دوران سره متفاوت اساطيري دوران ځرګندونه کوي، حال دا چې افسانه تقريباً تل له انسان سره هممهاله ده. اسطوره کولای شي په افسانه کې رسوخ وکړي خو افسانه هېڅکله نه شي کولای د اسطورې واک سيمې ته ننوځي.

**مأخذونه:**


۱. الياد ميرچا. اساطير، مناسک، نمادها. د منصور مدني ژباړه، تهران، انتشارات شابک، ۱۳۹۴.

۲. هېواد مل، سرمحقق زلمی. پښتو مصنوعي حماسې، د ماسټرۍ دورې لکچر نوټ، کابل ۱۳۸۹.

۳. جورج سميت. د ګلګمېش افسانه. د زبيح الله صاحب ارغند پښتو ژباړه، مومند خپرونديه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۹۴.

٤. رضائی،مهدی، آفرینش و مرگ در اساطیر، چاپ اول ،ص ۲۳ .

۵. وارنر،رکس، دانشنامه اساطیر جهان، برگردان: ابوالقاسم اسماعیل پور، ص۱۵ .

٦. اسماعیل پور، ابوالقاسم، اسطوره،بیان نمادین، انتشارات سروش، چاپ اول، ص۱۳ .

۷. جان هیتلز. شناخت اساطیر ایران. د ژاله آموزگار او احمد تفضلي ژباړه، تهران، انتشارات چشمه، ۱۳٦۸.

۸. ویلیام داتي. اساطیر جهان. د ابوالقاسم اسماعیل پور ژباړه. تهران، انتشارات اسطوره، ۱۳۹۲.

ځېړنوال عبدالشکور قیومي

# د استاد عبدالرؤف بېنوا د ځینو ډرامو تحلیلي څېړنه

**لنډیز:**

ډرامه د داستاني ادبیاتو د یو ځانګړي ژانر په توګه ځانګړې لیکنې چوکاټ او د جوړښت اساسي توکي لري. په دې مقاله کې د ډرامایي ارزښتونو له مخې په ټولیز ډول د استاد بېنوا پر ځینو ډرامو بحث شوی او په ترڅ کې یې د هغه د ځینو ډرامو پر بېلابېلو توکو لکه: د ډرامې ژبه، ډیالوګ، کرکټر لیکنه، پیغام او نورو موضوعاتو خبرې شوي دي.

یا په بله وینا د ډرامې ډراماتیک اصول په ښه توګه په پام کې نیول شوي دي. یعنې کرکټرونه له فزیکي، ټولنیز او اروایي بُعدونو په پایله کې په منطقي توګه رامنځته شوي دي.

استاد بېنوا د یوه مسلکي ډرامه لیکوال په توګه هغه ضوابط او معیارونه چې د یو پیغام د لېږد لپاره په ډرامه کې ضرور دي په پام کې نیولي دي. نو ځکه یې د ډرامونو پیغامونه منطقي او روښانه دي، چې لوستونکي مثبت عمل ته رابولي.

همدارنګه د دې مقالې په ترڅ کې به وښودل شي چې استاد بېنوا دغه ډرامې د ټولنې د روان بهیر د لید پر بنا په خاصه زماني مقطع کې لیکلې دي. نو په هغو کې د وخت ډېر عمده مسایل او غوښتنې ځای لري، چې د هغه وخت د عصر- څېره هم په کې له ورایه ښکارېږي چې زموږ د ټولنې د روابطو د ډېرو ژورو مفاهیمو ښکارندوی کوي.

**سریزه:**

ډرامه په ادبي ژانرونو کې هغه مهم ژانر دی، چې د تمثیل له لارې د انساني

ژوند بېلابېل خصلتونه، ربښتنولي او تضادونه په هنري او حقیقي ډول انځوروي، پورتنۍ وینا ته په کتنه بې ځایه به نه وي که د یوناني لیکوال سیسرو دا خبره راوړو چې وایي:

«دا د ژوند نقل، د دود دستور هېنداري او ربښتنولي یعنې د حقیقت عکاسۍ ته ډرامه ویل کېږي».

شکسپیر بیا وایي:

«د نړۍ مثال د سټېج په شان دی، ټول نر او ښځې یې لوبغاړي دي، دوی په دې سټیج راځي او ځي او یو شخص په خپل وخت کې ډېر کارونه کوي».

یوه بله ډېره عامه پېژندنه یې داسې ده:

«ډرامه په اصل کې د یوې ژوندۍ کیسې نوم دی چې احساسات او جذبات په کې د خوځېدو په واسطه ځرگندېږي او هره پېښه په کې په عملي ډول د سترگو په وړاندې راځي».(۱)

د ډرامې د پېژندنې لپاره پوهانو ډېرې مفصلې ځرگندونې کړې دي، چې ډېر سره ورته ټکي لري، که هغه سره پرتله کړو، نو د یوې جامع پېژندنې لپاره یو په زړه پورې انځور ترلاسه کېدای شي.

همدارنگه ډرامه په ځانگړي جذابیت او تلوسې سره پېښه رامنځته کوي او د اورېدونکو او لیدونکو عواطف راپاروي او د هغو په ذهن کې یوه مفکوره زرغونوي او مثبت عملي کار ته یې رابولي.

## د ځېړنې اهمیت او مبرمیت:

استاد عبدالروف بېنوا د علمي، ادبي او ځېړنیزو هلوځلو تر څنگ پښتو ډرامه لیکنې ته هم د خپل ادبي کار یوه برخه ځانگړې کړې وه، چې دا برخه تر ډېره ځایه د هغه د ځېړنیزو کارونو او شاعرۍ تر سیوري لاندې راغلې وه.

ښایي د ډرامې زیاتره مینه وال خبر نه وي چې استاد بېنوا په لسگونو ډرامې د ټولنې اصلاح او ویښتابه لپاره لیکلي دي. نو موخه او هدف دا دی چې د هغه د ادبي شخصیت پر همدغه اړخ خبرې وشي، د فکر او فن برخه یې روښانه شي.

## د ځېړنې موخې:

ځرنگه چې ډرامه ذوقي جنبه لري او له دې لارې هر ډول مقاله یې او سیاسي

وچ مطالب د پاملرنې وړ گرځي، له بله اړخه په ډرامو کې یو پیغام په غیر مستقیم ډول په هنري انداز وړاندې کېږي، چې اغېز یې زیات وي.

نو په دې توگه ډرامه د ټولنې د وگړو د شخصیت په جوړولو کې مهم رول لوبولی شي.

همدارنگه د اروښاد بېنوا ډراماتیک هنر د خپل لوړ معیار له امله لاړښود حیثیت لري، نو لازمه ده چې په تکنیکي او فني اړخونو یې ځوان لیکوال پوه شي.

**د څېړنې پوښتنې:**

- ډرامه څه ته وایي او د کومو موخو لپاره کارول کېږي؟
- د اروانښاد بېنوا د ډرامو اغېزمنتوب دلایل په څه کې نغښتي دي؟
- ولې د ښوونیزو او روزنیزو موضوعاتو لپاره ډرامه غوره وسیله گڼل کېږي؟
- ډرامه د ټولنې د وگړو د شخصیت په روزلو کې کوم رول لوبوي؟

**د څېړنې مېتود:**

په دې مقاله کې تر ډېره له تشرېحي او توضیحي مېتود څخه گټه اخیستل شوې ده او د ډرامې اصلي او اساسي موخه په روښانه توگه څرگنده شوې ده.

**متن:**

استاد عبدالروف بېنوا د پښتو معاصرو ادبیاتو له مخکښو څېرو څخه گڼل کېږي، هغه د دې تر څنگ چې تکړه شاعر دی، ادبي تذکره لیکونکی، څېړونکی او پیاوړی ډرامه لیکونکی هم دی.

سره له دې چې هغه د یو شاعر او څېړونکي په توگه زیات مطرح دی، خو د ډرامه لیکنې په برخه کې هم د هغه برخه پیاوړې او ځلېدونکې ده. استاد بېنوا د پښتو ډرامې د مخکښو لیکوالو له ډلې څخه دی، هغه وخت چې پښتو ډرامه په ابتدایي بڼه موجوده وه، په هماغه وخت کې هم ښې اصلاحي او انتباهي ډرامې ولیکلې چې د معیار له مخې زیاتې خبرې پرې کېدای شي چې دلته به یوازې د هغه پر ځینو ډرامو لنډه کتنه وشي.

ډرامه او ډرامه لیکنه ډېر لږ وخت کېږي چې د پښتو په معاصرو ادبیاتو کې د یو ادبي ژانر په توگه رامنځته شوې ده.

ښاغلی حبیب الله رفیع د پښتو ډرامې د تاریخ په اړه داسې لیکي:

«د پښتو لومړنۍ ډرامې د پښتو د مبارز لیکوال ارواښاد عبدالاکبر خان اکبر په قلم دي، چې د انجمن اصلاح الافاغنه له خوا په اتمانزو کې د جوړ شوي های سکول په کلیزو جلسو کې سټېج شوې دي. د اکبر لومړۍ ډرامه« درې یتیمان» ده چې په ( ۱۹۲۷م.)کال د دې سکول په کلیزه غونډه کې سټیج شوې وه چې اصلاحي بڼه یې درلوده.

ورپسې په نورو کلونو کې د ارواښاد اکبر نورې ډرامې هم سټیج شوې د دې ډرامونو نومونه ( تعلیم جدید، تهذیب جدید، او تربور) دي.

په دې پسې راز راز سیاسي، ټولنیزې، اصلاحي او انتباهي ډرامې خپرې شوې. په افغانستان کې تر دې وړاندې چې ډرامې ولیکلې شي تربیتي ډیالوګونه رامنځته شول، دا ډول لومړی ډیالوګ د مولوي صالح محمد لیکنه ده چې د پښتو دوهم درسي کتاب کې په ۱۳۳۷ هـ ق کال خپور شوی او په ۱۳۰۰ هـ ش کال د اعلیحضرت غازي امان الله خان په حضور کې د پوهنې شاګردانو د سټیج د پاسه لوبولی دی، خو دا بیا هم ډرامه نه ده او لومړنۍ ډرامه لکه نور د نوي ادب د ژانرونو په څېر پوهاند عبدالحی حبیبي په (۱۳۱۹) کال په کندهار کې (توریالۍ پښتنه) په نامه ولیکله چې د طلوع افغان د یاد شوي کال په کالګڼه کې نشر شوه (چې ځنې پوهان یې لنډه کیسه هم بولي).(۲)

د ارواښاد پوهاند عبدالحی حبیبي څخه وروسته بشپړه شوې ډرامه په ۱۳۱۷ ل کال پیاوړي لیکوال او ښه شاعر عبدالرحمان پژواک له خوا (کلیمه داره روپۍ) په نامه ولیکل شوه، دغه یوه حماسي ډرامه ده چې د خپلواکۍ د جګړې یوه ځنډه یې انځور کړې ده. د دې ډرامې پېښې واقعي دي او ژبه یې هم د دې لپاره چې اولس ته ورلنډه شي په ساده نظم ده او ځای په ځای لنډۍ هم په کې راغلي دي، په دې ډرامه کې د ډرامې د نظم کولو لرغونی سنت په ښه توګه ساتل شوی او پېښې د فن په رڼا کې انځور شوې دي.(۳)

په هر حال که چېرې خپلې اصلي موضوع ته راوګرځو او د ارواښاد بېنوا په ډرامونو عمومي کتنه وکړو، نو ویلای شو چې د نوموړي دغه ډرامې د یو ټولنیز مسوؤلیت له مخې راټوکېدلي دي او په ټولو کې انتقادي روحیه ډېره پیاوړې ده. موږ په کې د هېنداري په څېر خپل چاپېریال لیدلای شو او د هغو په ترخ کې

کولای شو چې خپل ټولنیز مناسبات په ښه توګه ترسره کړو چې همدا د ډرامو امتیازي خصوصیت هم ګڼل کېږي.

که چېرې په دې لړ کې په ځانګړې توګه د« زوړ ګنهګار» ډرامه په نظر کې ونیسو، هغه نه یوازې د ټولنې د بې عدالتیو ښه عکاسي کړې ده، بلکې د هغې د سمون لارې یې هم لټولې دي، د دې ډرامې اصلي کرکټر یو ظالم او جابر خان دی چې د غریبو او خوارو بزګرانو ځمکې یې په زور او جبر خپلې کړې دي، خپل زوی له کوره شړي او هغه هم مکتب پرېږدي او په چرسو روږدي کېږي، د پلار د میراث پر سر خپل ورور د خپلو اجیرو قاتلانو په واسطه وژني، خو په پای کې د خپل زوی او وراره د انتقامي عمل له امله په هر څه پښېمانه کېږي له ظلم او زور څخه لاس اخلي او زوی هم راجګېږي د پلار په ظلم ټوله کړې شتمنۍ په خپلو کلیوالو او غریبو بزګرانو وېشي او د هغوی د ځوانانو لپاره هم د کار زمینه برابروي.

که چېرې په دې ډرامه کې د دغو پېښو اصلي عامل په ګوته شي، نو تر هر څه د مخه ټولنیزه ناانډولي ده چې یو خوار او غریب ځوان د خپلو اقتصادي ستونزو له امله نه شي کولای چې په خپلې مینه کې بریالی شي، خو بیا برعکس د ټولنې لوړ قشر( طبقه) شپېته کلن سپین ږیری کولای شي په ډېره اسانه توګه پرته له هیڅ راز قید و بند څخه یوې شپاړس کلنې نجلۍ سره د واده جوګه کېدای شي، چې دغه موضوع د ارواښاد بېنوا په دغې ډرامه کې په ډېر هنري ډول انعکاس موندلی دی.

کوم ارزښتونه چې په دې ډرامه کې ارزول کېږي، تر هر څه د مخه د لیکوال د قلم رواني ده، چې د ولسي ژبې د لیکلو قدرت او قوت لري، په دغې ډرامه کې اصطلاحات او تکیه کلامونه په ځانګړي مهارت داسې اوډل شوي دي چې په اورېدو یې بې سواده سړی هم کولای شي چې په موضوع پوه شي او خوند ترې واخلي.

د هنري جوړښت له مخې دا ډرامه په څلورو پردو کې لیکل شوې ده. څرنګه چې دا ډرامه د سټېج لپاره لیکل شوې، نو د ډرامې په ډیکوریشن کې د سټیج امکانات په نظر کې نیول شوي دي.

دلته لازمه ده چې ووایو د لیکوال له خوا په دې ډرامه کې کردارنګاري او بیا خبرې اترې ( ډیالوګونه) په ډېر ماهرانه او هنرمندانه توګه کارول شوې دي یا په بله

وینا د ډیالوګونو جوهر دومره په ظرافت لیکل شوی دی چې اوربېدونکي او لوستونکي یې د کرکټر حقیقي ژبه بولي.

پوهاند عبدالشکور رشاد د بېنوا د ډرامو په اړه خپل نظر داسې څرګندوي:

« په دغو ډرامو کې ارواښاد مؤلف زیار کښلی دی، د افغاني ټولنې د زورورو بې لاري او د اولس ناوړه دودونه په پسته خو اغېزناکه ژبه بیان کړي، د ده په ځینو ډرامو کې د دولتي ادارو فسادونه او د وطن تر ګټو جار کاردارانو جعل کاري سازشونه او حرام خوري بې پردې سوي دي.

د فن له لحاظه د ارواښاد بېنوا د ډرامو جوړښت او رغاونه(plat) تر زیاته حده منطقي نظم لري، د پردو وېش یې هم د اولس روزمره ژوند ته نږدې، خبرې اترې (Dialogue) یې د خلکو په عامیانه ژبه دي او د ځای سره وړ دی، خو د « زوړ ګنهګار» په دوهمه پرده کې که د توري(الکن) خالو حوالدار خبرې په توري ژبه وای ښه به وای منظر نګاری یې هم بده نه ده...».(۴)

ارواښاد بېنوا د یو مسلکي ډرامه لیکونکي په توګه د خپلو کرکټرونو علمي، ټولنیز او رواني حالاتو ته متوجه و، نو ځکه یې خپلو کرکټرونو ته د هغوی د سویې سره سم ډیالوګونه برابر کړي دي، چې په طبعي ډول راغلي چې دا د یوې بریالۍ ډرامې اساسي ځانګړنه هم ګڼل کېدای شي، د بېلګې په توګه دا د پلار او زوی ډیالوګ:

آغا بادار: زه ګنهګار یم، زه اقرار کوم چې زه ستا او د خپل ورور په حق کې ګنهګار یم.

آغا جان: مګر د دې ګناه کفاره.

آغا بادار: کفاره به یې څه شی وي؟ زه هر څه ته حاضر یم.

آغا جان: دا ګناه یو شی کفاره لري چې هغه مرګ دی، مرګ.

آغا بادار: مرګ؟

آغا جان: هو مرګ.

آغا بادار: ته ما وژنې؟

آغا جان: هو زه ته وژنم.

آغا بادار: په زړه کې دې هیڅ رحم نه درګرځي؟

آغا جان: زه تا نه یم روزلی چې د رحم سره آشنا شم زه ستا مرګ څخه خوند اخلم.

آغا بادار: ولې؟ زه خو دې پلار یم؟

آغا جان: ته مې دښمن یې.

آغا بادار: زه هیڅ د پلار والي حق پر ته نه لرم؟

آغا جان: لکه ما چې د زوی والي حق پر تا درلود! (۵)

په دې ډرامه کې پېښې په طبیعي ډول پر مخ ځي یا په بله وینا په دې ډرامه کې د کرکټرونو شخصیت، اروایي حالت او د کرکټرونو ترمنځ تناسب د یو رښتیني واقعیت په توګه راځلېږي.

د دې ډرامې د نورو هدفونو په لړ کې یو هم تفریح ده چې باید د اورېدونکو خیال وساتل شي، په دې ډرامه کې ډېر داسې طنزي خبرې شته چې لوستونکي یې پر بنسټ یوه خوله خندا کولای شي.

که چېرې د دې ډرامې پیغام ته ځیر شو، نو داسې معلومېږي چې لیکوال د یو ځانګړي هدف او موخې لپاره دغه ډرامه لیکلې او هغه دا چې ( آغا بادار) غوندې حریص انسان ته د عبرت درس ورکړي او ورته ووایي چې د پیسو بې ځایه هوس دغسې ناوړه پایله لري.

همدارنګه د ( کلو رنځور) ډرامه چې وېښونکې سیاسي ډرامه ده، په ټولنه کې د ویښو ځوانانو دنده په انقلابي ډول ښودل شوې ده. په( کلو رنځور) کې د استاد سیاسي او ټولنیز نظریات موږ ته په روښانه توګه راڅرګندېږي او کومې نیمګړتیاوې یې چې د پښتنو د ژوند په اړه یې لیدلې او محسوس کړې هغه یې د ډرامې د کرکټرونو په خبرو کې په ډېر هنري انداز راڅرګند کړې دي. په حقیقت کې د کلو رنځور ډرامه د ځانګړو ټولنیزو او سیاسي هدفونو په موخه کښل شوې ده. د بېلګې په توکه د ډرامې دغې برخې ته پاملرنه کوو: « پښتون» رنځور پروت او له رنګه یې معلومېږي چې د کلو رنځور دی، مړ لا نه دی، خو د ده او مرګ ترمنځ هم څه پاتې نه دي، کله کله سترګې روڼې کړي، مګر ژر د بې هوښۍ چپه پرې راشي....

سرته یې«خیرات خور» پښو ته دمګر، یو اړخ ته یې« خان» بل اړخ ته یې «ملک»

ناست دي، څلور سره د رنځور د رنځ په شاوخوا کې خبرې کوي. خيرات خور: خدای دې پرې اسانه کړي.... د رنځور حال ښه نه دی!

خان: ستاسې دعا له برکته به....

دمګر: د( خان خبره پرېکوي) ما خو ډېر پوخ دم پرې چو( چوف) کړی دی.

خيرات خور: سره له دې هم بايد ډېر خيراتونه وشي...

دمګر: صدقه رد بلا...

خان: ښه دې وويل... مګر؟

خيرات خور: مګر مګر نه غواړي، تاسې خانان همېش د خير دروازه تړئ!

ملک: تاسې ډېر ښه ووایاست، خو شايد د خان صاحب فکر به دا وي چې رنځور ته څه ورپاته نه دي.

لنډه دا چې ورو ورو د رنځور سترګې هم تړي، رنځور لږ په هوښ راځي دا صحنه بيا داسې انځوروي:

رنځور: څه کوئ؟ څه رانه غواړئ.

تاسې خو زما هر څه راڅخه غصب کړل، زما د باغ مېوې ، د مځکې غلې او نور نعمتونه تاسې وخوړل، زه مو په وچه ډوډۍ وغولولم... وينې مو راوچې کړې.... بې واکه شوم، په رنځ اخته شوم... بيا لا هم په دې حال کې رانه وېرېږئ، لاسونه مو را وتړل اوس يواځې دا کتل مو هم راباندې پيرزو نه دي؟ ولې ظالمانو!؟

خيرات خور: راشئ توبه! پرتې او چټيات يې شروع کړه... ما ويل چې خيرات وکړئ خيرات.... تاسې ونه منله، الله فضل!

رنځور: چټيات نه دي، رښتيا وايم... تاسې د خپلې ګېډې لپاره زما وينې راوچې کړې، زه مو سترې ستومانه کړم، کلونه کلونه تېر شول چې تاسې زما د لاس ګټې رانه اخلئ، جامې مې رانه کاږئ، هر څه خورئ، خو زما د صحت غم نه خورئ...، اوس مو هم د خپلې ګېډې لپاره په بستر اچولی يم. کوم وخت چې زما هر څه خلاص شي، بيا به نو ما پرېږدئ او تاسې به (دلته خيرات خور په خوله لاس ږدي او دمګر سر ښوروي.»(٦)

د دې وينښوونکې سياسي ډرامې په پايله کې څو وينښ زلميان راڅرګندېږي، چې د هر يوه په خوله کې وينښوونکې ترانه هم شته چې ځای ځای خپل هيبتناک

غړونه پورته کوي، چې په دې توګه رنځور د کلو له رنځه راژغوري او په دغې وینبووونکې ترانه یې بدرګه کوي:

پاڅه دلې پروت یې لکه مړی بې ژوندونه
په دروند خوب ویده پښتونه!
وخت د ویدېدو نه دی ویښ کړه ویښ کړه خپل رګونه
په دروند خوب ویده پښتونه
++++
نه ګورې و ځان ته چې ته څه یې څه دې کار دی
خپل نوم دربانديې بار دی
تر څو به ژوندی پایی د نیکو په صفتونه
په دروند خوب ویده پښتونه(۷)

د یادونې وړ ده چې د اروابناد بېنوا دا ډرامه د ټولنې د روان بهیر د لید پر بنسټ په ځانګړې زماني مقطع کې راټوکېدلې ده. نو په دې توګه د تخیل محصول نه ده، بلکې په ټولنه کې یې ماخذ موجود دی، نو ځکه هغه پېښې چې په ډرامه کې رازېږي په ډېر طبیعي او منطقي توګه پرمخ ځي.

ډیالوګونه یې اغېزناک دي، ژبه یې روانه ده، چې کرکټرونه یې په اسانۍ سره خپل خان په کې موندلی شي، د لیکوال کمال په دې کې دی چې سیاسي وچ کلک مفاهیم په داسې هنري انداز بیانوي چې لوستونکي تر پایه له ځانه سره بوخت ساتي.

دلته د یادونې وړ ده چې د اروابناد بېنوا د ټولو ډرامو په اړه خبرې کول د یوې مقالې له حوصلې څخه وتلی کار دی، خو دومره باید ووایو چې د نوموړي ټولې پښتو او دري ډرامې او نمایشنامې لکه: آشیانه عقاب، زرنګ، حکومت بیدار است، طوق لعنت، د وطن آواز، زه وخت نه لرم، او نورې... د ښو ډرامو په کتار کې راتلای شي او ډېرې خبرې پرې کېدای شي.

په ټولیز ډول د هغه په ډرامونو کې د تربګنۍ، ناوړه دودونو او رواجونو، رشوت او دولتي دستګاه کې د(بیروکراسۍ) پر مسایلو باندې په جدي توګه انتقاد شوی

دی، چې په ټولو دغو ډرامو کې خپل لوستونکي او اورېدونکي په ښکلو پیغامونو بدرگه کوي.

**پایله:**

په ټولیز ډول د استاد بېنوا ډرامې د پښتو داستاني ادبیاتو په تاریخي او انتقادي څېړنه کې د ځانګړي ارزښت لرونکې دي. د هغه ډرامې د افغاني او په ځانګړي ډول د پښتني ماحول او چاپېریال د حقیقي پېښو انعکاس دی چې د خلکو د ناوړه دودونو د اصلاح او سمون لپاره یې لیکلي دي.

د اروابناد بېنوا د ډرامو سوژه او منځپانگه زیاتره د هغه وخت د خانانو، ملکانو پر نارواوو، د تربگنۍ پر ناوړه دودونو، رشوت او نورو ټولنیزو مسایلو باندې راڅرخي، چې ټولې دغه پېښې سر تر پایه منطقي تسلسل مومي، اضافي پېښې په کې ځای نه مومي.

د فني ارزښت له مخې د همدغو ډرامونو د کرکټرونو ترمنځ د ډیالوگ پر تناسب، د پېښو پر منطقي تسلسل، د دیالوگونو پر ښکلاییز اړخ او په ټولیزه توگه د دغو ډرامونو په اصلي هدف(پیغام) باندې مفصل بحث شوی دی، چې پیغام باید منطقي او حقیقي وي، څکه خیالي او له واقعیته لېرې پیغام د منلو وړ نه دی، څکه مجهول پیغام د مثبت اغېز پر ځای منفي اغېز ښندي چې له نېکمرغه د استاد بېنوا د ډرامو ټول پیغامونه د لوستونکو او اورېدونکو په ذهن کې یوه ښکلې او مثبته ایډیا رامنځته کوي او عملي کړنې ته یې رابولي.

**مأخذونه:**


۱- هاشمي، سید محی الدین، د نثري ادب ډولونه، د افغانستان د علومو اکاډمي، همایون مطبعه، ۱۳۹۴ ل کال، ۱۳٦-۱۳۷ مخونه.

۲- رفیع، حبیب الله، د پښتو نننی ادب، د افغان یاد( غلام محی الدین افغان د شپېتم تلین په ویاړ) د مقالو ټولگه ، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ۱۳٦۰ ل کال، ۸۵-۸٦ مخونه.

۳- زمان الدین، پښتو ډرامې، کابل مجله،(٦-۷) گڼه، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، ۱۳٦۲ ل کال، ۸ مخ.

۴- رشاد، عبدالشکور، زوړ گنهگار، (د استاد بېنوا) د ډرامونو ټولگه، د

هنرمندانو اتحادیه، د آریانا مطبعه، ۱۳٦۷ل کال د سرېزې ٦ مخ.

۵- هماغه اثر، ۱۸-۱۹ مخونه.

٦- هاشمي، سید محی الدین، د نثري ادب ډولونه، ۱۸۴-۱۸٦ مخونه.

۷- هماغه اثر، ۱۸۷-۱۸۸ مخونه.

سیداصغر هاشمي

# په څېړنې کې د خاکې ارزښت

**لنډیز:**

په دغې څېړنېزه مقاله کې عامو او خاصو لیکوالو ته د خاکې جوړولو لارې چارې او په لیکنه کې د خاکې ارزښت ښودل شوی، دا چې د هرې لیکنې لوی سرلیک د منځپانگې سره، هر څپرکی د بل څپرکي سره، هر لوی سرلیک له بل لوی سرلیک سره، هر کوچنی سرلیک له بل کوچني سرلیک سره او په همدې ډول د زنځیر په شکل باید لیکنه له پیله تر پایه پورې یو له بل سره معنوي اړیکه ولري، په دغه مقاله کې ښودل شوې. په خاکه کې د څپرکیو ویشنه، د څپرکیو تنظیم او همدارنگه د ټولې موضوع په منځپانگیزې اړیکې خبرې شوې دي. هغه کسان چې غواړي علمي کارونه وکړي کولای شي له دې مقالې گټه واخلي او د خاکې جوړولو لارو چارو معلومات تر لاسه کړي.

**سریزه:**

د دغې لیکنې هدف لیکوالو ته په عملي ډول د خاکې د لارو چارو ښودل دي، د لیکنې ارزښت په دې کې دی چې ټول عام جوړښتونه(مقاله، رساله او کتاب) او خاص جوړښتونه(مونوگراف، تیزس او ډیزرټیشن) لیکنو لپاره د یوې علمي خاکې جوړول بنسټیزه مسله ده نو د لیکنې ارزښت له همدې څخه څرگندیږي.

خاکه د څېړونکي لپاره د کار په وخت کې داسې حیثت لري، لکه انجینر چې کله یو تعمیر جوړوي او د نقشي مطابق خپل کارونه پر مخ بوځي. دا چې انجینر بې نقشي خپل کار سم پر مخ وړلی نه شي، دغه شان په څېړنه کې که خاکه مخکې

جوړه شوې نه وي، د تحقیق کار به له ستونزو سره مخامخ شي.

## د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت:

هره څېړنیزه لیکنه باید ارزښت او اهمیت ولري، زما د لیکنې اهمیت په دې کې دی، چې څېړونکیو ته مخکې له څېړنې د خاکې جوړولو لارې چارې ښیي او دا اهمیت بیانوي، چې مخکې له څېړنې خاکه ترتیبول د څېړونکیو سره په کارونو کې څومره مرسته کوي او ده ته د لارښوونې سبب گرځي.

د لیکنې مبرمیت(نویوالی) په دې کې دی، چې د څېړنې په اړه مقالې کمې لیکل شوې دي او په همدې ډول په خاکې جوړولو باندې هم مقالې کمې لیکل شوې دي او ما کوښښ کړی، چې په نوي فکر او نظر خپله لیکنه په داسې ډول وړاندې کړم چې لیکوال ته یو عملي ښېلگه وي.

په دغه مقاله کې د لیکوالو نظریات او افکار د خاکې په اړه اخیستل شوې دي او د هر یوه په نظر خبرې شوې دي. محقق ته د تحقیق پر نورو مهموکارونو سربېره د څېړنیزې موضوع لپاره خاکه جوړول ضروري دي.

## د څېړنې موخې:

د دې لیکنې اصلي موخه څېړونکیو ته د خاکې جوړونې عملي لارې چارې ښودل دي. دا چې څېړونکی مخکې له څېړنې خاکه جوړوي اهمیت یې ښودل شوی دی، دا چې د محقق علمي او اکاډمیکه څېړنه ښه پر مخ لاړه شي او د یو چراغ په ډول خاکه ورسره مرسته وکړي، یادونه یې شوې ده.

## د څېړنې پوښتنې:

- خاکه څه ته وایي؟
- په څېړنه کې خاکه څه اهمیت لري؟
- خاکه باید کله او څنگه جوړه شي؟
- په خاکه کې د څپرکیو معنوي اړیکه څومره اهمیت لري؟
- د څېړنې لوی سرلیک د خاکې سره، هر څپرکی د بل څپرکي سره، د هر څپرکي لوی سرلیک د نورو څپرکیو د لویو سرلیکونو سره کوم ډول تړاو ولري؟

## د څېړنې روش

د کتابتوني څېړنېز ډول او تشریحي او تحلیلي مېتوده گټه اخیستل شوې ده.

## د څېړنې اصلي متن:

خاکه د اردو ژبې لغت دی، په عربي کې(خطة) او په انګريزي کې(Synopsis) ورته وايي، يعنې د کار هغه پلان، لنډيز، کرښلاره يا اومه نقشه چې د کتاب، رسالې، مونوګراف، تېزس او ډيزرټيشن څخه د مخه جوړېږي، له خاکې څخه عبارت دی.

عبدالحميد عباسي وايي:(د څېړنې لپاره چې کومه ټاکلې موضوع پر څپرکو، سرليکونو او بحثونو ويشل کېږي، له خاکې (Outline) په نوم يادېږي.

يو بل عالم وايي: (تحقيقي خاکه په عامه توګه د آر تحقيق يوه لنډه پېژندنه ده.) په ځينو ځايونو کې د خاکې معنا له پلان سره برابره ده، يو بل نظر داسې دی: "خاکه د بېلا بېلو تصوراتو، وېشلو، اوډلو او يو له بله سره ترلو نوم دی، پر څېړنيزو کالبونو سربېره، د ژوند په هره څانګه کې ترکار د مخه چې کوم پلان جوړېږي هغې ته خاکه وايي".(۱)

خاکه د څېړونکي د څېړنې لپاره ډېره مهمه ده او محقق کولی شي چې دخاکې په مرسته په مستقيم ډول د خپل کار پلان رهبري کړي، دا يو اساسي او بنيادي پړاو دی، دې مرحلې ته د بحث او پلټنې ساختماني جوړښت هم ويل کېږي.

د خاکې په باب د اردو ژبې مفهوم داسې دی:

په حقيقت کې خاکه د تعمير، کتاب، مقالې(د څېړنې عام او خاص جوړښتونه) لومړنی يا ابتدايي جوړه شوې نقشه ده چې د عمارت په جوړولو او د څېړنې په ښه پرمخ وړلو کې مرسته کوي.

ای جي رات د خاکې د مفهوم په اړه داسې وايي:

خاکه د ليکلو يو ساده او منظم پلان دی، چې د نظرياتو د وېش او منظمولو لپاره په کارېږي.د خاکې اساسي دنده د نظرياتو ترمنځ د روابطو ښودل دي.(۲)

يو انجينر د بېلا بېلو تعميرونو د ابادولو لپاره مختلفې نقشې جوړوي، د مسجد لپاره يو ډول نقشه، د کور لپاره جدا نقشه او د بېلا بېلو اهدافو لپاره ډول ډول نقشې تياروي، دا نقشې د تعميراتو له ابادۍ نه مخکې ضروري او د آبادۍ اساس او بنياد ګڼل کېږي، دغه ډول د بېلابېلو څېړنو او بېلا بېلو تخصصاتو لپاره مختلفې خاکې جوړېږي.لکه څنګه چې د تعمير دجوړولو لپاره نقشه ضروري ده، په همدې ډول د

څېړنې او پلټنې لپاره د خاکې جوړول یو اساسي کار دی.

د خاکې په جوړولو کې څېړونکی له ډېر قوت، مهارت، فکر، سوچ او دقت سره د کاغذ پر مخ جوړوي، په خاص ډول په اړونده موضوع او په عام ډول د نورو لیکوالو او محققینو خاکې باید مطالعه او له نظره تېرې کړي، ځکه چې د نورو لیکوالو د خاکو په مطالعې سره د محقق خاکه نوې او د نورو محققینو له خاکو جوړولو، طرز او طریقې نه یې مثبته استفاده کړې وي.(۳)

په تحقیق کا فن نومي اثر کې راغلي دي:"د کور له جوړولو څخه مخکې د نقشې جوړول مهم اصل دی، کله چې د انجینر له خوا نقشه جوړه او پرنټ شي، د تحقیق خاکه همدا معنا لري."، یعنې له لیکلو مخکې د کاغذ پر مخ خاکه څېړنه په مستقیمه لاره برابروي او له بې لارې یې ساتي.

له مجسمه جوړوونکي سره د مجسمې په جوړولو کې ذهني او فکري طرحه وي او د دې امکان هم شته چې په کاغذ یې رسم کړي چې دې ته د بت خاکه ویلای شو. که چېرې یوه کورنۍ له یوه کور څخه بل کور ته کډه وکړي نو مجبور دي چې د کور سامان له سره به خپل خپل ځای کې کېږدي، کوچونه، تلویزیون، الماری، میزونه او داسې نور سامان په داسې مناسبو ځایونو کې ږدي چې ښه ښکاره شي، له کور د خاوند سره د سامان په ایښودلو کې چې کومه طرحه وي دا د کور د تنظیم خاکه ده. (۴)

یوه ډېره ښه خاکه هغه ده چې د ژورې مطالعې او له فکر کولو وروسته رامنځ ته شي. په خاکه کې د سرلیکونو ځای د ضرورت پر اساس بدلولی شو او یا ورته تغییر ورکولای شو، د خاکې ګټه دا ده، که چېرې محقق ته کوم نوی عنوان ذهن ته راشي نو کولای شي چې په کې ځای پرځای یې کړي.

د اکثرو علمي رتبو او تحصیلي اسنادو د لاس ته راوړلو لپاره اثار لیکل کېږي چې خاکې ورته مخکې له مخکې جوړېږي او مربوطه ادارو ته ورکول کېږي چې د دې کار یوه نیمګړتیا دا ده چې خاکې په ډېره عجله جوړې شوې وي او محقق د خاکې په اړه زیاته مطالعه کړې نه وي. د خاکې جوړولو لپاره له ټولو مهمه مسله د موضوع په اړه زیاته مطالعه ده.

د ورځني ښه او کامیاب ژوند تیرولو لپاره یو کامیاب پلان ته ضرورت وي. باید

د ژوند لپاره یوه طرحه ولرو او د خوشحاله ژوند لپاره د اینده په فکر کې واوسو او له خپل تیر ژوند نه عبرت واخلو او د حال په قدر پوه واوسو.

الله تعالی فرمایلي دي:(**وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ**) سورة الحشر:۱۸

ژباړه:هر څوک دې دا وګوري چې د سبا لپاره یې څه کړي دي.

د قرآن کریم د پورته ایات مفهوم ثابتوي چې انسانان باید د دنیا او عقبا د ژوند ښه تېرولو لپاره له ځانه سره پلان ولري.

## په خاکه کې د څپرکو وېشنه:

اکثره علمي او تحقیقاتي لیکنې د دې لپاره په برخو او څپرکو ویشل کېږي چې د کار ساحه او برخې یې څرګندې وي. که چېرې لیکوال ته کوم نوی سرلیک مخې ته راشي نو کولای شي چې په خپل ځای کې یې ذکر کړي او همدارنګه کولای شي چې که کوم سرلیک یې خوښ نه وي ختم یې کړي.

د موضوع انتخاب او همدغې موضوع ته خاکه جوړول او په برخو برخو ویشل یې د نیم کار پوره کول دي. د خاکې څپرکي باید معلوم وي، دا چې اول څپرکی، دوهم څپرکی او په همدې ترتیب د څپرکو راوړل په خپل ځای د څېړنې خاصه تجربه غواړي. د څېړنې د اصلي موضوع، له څپرکو سره معنوي رابطه او د سر لیک له اصلي متن سره رابطه ضروري ده، چې د موضوع د عنوان په لوستلو د څېړنې اصلي روح سره لوستونکی بلد شي، دغه شان د څپرکو تر منځ معنوي رابطه هم مهمه ده، د هر څپرکي لوی سر لیک له عنوانونو سره د معنا له مخې رابطه ولري.

د خاکې ترتیب او جوړول، د څپرکیو په خپل ځای راوړل او د عنوانونو ترتیب او تنظیم په څېړنه کې مهم دی.

د یوې څېړنې د موضوع څپرکي، لوی او واړه سرلیکونه، ترتیب او تنظیم او اشارې له دې امله اړین دي چې څېړونکی د هغې له مخې د منابعو په لټه کې کېږي، عبارتونه لټوي او اقتباسونه نقل کوي، له دغسې ترتیب او تنظیم څخه پرته د اړوندو عباراتو تلاش زښت زیات ستونزمن دی.

په خاکه کې د ځای د موقعیت له مخې هر فصل(څپرکی) پرخپل ځای راغلی وي او په هرڅپرکي کې هر لوی او وړوکی سرلیک په خپلو ځایونو کې راغلي وي.

**د ځپرکو اوډون او تنظیم:**

د خاکې له مهمو ځانګړنو څخه یوه برخه د ځپرکو ترتیب دی. محقق باید په دې پوه شي چې لومړی ځپرکی کوم او همدارنګه په ترتیب سره تر پایه پورې ځپرکي یو پر بل پسې څنګه راوړي.دی باید دا علمي صلاحیت ولري چې په هر ځپرکي کې کوم سرلیکونه راوړي. هرځپرکی له بل ځپرکي سره معناییزه رابطه ولري او د ځپرکو تر پایه پورې دغه رابطه موجوده وي.

**د لویو سرلیکونو علمي اړیکه:**

که خاکه ځپرکي ولري او هر ځپرکی بېلا بېل لوی معنا لرونکي سرلیکونه ولري نوباید د ځپرکو پر معنوي اړیکو سربیره هر لوی سرلیک له بل لوی سرلیک سره معناییزه رابطه ولري.که چېرې محقق(د حمزه بابا په شعرونوکې د معنا له مخې د عرفاني شعرونو شننه) ترسرلیک لاندې موضوع تحقیق ته غوره کړي نودی دې د حمزه په شعرونو کې یوازې او یوازې پر همدغې برخې کار وکړي او همدارنګه دې په موضوع کې د حمزه بابا د شعرونو د ټاکل شوې موضوع اړوند سرلیکونه وي او د دې موضوع پر خوا او شا وګرځي او له موضوع نه باید خارج نه شي. هر سرلیک له عنوان سره علمي رابطه ولري.

**د کوچنیو سرلیکونو اړیکه:**

په خاکه کې پر ځپرکو سربیره د لویو سرلیکونو تر منځ محتواییزه رابطه هم اړینه ده او همدارنګه د کوچنیو سرلیکنو اړیکه له لویو سرلیکونو سره او په همدې توګه له کوچنیو سرلیکونو سره د لویو سرلیکونو رابطه هم اړینه ده.

**له موضوع سره د لوی سرلیک اړیکه:**

د څېړنې عنوان باید د ټولې څېړنې استازیتوب وکړي او د منځپانګې له مخې له ټول متن سره معنوي تړاو ولري.

د سرلیک الفاظ بایدکم وي او که د عنوان د الفاظو په کمولو د عنوان معنا ته زیان رسېږي، نو ښه داده چې الفاظ کم نه شي د عنوان له الفاظوڅخه د موضوع محتوا څرګندیدای شي. د څېړنیزو موضوعاتو سرلیکونه د تخلیقي موضوعاتو له سرلیکوو سره بشپړ توپیر لري. ځینې داسې شعري ټولګې او یا منثوري مجموعې شته دي چې د سرلیک په لوستلو یې نه شو څرګندولی چې شعري ټولګه ده او که

نثري ټولګه. په نثري ټولګو کې داسې نمونې هم شته، چې له سرليکونو يې دا نه شو ثابتولی چې ناول، رومان او که لنډه کيسه ده، خو د تخليقاتو برعکس د تحقيقاتو سرليکونو ښکاره، واضح، څرګند او له اصلي متن سره يې معنوي اړيکه وي. د څومره والي په لحاظ د څېړنې کالبونو ته بايد بېلا بېل سرليکونه ورکړل شي.

د (مقالې، رسالې، کتاب، مونوګراف، تيزس او ډيزرټېشن) لويوالی او پراخوالی ځينې وخت سره توپير لري نو له همدې امله د سرليکونو په انتخاب کې دقت په کار دی.

د تحقيقي مقالې لپاره محدود سرليک انتخابول سم کار دی، خو د ډيزرټېشن لپاره لوی او پراخ سرليک غوره کول مهمه خبره ده.

د ښه څېړونکي د څېړنې سر ليک بايد د اصلي متن نماينده ګي وکړي او د سرليک په لوستلو کې د اثر تصوير مخې ته راشي.

ډېر داسې کتابونه شته چې لوی سرليک له منځپانګې سره معنوي تړاو نه لري، د شير افضل خان بريکوټی(د پښتو شعر و ادب تاريخ) تر سرليک لاندې اثر ليکلی، د دې اثر سرليک له منځپانګې سره علمي رابطه نه لري. سرليک يې پراخ او لوی دی او د کميت په لحاظ د پښتو ادبياتو(لرغونې، دوهمه او دريمه) دورې د شعر او ادب پر تاريخ بحث ولري چې د لرغونې دورې او دوهمې دورې ادبياتو بحث په کې په نشت حساب دی، څېړونکی بايد هېڅ کله د اثر لپاره داسې موضوع سرليک ونه ټاکي چې عنوان دې نيمګړتياوې ولري.څېړنه له خپل عنوان سره مطابق او عنوان له څېړنې سره موافق وي، هسې نه چې د موضوع عنوان يو شی او څېړنه له بل شي نه حکايت وکړي.

منهج البحث کې د عنوان په اړه داسې راغلي دي:

د څېړنيزې موضوع سرليک دې د هر بل ډول اثر د سرليک په څېر په دقت وټاکل شي، يو ښه سرليک د کار ارزښت لوړوي، ډېر لوستونکي او علاقمندان مطالعې ته جلبوي، ښايي تر اوسه پورې مو ډېر په زړه پورې عنوانونه ليدلي وي، که څه هم د ټول کتاب د مطالعې لپاره مو وخت نه درلوده نو شايد چې د کتاب سرليک ستاسې په ذهن کې ژوندی پاتی شي او د هغې د مطالعې ذوق مو ژوندی پاتې شي.کله چې عنوانونه په مسلکي مهارت سره وټاکل شي، نو هغه څوک چې د

کتاب د لوستلو سره ډېره کمه علاقه لري، هغه هم دې ته متوجې کوي چې کتاب ولولي نو په څېړنه کې د لوی سرلیک اړیکې له خاکې سره اړینې دي او همدارنگه موضوع د خاکې سره علمي تړاو ولري.(۵)

په پای کې د دې خبرې یادونه اړینه بولم:د موضوع خاکه باید له لوی سرلیک، له څپرکو، له لویو سرلیکونو، له کوچنیو سرلیکونو، هر څپرکی له بل څپرکي سره، لوی سرلیک له ټولو لویو سرلیکونو سره، هر لوی سرلیک له ټولو کوچنیو سرلیکونو، کوچني سرلیکونه یو د بل سره ټول زنځیري معنوي رابطه ولري.

د تحقیق فزیکي او معنوي جوړښت پلي کول په څېړنه کې خپل ارزښت لري، ځېنې لیکوال په شکلي خوا او ځېنې بیا په محتوا تاکید کوي.

خاکه د څېړنې په پیل کې د دې لپاره جوړېږي چې په تحقیق کې له لیکوال سره په عملي کار کې مرسته کوي او دې ته د څراغ حیثیت لري.

د څېړنې په کارونو کې خاکه زیات ارزښت لري، د څېړنې څپرکي، لویې او وړې برخې او همدارنگه اصلي او فرعي سرلیکونه په کې موجود وي.

په تحقیق کې مخکې له مخکې مواد او مراجع پیدا کول، د هغو لیکلړونو کتل او د نوو عنوانونو د پیدا کولو په اړه کوښښ کول د دې لامل کېږي چې محقق د تحقیق لپاره نوې او په زړه پورې خاکه جوړه کړي.

د ښې خاکې لپاره نوي سرلیکونه مهم دي او نوې فرضیې په کې اثبات ته رسېدلي وي، محقق مجبور دی د ځانگړې موضوع په اړه اثار مطالعه او موادو ته په انتقادي او د شک په نظر وگوري چې دی د نوو سرلیکونو د پیدا کېدو په کار کې کامیاب شي.

د ښې خاکې په جوړولو کې د انتخاب شوې موضوع په اړه لیکل شوو اثارو خاکو مطالعه ضروري کار دی.

۱. د لیکلړ د څپرکو، لویو او وړو سرلیکونو تر منځ منطقي تسلسل مهم دی، د هر فصل د لویو او وړو سرلیکونو لپاره دې په زړه پورې او جذاب عنوانونه غوره شي. ښه به دا وي چې هرڅپرکی او یا د موضوع هره لویه برخه په ځانگړي مخ کې پیل شي.

۲. په لیکلړ کې د اصلي موضوع لوی عنوان د فصلونو له عنوانونو سره معنایي

اړیکه ولري، له ټولو لویو او وړو سرلیکونو سره هم معنوي تړاو ولري.

د هر څپرکـي منځپانگـه د بـل څپرکـي لـه منځپـانگې سره، د هرڅپرکـي لـوی عنوان له خپلو لویو او وړو سرلیکونو سره، ټول څپرکي له ټولـو سرلیکونـو سره او ټـول سرلیکونه له ټولو څپرکیو سره د زنځیر په شکل په معناکې سره رابطه ولري.

۳. د هـر څپرکـي لـوی عنـوان لـه محتـوا سره او هـر لـوی او وړوکـی سرلیـک د موضوع له منځپانگې سره متناسبه او علمي اړیکه ولري.

۴. د لیکلـړ پـه لیـدلو او لوسـتلو سره لوسـتونکی د اصـلي موضـوع محتـوا انځورکړي او په دې پوه شي چې موضوع د څه شي په اړه لیکل شوې ده.

**پایله:**

خاکه د څېړنې هغه نقشه ده چې د تحقیق علمي ماڼۍ پـرې لـه پیلـه تـر پایـه ابادېږي. هره څېړنیزه موضوع خاکې ته ضرورت لري او خاکه علمي کار تـه لارښـوونه کوي.

خاکه باید د څېړنې د کار له پیله مخکې جوړه شي او قدم په قـدم عمـلي شي. ښه خاکه د ښې لیکنې نمایندگي کولای شي، ځکه چې د خاکې هر څپرکـی، لـوی او کوچنی سرلیک په اصلي موضوع کې موجود وي او د هر عنـوان تحلیـل او تفسـیر څېړنې لاری او لوری ورکوي.

په دې مقاله کې د خاکې پر اهمیت بحـث شـوی او لیکوالـو تـه وړانـدیز شـوې چې د څېړنې لپاره علمي خاکه جوړه کړي چې علمي کار سم پر مخ ولاړ شي.

**مأخذونه:**


۱.قرآن کریم

۲.عبدالمالک همت: د مقـالې لیکلـو اصـول او د مطـالعې او څېړنـې لارښـود، دوهم چاپ، صحاف نشراتي موسسه، ۱۳۸۸ ل کال، ۴۴ـ ۴۵ مخونه

۳.پروفیسرعبدالحمید خان عباسی:اصول تحقیق، دوهـم چـاپ، نیشـنل بـوک فاونډیشن، اسلام اباد، ۲۰۱۵ م کال، ۹۹ مخ.

۴. دکتور فخرالدین قانت: د علمـي څېړنـو او پلټنـو تگـلاره، پیښـور، ۱۳۸۵ ل کال، ۳۱ مخ.

۵.پروفیسـرعبدالحمید خان عباسی:اصول تحقیق،دوهم چـاپ، نیشـنل بـوک

فاونډېشن، اسلام اباد، ۲۰۱۵ م کال، ۱۰۰ مخ.

٦.پوهنیار سیداصغر هاشمي: د څېړنې بنسټونه، یار خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۴ ل کال، ۱۵۲مخ.

۷.پوهنیار سیداصغر هاشمي:د ګل پاچا الفت د شعرونو منځپانګېزه او جوليزه څېړنه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۴ ل کال، د ـ ط مخونه.

۸.پوهنیار سیداصغر هاشمي:د شعر تیوري، هاشمي خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۹۵ ل کال، الف ـ ب مخونه.

څېړنیار فضل الرحمن علیزی

# د غزني د اندړو د سیمې کنځاکی

**لنډیز:**

کلتور یا فرهنګ د ملتونو د تهذیب او تمدن نښانه ده؛ د ملتونو د کلتور سطحه هغه وخت موږ ته ښه څرګندیږي، چې د هغو خلکو په فولکلور ښه وپوهېږو او د هغو له فولکلور سره ښه بلدتیا ولرو. کلتور یا فرهنګ د انسان د ارتقایي ژوند او عمل یوه مجموعي پانګه ده، چې د انساني ژوند له پیله تر اوسه پورې ورو ورو را غونډه او خوندي شوې ده.

دا چې د واده ( ښادی) بدلې د پښتني اولس د فولکلور هغه برخه ده، چې له لنډیو او کاکړیو را ورسته خوندور ژانر ګڼل کېږي، زیاتره طنزي او خندوونکې بڼه لري، چې په ډېری پښتني سیمو کې ویل کېږي. په دې لیکنه کې د غزني ولایت د اندړو د سیمې د واده ځینې بدلې را ټولې شوې او تحلیل شوي، چې د همدې سیمې اوسېدونکي ورته کنځاکی او یا هم پیغورونه یا طعنې وایي.

**سریزه:**

د نړۍ هر اولس او هره ټولنه ځانګړی فرهنګ او کلتور، دود او دستور لري، چې د دوی د عقایدو،کړو وړو، دود او دستور ښکارندویي کوي. زموږ ګران هېواد افغانستان لرغونی تاریخ لري او د تاریخ په هره دوره کې یې د وګړو لمن د افغاني فولکلور له ګلو ډکه ساتلې او خپل راتلونکي نسل ته یې د امانت په ډول سپارلې ده؛ خو دا باید له یاده ونه وېستل شي، چې د زمانې په تېرېدو سره ځینې بدلونونه

په کې راغلي دي او لا په کې راځي، البته دا تغيير او بدلون د يوې ټولنې د مادي او معنوي ګټو په له امله رامنځ ته کېږي.

داچې د افغانستان لرغونی ملت ځانته بېل سيمه ييز فولکور لري، د يوې سيمې دود او دستور د يوې بلې سيمې له دود او دستور څخه په ځينو مواردو کې توپير لري، نو له همدې امله د پښتني فولکلور لمنه ډېره پراخه ده او د هرې سيمې په رواجونو او دودونو باندې کتابونو، کتابونه خبرې کېدای شي. داچې د غزني ولايت د پښتني سيمو په زياترو رواجونو او دونونو باندې خبرې نه دي شوي او ورځ تر بلې د بدلون او تغيير په حال کې دي، نو ځکه مې وپتېيله، چې د همدې ولايت د اندړ د سيمې د واده يا ښادۍ ځانګړې بدلې چې د هغې سيمې اوسېدونکي ورته کنځاکۍ يا پيغورونه وايي، را ټولې او په دې مقاله کې يې خوندي کړم.

البته د يادونې وړ ده، چې د اندړو ولسوالۍ د غزني ولايت له مرکز څخه ۲۵ کيلو متره د جنوب لوري ته پرته ولسوالۍ ده؛ (۲۸۲ ) ، تقريباً په سلو کې(۹۹) په کې پښتانه اوسېږي؛ خو دا چې زموږ موضوع د اندړو د سيمې کنځاکۍ دي، نو اندړ يوازې د اندړو په ولسوالۍ کې نه اوسېږي، بلکې په ټول شلګر کې مېشت دي. شلګر (**silgar**): د غزني جنوب او جنوب شرقي ډډې ته پروت دی او اندړ په کې اوسي. څلور خواوې يې دادي: د شلګر جنوب ته د هزاره جات غرونه، شرق ته يې د زرملي غرونه، شمال شرق ته يې د خروار غرونه، جنوب شرق خواته يې د کټواز غرونه دي. (۲)

## د څېړنې هدف او مبرميت:

د دې ليکنې هدف دا دی، چې د غزني د اندړو د سيمي کلتور او فرهنګ، چې په زړه پورې دودونه او رواجونه لري، خوندي شي. د ليکنې مبرميت بيا په دې کې دی، چې يو خو به د هغې سيمې له هغو دودنو او رواجونو خبر شو، چې چا تر اوسه پورې کار نه دی ورباندې کړی او بل دا چې کېدای شي زموږ ټولنپوهانو او ژبپوهانو ته داسې مواد په لاس ور شي چې د نورو څېړنو لپاره ورته پاملرنه وکړي او په هر برخه باندې يې څېړنې او ګروېږنې وکړي.

---

۲- علامه عبدالشکور رشاد، جغرافيايي يادانښتونه ، علامه رشاد اکاډمي کندهار، ۱۳۸۹ل کال، ۳۱۲ مخ.

## د څېړنې میتود:

په دې مقاله کې د موضوعاتو په څېړنه کې له تحليلي ـ توصيفي میتود څخه کار اخيستل شوی دی. مخکې له دې چې د غزني د اندړو د سیمې د واده د بدلو په يوه برخه ( کنځاکې یا پيغورونه باندې خبرې وکړو، لازمه ده چې په لنډو ټکو کې د فولکلور پر لغوي او اصطلاحي تعريف خبرې وشي ددې ترڅنګ د خوندي کولو په ارزښت يې څه ناڅه ځانونه پوه کړو، چې خوندي کول يې څومره ارزښت او اهميت لري.

### د فولکلور دکلمې لغوي او اصطلاحي پېژندنه:

په پښتو – پښتو تشريحي قاموس کې د فولکلور لغوي تعريف په اړه ليکل شوي دي: فولکلور، فوکلور، فوکلار: د خلکو ادبيات، د ولس ادبيات، د خلکو فرهنګ، ولسي پوهه، د خلکو زده کړه، عاميانه اداب او رسوم، ولس پېژندنه.(۳)

ځينو پوهانو فولکلور يوه انګريزي کلمه بللې ده او وايي: فولکلور(folklore) انګريزي کلمه ده، چې له دوو توکو څخه جوړه شوې ده، چې لومړی توکی يې فولک(folk) دی، چې د بې سواده او عوامو

خلکو په معنا دی، دوهم توکی يې لور(lore)دی، چې د حقايقو مجموعه، عنعنه، د يوه شي په باره کې د عوامو فکر او عقيده، عاميانه معلومات، افکار او ولسي ذهنيت په معنا راغلې ده. (٤)

د فولکلور په اصطلاحي تعريف کې بايد ووېل شي، چې فولکور د عوامو خلکو هغو عنعنو ته ويل کېږي، چې له لرغونو زمانو څخه را پاتې شوي دي.

فولکلور د ملتونو ټوله، عامه او معنوي شتمني ده. داغه شتمني يوه داسې هستي ده، چې د ټولنې د انسانانو ترمنځ د تاريخ په اوږدو کې په شعوري او غير شعوري ډول را منځ ته کېږي او وده مومي. د يوې ټولنې د انسانانو تر منځ د کلتوري اړيکو پراختيا او را ټولوونکو نسلونو ته د همدغو

---

۳ - پښتو – پښتو تشريحي قاموس( څلورم ټوک)، افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳٦٥ ل، ۲۳۳۸ مخ.

- فولکلور پېژندنه ٦مخ. ٤

هنرونو را غځېدنه د ټولنې د کلتور پوړی ښيي ... (٥)

فولکلور  د يوه ملت يا يو قوم د حقايقو مجموعه ده، چې د يوه قوم يـا ټـولنې د خلکو عقيدې، دودونه، د کورنو جوړولو ډولونـه، خـواړه، پرېکـړې، د ژونـد نيمگـړې او بشپړې لارې چارې روښانه کوي، چې د دوی ټول ماضي، موجوده او راتلـونکي ژونـد لپاره خورا زيات ارزښتونه په کې پراته دي.

فولکلور د انسان له پيدايښت سره يـو ځـای را پيداشـوی دی، خـو پـه خپلـه  د فولکلور کلمه  د لومړي ځل لپاره د ١٨۴٦ميلادي کـال د اگسـت پـه دولسـمه نېټـه نامتو انگريزي فولکلوريست، ويليم ټامس له خوا استعمال شوه.(٦)

د نړۍ په ټولو قومونو کې د فولکلور او د فولکلور راټولونـه  ارزښـت لـري، د هـر قوم ادب په  فولکلور بنـا دی. فولکلـور د ادب اسـاس او چينـه ده، زيـاتره اديبـان  د کيسو او ناولونو د ترتيب او ليکلو په وخت کې له فولکلور نه الهام اخلي.

فولکلور د بې سوادۍ د دورې آثار دي، ترڅو پورې چې په يوه قوم کې سواد نه وي، تر هغې پورې يواځې له فولکلوري آثارو څخه استفاده کوي او خپلـه ادبي تنـده په فولکلور ماتوي... کوم وخت چې د فولکلور او پخوانيو اساطيرو بېلـې – بېلـې لارې چارې او ډولونه تر ژورې کتنـې لانـدې و نيسـو، نـو پـه ښـکاره ډول بـه ووينـو چـې دا اساطير او روايات د لومړنيو توکمو يوه قدنما هينـداره ده او د دوی فلسـفي نظريـات، طرز تفکر او نور خصوصيات په کې په واضحه توگه ليدلای شو...»(٧)

په لنډه توگه بايد ووايو، چې د فولکلور د بېلابېلو برخو راټولول خـورا ارزښـت او اهميت لري، چې په ارزښت او اهميت يې تـر هرڅـا وړانـدې ادبپوهـان  ټولنپوهـان، ارواپوهان او  وگړ پوهان ښه پوهېږي، ځکـه چـې د دې پوهنـو لـه خاونـدانو سره هـر اړخيزه مرسته کولای شي؛ فولکلور ډېر داسې مثبت اړخونه لري، چې لـه هغـو څخـه

- احمدشاه زغم، فولکلور او فولکلوري ادبيات، د افغانستان ملي تحريک فرهنگي څانگه، ١٣٩۴ ل. ١٧ مخ. ٥

- دوست محمد دوست شينواری، د پښتو د ولسي ادب لارې( دويم چاپ)، دانش خپروندويه ټولنه، پېښور، ١٣٨٥ ل، ١ مخ. ٦

- حبيب الله رفيع، د خلکو سندرې، د افغانستان د علومو اکاډمي د تاريخ او ادب ټولنه، دولتي مطبعه، ١٣۴٩، ٩ مخ. ٧

د خلکو ترمنځ د مینې، تفاهم او سولې په منظور ګټه اخیستلای شو.

فولکلور چې په پښتو کې ورته ولسي پوهه، شفاهي ادبیات یا ولسيـ ادبیات هم ویل کېږي، په دوو برخو ( منظوم او منثور) ولسي ادب وېشل شوي دي. د پښتو منظوم ولسي ادبیات بیا په دوو برخو عامې سندرې او خاصي سندرو وېشل شوی دی.د ښادۍ سندرې د عامو سندرو یوه برخه ده، چې زه یې دلته په یوه برخه ( کنځاکیو) بحث کوم.

د پښتني فولکلور اکثره سندرې د خوښیو په بېلا بېلو مراسمو کې د نارینه او ښځینه وو له خوا ویل کېږي؛ د ښادۍ سندرې چې له نامه څخه هم یې ښکاري، د واده په مراسمو کې د پښتنو ښځمنو له خوا نه یواځې د واده د ورځو په مراسمو کې، بلکې د واده په ټول بهیر کې، یعنې د مرکې له پیله بیا د ناوې د را وستلو تر ورځې ویل کېږي.(۸)

دا چې کنځاکۍ یا پیغورونه هم د ښادۍ د سندرو یوه برخه دي، نو جوړښت یې هم لکه د ښادۍ سندرو غوندې له دوو ټوټو، دریوو ټوټو او حتی کله تر دې له زیاتو ټوټو څخه جوړې شوې دي، چې وروسته به یې دا ټول ډولونه په لړ او ډېر تفصیل سره د ویلو له مواردو او ځایونه سره سم را وړل شي.

دا چې پورته مو د ښادۍ سندرې وپېژندلې او دا مو هم وویل، چې کنځاکۍ یا پیغورونه هم د ښادۍ د سندرو یوه مهمه برخه ده، نو اوس له تاسو سره د اندړو د سیمې د واده د مراسیمو د بېلا بېلو پړاوونو کنځاکۍ یا پیغورونه شریکوم.

## د واده دکوتني د حلالولو کنځاکۍ طعنې:

کله چې عملاً د واده د پیل مراسم شروع شي، نو د واده مصارف، لکه: غوښه، اوړه، وریځې، غوړي، چای، بوره او ... چې د کوزدې په وخت کې په دې هر څه باندې خبرې شوې وي، د زوم د کورنۍ له لوري د ناوې کورنۍ ته وړل کېږي. په دې کې ډېری وخت د زوم د کورنۍ له خوا د غوښې لپاره یو غویی اخیستل شوی وي او هغه ور وستل کېږي، چې په ټوله کې دې ټولو ته (کوتنی) ویل کېږي. کوتنی له واده یوه دوه ورځې وړاندې د زوم دکورنۍ له خوا د ناوې کره وړل کېږي.

---

۱۳ - زلمی هېواد مل، د پښتو ادبیاتو تاریخ( لرغونې او منځنۍ دوره)، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۷۹لمریز کال ، ۱۳ مخ.

کله چې دا کوتنی د ناوې کور ته ورسېږي، د ناوې د کور او کـلي ښـځې او پېغلـې د غويي، اوړو او نور شيانو پـه خـاطر د زوم کـورنۍ تـه پيغورونـه ورکـوي، چـې هغـه پـه لاندې ډول دي:

کربــــوړی د کـــــلا پــــه سر کربـــــوړی
غويی يـې را وسـتلی د پـلاني د پـلار انځـولی
لــــه پاســــه ســـيرلی مونـــډي راوهــــي نـــه
زوم يــــې پــــه لکـــۍ خـــولې لگــــوي نــــه
خسرــ يـــې د کولمـــو پټکـــی تــــړي نـــه
کـــوتنی اللالــــوئ لکـــۍ يــــې پرېـــږدئ
لکـــۍ يـــې د پـــلاني پـــه لکـــۍ کېـــږدئ(*)

## پوښ يا د ورا کنځاکی:

کله چې واده پيلېږي، د زوم د کلي خپلوان او کليوال ( ښـځې او نارينـه) د زوم په کور کې را غونډېږي؛ له دې خلکو څخه يو شمېر د ناوې يا پېغلې کره د تگ لپـاره غوره کېږي، چې دې خلکو ته، ورا يا هم د پـوښ خلـک او يـا هـم خېښـۍ وايـي. دا خېښۍ د ناوې لپاره د واده اخيستل شوي کالي، بوټونه، نکريـزي، مېـوه او ... وړي. د دې ښځو شمېر له لسو څخه تر شلو تنو پورې وي. کله چې د ورا ښځې د ناوې يـا پېغلې کلي ته را دا خلې شي، نو په دې وخت کې د ناوې د کور او کلي ښځې هم را غونډېږي؛ کله چې د ورا ښځې د زوم د کور له خـوا د نـاوې کـور تـه را شي، نـو هغـه ښځې چې له ناوې سره په بام ولاړې وي، راغلـو ښـځو تـه پـه سـندرو کـې طعنـې يـا پيغورونه ورکوي او را غلې ښځې هم د ناوې په کور کې را غونډو شوو ښځو ته طعنې ورکوي. د ورا ښځې لومړی غواړي دوی لـه خپـل راتـگ څخـه پـه دې بيتونـو خـبرې کړي:

موږ تمـباکو ډېر دی، موږ د چلم دوگ ليدلی نه دی
پلاني تـه وا تر مخ شه موږ د پلاني کور ليدلی نه دی
اور دې بل سکاره دې مره دي، اور دې بل سکاره دې مره دي

---

* - بي بي زليخا،د اندړو د سيمې اوسېدونکي،( ۴۷ کلنه)

پلاني ته وا را ووځه شازادګان (شهزادګان) دې مېلمانه دي
د کلا مخي دې واښه ده، د کلا مخ دې واښه ده
دغه پلانی دې په ورا را غی، د کلا مخ دې وربانديې ښه ده
د ناوې په کور کې را غونډې شوې ښځې را غلې ورا ته داسې طعنې ورکوي:

خدایه موږه نه غوښتې دوی را غلې
دوی خو د لړسنو(*) په بوی را غلې
وړه يې د مرغۍ په شـــان راوړي دي
لوی او کم يې ټول را کـتار کړي دي
يو دې سپرلکی، څلـــور دې پاستې
پلانی دووسه ته ولـــــې را ځغاستې
ګرده ورده ورا په منځ کـی ډم ګورئ
پلانی(*) د کډو ســـــپی ببر يې لم ګورئ
اوس به دې سيالان در پسې خاندي
داسې خېښې غورځــــوئ د باندې
ناويه ورا دې راغـــــله ټـــک يې نشته
د ټک دارو به ورکړو د ويشتو سرې يې نشته

کله چې د ورا خلک پـه لاره لـړ وځنـډېږي او يـا هـم ورا ناوختـه را ورسـېږي، د ناوې د کور او کلي ښځې داسې پيغورونه ورکوي:

بوزه، بوزه بوزه د کارغه توره وربوزه
واده خو دې پرون و، ته خو نن را غلې دووسه
موږه خميرې درته ورستې کړې
پلاني کاکا په لارې دروېزې کړې
پلانيه عقيل(*)وي کم عقل وختې

* لړسن يا لړسنې د حلال شوي مال( پسه، غويي او يا هم بل حيوان) خوشايو ته وايي.
*د پلاني يا پلانی پر ځای د زوم د کور يا کورنۍ او يا هم د ورا د کوم مشر نوم اخلي.
* عقيل: هوښيار، دانا، پوه، يعني ته خو ډېر پوه او هوښيار انسان وې، خو له بېعقلو خلکو سره دې دوستي وکړه.

په کور دې د پلاني موچنې وختې
هغه ده کاغۍ له مریانو را غله
هغه ده پلانۍ له دروېزو را غله
د لوی زرندې په خوله کې د کنکۍ زرندې په وره کې
پلانۍ مې داسې غورځې لکه بوی په پرتاګه کې
کاغۍ په هوا ځي مشوکه یې سره ده
د پلانۍ سپنګو ( سپوږمو) ته سپۍ له خندا شنه ده
د چا مخونه سره دي د پلانۍ مخونه سره دي
الله ورته حیران دی چې دا ما جوړ کړي نه دي
په لاس مې لاسبندي دي، په کې ایښي شنه غمي دي
په خدای دې باور کېږي، د پلاني سترګې د سپي دي
برج مو جـــــوړاوه را چې کــدانه شو
پلانی مو خرځاوه راچې پښېمانه شو

کله چې د زوم د کور په خلکو کې د یو چا کـالي یـا واسـکټ زوړ وي، د پېغلـې کره را غلې ښځې طعنه ور کوي او ورته وایي:

صابون خو د بازار په سر خرڅیږي
د پلاني واسکټ له خیرو نه معلومیږي
لوټې لوټې لوټې د زړې شیدارې لوټې
د پلاني مې دای سپنګې ( سپوږمې) دي لکي( لکه یي) درو کلو د کوټې

د زوم له لوري را غلې ښځې د ناوې د کور په لیدلو سره د ناوې ښځو ته داسـې پیغورونه ورکوي:

دا د ناوې کور دی دا د ناوې کور دی
په دېوالو کې د مچانو شور ماشور دی
د کلي منځ کډي وډي(*) ده، میدان نه لري
دا پلانکی مې دی بې سیاله، سیالان نه لري
اوس به دې غرمې ترون(تنور) سور کېږي
اوس به رنګارنګ سپنګې سوړېنیږي

کله چې د زوم له خوا راغلې ښځې په سرای او یا هم بل داسې ځای کېنولی شي، چې معمولاً هلته مېلمانه نه کېنول کېږي، نو بیا د ناوې ښځو ته داسې پیغورونه ورکوي:

موږ خو پلاني ډېرې نازولې یو
پلاني کاکا په سرای کې کېنولې یو
د پسرلي تر گلو، د سرې اور ښه دی
د پلاني تر خونو د مېږو شپول(*) ښه دی

پوښ چرونی:

پوښ چرونی هغې وچې مېوې او رخت ته وایي، چې د زوم د کورنۍ له خوا د ناوې کور ته د پوښ یا کوتنې سره یو ځای وړل کېږي. له راوړي رخت څخه لومړی قرانکریم ته د پوښ په نامه یو څه اندازه رخت پرې کوي، چې د قرانکریم پوښ ورڅخه جوړېدای شي او پاتې مېوه او رخت د ناوې خپلوانو او کلیوالو ته په مساوي ډول ور وېشي. په دې وخت کې د ناوې د ښځو له خوا هم کنځاکې یا پیغورونه ور کول کېږي، چې په لاندې ډول دي:

چرونی چې چیریه، یوه لویست، دوه گوتې پې ړدیه
که دوه گوتې در کم شو د پلانۍ خښتگ پې ړدیه
موږه، نه سپۍ یو نه سپي خبرې کړو
موږه له پلانۍ سره څو غورې کړو
موږه چوړي نه یو پښتانه یو
موږه د پلاني کره د یوه ساعت مېلمانه یو
موږ نه دلې یو، نه دلې اوسو
ښه را سره وکړئ، د وښو نوم به مو لېرې لېرې یوسو

کله چې د ناوې د کورنۍ له خوا را غلې ښځو ته چای، پیالې او شیریني وځنډېږي، نو د زوم له خوا را غلې ښځې داسې طعنې ور کوي:

د کورمې غاړه د غره شماله

---

* - شپول: د مېږو د را غونډولو ځای یا هغه ځای ته ویل کېږي، چې پسونه په کې را غونډوي ، چې دې ځای ته د اندړو د سیمې خلک جارگی هم وایي.

له تندې مړه سو، د خدای لپاره
تاسې به پرون ځواب را کړی وو
موږ به د پیالو درزن را وړی وو
تاسې به پرون ځواب را کړی وو
موږ به له چې ډک چایجوش را وړی وو
وه پلانیه نوم دې را څه هیر شو
د ګوړې خرکار اوس له کلي تېر شو
موږه ګوړه نه خورو ګوړه توره ده
زموږه له چکلیټو سره جوړه ده
دا تور چای جوش مو ورک شه له تور چې سره
موږ ته چاکلیټ را وړئ له شنه چې سره
د ناوې دکور او کلي ښځې په ورا را غلو ښځو ته داسې کنځاکې کوي:
زموږ جګې پیالې نرۍ یې غاړې
ګورئ چې پیالې نه کئ مردارې

کله چې د زوم د کور له خوا را غلو ښځو او نارینه وو ته چای ورکړل شي، له هغه وروسته د ډوډۍ نوبت رسیږي، خو د ډوډۍ تر پیلېدو مخکې د زوم پلار او یا هم بل واکدار غوښې او ډوډۍ تر نظر تېروي او ګوري، چې ایا د دواړو خوا مېلمنو بسنه کوي او که نه؟ نو په دې وخت کې د ناوې د ښځو له خوا هغه ته داسې طعنې ورکوي:

د وښو زېړې پچې، د مېږو تورې پچې
پلانی قران ګرځوي، چې چکیدې مې ورکې
مخ دې تور چې ورکې، په ایرو کې پټې

کله چې د ډوډۍ وخت شي او ډوډۍ لړ ناوخته شي، نو په ورا راغلي ښځې د ناوې د کور ښځو ته داسې وايي:

سمه نیمه شپه شوه، سپنګي په غټو پرېوته
ډوډۍ یې کړه ناوخته دا څه ټکه پې پرېوته

کله چې د ورا ښځو ته ډوډۍ ورکوي، د ناوې د کور او کلي ښځې داسې کنځاکۍ او پيغورونه ورکوي:

لږ لږ ډوډۍ خورئ کال خو نه ده د کاختۍ
که کال سو د کاختۍ پلانۍ ورکړئ په ډوډۍ
لوی لوی ګولې مه وهه ټمبه به سې
د مڅ کولمې به درکړم په تازه به سې
د چا تر ملا کونجکې د پلانۍ تر ملا کونجکې
هډوکی يې نښتی سر وهي له انځکې انځکې
وه پلانيه! څه غوړه ځواني دې ده
سپی به درته الال( حلال) کړم سابندي دې ده
پوستکی بې در واچوم دوايي دې ده

په ورا را غلې ښځې د ناوې د کور او کلي د ښځو د پيغورونو په ځواب کې وايي:

موږه نه خورو دا ډوډوی، دا ډوډۍ مو سی(*) لري
دا بله لور مو را کړئ دا لور مو پېړی لري
د سپينو وريځو، څه شورماشور دی
موږ يې نه خورو، چې خيال مو زور دی
تروه ده د ورۍ شورا تروه ده
پلانۍ ته يې ورپربږدئ، سي غاړه يې اوږده ده
موږ نه خورو لمګونډان، زموږ زار کې لمګونډان
پلانۍ ته يې ور پربږدئ، چې په غوږ کې خپل شونډان

کله چې د غوښې وېشلو نوبت ورسېږي، نو په ورا راغلي ښځې هغه چاته چې غوښې وېشي، داسې خبرې کوي؛ البته ډېر وخت را غلو مېلمنو ته د ښځينه وو له خوا غوښه وېشل کېږي:

چا مې مول وهلی، پلانۍ مې مول وهلی
موسکول، چې له خياله، دې ځنځی په کې ساتلی
د چا ګوتې منډۍ د پلانۍ ګوتې منډۍ

چې برخې یې وېشلې د چا لو د چا کمکۍ
څوک مې غوټه مټه، پلانۍ مې غوټه مټه
له څنګه به یې کېنم که یې برخه کړه را پټه
که یې برخه نکړه پټه سر یې وشکېږه تر څټه
کورت ګوړي، ګوړي، غوښو کړي دي چینجي
غوښې یې سوې کمې اوس پرې وايي ایت کرسي
کورت ګوړي، ګوړي، غوښو کړي دي چینجي
غوښې سوې تمامې زیارتونه ننګوي

کومه ښځه یا پېغله چې په ورا راغلو ښځو ته ډېرې کنځاکۍ یا پیغورونه ورکوي، نو د هغې نوم په اخیستلو داسې وايي:

کاکا سپینې وریځې پرې را توکه
کاکا دغه سپۍ له موږه تو که
دکټ لاندې زانګو ده زنګوو به یې
پلانۍ مو توره سپۍ ده غپوو به یې

کله چې د ورا ښځې ډوډۍ و خوري او د ناوې وړلو وخت را نږدې شي، نو ښځې د ناوې د مور په لیدلو سره داسې خبرې کوي:

د ناوې ادې وځې ننوځې
ماسپښین به یی غوږ بېډی له ګوتو وځي

کله چې ډوډۍ وخوړل شي، د ناوې د کور او کلي پېغلې ناوې تیاروي، نو په ورا را غلې ښځې داسې سندرې وايي:

د سندورو لار یې جوړه پر تندي کا
د پلاني ناوکۍ جوړه کاغذي کا
ناوۍ دا عقل دې خپل که دې پور کړی ده
پرون دې سر چوټې نن دې وبدلی ده
ناوۍ‌ه سترګې توره وه په سلایي باندې
دا د پلاني موټر ولاړ په دورا یي باندې
را وشیندئ لونګ چې بوی یې ولاړ سي

را وباسئ ناوی، چې غړ یې ولاړ سي
پلانیه! ګولې وخوره کونجکې ته
کمکۍ نجلۍ دې ورکړه لوی سړي ته
شین موټر په شګه کې پنچر ده
موږ ته ناوې را کړئ، مازدیګر ده

کله چې د ناوې خاوند ( مېږه) مسافر وي، د ورا ښځې د ناوې د کور ښځو ته داسې پیغور ورکوي:

تس کندو ولاړ ده اوږه یې نسته
زموږ ناوې چې وړي مېړه یې نسته

کله چې ناوې تیاره شي او د زوم کور ته د وړلو لپاره یې را باسي، د کور په نامه چې څه شی ناوې ته ورکول کېږي، هغه هم موټر یا تراکتور (ټیکټر) ته خېژوي، نو په ورا راغلې ښځې داسې خبرې ورته کوي:

ولور دې په جامو جامو ټولیږي
اوس خو به دې کور را معلومیږي
سپینې روپۍ تا خوړې شغاله
را وباسئ، ماشین او ټغر دواړه
سپینې روپۍ تا خوړې شغاله
را وباسه کوزه چلمچي دواړه
سپینې روپۍ تا خوړې شغاله
را وباسه چاینکې پیالې دواړه
د پلار کور خو دې نه لرې( لرلې) دریه
په ولور باندې یې واخیستې غالیه
شنې شوتلې څومره ګل دې کړی دی
د پلاني اینګورکۍ کوم کور یې در کړی دی؟
السلام علیکم جوړ پخیر تازه اوسئ
د ناوې ټغر نسته، تر عمره شرمنده اوسئ

خو د ناوې د کور او کلي ښځې د ورا د ښځو ته په دې ډول ځوابونه ورکوي:

دا میرزایی قدم را واخله حکمونه دي
دا دي پلاني لایقه نه يې ازلونه دي
در ومو یسته خالداره ځنیاوره
دووسه اوس يې رنګ ګورې که ونه
شال او لونګۍ نه سره غبرګېږي
اصیله مې کم اصلو ته ودېږي
ستورې له سپوږمۍ سره راوګرځه
ناویه په پلانۍ د بلا وګـــــــرځه
ناوۍ پلو وا چوه په بوټي
پلاني خېل در ته ولاړ دي سپېرې خوله لکه د کوټي
ستورې له سپوږمۍ سره را وګرځه
ناوې په پلاني دې بلا وګرځه
ناوۍ د څوځه کوټه کېږده سرسایه دې سه
د غه پلانی درته ولاړ دی صدقه دې سه
زوم دې د خورکۍ له مخه خلاص يي
دا پلانی دې لکه سپی په لکۍ ناست يي
زموږ ناوکې زاړي ګرمه نه ده
پلانۍ له دروېزو را غلې نه ده

کله چې ناوې د کور او کلي له نورو پېغلو او همځولو سره، له خپل کور را وځـي او د موټر او یا بلې سورلۍ په لور روانه وي، نو یو ډول ژړا کوي، پـه دې وخـت کـې د زوم له خوا ښځې داسې طعنې ورکوي:

ناویه! موږ سږ کله ودولې
ابادي در وازې را ټکولې
ورور به دې لمنې ګرځولې
کاکا خو دې ځپلۍ وسلولې
پرون سهار دې لښتې ماتولې
نن يې په وۍ، وۍ وزړولې

مه يې ژړوئ ببو نادانه ده
که يې تاسې ژړوئ په موږه گرانه ده
مه ژاړه ناوې زړا دې گرانه ده
تر تاخو دې، د ابا مرگی اسانه ده
کميس دې ده بلبلې زړا دې د سخوندرې
سمه، سمه زاړه دا خلک کړي خبرې
کميس دې ده بلبلې زړا دې د سخوندرې
زر زر پورته کېږه د سره پرنگي لورې
مه زاړه ناوی کجاوه تنگه ده
کور دې د کاکا د کور له ځنگه ده
مه زاړه ناوی کجاوه يخه ده
کور دې د ماما د کور له مخه ده
د موږ د ناوې برگه کجاوه ده، د موږ د ناوې....
پلار يې گينيگر(*) مور يې شيه(شيعه) ده
مه زاړئ(ژړوئ) ناوې بلا يې واخلئ
سبا بې مراستي کالي در واخلئ
مه زاړه ناوی خوشحاله وه به دې
موږ لرگي سپين کړي پې وهو به دې
موږه داسې زوم در کړی لکه تار د زرتار
تاسې داسې ناوې را کړه لکه تله د خرکار
موږه داسې زوم درکړی لکه سپينه کتابچه
تاسې داسې ناوې راکړه لکه سوې چکيده
د ناوې له خوا ښځې د ورا د ښځو په ځواب کې داسې وايي:
موږه داسې ناوې در کړه لکه ښه زرين وتی
تاسې داسې زوم را کړی لکه يې زېړي غوا ډډی
زموږ ناوی کمکی ده جی به ونيسي
يو وار به پلانی تر غاړه ونيسي

د ناوې ښځې د زوم په لیدلو سره داسې وایي:

تاسې په موټر پورې بوتل گورئ
تاسې خو دزوم لېونی سر گورئ
خدایه زموږ څنگه مخ تور شوی ده
د زوم غړی اوږده ده چې زوړ شوی ده

کله چې ناوې په موټر کې کېنول شي، نو په ورا راغلې ښځې د ناوې د کور او کلي خلکو ته داسې پیغورونه ورکوي:

په تاخچه سور رویمال دی شا زرغون ځلېږي
مور یې د گور تر چولو گورو، لور یې نن ودېږي
ناوې موټر ته وخېژه بغارې کا
ابا دې ټیکری در کوو، ور غورځار یې کا
ناوې موټر ته وخېژه نارې کا
ناوې په مور کې غوټې کولمې پرې کا
ناوې‌ه تر نرۍ ململ را وگوره
ناوې پلار دې مړ ده یارې وگوره
ټوله ورځ مو تېره په بیاله کړه
دووس کلي چینگښه را واده کړه
زموږ د ناوې درې گوتې شونډان دي
ارمان مې دا وېستلي کار توسان دي
بیا به گل کرو له لوړ غرو سره
بیا به دوستی کړو له پښتنو سره

د ناوې د روانېدلو په وخت کې د ورا ښځې د ناوې خپلوانو ته داسې طعنې ورکوي:

په منگي کې اوبه تورې، په منگي کې اوبه تورې
دا پلاني ته وا را ووځه، خپښې ووتې سر تورې

د غزني د اندړو په سیمه کې داسې دود دی، چې کله ناوې کوژدن شي؛ د واده تر وخت پورې د زوم ورتګ عیب ګڼل کېږي، خو کله چې د دې دود خلاف یو زوم د ناوې کره ورشي، نو هغې ناوې ته د واده په ورځ داسې پیغورونه ورکوي:

زموږ د ناوې خوی له نوره ګوښی ده
تر مخ یې بډو ګل ورسره یښی ده

کله چې ناوې موټر ته وخېژوي او د ورا ښځې حرکت وکړي، نو د ناوې ښځو ته داسې طعنې ورکوي:

موږ به ناوې یوسو له ډنګ او له ډولو سره
تاسې سر وهئ له دېوالو سره

کله چې ناوې  تر یو څه ځایه پورې ورسوي، نو د زوم له خوا را غلې ښځې ناوې ته داسې پیغورونه ورکوي:

ناوې په شنه کارېز کې اوبه وګوره
ناوې د اباخېلو لار دې وګوره
ښه سو تر دا شنو ونو را تېره کړې
ابا دې په ولور سو ته یې هېره کړې
ښه چې تر دا شنو ونو یې راتېره کړې
پلار دې په روپۍ شو ته یې هېره کړې

کله چې ناوې د زوم کور ته ورسوي او کښته کوي یې، نو د زوم د کور او کلي پېغلې داسې کنځاکۍ ورته کوي:

موږ موټر ناوۍ ته در لېږلی وو
تاسې له ټنډ سرو را ډک کړی
زموږ ناوکۍ جوړه په بخۍ ده
له شا په سي سپره د خرې لکۍ
کاش کیم ( کې مو) بابېړی* را باندې کړی وای
کاش کې مو پلانی را بارېیلی وای

* - بابېړی: هغو پیسو ته ویل کېږي، چې د نجلۍ کورنۍ یې د واده ځنډېدو له امله تر اصلي ولور اضافي پیسې د زوم له کورنۍ څخه اخلي.

کله چې ناوې د زوم کور ته ورسوي او کښېته کوي یې، نو له ناوې سره چې کومې ښځې تللې وي، هغه داسې بدلې بولي:

ناوې په سُور چکن دې برکت شه
راځه د لالي کور درته جــنت شه
په وره کې د خورما ونه ولاړه ده
په غولې دي پلانکې ناوې ولاړه ده
زمور ناوې کمکۍ ده جی به ونیسي
یو وار به پلانی تر غاړه ونیسي

کله چې ناوې د خسر یا زوم کره کښېته کړي، نو د زوم خپلوانې ښځې او پېغلې داسې طعنې ورکوي:

ناویه پل راواخلــــه پونده کېږده
زمور په پلانۍ دري نومونه کېږده
ناوۍه پل را واخله پونده کېږده
په لېورو دې ښه ښه نومان کېږده
زموږ ناوې کمکۍ ده خوښه یې نه ده
دا خو د پلاني تر زنــــــگانه ده
تر کټ لاندې بیاتي ده تېـــروو به یې
د پلاني ځنې اوږدې پرې خرېیو به یې
ناوې شنې مرۍ به په لاس درکړم که یې پېیلی شې
د کور خدمت به په لاس درکړم که یی کولای شی
د ســـهار سترگه را وختــه هلگه(*) ده
مور یې په ځای کی لاس وهي چې لور مې ورکه ده
د ســـها ر سترگه را وخته تــــــېزي(*) کــوي
مور یې په ځای کې لاس وهي زړه یې سُستي کوي

**پایله:**

دا چې په غزني ولایت کې زیاتره پښتانه اوسېږي او خورا خوندور دودونه او رواجونه لري، خو له بده مرغه تر اوسه پورې د همدې سیمې دودونه او رواجونه یا په

اصطلاح د فولکلور د را ټولونې او خوندي کولو لپاره چا کار نه ده کړې او ور ځ تر بلې د بدلون او تغيير په حال کې دي.

د دې لپاره چې زموږ او يا د يوې ټولنې فولکلوري مواد د وخت په تېرېدو سره او يا د زمانې له طوفانونو او سېلابونو سره له خاورو سره خاورې نه شي او ژغورلي مو وي، نو فولکلور پوهانو ته لازمه ده، چې تر خپله وسه پورې دغو معنوي ټولنيزو ارزښتونو ته ځانګړې پاملرنه وکړي او فولکلوري شتمنۍ د زمانې له ګردونو څخه پاک او په خوندي کولو سره يې د تل لپاره له ورکې او مړينې څخه وژغوري او را ټول يې کړي.

په پای کې وايم، چې په ټولنه کې حاکم رژيمونه د ولسي- پانګې په ساتنه او لوټونه کې خورا اغېزمن رول لري، چې هم يې د خوندي کولو او هم يې د له منځه وړلو لپاره هر څه په وس او توان پوره وي، نو وړاندېز کوم، چې وخت پر وخت فرهنګي مؤسسې، دولتي مقامونه او د ټولنې روڼ اندي د فرهنګي ميراثونو په را ټولولو او خوندي کولو کې پوره پوره کوښښ او هلې ځلې وکړي او له ورکې څخه يې وژغوري.

زموږ د ټولنې د غني فرهنګ د ساتنې، را ټولولو او خوندي کولو يوه غوره وسيله هم همدا ده، چې فرهنګي مؤسسې، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او اړوند ارګانونه په ګډه سره په دغه برخه کې کار وکړي او د خلکو له منځه دغه ارزښتناکه برخه را ټوله او خوندي کړي.

**مأخذونه:**


۱ــ برزين مهر، عبدالعلی، ضرب الامثال و کنايات، پيښور، قصه خوانی، ۱۳۵۸ل، ۷۷ مخ.

۲ - پښتو – پښتو تشريحي قاموس( څلورم ټوک)، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳٦۵ ل، ۲۳۳۸ مخ.

۳- حسن عميد، فرهنګ فارسی عميد ( دويم ټوک)، تهران امير کبير خپرندويه مؤسسه، ۱۳۷۷ل . ۱۵۵۵مخ.

۴ - رفيع، حبيب الله، د خلکو سندرې، د افغانستان د علومو اکاډمي د تاريخ او ادب ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۴۹، ۹ مخ.

٥- روهي، محمد صدیق، فولکلور پېژندنه، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز، دولتي مطبعه، ۱۳٦٥، ۷ مخ.

٦- زغم، احمدشاه، فولکلور او فولکلوري ادبیات، د افغانستان ملي تحریک، فرهنګي څانګه، ۱۳۹۴ ل، ۱۷ مخ.

۷- شینواری، دوست محمد دوست، د پښتو د ولسي ادب لارې( دویم چاپ)، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸٥ ل،۱۱ مخ.

۸- طایر، محمد نواز، د پښتو ټپې معاشرتي او تقافتي اثر، پښتو اکاډمي پېښور پوهنتون، پېښور ۱۹۸٦ میلادي، ۱۱ مخ.

۹- هېواد مل، زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ( لرغونې او منځنۍ دوره)، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۷۹لمریز کال، ۱۳ مخ.

# List of Contents


| No | Title | Author | Page |
|---|---|---|---|
| 1 | Resignation Names……. | M.Asif Ahmadzai…… | 207 |
| 2 | Relationship of Lite……. | Gul Ghotay Khawri… | 207 |
| 3 | Sufism in the Curr…...... | Ajmal Khkulay……... | 206 |
| 4 | The Khoshhal…………... | Rahmatullah Rahimi.. | 206 |
| 5 | Professor Abdolahi…...... | Zahera Hangama…… | 205 |
| 6 | Helping Verbs and…….. | Abdul Azim"Sidiqmal" | 204 |
| 7 | Translation of…………... | Fahim Baheer………. | 204 |
| 8 | The Role of Nang……… | Azizullah Jabarkhil….. | 203 |
| 9 | The First Pashto………... | Janbaz……………… | 203 |
| 10 | Introducing Com……… | Sharifullah Dost……. | 202 |
| 11 | Astora…………………... | Habibullah Mirkhil… | 201 |
| 12 | An Analytical…………... | Abdul Shakur Qayoumi | 201 |
| 13 | The Value of the……..... | Sayed Asghar Hashmi. | 200 |
| 14 | The Wedding Songs……. | Fazal Rahman Alizai... | 199 |

# Resignation Names

M.Asif Ahmadzai

**Abstract:**

A fake name is a name which has been putting with a written article or with an essay due to the writer or personal, political, economy issues but with the passing of period it might be recognize by them or by someone else or might stay unknown.

The fake name has both advantage and disadvantage: If it would benefit in wrong way, it would cause disadvantage, otherwise it could provide facility for a writer in order to have save life.

A fake name had been also used in our society like in abroad particularly in Pashtu language literature or in print media and therefore we have reflected such name in this article.

---

# Relationship of Literature and Genre

Gul Ghotay Khawri

**Abstract:**

In recent years, we see that the young and novice scholars have broken down the principles and rules of literary genres and literary genres, in the vast majority of their literary genres, one sees the genre of literature, while both in terms of structure and in terms of The content is very different. According to Arthritis's classics, the publications are divided into three major categories or types of homosexuals, lyric or artificial or exhibitions or illustrations. And each of these sections is divided into smaller sections that’s the small parts of the literary genre.

The literary genre is different in terms of structure and content, because each body does not differentiate in terms of structure and content In that case, a single genre will not be considered and it was different. It can be said that a genre is separate and independent.

---

## Sufism in the Current Mirror

Ajmal Khkulay

**Abstract:**

Sufism is an effective way to reach God, not only for a few years, but also affecting most of the Muslim communities, Because Sufism had already been an important way of learning religion; but now the warmth of the Sufism was burnt. People have been found to learn religion and other information that has been made to travel to Baghdad and India in the past, can now find their rooms in the internet and has also influenced this public-private madrassas.

The other reason for the fall of perfection is also the political use of religious beliefs. Previously some bin Laden used this kind of religion;

But now he used as an effective weapon against ideology, and was introduced to the new angle about religion, which was devoted to the idea of authoritarianism of Sufism.

---

## The Khoshhal Hymnasium

Rahmatullah Rahimi

**Abstract:**

If the Khushan Khan Khattak art and art are seen everywhere, there are few beautiful features like Balwari Ghami. One of his

most beautiful beauty, In his views many human beings have been planted here shortly, to some of his poems and stories, and the words of which he converts to the universe at the universal level of astronomical writings. Is it clear that he really did not resort to humanity or not? The first I highlighted in human beings, I found out in the three part of the Happy Humanitarian Idea.

A person's identity B Human and human life is the most beautiful elements that are all the companions, such as (cooperation, nicely, agreeable, fair, generous, knowledgeable, human nurse, friend's choice, self-determination, non-violent acts, Freedom, and mental characteristics)

C. In the course of education, Khan's ideas that have ambiguous colors similar to international thinkers, Useful sources used to write this subject, that the analysis will explain that Khan is the author and poet, and is not it? We start identifying biomassium as well as you to Khan ideas in that mirror.

---

# Professor Abdolahi Habibi from the Viewpoint of Scientists

Zahera Hangama

**Abstract:**

our country from previous time up to now have lots of writers. authors. Scientists. Poets that one of them is Abdulhai-Habibi who spent his large time of age to sere for Pashto literature and for Afghanistan hstory. and he has inherited gread credible books and works her his country and his compatriots.

# Helping Verbs and their Duties

Asist.Prof Abdul Azim “sidiqmal”

**Abstract:**

This research under title, “Helping Verb and its duties”, highlights the definition, types, duties and importance of helping verbs. Helping verb is an independent morpheme which gives complete meaning in (verb-less) or nominal sentence and helps main-verbs in verbal sentence to complete its structure and inflection of verbs in the verbal-sentences.

It has four kinds in Pashto, nevertheless, it is worth to mention that is subject requires further research efforts for its authentic classification.

---

# Translation of Foreign Languages in Writing

Fahim Baheer

**Abstract:**

Literature or writing is divided into two parts. The first part is the natural talent of the writer and the second part is linked with his effort, effort and education. The second part has the full effect on the first part. Learning foreign languages is still influential on the writer's work because it gets to know different experiences. By doing so, his writing will be strong, scientific, beautiful, and more robust.

In contemporary time, writers, scholars and students of literature should Using foreign languages, your books and writings are more prominent in terms of science, art and research.As a result, they can give their community a good,

complete, useful and Comprehensive article. In this article, the importance of the above points is mentioned.

When the scientific, And new theory and technical skills of writing to be achieved from in foreign languages،This will reinforce and strengthen his writings. Created scientific strength, logic and reasoning, and other good points in his writings. This is the scientific criterion and the social value of his writings.

---

## The Role of Nangarhar's Mothers in Pashto Literature

Azizullah Jabarkhil

**Abstract:**

In Pashto Literature, there is much more participation of Nangarhar mothers and in the enrichment of Pashto folk literature has stepped out as sister, wife and mother with their Pashton brother, husband and son. Through this way, they have reached Pashto Literature to the position that today world widely Pashton is known as living and brave nation.

Nangarhar mothers have special place in Pashto Literature's Tappas, wedding songs, Attan's songs, kids caring songs (alologano), fortune poetic dictions.

---

## The First Pashto Language Textbook

Janbaz

**Abstract:**

In this study, we discuss the effect of the influential alphabet that is the primary influence of the Pashto language and it is

understood that Mr. Pir Muhammad Kakar, when he and she, influence this effect.

Whenever the effect was, what was the purpose and written for anyone, at that time, in the English language, printed and systematically printed books, where was printed and how, How much the terms were equally relevant and in terms of the terms and conditions of this book, how is this book for now and at which time any questions and their serial languages could be used. Think of this book in the article that it could have been very important and could respond to most of the time, but it was because of some of the problems in its first edition, So, he has witnessed the second publication in the recent years, that he made Mr. Habibullah Rafi a great person and academic scholar, and printed a lot together.

What's happening between them and how important it is to save you everything by reading this article

---

# Introducing Compressed Manuals

Sharifullah Dost

**Abstract:**

Generally all inscription written by hand are called manuscript and we focus the ancient and historical manuscript in this paper. Manuscript are accounted to be the historical, academic and cultural identities of a country. The value of a manuscripts depends on, oldest, beauty handwriting, science, gilding, binding, enameling, antique, painting and literature research. Before the development of technology, manuscript used to hold the responsibility for religious, academic and cultural works. Since the start of written communication, people, choose to convey their idea using valuable and beautiful colors to write on iron, stone, skin of animals, bons,paperos,qartaas and tree pages.

# Astora

Habibullah Mirkhil

**Abstract:**
Therefore, it is used as imagination and unrealistic, that there is no fact that there is no idea of thought or ambition In other words, there is tradition or statement that can be more or more fictional aspects, and this part will also be filled with impressions and robbers, but the narrator also has the condition. Some scholars are therefore used as words from Estonia's Greek word, meaning it is history, story and story. And when it comes to being a narrator, then it is not too much place to talk about the whole and culturally speaking, Because the story says that the story will be true or true, or it will be true to the truth, but the difference between names or changes has changed or even at the same time such a story has happened.

That's all about what's upset and what features are available in this study.

---

# An analytical Study on Some Important Dramas of Ustad Binawa

Researcher Fellow Abdul Shakur Qayoumi

**Abstract:**
In the narrative literatures, drama as a specific Zhan has unique frameworks and parts. This article points on Ustad Binawa drama based on values generally accepted for it; therefore, we

highlight some important aspect of his drama such as: the language of drama, dialog, character, message and so on. In other word, all dramatic principles have been taken into account in Binawa Dramas.

Ustad Binawa, as a professional drama writer, has taken into account all required principles for delivery of message while drama writing; therefore, the message of his dramas are clear that positively change the characters of the readers.

This article will show how Binawa draw the real picture of the society in his writings. As the dramas contains the important issues of the time; therefore, it introduces the a brighter picture of the time and deeply shows the important issue about the communication of the society at that time.

---

# The Value of the Khaka in the Research

**Sayed Asghar Hashmi**

**Abstract:**

In this article, the ways and techniques of writing plot is shown to all types of writers. The importance of plot is well discussed in this article. As all and every part of the writing should have content relation and should be systematically arranged for example: the title of book with its content, the relation of units, the link between the sub-titles with main titles; all this systematic process is shown in this article.

The distribution of the units in the plot, plot organization, and their relation with the content is discussed here.

Those who would like to perform the literary tasks can utilize this article in order to learn how to create a plot.

# The Wedding Songs (Abuse) of the Andar Region

**Fazal Rahman Alizai**

**Abstract:**

Culture is the documentary of the life of human beings, so whenever someone wants to know the aspects of social life, beliefs, thoughts, superstitions and totally history, they need to study the folklore of the society deeply. So it will be difficult to know a society without studying or analyzing its folklore. Wedding songs are a part of Pashton Culture, it is the Landai and Kakarai, and most of the times, its humorous and satirical that have been sung in many Pashton regions. In this article, the wedding songs of Aandar region, Ghazni province have been collected and analyzed that the people of the region call them Kanzakai (Abuse).

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Research Fellow Sayed Nazim Sayedy

**Assistant:** Researcher Shakila Miakhil

**Editorial Board:**

Senior Research Fellow Dr. Khalilullah Ormar

Senior Research Fellow Nasrullah Naser

Research Fellow Abdul Zahir Shakib

Research Fellow Mohammad Asif Ahmadzai

**Composed & Designed By:**

M.Mujtaba

**Annual Subscription:**

Kabul: 960AF.

Province: 1440 AF.

Foreign Countries : 60$

Price of each issue in Kabul : 80 AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: 70 AF.
- For the disciples and students of schools: 40 AF.
- For other Departments and Offices: 80 AF.